وَذَكِّرْ فَإِنَّ الذِّكْرَىٰ تَنفَعُ الْمُؤْمِنِينَ

# انوار المجالس

پښتو

له نویو زیاتونو او تخریج سره

مؤلف


حضرت صاحب المرتبت شیخ القرآن والحدیث پیر طریقت

رهبر شریعت الحاج خلیفه صاحب دین محمد مد ظله العالی


Ketabton.com

حضرت شیخ المشائخ خلیفه صاحب داد محمد غزنوی

جلد دوم


خپرندوی

خانقاه عالیه مجددیه عمریه

ډیره اسماعیل خان

(c) ketabton.com: The Digital Library

ددې کتاب PDf کول خاص دالله {ج}

# درضا الپاره ددې

# دهر لوستونکې او فاۍده اخستونکې ددعا فه

# هیله

(c) ketabton.com: The Digital Library

## دکتاب پیژندنه :

نوم: انوار المجالس .

فرمودات: شیخ القران والحدیث شمس المشائخ خلیفه صاحب الحاج دین محمد مدظله العالیه .

ټولونکی او ترتیب کونکی : مولوي سید محمد عمر فاروقي

کمپوزران : مولوي سید محمد عمر (فاروقي) او طالب العلم (سید) محمد بهار .

دریم ځله تصحیح : مولوي سید محمد عمر (فاروقي)

څلورم ځل تصحیح : مولوی ولي محمد (تائب)

دچاپ شمیر او کال : ۲۰۰۰ ټوکه ، ۱۴۳۷ / ربیع الثاني – ۱۳۹۴ کال دلوه .

خپرونکي : خانقاه عالیه مجددیه عمریه (جامعه روح المدارس روحانیه)

دا ړیکو شمیري :

افغانستان : ۰۷۷۹۵۰۳۷۰۰ ، ۰۷۷۷۵۵۹۷۹۱ ، ۰۷۷۸۲۳۱۲۹۹

دچاپ ټول حقوق له مؤلف سره خوندي دي .

(c) ketabton.com: The Digital Library

| شمېره | فهرست | مخ |
|---|---|---|
| ۱ | ۱۸ مجلس / د اخلاص او توبې په بيان کې | ۱ |
| ۲ | دمالك بن دينار دبزرګي سبب کيدلو قصه | ۱ |
| ۳ | دمالك بن دينار (رحمه الله ) دنوم وجه اوسبب | ۴ |
| ۴ | دوزخ ته به اول شهيد، عالم او سخي ننوځي | ۵ |
| ۵ | (۱۹) مجلس / د جنت انعامات او مقامات | ۷ |
| ٦ | لومړۍ او غوره صدقه پخپل ځان ،اولاد او..... | ۱۲ |
| ۷ | په مخلوق باندې دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحم ...... | ۱۵ |
| ۸ | حضرت ابوبکر صديق ﷺ دټولو نيکو...... | ۱۹ |
| ۹ | د حضرت امير المؤمنين لخوا ديو مريض ...... | ۲۲ |
| ۱۰ | (۲۰) مجلس / له ډېرو مجلسو څخه ....... | ۲۵ |
| ۱۱ | په يوه نيکه خبره باندې يوه انسان ته .......... | ۲۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲ | (۲۱)مجلس | ۳۱ |
| ۱۳ | دتوســــل بيــــان | ۳۱ |
| ۱۴ | توسل په درې قسمه ده | ۳۱ |
| ۱۵ | په اعمال صالحه وو د توسل ثبوت | ۳۲ |
| ۱۶ | په ذوات فاضله ؤ د توسل د ثبوت دلائل | ۳۳ |
| ۱۷ | په توسل کې د جمهورو علماء كرامو رايه | ۳۹ |
| ۱۸ | دنيك مسلمان په مرگ باندې زمكه او اسمان ... | ۴۲ |
| ۱۹ | دصالحانو په اثارو تبرک نيول ثابت دي | ۴۵ |
| ۲۰ | دحضرت نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وېښتانو.. | ۴۶ |
| ۲۱ | دحضرت نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نوكانو.. | ۴۷ |
| ۲۲ | دنقشبنديې مباركې د شجرې د ويلو فائدې | ۵۴ |
| ۲۳ | دنيكو خلكو دنومونو دیادونې په واسطه... | ۵۸ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۲۴ | دلطائفو په وخت کې دعاوې | ۶۰ |
| ۲۵ | (۲۲) مجلس / په عباداتو کې دحضور.... | ۶۵ |
| ۲۶ | د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لمانځه په وخت.... | ۷۶ |
| ۲۷ | ۲۳ مجلس / د روژې د میاشتې اهمیت | ۸۰ |
| ۲۸ | حضرت ضیاء المشائخ قدس الله سره....... | ۸۵ |
| ۲۹ | له عاجزو خلکو سره پام کوئ ! | ۸۷ |
| ۳۰ | ٢٤ مجلس / د فقهې او تصوف په اصطلاح.... | ۹۱ |
| ۳۱ | علم ظاهر او باطن لازم او ملزوم دي | ۹۲ |
| ۳۲ | کوم لمونځ صحیح ده ؟ | ۹۵ |
| ۳۳ | د رِیاکارانو انجام | ۹۷ |
| ۳۴ | په جمعه دیوه لمانځه نه کولو باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له رضا بې برخې کیدل | ۱۰۱ |
| ۳۵ | نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محبوبینو له جُملې | ۱۰۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



| | | |
|---|---|---|
| ۳۶ | د نبي کريم صلی الله علیه وسلم قاصد خدای پاک.. | ۱۰۴ |
| ۳۷ | ۲۵ مجلس / د صالحانو اود ذکر بیان | ۱۰۷ |
| ۳۸ | د یو شُوم له لاسه د رُوم ټول ښار وسوزېده | ۱۱۱ |
| ۳۹ | د بایزید بسطامی رحمه الله په لیدلو یې.... | ۱۱۴ |
| ۴۰ | ۲٦ مجلس / د وخت ارزښت اود خدای...... | ۱۱۶ |
| ۴۱ | حضرت بایزید بسطامی او یوه ځناور ترمنځ... | ۱۱۸ |
| ۴۲ | د حضرت خواجه عبدالخالق غجدواني | ۱۱۹ |
| ۴۳ | د وخت ارزښت | ۱۲۰ |
| ۴۴ | د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم له خدای تعالی نه... | ۱۲۰ |
| ۴۵ | (۲۷) مجلس /د حضرت شاه نقشبند رحمه الله ..... | ۱۲۴ |
| ۴٦ | د حضرت شاه نقشبند رحمه الله له خپل.... | ۱۲۵ |
| ۴۷ | د حضرت شاه نقشبند رحمه الله له خپل مرشد..... | ۱۲۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۴۸ | حضرت شاه نقشبند رحمه الله ته د خپل.... | ۱۲۹ |
| ۴۹ | د تصوف ځیني اصطلاحات | ۱۳۲ |
| ۵۰ | په یو نېك شخص د الله پاك ﷻ امتحان او.... | ۱۳۶ |
| ۵۱ | ایا په جذب اودس ماتیږي اوکنه ؟ | ۱۴۳ |
| ۵۲ | (۲۸) مجلس/ د حضرت رسول الله ﷺ سره .... | ۱۴۶ |
| ۵۳ | دمحبت علامات | ۱۵۱ |
| ۵۴ | (۲۹) مجلس/ د حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله مناقب او علمي مقام | ۱۶۰ |
| ۵۵ | دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دژوند حالات | ۱۶۱ |
| ۵٦ | امام شافعي رحمه الله به دامام صاحب په زیارت کې خپل مذهب پریښود | ۱۶۳ |
| ۵۷ | د حضرت اما م ابوحنیفه رحمه الله تقوااوسخاوت | ۱۶۴ |
| ۵۸ | په حد یثو کې د حضرت اما م اعظم رحمه الله.. | ۱۶۹ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۵۹ | دامام ابو حنیفة رَحِمَهُ اللَّهُ دفقاهت بشارت | ۱۷۰ |
| ٦۰ | (۳۰) مجلس / که څوک له مهلکاتو وده..... | ۱۷۲ |
| ٦۱ | له حضرت عمر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره سمندراو غرونه.. | ۱۸۶ |
| ٦۲ | د حضرت ابوبکر صدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کرامت | ۱۸۹ |
| ٦۳ | په عبادت کې د حسي خوند مثال | ۱۹۱ |
| ٦۴ | (۳۱) مجلس / دشریعت خلص، علم ،عمل... | ۱۹۲ |
| ٦۵ | حضرت حافظ شیرازی د خپل شهرت...... | ۱۹۹ |
| ٦٦ | په یو جائز عمل ترسره کولو هم دیوسړي | ۲۰۲ |
| ٦۷ | د کستم خلیفه صاحب هم شهرت او ځان..... | ۲۰۳ |
| ٦۸ | دیرى علماء دنفس دذلیل کولو په خاطر..... | ۲۰۴ |
| ٦۹ | دپنجاب د یوه پیر واقعه | ۲۰۵ |
| ۷۰ | نفس په صاحب صاحب دپر غتیږي | ۲۰۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۷۱ | د علم اصلي حقيقت دامام غزالي... | ۲۰۸ |
| ۷۳ | (۳۲) مجلس / دتقوا اواصلاح شرطونه اواسباب | ۲۱۲ |
| ۷۴ | د تقوا اقسام | ۲۱۲ |
| ۷۵ | اولياوو ته خدای پاک ﷻ په حرام خوراک .... | ۲۱۶ |
| ۷۶ | يوه خُرما يې په اشتباه وخوړه څلوېښت شپې .. | ۲۱۷ |
| ۷۷ | دولايت شرطونه | ۲۱۹ |
| ۷۸ | له بيعت نه مخکې اصلاح | ۲۲۱ |
| ۷۹ | حضرت انوارالمشائخ دملاقات په ځای يواځې | ۲۲۲ |
| ۸۰ | دمجدد الف ثانی قدس الله سره د مُريدانو ... | ۲۲۴ |
| ۸۱ | (۳۳) مجلس / دمحبت اصلي سبب | ۲۲۷ |
| ۸۱ | دحضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه دمحبت واقعه | ۲۲۸ |
| ۸۳ | دحضرت عبدالله بن زيد ابن عبدربه رضي الله عنه واقعه | ۲۳۳ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۸۴ | له رسول الله صَلّی اللّه عَلَیْهِ وَسَلّمَ سره ځناورو | ۲۳۳ |
| ۸۵ | (۳٤) مجلس / د حضرت نبي کريم ﷺ او.... | ۲۳۵ |
| ۸۶ | د حضرت حسن رضي الله عنه او حُسين رضي الله عنه د لوږې واقعه | ۲۴۰ |
| ۸۷ | امهات المؤمنين له حضرت نبي کريم ﷺ.... | ۲۴۲ |
| ۸۸ | (۳۵) مجلس / د نعمتونو قدر او شکرانه بايد | ۲۴۴ |
| ۹۸ | په يو ځل ( سبحان الله ) ويلو سره د قبر د .... | ۲۴۶ |
| ۹۰ | د حضرت بي بي رابعه يوه زړه درد وونکې.... | ۲۴۸ |
| ۹۱ | د حضرت عبد الله بن مبارک د غلام واقعه.... | ۲۵۲ |
| ۹۲ | (۳٦) مجلس / داسلام دين د مسلمانو له پاره... | ۲۵۷ |
| ۹۳ | د حضرت ابراهيم بن ادهم د ولايت سبب اوله... | ۲۵۷ |
| ۹۴ | حضرت ابراهيم بن ادهم په ظاهري تکليف.... | ۲۶۳ |
| ۹۵ | (۳۷) مجلس/ توبه ، ژړا او له خدای پاک ﷻ نه... | ۲۶۵ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۹۶ | د الله پاکﷻ له وېرې توبه اېستل | ۲۶۶ |
| ۹۷ | یو سخي ته له مسکینانو سره د مرستې له ... | ۲۶۷ |
| ۹۸ | حضرت عمر فاروقؓ له خدای پاکﷻ ..... | ۲۷۰ |
| ۹۹ | (۲۸) مجلس / د ولایت شرطونه او د ولي نښې ... | ۲۷۸ |
| ۱۰۰ | لومړی: صُحبت ( له اولیاءِ کرامو سره ناسته ) | ۲۷۸ |
| ۱۰۱ | دوهم ذِکر ( په هر حال کې الله تعالی یادول | ۲۷۹ |
| ۱۰۲ | داولیاوو علامې اونښې | ۲۸۳ |
| ۱۰۳ | د حضرت بِشر حافي قدس سره د توبې او لقب... | ۲۸۸ |
| ۱۰۴ | (۳۹) مجلس / د حضرت نبي کریمﷺ..... | ۲۹۲ |
| ۱۰۵ | جمادات هم په دې اقرار کوي چې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حقه دی | ۲۹۵ |
| ۱۰۶ | د حضرت نبي کریمﷺ د ( شق القمر ) معجزه | ۲۹۶ |
| ۱۰۷ | د اسطوانة الحنانة واقعه | ۲۹۷ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۰۸ | د حضرت رسول الله ﷺ په حیواناتو کې ... | ۳۰۱ |
| ۱۰۹ | د حضرت نبي کریم ﷺ د معراج په واقعه .... | ۳۰۲ |
| ۱۱۰ | عقلي دلائل | ۳۰۵ |
| ۱۱۱ | د طریقت فائدې | ۳۰۹ |
| ۱۱۲ | بیعت اولاس نیوی دوه لویې فائدې لري | ۳۱۰ |
| ۱۱۳ | (۴۰) مجلس / په دنیاکې د نیکو اعمالو بدله | ۳۱۱ |
| ۱۱۴ | په بنې اسرائیلو کې د دریو نیکو انسانانو قصه | ۳۱۱ |
| ۱۱۵ | د یوې ګناه د نه کولو په سبب له دنیاوي ... | ۳۱۵ |
| ۱۱۶ | د حضرت حبیب عجمي رحمه الله د توبې ... | ۳۲۰ |
| ۱۱۷ | (۴۱) مجلس / د وخت اهتمام د خدای پاک ﷻ ... | ۳۲۷ |
| ۱۱۸ | د حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه کرامت | ۳۲۹ |
| ۱۱۹ | د حضرت ابودرداء رضی الله عنه کرامات | ۳۳۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library


| | | |
|---|---|---|
| ۱۲۰ | د حضرت حمزهؓ له شهادت نه وروسته ... | ۳۳۱ |
| ۱۲۱ | د ښکو خلکو د ملګرتیا له وجې سپی هم... | ۳۳۳ |
| ۱۲۲ | حضرت نورالمشائخ رحمه الله له مرګ نه وروسته | ۳۳۵ |
| ۱۲۳ | حضرت نبي کریمﷺ د کوچي له پاره په... | ۳۳۶ |
| ۱۲۴ | د حضرت خالد بن ولیدؓ کرامت | ۳۳۸ |
| ۱۲۵ | د حضرت اسماعیل جان اغا صاحب کرامت | ۳۴۰ |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۸) مجلس

## د اخلاص او توبې په بیان کې

د تقوی اثر په اوو ځایونو کې معلومیږي، یو له هغوڅخه داده چې طاعت دالله تعالی د رضا له پاره وشي ، که یو څوک طاعت او عبادت دالله تعالی د رضا له پاره نه کوي نو دا عمل یې هم په دنیا او هم په آخرت کې عبث او بې فائدې دی.

## مالک بن دینار ته دبزرګي ورپه برخه کیدلو دسبب قصه

حضرت مالک بن دینار رَحِمَهُ ٱللَّهُ چې د خپل وخت یو ډېر لوی بزرګ او ولی الله او دحسن بصري رَحِمَهُ ٱللَّهُ همعصری( هنځولی ) و، دی بې اندازې دنیاداره سړی و او له مال دولت سره ، سره الله تعالی ورته ښائست هم ورکړی و، ډېره ښه ځواني یې وه.

دی وایي چې: زه د شام د دمشق ښار جامع جومات ته ( چې حضرت معاویه رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُ جوړ کړی و. ) ولاړم، په زړه کې مې راوګرځېدل چې کاشکې ددې جومات سرپرستي یې ماته راکړې وای، زه یې متولي او سرپرست وای، له دې نه وروسته مې په همدغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات کې اعتکاف شروع کړ، تر څو د خلکو په ما باندې اعتماد پیدا شي، مال دولت راسره ښه ډېر و نو خیراتونه مې هم شروع کړل، له مسکینانو سره مې مرستې او کومکونه کول. نفلونه مې شروع کړل، هرڅوک به چې راتلل نو زه به يې لیدلم چې په نفلونو ولاړ یم، یو کال مې همداسې په اعتکاف او عبادت کې تېر کړ، دی وايي چې: په دې دومره وخت کې به ماته خان د منافق په شان ښکارېده، ځکه چې زما په دې عبادتونو او خیراتونو سره نیت داو چې ترڅو خلک را باندې اعتماد وکړي او ماته د جومات سرپرستي راکړي، خو ددې یو کال تکلیفونو دتیرولو سره ، سره خلکو زما لور ته هېڅ التفات او کتنه نه کوله

دی وايي چې: اخیرمې يوه شپه له ځان سره فکر وکړ چې دا یو کال کېږي چې په اعتکاف کې ناست يې او شپه ورځ په نفلونو لګيا يې ، په صدقو او خیراتونو مصروف يې، دا ټول ددې له پاره چې د خلکو تر نظره ښه ورشم، چې فلانکی ښه سړی دی، نو آیا دا کار ډېره لویه تیر وتنه نه ده ؟ چې خپل قیمتي وخت دې ددې له پاره ضایع کړ چې خلک مې ښه وګڼي

دی وايي: له ځان سره مې فیصله وکړه چې: اې خدایه پاکه ! له دې وروسته به عبادت یواځې او یواځې ستا دخوشحالولو له پاره کوم نو دغه شپه چې ما په عبادت کې یواځې د خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره تېره کړه نو سهار تقریباً ددغه جومات چې څومره مشران او کلیوال وو هغوی په خپل منځ کې کېناستل اومشوره يې سره وکړه چې: په دې جومات کې څه کړکۍ، دروازې، یا کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیمنتي ځای خراب شوی دی، باید ددې کارونو له پاره په خپل منځ کې یوځه چنده سره یوځای کړو او یو ښک سړی مو ورته ټاکلی وای چې د جومات دغه کار مسؤلیت یې په غاړه اخیستی وای. نو دې خلکو په خپل منځ کې سره وویل چې: تر مالک بن دینار بل ښه سړی نشته، له فیصلې وروسته ماته شل کسان راغلل او کېناستل چې موږ له دې غوښتنې سره درته راغلي یو چې که ته ددغه جومات سرپرستي په غاړه واخلې ، مصرف اونور هرڅه یې ستا په اختیار کې وي.

دی وایي چې ماوویل: ای خدایه ! یو کال مې د ځان له پاره عبادت کاوه چې خلک مې ښه وګڼي خو هیچا راته التفات او کتنه ونه کړه، نن چې یوه شپه خاص ستا په دربار کې ستا له پاره ودرېدم ، نو اوس زه د جومات سرپرستي نه غواړم، دغه دی شل کسان راته راغلي او ناست دي چې ته د جومات سرپرستي واخله.

نو مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ قسم کوي چې: زه به ددې جومات سرپرستي هېڅکله هم ونه اخلم او زه به آینده ټول کارونه د الله تعالی د رضا له پاره کوم.

دغه حضرت مالک بن دینار رَحِمَهُ اللهُ بیا د الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له مقربینو څخه حساب شو، له دې ټولې مالداري سره یې ملنګي او خدای پرستي خوښه کړه ، دنیا ، مال او دولت هرڅه یې ختم کړل، له مشائخو سره یې تعلق پیدا کړ.

[تذکرة الاولیاء فارسي چاپ ایران ص: ۶۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمالک بن دینار (رَحِمَهُ اللّٰهُ) د نوم ایښودلو وجه او سبب

نو مالک بن دینار رَحِمَهُ اللّٰهُ یوه ورځ په کشتۍ کې سپور شو، نو د دریاب په منځ کې کشتیبان ورڅخه یو دینار کرایه وغوښته او له ده سره یو دینار هم نه ؤ، دی وایي چې په دې خبره یې نه پرېښودم او په کشتۍ کې راسره د کشتیبان جنګ شو، دومره یې ووهلم چې بې هوښه شوم، چې بیا را په واک شوم، بیا یې راته وویل چې یو دینار راکړه، ما بیا ورته وویل چې نشته راسره، بیا یې ووهلم، په دریم وار مې ورته وویل چې نور مې وس نشته، له لاسونو او پښو څخه مې ونیسئ او دریاب ته مې وغورځوئ! کله چې دوی ددې کار اراده وکړه نو له دریاب څخه ډېر ماهیان د کشتۍ په یوه او بل طرف باندې راپورته شول او هر ماهي په خوله کې یو یو دینار نیولی و، له یوه ماهي څخه مې دینار راواخیست اود کشتۍ مالک ته مې ورکړ، نو ځکه ده ته (مالک بن دینار) وایي. له دې نه وروسته له کشتۍ څخه راکوز شو اود اوبو په مخ باندې روان شو او بیا چا ونه لیده. [ تذکرة الاولیآء پښتو / ص: ۳۹ ]

نو لنډه داچې هرکله کار د خدای جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره نه وي، نو یو کال اعتکاف، لمونځونه، خیراتونه هیڅ ګټه نه رسوي او نه هم د خلکو په زړونو کې ځای پیدا کولای شي، خو کله چې یوه شېبه خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ ته په اخلاص ودرېږي بیا یې ثمره او نتیجه تاسې هم ولیدله چې خلکو ته محبوب شو، دا ولې؟ ځکه چې خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ ته محبوب شو، کله چې یې له خدای تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره د اخلاص معامله شروع شوه، نو بيا الله تعالی هغه مقام او مرتبه ورته ورکړه چې که سړی دده مبارک تاريخ ګوري ښخي يې نه شي بيانولای. دومره تکليفونه يې تېر کړي دي چې د عُمر په آخر کې يې بياپه کلونو کلونو لمده ډوډی نه ده خوړلې، خورما او غوښه يې نه ده خوړلې، په ډېرو تکليفونو کې به يې شپې ورځې تېرولې.

همداراز لکه مخکې په همدې کتاب او ټوک کې مخ ۱۴۹ / ۱۵۱ / کې د بني اسرائيلو ديوه بدمعاشي قصه تيره شوې ده چې په اخر عمر کې يې خداي پاک توبه قبلوله کړه.

ټول ژوند سړی په کفر کې تېر کړي وي خو چې يو وار په اخلاص توبه ګار شي نو الله تعالی ورته له ټول کفر څخه تېريږي، ټول عمر يې په فِسق او ګناه کې تېر کړی وي خو چې يو وار په اخلاص توبه وباسي نو بيا هم له ټولو بدعمليو ورتيريږي، که طاعت، لمونځ، روژه، جهاد، علم بلکې هر نېک عمل چې د خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره نه وي هغه په هېڅ شمار ده.

## دوزخ ته به اول شهيد، عالم او سخي ننوځي

په حديث مبارک کې راځي چې له ټولو نه مخکې به دري کسان دوزخ ته ځي چې هغه شهيد، عالم او سخي دی. څکه چې شهيد شوی وي خو جهاد يې د الله تعالی د رضا له پاره نه وي کړی، همداسې عالم د خدای تعالی جَلَّجَلَالُهُ د خوشالولو له پاره علم نه وي حاصل کړی، او سخي هم د خدای جَلَّجَلَالُهُ د رضا له پاره مال نه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړي، [صحیح المسلم و مشکوة المصابیح/ ج ۱/ کتاب العلم ص ۳۲] نو په دنیا کې خو ځان ډېر ښه ورته معلومیږي، په ډېر ښه عمل لګیا ده، خو چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د رضا نه وو بیا به په دغو خلکو د جهنم اور بلیږي. نو په هر عمل کې به زموږ مطلوب او مقصود د الله تعالی رضا وي. لږ عمل دې وي خو چې د الله تعالی له پاره وي، دغه لږ عمل تر هغه ډېر عمل چې په ریاکاري او نوم باندې بناء وي او یا هم د بل غرض له پاره وي نو دغه لږ عمل ورباندې بهتره ده. که یوه یا نیمه خورما (کهجوره) چې څوک په اخلاص سره صدقه کړي د اُحُد د غره په اندازه د سرو زرو د ریاکاره خیرات ورکولو نه زیات ثواب لري، دوه رکعته نفل که په اخلاص سره وي، یا هم یو ساعت مطالعه وکړي، دا تر ملیونونو روپیو نه بهتره ده او که سړی د ذِکر په حالت کې په ژړا لګیا وي، خو خپلې ژړا ته دې وګوري چې زه د څه له پاره ژاړم، چې خلک راته ووایي چې دا فلانکی دومره ولې ژاړي، نو که دغه ژړا دې د خدای تعالی جَلَّ جَلَالُهُ د خوشالولو له پاره نه وي نو په دې کې هم هېڅ ګټه نه شته. نو غرض دا چې په هرڅه کې به مقصود د الله تعالی رضا وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۱۹) مجلس

## د جنت انعامات او مقامات

الله تعالی فرمايي: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ ﴾

[سورة الرحمن]

ژباړه: او هغه لره چې ویریږي (په وخت د ګناه کې) له ودریدلو څخه په مخ د رب خپل کې (حساب ته) دوه جنتونه دي

په عبادت کې د کوشش کولو یوه طریقه داده چې سړی د عباداتو ثوابو ته متوجې شي چې خدای پاک په دغو عباداتو باندې مونږ ته کومه بدله او عوض راکوي چې دهغو نعمتو دخدای پاک په دغو عباداتو باندې مونږ ته کومه بدله او عوض راکوي چې دهغو نعمتو دخدای پاک سوچ اوفکر دېروي ورسره نوبیا دغه انسان دهغه نعمت دحاصلولو په خاطر باندې کوشش کوي

خداوند متعال په دغو عباداتو باندې انسانانو ته جنت ورکوي جنت څنګه مقام ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دجنت تشريح کوي اووايي: ﴿ وَلِمَنْ خَافَ مَقَامَ رَبِّهِۦ جَنَّتَانِ ﴿٤٦﴾ ﴾ [سورة الرحمن]

څوک چې ډاريږي له دېښه چې زه به په ورځ دقيا مت دخداى پاک په حضور کې درېږم اوزما نه به سوال کيږي اوزه به ځواب ورکوم. نوهغه ته خداوند متعال دوه جنته ورکوي بل ځاى کې راځي: ﴿ وَمِن دُونِهِمَا جَنَّتَانِ ﴿٦٢﴾ ﴾ [سورة الرحمن] ددغو دووجنتونونه پرته دوه نور هم شته.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قُلْتُ يَا رَسُولَ اللهِ مِمَّ خُلِقَ الْخَلْقُ؟ قَالَ: «مِنَ الْمَاءِ»، قُلْتُ: الْجَنَّةُ مَا بِنَاؤُهَا؟ قَالَ: «لَبِنَةٌ مِنْ فِضَّةٍ وَلَبِنَةٌ مِنْ ذَهَبٍ، وَمِلَاطُهَا الْمِسْكُ الْأَذْفَرُ، وَحَصْبَاؤُهَا اللُّؤْلُؤُ وَالْيَاقُوتُ، وَتُرْبَتُهَا الزَّعْفَرَانُ مَنْ دَخَلَهَا يَنْعَمُ وَلَا يَبْأَسُ، وَيَخْلُدُ وَلَا يَمُوتُ، لَا تَبْلَى ثِيَابُهُمْ، وَلَا يَفْنَى شَبَابُهُمْ» ﴾

[جامع الترمذي ج: ٢ /ص: ٧٩ / رقم الحديث: ٢٥٢٦]

ژباړه له حضرت ابوهريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دى وايي رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مې وويل چې خلک له څه شي څخه پيدا دي؟

راته وې ويل له اوبو څخه، ورنه ومې پوښتل جنت او دجنت جوړښت له څه دى؟ راته وې ويل: يوه خښته يې له سپينو زرو اويوه يې له سرو زرو څخه ده اوګل يې له خوشبويه مشکو څخه ده او شګې يې ملغلرې او ياقوت دي، خاوره يې زعفران دي څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ورننوت نو خوشحاله به وي نا امیده کیږي به نه همېشه به وي
نه به مړ کیږي . نه به یې جامې زړیږي او نه به یې ځواني زړیږي.

، دادوه جنتونه داسې دي چې سامانونه یې هم ټول دسپینو
زرودي هغه لوښي چې اوبه او شراب پکې څښل کیږي هغه پلېټونه
چې خوراکونه پکې خوړل کیږي داټول دسپینو زر ودي اودادجنت
حالات چې بیانیږي په دغه کې باید مونږ شک ونه کړوځکه چې
دادخداوند متعال او نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرموده ده.

په جنت کې داسې مقامات شته چې یوه لویه ماڼۍ دملغلرو وي
په هغې کې دننه اویا (۷۰) کورونه وي اوپه یوه کور کې
اویا(۷۰)کوټې او په یوه کوټه کې اویا (۷۰) تختونه او په هر تخت
باندې به اویا (۷۰) قسمه فرشونه وي چې د هر یوه رنګ به له بل
څخه جُدا وي اوپه هر فرش به ددغه جنتي له پاره ښېله ښېله حوره
ناسته وي. دوه داسې جنتونه دي چې دهغو ټول اسباب د سپینو
زرو دي، د څښاک شیان یې شراب دي چې د هغو د اقسامو بیان د
قرآن کریم په آیتونو کې شوی دی شراب به څکل کېږي، د دُنیا د
شرابو غوندې کیفیت به یې نه وي؛ چې د سر درد ورسره پیدا
کېږي، یا انسان داسې نشه کړي چې د عقل له دائرې څخه
ووځي،هلته د شیدو ویالې هم شته چې نه به دغه شیدې بدبویه
کېږي اونه به کوم تغیر او بدلون پکې راځي، هلته شات هم شته
داسې به صفا وي چې هېڅ ګندګي به ورسره ګډه نه وي، هلته
داسې اوبه شته چې هېڅ تغیر او بدلون به نه پکې راځي، که څه هم
ډېر وخت ورباندې تېر شي، ددغو اوبو نمونه په دې دنیا کې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



زمزم اوبه دي، چې په کلونو کلونو خلکو ساتلې وي خو هېڅ بدبويي ، خرابي او بدلون نه پکې ترسترګو کېږي. خدای تعالی په دُنياکې د هغو اوبو يوه نمونه ښودلې چې هغه د زمزم اوبه دي.

بيا دوه داسې جنتونه هم شته چې د هغو ټول اسباب بيا د سرو زرو دي، د دواړو جنتونو آبادي د سرو زرو له خښتو څخه شوې ده. لاندې ځمکه او دېوالوونه يې هم د سرو زرو دي، خېمه يې له مُشکو څخه جوړه ده، چې د خوشبويي ساری يې نشته.

هر جنتي ته به د ډوډۍ خوړلو په وخت کې اويا دستر خوانونه واچول شي اوپه هر دسترخوان به اويا قسمه خوراکونه ايښي وي، د يوه ميل په اندازه به اوږد او همداسې د يوه ميل په اندازه به يې د دسترخوان پلن والی وي، له دې سره سره يې دغه جنتي انسان ته الله جَلَّجَلَالُهُ دومره طاقت هم ورکړی وي چې دا ټول خوراکونه به هضم کولی هم شي ، داسې به نه وي لکه په دنيا کې چې ليږ زيات خوراک وکړې بيا به دې دبدن يوه پرزه خرابه وي. يوه جنتي ته به الله تعالی د دنيا د سلو (۱۰۰) انسانانو برابر طاقت ورکړی وي. [جامع الترمذی/ ج: ۲ ص: ۸۰ / ابواب صفة الجنة] خو هلته چې دا دومره خوراکونه کېږي نو قضاء حاجت نشته، څومره اوبه او شراب ،شيدې او شات چې څښل کېږي هلته بيا بولې (وړې متيازې) نشته ، يواځې او يواځې د ارګمي (ټبغ) په را ايستلو او په خولې کېدلو سره هرڅه هاضمه کېږي.

[مشکاة المصابيح/ ج ۲/ص: ۵۱۸/ باب صفة الجنة]

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ عُبَادَةَ بْنِ الصَّامِتِ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «فِي الْجَنَّةِ مِائَةُ دَرَجَةٍ مَا بَيْنَ كُلِّ دَرَجَتَيْنِ كَمَا بَيْنَ السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ،....﴾

[جامع الترمذی ج ۲ / ص ۷۹ / باب فی صفة درجات الجنة رقم الحديث ۲۵۳۱]

ژباړه : له حضرت عباده ابن صامت رضي الله عنه روایت دی وایي : رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي چې په جنت کې دتنه سل رتبې او درجې دي چې ددوو درجو ترمنځ به دومره فاصله او واټن وي ، لکه داسمان اوزمکې ترمنځ چې څومره واټن او فاصله ده.

حضرت ابی سعید خدری رضي الله عنه له نبي کریم صلی الله علیه وسلم څخه پوښتنه وکړه چې: دغه دومره اوچته مرتبه چې دا نور جنتیان به داسې ورته ګوري لکه څوک چې له ځمکې څخه آسمان ته ګوري نو الله تعالی به دا مرتبې چاته ورکوي ؟نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته په ځواب کې وفرمایل چې: دا دهغو خلکو ځای دی چې د فرضي حقوقو له ادا کولو سره سره له ګناهونو هم ځان ساتي او بل دا عمل هم کوي چې: ﴿ لِمَنْ يَفْشَى السَّلَامَ وَ يُطْعِمُ الطَّعَامَ وَ يُصَلُّوْنَ بِاللَّيْلِ وَالنَّاسُ نِيَامُ وَ يَدُوْمُ عَلَى الصَّوْمِ ﴾ یعنې الله تعالی دا جنت او مرتبه هغو خلکو ته ورکوي چې سلام اچول یې خپل عادت ګرځولی وي او هرچاته ډوډی ورکوي اود شپې له خوا په داسې حالت کې د (تهجد) لمونځ کوي چې خلک ویده وي او په دوامداره توګه روژه نیسي.

نو کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم دا خبره وکړه نو ابوسعید خدری رضي الله عنه بیا پوښتنه ورڅخه وکړه چې: یارسول الله صلی الله علیه وسلم ! دا به د چا په وس او طاقت کې وي چې په دنیا کې سړی وینې او

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی سلام وربانديې اچوي ، له ظاهري الفاظو خو دا معلوميږي چې د دنيا په ټولو انسانانو به سلام اچوي ، ټولو خلکو ته به ډوډۍ ورکوي ، ټول عمر به روژه نيسي او ټوله شپه به لمونځ کوي. نو دا خو دهيڅچا په وس کې هم نشته. رسول الله ﷺ په خوب کې ورته وويل: چې آسانه طريقه يې داده چې څوک په مخه درځي نو هغه ته به سلام اچوې، داسې نه چې په خلکو پسې به ګرځې. د ( اطعام الطعام ) دا معنی چې که بل څوک درته پيدا نه شو چې ډوډۍ پرې وخوري نو په خپل اهل او عيال يې چې د ثواب په نيت وخوري دا هم په ( اطعام الطعام ) کې داخل ده. [ رواه جامع الترمذي ج: ۲ ص: ۷۹ باب في صفة درجات الجنة رقم الحديث ۲۵۲۷ / بتغير لفظ و راوي ]

څکه په بل ځای کې حضرت نبي کريم ﷺ فرمايي چې بهترينه صدقه اول په خپل عيال ده.

## لومړۍ او غوره صدقه پخپل ځان ، اولاد او دکور په والاده

﴿عن ابی هريرة قال جاء رجل الی النبی صلی الله عليه وسلم فقال عندی دينار قال أنفقه علی نفسک قال عندی اخر قال انفقه علی ولدک قال عندی اخر قال انفقه علی اهلک قال عندی اخر قال انفقه علی خادمک قال عندی اخر قال انت اعلم﴾ [مشكاة المصابيح ج: ۱ /ص: ۱۸۴ / باب فضل الصدقة ]

ژباړه : له حضرت ابوهريره رضي الله عنه نه روايت دی وايي : چې رسول الله ﷺ ته يوسړی راغی ورته وايي : له ما سره يو

(c) ketabton.com: The Digital Library



دینار دی، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې په خپل ځان یې مصرف کړه، هغه بیا ورته وویل چې: بل دینار هم راسره شته، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې په خپل اولاد یې مصرف کړه، هغه بیا وویل چې: بل هم راسره شته، ده مبارک صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې: په خپله ښځه دې مصرف کړه، هغه بیا وویل چې: بل دینار هم راسره ده، ده ورته وویل په خپل خادم یې مصرف کړه ،هغه وویل بل دینار هم راسره شته ، نو نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل چې: اوس نو تاته ښه معلومه ده چې په خپلو خپلوانو کې دې څوک ډېر حقدار ده نو دا بیا هغه ته ورکړه. نو بهترینه صدقه په خپل عیال ده.

نو راځم اصل مطلب ته کوم چې مخکې حدیث شریف تېر شو چې په خپل عیال باندې که په ښه نیت مصرف وکړې بیا به هم هماغه مرتبه الله تعالی درکوي کومې مرتبې ته به چې نور جنتیان له لاندې ګوري. اود دوامدارې روژې مطلب داده چې له فرض روژې څخه وروسته په هره میاشت کې درې درې نفلي روژې ونیسې نو دا داسې ده لکه ټول کال چې دې روژه نیولې وي.

اود شپې د لمانځه څخه مطلب داچې یو څوک د ماخستن فرض لمونځ په جَمعه اداکړي او بیا فضول ( بې ګټې ) مجلسونه او عبثیات ( خوشې کارونه ) پرېږدي ، بې ځایه قصې او نقلونه ونه کړي او بیا د سهار لمونځ په جَمعه وکړي نو دغه سړي ته هم الله تعالی هم هغه مقام ورکوي کوم مقام چې الله تعالی د تهجدو لمونځ کوونکي ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو که مومن او تاسې د الله تعالی رحمت ته پام وکړو نو خبره ډېره آسانه ده، چې د جنت هغه بنګلې چې نور د تیتې مرتبې جنتیان ورته له لاندې ښخه ګوري خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې هغو خلکو ته ورکوي څوک چې په لاره چاته په مخ ورځي او په سلام اچولو کې مخکې شي

نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: ﴿البادئ بالسلام بريئ من الكبر﴾ [زادالطالبين ص: ۵/ بحواله بيهقي] یعنې څوک چې په سلام اچولو کې تر بل مخکې شي نودا سړی له تکبر څخه خالي دی.

یاداچې په خپلې کورنۍ باندې حلال رزق خوري اود ثواب نیت دې کړی وي نودا سړی به هم هغه مقام ته رسیږي چې مخکې بیان شو.

یاداچې فرضي روژې ونیسي او بیا په هره میاشت کې درې نفلي روژې ونیسي نو الله تعالی ورته د ټول عمر دروژې نیولو ثواب ورکوي. د ماخستن او سهار لمونځونه چې په جمعه ادا کړي نو که د شپې بالکل جګ نه شي بیابه هم الله تعالی دغه مقام ورکوي.

اوس چې سړی د جنت بنګلو او انعاماتو ته متوجه شي، هغه د جنت حورې چې اویا جوړه جامې یې اغوستې وي، له دې جامو سره سره دومره ښائست الله تعالی ورکړی چې د دوی د پښو د هډوکو په منځ کې ماغزه به له ډېره ښایسته له ورایه معلومیږي. نودا ښائسته حورې او غِلمان، ښائسته بنګلې دا د یوه ادنی جنتي مقام

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده اودا مقام په عبادت سره ترلاسه کېږي، نو عبادت يې قيمت شو، قيمت خو يې څوک نه شي ادا کولای ، خو دخدای پاک په خپلو نيکو بنده ګانو ډېره خوا بديږي که بندګان ليږ ښه له ځانه سره وکړي الله تعالی يې په بدله کې ډير څه ورکوي ددې مثال داسې دی لکه يوغريب سړی دی (۳۰) کلداره ورسره دي او يوه کيلو انګوراخلي هغه په (۱۰۰) روپۍ کيلو دي خوددوکاندار خوا ورته بده شي هغه ورته وايي چې دي خو ګران خير ده تاته به يې په دې ديرش روپۍ درکړم ، جنت ته چې څوک داخليږي د الله تعالی په رحمت به داخليږي، خودا عبادت کول د رحمت دنزول له پاره لوی سبب او ذريعه ده. [جامع الترمذی ج ۲ ص ۷۹ / ۸۰ / ابواب صفة الجنة]

کوم اولاد چې د مور او پلار خدمت کوي، نو په هغه اولاد يې تر نورو اولادونو شفقت او مينه زياته وي، نو خداوند متعال د هغه چاچې دده جَلَّجَلَالُهُ بندګي ډېره کوي، عاجزي ورته کوي، نو په هغه بنده يې رحمت هم زيات وي او ترڅو پورې چې انسان باغي شوی نه وي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ کله هم چاته عذاب نه ورکوي.

## په مخلوق باندې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رحم اومهرباني

په حديث شريف کې راغلي دي چې يووخت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صحابه کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ ورسره دي چې يوې ښځې ته وروګرځېده چې هغې اور بل کړی اوکټو يې ورباندې ايښې نودااور لمبه چې جګه شي داخپل بچي ورڅخه لرې کړي اوکله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې تيته شي بچي يې ورشي په هغه طرف باندې دابنځه ورته راجګه شوه چې ته رسول دخدای یې نبي کریم ﷺ ورته وویل هو زه یم وایې: الله تعالی په مخلوق باندې تر مور اوپلار زیات مهربانه ده چې مور خوخپل زوی اورته نه اچوي اوس دازما بچی ده زه یې اورته نه اچوم خدای تعالی چې پر خپل مخلوق تر مور اوپلاراوباچنده زیات مهربانه ده نو هغه څرنګه دغه مخلوق اورته اچوي نبي کریم ﷺ سرتیټ واچاوه اوپه ژړا شواووېي ویل چې الله تعالی خپل بنده ته عذاب نه ورکوي کله چې یو بنده دبندګي له چوکاټ څخه ووزي په نارواؤ او ناخوالو یې سرشي او توبه هم نه باسي داسې بنده ته بیا خدای پاک دده دپاکوالي له پاره عذاب ورکوي. ددې مثال داسې دی لکه دیو چامور او پلار دې اولاد پرې ګران دی او شفقت هم زیات لري خو دغه مور اوپلار چې کله له اولاد څخه ډیر په تکلیف شي بیا یې په خپله وهي او یایې دوخت په حکومت ونیسي او بندي یې کړي.

نو انسان هم چې دالله تعالی دبندګي په چوکاټ کې ترهغه وخته چلیږي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خپل بنده ته عذاب نه ورکوي خو چې دبندګي له چوکاټ نه ووت او بې لارې شو. تردې چې دبغاوت درجې ته وره سیده او دغه لړه یې جاري وه، نو بیا پس له هغه نه بیاهغه ته سزا ورکوي.

اوکه یوتن دخدای جَلَّ جَلَالُهُ په عبادت مصروف وي نو دخدای تعالی عبادت خو درحمت او دلوړوالي ددرجو سبب دی بیا یې خدای پاک کله عذاب او سختیو ته ورکوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره چې بندګي او عبادت زیاتیږي دخدای جَلَّ جَلَالُهُ خیره منل کیږي. دغومره دخداوند متعال رحمت زیات رانازلیږي بیادخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په خزانوکې خو دهیڅ شي کمبوت نشته بیاواجب تعالی دجنت قیمت نه غواړي بیا دجنت دبنګلو قیمت نه غواړي دخپل دیدارقیمت نه غواړي ځکه قیمت یې نشته او نه یې څوک پوره کولای شي دایې هسې سبب یوذریعه اوبهانه ده عبادت کوي که یې نه کوي په اطاعت باندې دالله تعالی خدائي ته ګټه اوپه طغیان باندې دخدای پاک خدائي ته څه ضرر نه رسیږي.

نو هر څه چې سړی کوي باید فائدې ته یې نظر وشي چې لمونځ کوم په لمانځه باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ماته جنت راکوي زه روژه نیسم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ماته جنت پرې راکوي زه ذکر کوم ماته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ پرې جنت راکوم زه حج کوم ماته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ جنت پرې راکوي زه جهاد کوم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ماته جنت پرې راکوي او طالبي کوم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ماته جنت پرې راکوي

نوهغه جنت ته چې نظروکړي دجنت انعاماتوته نظروکړي بیاکه په دغو عباداتو کې څه تکلیفونه ورباندې تېرېدل داهم ټول ورته اسانه شي. وایي چې ددنیا دګټې اوتاوان خبره سړی چې په دنیاکې سنجوي نوچې څومره ګټه دیوه شي زیاته وه نودغومره خلک دهغه شي سره محنت تېروي ډېرې سترې تېروي تاسې دادمستریانو ژوند ګورئ دسرڅخه تر نوکه پورې په ګرسو او مېلاینو ککړوي خیرنې جامې یې اغوستي وي خوددنیا ګټه وینې چې ډېره ده نوداخپل ښایسته بدن یې ددنیا دترلاسه کولو له پاره په خیرو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګریسو او مبلاینو لړلی وي ، نوخلک په قسم قسم تکالیفو باندې لګیادي حتی بنګیان دي ددنیادګټې لپاره ټول ژوند په بنګي توب کې تېروي په ټټیوکې یې تېروي په هغه مردارو ځایوکې یې تېروي ځکه ګټه یې وینې چې ددنیا دګټې لپاره هغه مردار تکلیفونه څوک تېروي دمرداري ذخیرې په لاس خالي کوي ځکه ددنیاګټه یې وینې

نوچې ددغوسلوروپېوګټې لپاره سړی ددنیادومره تکلیفونه تېروي دجنت انعامات اودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دیدار اودواجب تعالی رضا ﴿ وَرِضْوَانٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ [ سورة التوبه آیت ۲۷ ] یعنې لږ رضا دخدای پاک دټولې دنیا له انعاماتو او ښیرازیو څخه بهتره اوغوره ده بلکې دټولو جنتو نوله نعمتو نه بهتره او غوره دي.

نو بیا به ولې سړی تکلیف نه تېروي بیا به په طالبي ،جهاد ، حج ، لمانځه ،روژه بلکې په هر عبادت کې تکلیف تېروي ځکه چې ثمره یې ډېره غټه ده بد له یې ډېره غټه ده په دنیا کې چې ددنیا دګټې خبرې خلک واوري چې په جرمني کې داسې ګټې دي نو مرګ ته ځان ورکوي په داسې او ګوټو کې دکا چاک په لار ځي چې دمرګ خطر یې وي خو لیکن ځان رسوي ځکه چې دهغه ځای روپۍ جګه ده حتی خلک دایمان څخه ورته تېرېږي بې دینه کېږي دهغه ملک قبولي په دي تا مه باندې کوي چې زه العیاذ بالله کمونست یا انګرېزی یم دهغه ځای نه را تبنتېدلی یم ځکه ددنیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګڼي ته ګوري نو داخیرت ګڼه هم دغسې دتکلیفو نو په تیرولو تر لاسه کیږي

تاریخ چې سړی وګوري څومره چې خدای پاک ته ورنږدې خلک دي هغو خلکو تکلیفونه ډېرهم تېرکړي خکه دهغو خلکو دجنت دانعاماتوبدلې جګې دي داتصور چې دچاوي چې هغه مقام به خدای پاک ورکوي بیا به ولې تکلیفونه نه تېروي

## ابوبکرصدیق رضي الله عنه دټولو نیکواولوړواعمالو نمونه وه

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " مَنْ أَنْفَقَ زَوْجَيْنِ فِي سَبِيلِ اللهِ، نُودِيَ مِنْ أَبْوَابِ الجَنَّةِ: يَا عَبْدَ اللهِ هَذَا خَيْرٌ، فَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّلاَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّلاَةِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الجِهَادِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الجِهَادِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصِّيَامِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الرَّيَّانِ، وَمَنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الصَّدَقَةِ دُعِيَ مِنْ بَابِ الصَّدَقَةِ "، فَقَالَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ: بِأَبِي أَنْتَ وَأُمِّي يَا رَسُولَ اللهِ مَا عَلَى مَنْ دُعِيَ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ مِنْ ضَرُورَةٍ، فَهَلْ يُدْعَى أَحَدٌ مِنْ تِلْكَ الأَبْوَابِ كُلِّهَا، قَالَ: «نَعَمْ وَأَرْجُو أَنْ تَكُونَ مِنْهُمْ» ﴾ اصحیح البخاري ج ۱ ص ۲۵۴ / باب: الريان للصائمين / رقم الحديث: ۱۸۹۷ / ومشكاة المصابيح / ج: ۱ ص: ۱۶۴ / باب فضل الصدقة ]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي: چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: څوک چې دوه شیان له یوه مال

(c) ketabton.com: The Digital Library



څخه دخدای پاک په لارکې ولګوي دجنت له دروازو ورته اواز کیږي چې اې دخدای بنده دادتا له پاره خیر ده :

څوک چې لمونځونه کوي هغه به دلمانځه له دروازې څخه غوښتل کیږي ، څوک چې دجهاد اهل وي هغه به دجهاد له دروازې غوښتل کیږي ، څوک چې روژې نیسي هغه به د(ریان) نومې دروازې له خوا غوښتل کیږي اوڅوک چې صدقې کوي هغه به دصدقې له دروازې له خوا غوښتل کیږي .

حضرت ابوبکرالصدیق رضي الله عنه وویل اې رسول الله صلی الله علیه وسلم ! زما مور اوپلار دې تر تا قربان وي دغه کسان خوبه له دې نومړو دوازو غوښتل کیږي، ایا داسې څوک به هم وي چې له دې ټولو دوازو څخه دبلنې او میلمستیا اوازونه ورته کیږي .

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وویل هو! زما امید ده چې همدا ته به هغه شخص یې چې د جنت له ټولو دروازو څخه به تاته ددعوت او میلمستیا نارې را وهل کېږي چې له هرې دروازې څخه به دانارہ راځې چې زما لورې ته داخل شه ! د حشر په ورځ کله چې فیصله وشي نو هلته به بیا د جنت له هرې دروازې څخه آواز کېږي چې : مصدقینو ( یعنې چاچې صدقه کړې وي ) په دې لار راشئ، چاچې لمونځ کړی وي په دې لار راشئ ، چاچې جهاد کړی وي په دې لار راشئ ! خو یواځې ته به یې چې تاته به له ټولو لارو څخه آوازونه کېږي .

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ته به خکه له هر لوري آوازونه کېږي چې هغه به د دین په خاطر تکلیفونه هم ډېر تېرول .

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ «مَنْ أَصْبَحَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ صَائِمًا؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ تَبِعَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ جَنَازَةً؟» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ أَطْعَمَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مِسْكِينًا» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، قَالَ: «فَمَنْ عَادَ مِنْكُمُ الْيَوْمَ مَرِيضًا» قَالَ أَبُو بَكْرٍ: أَنَا، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «مَا اجْتَمَعْنَ فِي امْرِئٍ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ» ﴾ [ صحیح المسلم باب من فضائل ابی بکر الصدیق رضي الله عنه ج: ۲ / ص: ۲۷۴ / رقم الحدیث : ۱۰۲۸ ]

ژباړه : له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وايي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ( یوه ورځ له صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم نه پوښتنه وکړه چې ) : په تاسې کې داسې څوک شته چې نن یې روژه وي ؟ حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وایي چې: هو ! ما روژه نیولې ده . نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته بیا وویل چې: داسې څوک شته چې نن یې د جنازې لمونځ کړی وي ؟ حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وویل چې: هو ! زه یم . حضرت پیغمبر صلی الله علیه وسلم بیا وویل چې: داسې څوک شته چې نن یې له کوم مسکین سره مرسته کړې وي ؟ حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وویل چې: هو ما له مسکین سره مرسته کړې ده .نبي کریم صلی الله علیه وسلم بیا پوښتنه وکړه چې آیا داسې څوک هم درېکې شته چې د مریض پوښتنه یې کړې وي؟ صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وویل چې هو ! ما د یوه مریض پوښتنه کړې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو رسول الله ﷺ وويل داخلور خويونه چې په يوه ورځ کې په چا کې يوځای شول نوله حسابه پرته به جنت ته داخليږي او با چې له هرې دروازې يې خوښه وي داخل به شي .

[ مرقات شرح مشكاة باب الزكاة ج ۴/ ص ۳۹۲ ]

## دامیرالمؤمنین لخوا دیو مریض پوښتنه او خدمت کول

حضرت ابوبکر الصديق رضي الله عنه به په هر عبادت کې کوشش کاوه کله چې حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چې دمسلمانانو مشر وتاکل شو دصديق اکبر رضي الله عنه کورته ورغی او دکور دخلکو نه يې پوښتنه وکړه چې صديق اکبر رضي الله عنه څه عملونه کول دخلکو سره يې څه کول نو بي بي يې ورته وويل چې په فلانکي ځای کې يو عابده ده هغه ته به يې روزانه خوراک ورکاوه حضرت عمر رضي الله عنه چې ورغی يو سړی له سرنه تر پښو خوړين ده او په هغه ځای کې ناست ده نوده مبارک ښه ډوډۍ پسته کړه هغه ته به يې په خوله کې ورکړه چې ورېې کړه هغه چيغه کړه چې آه صديق اکبر رضي الله عنه لکه چې له دې فاني دنيا څخه دتل له پاره سترګې پټې کړې، ده ورته وويل چې څه پوه شوې ؟ هغه ورته وايي: صديق اکبر رضي الله عنه به چې کله ماته ډوډۍ راکوله يووار به يې په خپله خوله کې وژووله پسته به يې کړه بيابه يې په خپله ژبه زما په خوله کې راکوله .

تاسې وګورئ له دې ډول مريض څخه خلک کرکه او نفرت کوي اولرې ورڅخه ګرځي خوهغه مبارک به يووار په خپله خوله کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



پسته کړه بیابه یې په شونډو شونډې ورکښودې خکه دهغه به برداشت نه ؤحضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دصدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ژوند کې یو سړی ولید چې په یوځای کې دی ډیرعاجزاوفقیرده شل اوشوې ناست ده هر وخت به چې ورغی کورته دده کور به جارو اوصفاؤنو بله ورځ یې پوښتنه وکړه چې دادستا خدمت څوک کوي ده ورته وویل چې یو سړی ده راشي خدمت کوي بله ورځ ده قصد وکړ چې زه به وختي ورځم سهار وختي ورغی ګوري چې بیا دهغه خدمت شوی دی بله ورځ ترهغه وختي بله ورځ یې دشپې پېره کوله چې صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هلته ورروان ده امیر المؤمنین دتولې دنیا دمسلمانانو امیرده خو دیوعاجز کورته چې دهغه بندوبست نشته دهغه دخدمت لپاره ورځي او دهغه دکور خدمت کوي ،نو خکه خدای پاک دومره لویه مرتبه او مقام هم وریه برخه کړی چې له حضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه وروسته تر ټولو خلکو غوره دی.

همداراز دصدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغابښ واقعه هم په مخ ۲۳۱/ کې تیره شوې ده بیا یې نه راګرځوو.

دادومره تکلیفونه یې ولې تېرول ؟ ﴿ مَنْ طَلَبَ العلى سحر اللیالی ﴾ چې غتې رتبې غواړي هغه غټ تکلیفو نه تېروي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمایي : ﴿أَفَلَا يَنظُرُونَ إِلَى ٱلْإِبِلِ كَيْفَ خُلِقَتْ ﴿١٧﴾﴾ [سورة الغاشیة] ژباړه : نو آیا پس نه ګوري (منکران په نظر دعبرت سره) اوښ ته چې څرنګه پیدا کړی شوی دی.

ددې آیت په تفسیر کې مفسرین لیکي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



در خار خوری قانع دربار بری صابر این وصف اگر جوی در اهل صفابین

داوښ په مدحه کې ددغه ایات تشریح داسې بیاشوې چې اوښ دازغیو په خوراک باندې قانع ده اوپه درانه بار وړلو باندې صابرده. غټ غټ بارونه وړي دغه صفت که ګوري په اولیاووکرامو کې به یې پیداکړي. خوراک به یې وچه ډوډۍ وي دتکلیف زندګي ،په عبادت به بوخت وي په خپل ژوندکې یې دومره تکلیفونه ګاللي وي چې دهغه اوښ هم په وس پوره نه وي ، ځکه یو ولي او دالله تعالی نازولی تولـه شپه په عبادت تېروي ورځ به ټوله په روژه تېروي دخدای پاک ددین په خدمت کې به تل بوخت وي ، نوبیا ځکه خدای پاک لوړمقامات ورکوي څومره چې دچا مینه دجنت لورې ته زیاتیږي جنت ته دومره به تکالیف هم په عباداتو کې ډېر تېروي څومره چې له جهنم نه ډېر ډاریږي دغومره له ګناوونه ځان ډېر ساتي دجهنم دعذابوچې سړی تصور وکړي دجهنم سکروټې چې بادیږي لکه غټې غټې ښنګلې یوه طرف اوبل طرف ته لویږي لړمان یې دومره غټ غټ دي لکه اوښان دغه عذابونه چې څوک په غور سره وګوري نوبیا دګناه طرف ته اقدام نه کوي دګناه نه ځا ن راساتي نو دانسان دکنترولولولپاره دغه دواړه خبرې ضروري دي که خدای مکړه ګناه مې وکړه بیابه مې داسزا وي چې دجهنم عذابونه به وي اوهم به دجنت تصور کوي که نیکي مې وکړه بیا ددغه بدله جنت خدای جَلَّجَلَالُهُ ورکوي نوبیا خدای پاک دغه انسان لوړ مقام ته رسوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۰) مجلس

## له ډېرو تقريرو څخه مطلب، عمل کول دي

دلته ډېر بيانونه، تقريرونه، وعظ اونصيحت شوی يا اوريدل شوی له دې ټولونه اصلي مطلب دادی چې په داهر وعظ اونصيحت کې موږ دافيصله له ځان سره کړو وای چې په دې وعظ کې به په دې يوه خبره خامخاعمل کوم؛نوپه راتلونکې کې هم دې انسان ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دنيک عمل توفيق ورپه برخه کوي. حضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ فرمايي چې دنبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضوراوپه هغه مبارک مجلس کې ماته درې شيان ډېر محبوب دي: اول دحضرت نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ مبارک ته کتل. دوهم په رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې خپل مال مصرفول. دريم داچې خپله لور مې دهغه په نکاح کې ورکول.

اوس نو موږ دحضرت ابوبکر صديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دغې يوې خبرې ته متوجې شو چې دده دټولو خبرو خلص دادی چې ځان، مال او اولاد درې واړه په نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې قربانول دي.

دا درې واړه په نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې قربانول د کامل ايمان نښه ده. نبي کريم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې ترهغه پورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو څوک کامل مؤمن نه شي کيداى چې ترڅو پورې ده ته زه ترخپل ځان، خپل مال او خپل اولاد نه ګران او محبوب شوى نه يم.

ددې وجې نه حضرت صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په ټول امت کې بهترين شخصيت دى ،اودده د محبت واقعات دومره ډير دي که يې څوک په تفصيل سره بيان کړي نولوى کتاب به ورنه جوړ شي.

که سړى فکر وکړي داواقعي عشق ؤ چې دهغه عشق په برکت باندې خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ دومره لوى مقام ورکړى ؤ چې دعرش اواسمان ملايکوته حکم کوي چې ماته په ټوله دنياکې له هرشي نه دابوبکر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ لباس خوند راکوي نوتاسوهم دحضرت صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ غوندې لباس اوجامې جوړې کړئ.

خو دامت په حال باندې افسوس دى چې دعوه يې ددې کوي چې مونږ يې امتيان يو، خوله دې ټولوسره ،سره بياهم دهغه سنت په خپل ځان نه عملي کوي،خداى نخواسته داسې نه چې په منافقت کې واقع شي اوخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ وايي چې له ماسره ترهغه پورې دچا محبت نشي راتلاى ترڅو چې دخپل رسول په لاربښوونو عمل ونکړي اودهغه سنت دوى ته له هرشي محبوب او ګران نه شي.

موږ اوتاسې ته دوعظ اوريدل هغه مهال ګټه رسوي چې په دغه وعظ باندې عمل وکړو،موږ ته يوازې داخبره کول ګټه او فايده نه رسوي چې ووايو چې دخليفه صاحب مجلس ښه ؤ ،ژړاوې وې، دعاګانې پکې وشوې موږ ته ژړاوې اودعاګانې څه فائده کوي چې عمل پرې ونه کړو،موږداحال څه کوو چې دقيامت په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځ نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ رانه خفه وي اوشفاعت مونه کوي،خدای مکړه که رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الله تعالی ته شکایت وکړي چې : ﴿يَٰرَبِّ إِنَّ قَوْمِي ٱتَّخَذُواْ هَٰذَا ٱلْقُرْءَانَ مَهْجُورًا ۝٣٠﴾ [سورة الفرقان]

ژباړه : او ویل رسول ( دالله محمد ) اې ربه زما په تحقیق قوم نیولی دی دغه قرآن ترک کړی شوی ( چې نه پرې ایمان راوړي او نه عمل پرې کوي او نه یې لولي ) .

یعنې له قرانکریم سره یې محبت نه در لودلو، که داسې شکایتونه راپسې شروع شي دابیا دافسوس او ارمان ځای دی او هلته بیا افسوس یا ارمان کول هم ګټه نه رسوي ، نو په دې دنیا کې باید کوشش وکړو ځانونه اصلاح کړو ، او داصلاح طریقې خو په دې کتاب کې په پوره ډول درته بیان کړی شوې دي .

له دې ټولو مجلسونو څخه مطلب دادی چې هره ورځ دیوعالم له خولې څخه یوه خبر اورو نوباید له ځان سره داسې ټینګ عزم او اراده وکړو چې په دې به عمل کوو ،اوځانونه واقعا دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امتیان وګرځوواودا مو یقین وي چې زه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امتي یم اودقیامت په ورځ به دده سره مخامخ کیږم ،اودا فکر را سره وي خدای مکړه چې که دقیامت په ورځ پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له موږ څخه بیزاره شي نو بیا به څه مخ تورو او پایلې به مو څه وي ، دا به له موږ سره په عمل کولو کې زیاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



مرسته وکړي او ډېر اثر به هلته پیدا کېږي چې داهر یو عمل ته مو پام وي او عمل ورباندې شروع کړو.

د مثال په توګه اودس په صحیح طریقه زده کول شروع کړو، د جَمعې لمونځ په پابندي وکړو، خپل لباس او کالي د حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په طریقه باندې برابر کړو، مسواک ،پټکی او داسې نور ځومره مو چې له وسه کېږي روزانه باید یو- یو سنت په ځان عملي کړو، کله مو چې کوشش شروع کړ بیا به په دغو وعظو او نصحیتونو کې نور اثر هم پیدا کېږي.

﴿عن انس قال قال: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من عمل بماعلم ورّثه الله علم مالم يعلم﴾ [رواه ابونعیم فی الحلیه ، التفسیرالمظهری ج ۵/ص ۱۱، و احیاء العلوم ج ۱/ ص: ۱۵۱/ کتاب العلم اخرجه ابونعیم فی الحلیة من حدیث انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ]

ژباړه: له حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: څوک چې په خپل علم باندې عمل وکړي نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دېتو اسرارو علم ده ته نصیب کړي او په علم کې به یې نور برکت هم راشي.

په مدرسو کې د کشف خبرې نه زده کېږي، اولیاء کرامو ته چې څومره اسرار معلومېږي ،هغه په کتابونو کې نه زده کېږي. دا یواځې او یواځې د عمل نتیجه او پایله ده چې په دین باندې عمل وشو بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ده ده شرح صدر په نصیب کوي د ده سینه صفا کېږي ، بیا الله تعالی لدُنّي علم ورنصیب کوي، بیا الله تعالی اسرار ورښیي. بیا له دې انسانانو داسې کسان جوړېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دقیامت په ورځ چې خلک په ځانو پورې حیران وي ،دی به دهغو خلکوچې دده خوښېږي ، شفاعت کوي . الله تعالی ته به وايې چې دغو خلکو له ماسره کومک کړی ،له ماسره يې محبت کړی و،دما يې خدمت کړی و ،داجنت ته داخل کړه ؛نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ددوی شفاعت قبول کړي اوټول به جنت ته بوزي .

دا ټول شيان چې پیدا کېږي ،په عمل پیدا کېږي . داسې نه چې يوځل به سړی مولوي کېږي بيا به عمل کوي،نه ! دايوه مسئله موچې واوریده په هغه موعمل وکړ دغه ته عمل ويل کېږي دمثال په توګه يوسړی په دې عالم شوچې ډېره پرېښودل سنت دی پرېښودل يې دومره ثواب لري اوخرې يول يې ګناه لري نوبايد عمل پرې وشي .

دلمانځه په يوه مسئله چې پوه شو دغه علم دی ،په دې عمل کول پکار دی ځکه چې موږ ته يې علم راپه نصيب کړ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دې علم باندې له تا څخه عمل کول غواړي .

## په يوه نيکه خبره باندې يوه انسان ته مبشرات په نصيب کيږي

يوه خليفه صاحب قيصه کوله چې مابه هروخت په يوچا ډېره پرېښودله اونصيحت به مې ورته کاوه. په هغه شپه به ماحضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خوب وليد ،چې ډېرزيات به خوشحاله و. رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دامت په نيک عمل باندې ډير خوشحاليږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



، هغه په جایداد اودنیا نه خوشحالیږي . ترهرڅه نه په دې ډیر خوشحالیږي چې دده په سنتو عمل وشي ،او یوسړی داسلامي دین تابع شي ،په نورو شیانو نه خوشحالیږي بلکې په نورو شیانو باندې شیطان خوشحالیږي.

نو له تقریراووعظونو څخه دامطلب دی چې موږ یې دعمل ذریعه وګرځوواودعمل کوشش پرې شروع کړواوکه تقریروند اونصحیتونه هره ورځ اورو اوعمل نه پرې کووهیڅ فایده یې نه شته بلکې فائده اوخوندهلته وي چې په یوسنت باندې عمل وشي.

په بله جُمعه کې به له دې جُمعې نه ډیرزیات خوند وي ،ځکه هلته دالله تعالی پټ راز اوعشق شروع کېږي، دالله تعالی او رسول الله ﷺ عشق اومحبت شروع کېږي ،څومره چې سړی ددین طرف ته نږدې کېږي عشق اومحبت پیداکېږي ،هلته بیا سړی دمجلس ،وعظ اونصحیت په خوند پوهېږي ،هلته بیا دذکر اوتلاوت په خوند پوهېږي . ترڅو چې هغه تلپاتې ژوند یې هم برابر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۱)مجلس

## دتوسـل بیـان

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ ﴾

[سورة المائدة آیت ۳۵]

ژباړه: یعني اې مؤمنانو! ووېرېږئ تاسې! له الله تعالی او طلب کړئ! ده ته وسیله.

**توسل په درې قسمه ده:**

۱- توسل په اعمال صالحه سره الله تعالی ته.

۲- په مبارکو ذواتو سره توسل الله تعالی ته.

۳- د مبارکو ذواتو د آثارو په وسیله توسل الله تعالی ته.

په اولني توسل کې ټول علماء کرام یوه خوله دي چې په اعمال صالحه ؤ سره توسل صحي ده، هېڅ څوک ورڅخه انکار نه کوي.

دوهم توسل په نیکو اشخاصو او ذواتو سره ده، دا توسل په خپل کور کې په دوه قسمه ده. یو داده چې الله تعالی ته یو ذات وسیله

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي او هغه ژوندی وي. دوهم داسې توسل ده چې داسې يوڅوک الله تعالی ته وسيله کوي چې هغه شخص مړ وي. اوس په دي کې چې يو شخص ژوندی وي او ته يې الله تعالی ته وسيله کوي په دې کې هم اکثره علماء کرام متفق دي دا توسل هم جائز ده.

مګر داچې يو نېک شخص وفات شوی وي اوته يې الله تعالی ته وسيله کوي نو آيا ددې جواز شته که نه ؟ نو وهابيان ( غير مقلدين ) او علامه ابن تيميه په دې قائل دي چې دا جائز نه دی.

ائمه کرام احناف بيا دا وايي چې که يو شخص الله تعالی ته محبوب او مقبول وي هغه که مړ وي اوکه ژوندی په دواړو حالاتو کې په دغه شخص سره توسل جائز دی، حاضر وي اوکه غائب په دواړو حالاتو کې توسل جائز دی.

نو راځو تفصيل ته چې د توسل ددريو واړو قسمونو په هکله تفصيلي دلائل ذکر کړو:

## په اعمال صالحه وود توسل ثبوت

﴿ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: انْطَلَقَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتَّى أَوَوُا الْمَبِيتَ إِلَى غَارٍ، فَدَخَلُوهُ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ، فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ، فَقَالُوا: إِنَّهُ لَا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ، الحديث ﴾ [اخرجه البخاری فی صحيحه فی کتاب الاجارات ج:۱ ص: ۳۰۲ / رقم الحديث ۲۲۷۲ / ومسلم فی کتاب

(c) ketabton.com: The Digital Library



الذکر] ژباړه: له حضرت عبد الله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روایت دی وایي: چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې اوریدلي ویل یې: چې له تاسې نه مخکې زمانه کې درې نفره په لاره باندې روان وُچې په دوی باندې باران راغی دباران له امله دغره لمنې ته دیوه کمره لاندې غارؤ پدغه غارکې کیناستل په دې وخت کې دغره له سرنه یوه لویه تیږه راوښویده اودغارخوله یې مکمل بنده کړه.

دغه درې نفره سره له دې چې ډیره هڅه یې وکړه بیا هم دتیږې په لرې کېدلو کې پاتې راغلل، اخردغودریونفرو په خپل منځ کې داپریکړه وکړه اوس خود خلاصون بله لارنشته بې ددې نه چې خپل عمل خدای تعالی وسیله ونه ګرځوو کیدای شي چې ددغونیکو اعمالو په برکت مونږ خدای تعالی له دې مصیبت نه خلاص کړي.

ددې حدیث پاتې برخه په انوارالمجالس ج: ۲ / ص:۳۱۱/ کې وګورئ.

داچې په دې قسم توسل کې څه اختلاف نشته نو مونږ په دې یوه حدیث راوړلو بسوالی کوو.

## په ذوات فاضله ؤ د توسل دثبوت دلائل

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَكَانُواْ مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى ٱلَّذِينَ كَفَرُواْ... ﴿٨٩﴾ ﴾ [سورة البقره]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: او حال داچې وو دوی (يهودان) پخوا له دي چې فتح به يې غوښته (له الله تعالی په رسول الله ﷺ) په هغوکسانو چې کافران وو.

۱- علامه الوسي رحمه الله ددې ايت په تفسير کې ويلي: چې له سدي نه روايت دی وايي: چې کله به ددوی او مشرکينو ترمنځ جنګ سخت شو نو تورات به يې راوېست اوپه هغه ځای به يې لاس کېښود په کوم ځای کې به چې دنبی کريم ﷺ ذکر و.

او ويل به يې اې خدايه! ته موږ ته دهغه نبی په واسطه فتحه اونصرت رانصيب کړې چې تاله موږ سره وعده کړې چې په اخره زمانه کې يې زه مبعوث کوم نو خدای پاک به دوی ته نصرت او فتحه ورکړه او مشرکين به مغلوب شول [روح المعانی ج: ۱/ص ۳۲]

۲- اوتفسيرخازن وايي: چې دوی به ويل اې خدايه! ته موږ ته دهغه نبي په واسطه نصرت راکړې چې هغه به په اخره زمانه کې مبعوث کيږي هغه نبی چې موږ يې په تورات کې صفات وينو. نو دوی ته به خدای پاک نصرت ورکاو او کاميابي به يې په برخه شوه. [تفسيرخازن ج ۱/ص ۶۹]

۳- نبي کريم ﷺ به چې کله دلمانځه له پاره جومات ته ته دادعا به يې کوله: اې خدايه! زه له تا څخه سوال کوم په حق دسوال کونکي له تاڅخه اوپه حق ددغو ذرتلونکې تاته.

[اخرجه احمد وابن خزيمة والبيهقي في الدعوات والطبراني وابونعيم وابن السني]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- او ځيني له دې څخه داقول دپيغمبر ﷺ ده : ﴿ اَللّٰهُمَّ اغْفِرْ لِأُمِّي فَاطِمَةَ بِنْتِ أَسَد وَوَسِعْ عَلَيْهَا مَدْخَلهَا بِحَقِ نَبِيِّکَ وَالْأَنْبِيَاءِ مِنْ قَبْلِي ﴾

ژباړه : اې خدايه ! ته دفاطمې بنت اسد مور ته بښنه وکړې او قبر ورته فراخه کړې . دتادنبي په واسطه او دمخکنيو انبياوو په واسطه . [رواه الطبراني وصححه ابن حبان والحاکم عن انس بن مالک رضي الله عنه]

۵- ﴿ عَنْ عُثْمَانَ بْنِ حُنَيْفٍ، أَنَّ رَجُلًا ضَرِيرَ الْبَصَرِ أَتَى النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: ادْعُ اللهَ أَنْ يُعَافِيَنِي قَالَ: «إِنْ شِئْتَ دَعَوْتُ، وَإِنْ شِئْتَ صَبَرْتَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكَ» . قَالَ: فَادْعُهُ، قَالَ: فَأَمَرَهُ أَنْ يَتَوَضَّأَ فَيُحْسِنَ وُضُوءَهُ وَيَدْعُوَ بِهَذَا الدُّعَاءِ: «اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّكَ مُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ، إِنِّي تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي فِي حَاجَتِي هَذِهِ لِتُقْضَى لِيَ، اللَّهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ» ﴾ [ اخرجه النسايي و جامع الترمذي ابواب الدعوات ج ۲ / ص: ۶۵۲ / رقم الحديث ۳۵۷۸/ والبيهقي والطبراني بسندصحيح واخرجه البخاري في تاريخه وابن ماجه والحاکم باسناده صحيح ]

ژباړه : له حضرت عثمان بن حنيف رضي الله عنه نه روايت دی وايي: چې يوسړی په دواړو سترګو ړوند و ، نبي کريم ﷺ ته راغی او ورته يې وويل چې: ماته دعا وکړه ترڅو مې سترګې روغې شي ! نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: که په دې حالت صبر وکړې اجر به يې ډېر وي ، خو دغه صحابي رضي الله عنه په خپله خبره ټينګار کاوه چې که مې سترګې روغې شي نو زه به ددې نعمت شکرانه اداء کوم او دنيکي طرف ته به مې نور شوق هم زيات شي ، نو نبي کريم ﷺ ورته وفرمايل چې: ولاړ شه اودس وکړه او بيا دادعا وکړه: اې خدايه! ستا د ګران پيغمبر محمدمصطفی

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم په واسطه مې دغه حاجت پوره کړې (سترګې مې روغې کړې) اې خدایه! دده شفاعت زما په هکله قبول کړې.

نو اوس سره له دې چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دغه مجلس او لمانځه او دعا کې له دغه صحابي رضی الله عنه سره نشته هغه یواځې اودس، لمونځ او دعا کوله خو نبي کریم صلی الله علیه وسلم یې الله تعالی ته وسیله کړی او الله تعالی یې سترګې ورته جوړې کړې.

لکه مخکې چې ذکر شول چې همدا اهل کتاب و چې مخکې به یې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وسیله په کفارو باندې د فتحې غوښتنه کوله. او خدای پاک به یې کامیاني هم په برخه کوله.

نو نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره له دې چې پیدا هم نه ده، یواځې یې له دوی سره د پیدا ایښت وعده په تورات کې شوې وه، نو دهغه صلی الله علیه وسلم په وسیله به دوی سوال کاوه او الله تعالی به دوی ته فتحه ورکوله.

۶- د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له رحلت نه وروسته چې صحابهٔ کرام رضی الله عنهم ام المؤمنین حضرت عائشې صدیقې رضی الله عنها ته راغلل او دامهال سخته وچکالي هم وه او ورته وې ویل چې ته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم مبارکه بي بي یې، ته راته دعا وکړه چې الله تعالی په مونږ باندې د رحمت باران وکړي. حضرت ام المؤمنین رضی الله عنها ورته وویل چې: داسې وکړئ چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارکې روضې د بام چت د رسول الله صلی الله علیه وسلم د مبارک قبر په برابري سوری کړئ چې د آسمان فضا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورځخه ښکاره شي نو کېدای شي چې الله تعالی خپل رحمت نازل کړي. صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم همداسې وکړل چې د نبي کریم صلی الله علیه وسلم د مبارکې روضې چت یې دده صلی الله علیه وسلم د قبر په برابري سوری کړ نو داسې باران وشو چې تولې څمکې یې سېرابه کړې، او دټولو خلکو له پاره درحمت ذریعه شو دا کار د نبي کریم صلی الله علیه وسلم له رحلت نه وروسته شوی.

محدثین کرام ددې وجه دا لیکي چې دآسمان اودده صلی الله علیه وسلم د مبارکې روضې ترمنځ دغه چت پرده جوړه کړې، کله چې دغه چت لرې شو، دده صلی الله علیه وسلم قبر مبارک ښکاره شو نو آسمان په ژړا شو اودده له ژړا نه ځمکه سېرابه شوه.

[ رواه الامام الدارمی فی السنن، باب ماکرم الله تعالی نبیه صلی الله علیه وسلم بعدموته صلی الله علیه وسلم ص: ۵۸/ رقم الحدیث ۹۳ ]

۲- دامیرالمؤمنین حضرت عثمان رضي الله عنه دخلافت په مهال دیو نفر له ده سره څه کار پیداشو بار،بار ورځي او دملاقات موقع نه ورته پیداکیږي، عثمان بن حنیف ته یې شکایت وکړ هغه ورته وویل: ولاړ شه اودس وکړه بیاجومات ته لاړ شه دوه رکعته لمونځ وکړه او دادعا ووایه: اَللّٰهُمَّ اِنِّی اَسْأَلُکَ وَاَتَوَجَّهُ اِلَیْکَ بِنَبِیِّنَا مُحَمَّدٍ نَبِیِ الرَّحْمَةِ یَامُحَمَّدُ اِنِّی اَسْأَلُکَ وَاَتَوَجَّهُ بِکَ اِلَی رَبِّی فَیَقْضِی حَاجَتِی وَتذکر حَاجَتَکَ آه ﴾

ژباړه: اې خدایه! زه له تانه دخپل حاجت غوښتنه کوم او تاته وسیله کوم زموږ نبي محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم نبي درحمت، اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم ؛ زه تاالله تعالی ته وسیله ګرځوم چي زما حاجت پوره کړې ، نوبه دې ځای کې به خپل حاجت یاد کړي.

[ والحدیث اخرجه الطبرانی وقال بعد ذکره والحدیث صحیح وصححه الحافظ ابوعبدالله المقدسی والمنذری فی الترغیب والترهیب ج: ۱/ ص: ۲۰۱ / والحافظ نورالدین الهیثمی ج: ۲/ ص: ۲۷۹ / والحافظ ابن تیمیه فی التوسل والوسیله ص: ۱۰۱ / وقال وذلک اسناد صحیح ] والله اعلم .

۸- ځیني له دې څخه داهم ده چي دامیرالمؤمنین عمرفاروق رضی الله عنه دخلافت په مهال ډیره سخته قحطی راغله نو حضرت بلال ابن الحارث المزنی درسول الله صلی الله علیه وسلم قبرته ورغی اوداعا یې وویله : ﴿ یَارَسُولَ اللهِ ! اِسْتَسْقِ لِاُمَّتِکَ فَاِنَّهُمْ هَلَکُوْا ﴾

ژباړه : اې رسول الله ! دخپل امت له پاره دباران غوښتنه وکړه ځکه هلاک شول . [اخرجه ابن ابی شیبة والبیهقی کذا فی البدایة والنهایة لابن کثیر]

۹- ځیني له دې څخه هغه دحضرت عمر فاروق رضی الله عنه استسقاده چي په هغه کې یې حضرت عباس رضی الله عنه خدای پاک ته وسیله کړی . ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ عُمَرَ بْنَ الخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، كَانَ إِذَا قَحَطُوا اسْتَسْقَى بِالعَبَّاسِ بْنِ عَبْدِ المُطَّلِبِ، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ إِنَّا كُنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِنَبِيِّنَا فَتَسْقِينَا، وَإِنَّا نَتَوَسَّلُ إِلَيْكَ بِعَمِّ نَبِيِّنَا فَاسْقِنَا» ، قَالَ: فَيُسْقَوْنَ ﴾

ژباړه : له حضرت انس رضی الله عنه نه روایت دی وایي : چي کله به په خلکو وچکالي راتله نو حضرت عمر رضی الله عنه به په حضرت عباس رضی الله عنه باندې توسل کاوه . او ویل به یې اې الله تعالی ! موږ به تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبی کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وسیله کاوه په موږ به باران کېده او اوس دهغه تره تاته وسیله کوو ته په موږ باران وکړې وایي باران به وشو.

[صحیح البخاری ج: ۱/ ص: ۶۵۸ ( رقم الحدیث ۲۰۱۰ ) وفی الحلیة قال عمر هذا هوالوسیلة الی الله آه]

## په توسل کې دجمهورو علماءِ کرامو رایه

۱- علامه الشرنوبی په شرح التائیه کې ویلي : ویجوز التوسل بغیر الانبیاء کالشهداء والاولیاء والعلماء والصالحین ) یعنې له انبیاوونه پرته په شهداوو، اولیاوو او علماوو او نیکانو باندې هم توسل جائز ده.

۲- ابوسعیدالخادمي په ( بریقه شرح طریقه محمدیه ) کې وایي: ونقل الزیلعي جواز التوسل الی الله بالانبیاء والصالحین ولویعدموتهم ) [ ارغام المرید ص: ۲۸ ]

ژباړه : له زیلعي نه نقل شوي دي وایي چې توسل الله تعالی ته په انبیاوو اولیاوو اونیکانو جائز دی که څه هم وروسته له مرګه وي.

۵- حضرت شاه ولی الله دهلوی رَحِمَهُ اللَّهُ وایي : ددعا له ادابو څخه داده چې اول ځل په الله تعالی ثناووایي اوبیانبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خدای پاک ته وسیله کړه نو دادعا بنه قبلیږي.

[حجة الله البالغة ج ۲ / ص ۶ / طبع مصر]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- په ( المهند على المفند عقائدعلماء ديوبند ) کې داسې وايي ، چې زموږ اوزموږ دمشايخو په نزد توسل رواوجائز دی په دعاوو کې په انبياوو صالحينو اولياوو شهيدانو او صديقينو په ژوندکې او وروسته له مرګه ... ) [ عقائد علماء ديوبند ص ۲۹ ]

۷- علامه اشرف علی تهانوی رَحِمَهُ اللَّهُ وايي : دريم له خدای پاک نه غوښتنه په برکت ددغه مخلوق مقبول او داخبره جمهورو علماوو هم جائز بللې . [ بوادر ص: ۷۶۱ ]

۷- علامه اشرف علی تهانوی رَحِمَهُ اللَّهُ په ( مأته مسائل ص: ۸ ) کې وايي چې دعاکول په دې طريقه چې اې الله تعالى په حرمت دنبي او ولي زما داحاجت پوره کړې داجائزدی . لکه څرنګه چې دفقه اکبر له شرحې چې ملاعلی قاری رَحِمَهُ اللَّهُ ليکې هم دا فهميږي ...) [ ص ۳۵ ]

۸- فتاوی کامليه وايي چې عام خلک الله تعالى ته انبياء اواولياء وسيله کوي داجائز دی . [ فتاوی کامليه طبع مصر ص ۲۶۷ ]

۹- المحقق الفقيه المحدث اللکنوي په شرح ددې قول دماتن ( المتوسل باقوى الذريعة ) کې ويلي چې په دې کې امتثال په دې قول دخدای پاک ده . ﴿ وَٱبْتَغُوٓاْ إِلَيْهِ ٱلْوَسِيلَةَ ﴾ .

۱۰- عمدة الرعايه وايي چې ډير احاديث په دې باندې دلالت کوي چې توسل په اعمال صالحه او ذوات فاضله جائز ده .

[ عمدة الرعايه ص: ۱ ، شرح شرح الوقايه وکذافی السعايه له ص: ۶ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۱- دشوکاني مشهوره رساله په نامه د( درالنضید) دتوسل په جوازکې لیکلې شوې ده لکه په عرف الشذی کې[ج ۲ / ص ۱۹۸ فتح الرحمانی ص ۲۳۸]

۱۲- فتح الباری شرح صحیح البخاری وایي چې دحضرت عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له قیصې نه معلومیږي چې اهل خیر اوصلاح داهل بیت النبوت باندې وسیله کول مستحب دي . [فتح الباری ج ۴ / ص ۱۵۱) وکذا فی شرح عمدة القاری علی البخاری ج ۷ / ص ۳۳؛ لبدرالدین العیني]

۱۳- شیخ الاسلام حسین احمد مدنی رَحِمَهُ اللهُ فرمایي : په دعاګانو کې نیک عملونه او دهغو کوونکي صلحاء اولیاء او انبیاء او ملائکې دالله تعالی نومونه او صفات الله تعالی ته وسیله کول ددعاؤ دقبلیدلو یوه غوره اوښه ذریعه ده .

له دغه امله دهغوی شجرو ته په دغه طریقه دتوسل باندې ترتیب ورکړل شوی دی .

۱۴- توسل اوکرامت تر ژوندیو پورې خاص نه ده څوک چې داعقیده لري چې توسل او کرامت یوازې ترژوندو پورې خاص دی ، نوددوی په خپل توحید کې شرک داخل کړی داچې دوی عقیده دتاثیر دژوندیو کوي او دابنکاره خبره ده چې په حقیقت کې تاثیرد الله تعالی له لوري ده ، موجود حقیقي الله تعالی دی او دغه کبسان خو عادي اسباب دي دوی لره په دې کې څه تاثیر نشته . [ الفجرالصادق ص ۵۹ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- امام العلامه النابلسی رَحِمَهُ ٱللَّهُ فرمايي: دژوندیو او مړیو ترمنځ په دې کې توپیر نشته ته دې ته نه ګورې چې ژوندي او مړي ټول دالله تعالی مخلوقات دي دیوه له پاره هم په یوشي کې تاثیر نشته بلکې موثرپه هرحال کې یواځې الله تعالی دی ژوندي اومړي یوازې أسباب کېدلی شي.

[کشف النور ص: ۱۳]

دکفارو په هکله الله تعالی فرمايي: ﴿فَمَا بَكَتْ عَلَيْهِمُ ٱلسَّمَآءُ وَٱلْأَرْضُ ... ﴿٢٩﴾﴾ [سورة الدخان]

ژباړه: پس ونه ژړل پر دوی (یاپر هلاکت د دوی) باندې آسمانونو او زمکې.

یعنې له دې آیت نه دامعلومېږي چې په مسلمان باندې اسمان هم غمجن کېږي اویاهم اسمان اوځمکه ورباندې ژاړي.

لکه مخکې مو چې وویل: چې درسو ل الله صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قبر آسمان ته ښکاره شو نو دهغه په لیدلو باندې اسمان په ژړا شو داسمان د ژړا نه الله تعالی دا خلک ټول سیرابه او ښیرازه کړل.

## د نیک مسلمان په مرګ باندې زمکه اواسمان ژاړي

﴿ عَنْ جَابِرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، سَمِعْتُ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «اهْتَزَّ الْعَرْشُ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ» ﴾

(c) ketabton.com: The Digital Library



[صحيح البخاري ج: ۱/ص: ۵۳۶ / باب مناقب سعد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ رقم الحديث: ۳۸۰۳]

ژباړه له حضرت جابر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه مي اوريدلي ويل يې: چې دسعدبن معاذ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په مرګ باندې عرش عظيم په لړزه شو.

ولې په حرکت شو ؟ ياداچې هغه دده روح چې دعرش عظيم طرف ته ختله دهغې له وجې هغه ولړزېده ياداچې دده نيک اعمال اسمان طرف ته پورته کېدل هغه بندشول نو عرش عظيم په حرکت باندې راغی. دحضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خوښينه ده دهغې نه روايت دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يوه شړۍ زموږ سره وه دده دوفات نه وروسته به چې د موږ په کور کې کله مريض پيدا شو په هغه شړۍ به مو او به تېرې کړې بيا به مو هغه مريض ته ور کړې هغه به څرنګه وڅښلې خدای پاک به هغه مريض ته صحت ورکاوه. [مشکوة المصابيح ج: ۲/ کتاب اللباس ص: ۳۷۴]

حضرت ابي ايوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د روم په جنګ کې له کافانو سره په جګړه بوخت دی او داپه داسې حال کې چې دکافرانو دلښکر شمير لکونو ته رسېدله چې په هغوی باندې يوه مجا هد صحابي مخامخ ور باندې ور منډه کړه دکفارو دلښکر په منځ ور ګډ شو ديوې او بلې خوانه صحابه کرامو ناري ور باندې وکړې چې خدای پاک خو وايي: ﴿ وَلَا تُلْقُوا بِأَيْدِيكُمْ إِلَى التَّهْلُكَةِ ﴾[سورة البقرة: ۱۹۵]

(c) ketabton.com: The Digital Library



په خپلو لاسو نو ځان هلاکت ته مه اچوئ دا خو دي ځان هلاکت ته وا چاوه حضرت ابي ایو ب انصاري ور ته وایي چې نه تاسې غلط یاست ددغه آیت دغه مطلب نه ده دا آیت دمونږ دانصارو په باره کې نا زل شوی دی کله چې فتحې دمسلمانانو ډېرې شوې نو مونږ انصارو په پټه په خپل منځ کې مشوره وکړه چې مخکې خو ډېر ضرورت و خپل ځان او مال مو ټول په دین لګول اوس خو مسلمانان ډېر شول دنیا وې پیدا شوې نو درځې چې لېږ، لېږ دا خپل کارو بار شروع کړو دنیا به لېږ ډېره کړو باغونه او ځمکه به لېږ برابره کړو خدای پاک آیاتونه نازل کړل چې ځا نو نه هلاکت ته مه اچوئ چې ځان او مال دې په دین ونه لګول نو دین به غریب کیږي نو بیا به خپله هلاک کیږئ او کفار به دربا ندې غا لبه کیږي نو حضرت ابي ایوب ددغې نه انکار وکړ بیاحضرت ابي ایوب په دغه حالت کې مخکې روان ؤ تر څو پورې چې دی هم شهید کیږي اوبیا دشهادت په وخت کې وصیت کوي زمامړی به دقسطنطوني دېوال ته نږدې کفاروته ورخښوئ مرقات لیکي چې پس له مرګه به خلک ورتلل دده قبرمبارک ته دده په قبر باندې به ئې تبرک حاصلولو اودده دقبر په سبب به یې دمرضو شفاء غوښتله نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به شفاء ورکوله . [مشکوة ج: ۲ / ص: ۵۸۶ / کمافی اسماء الرجال لصاحب المشکوة الباب الاول فی ذکر الصحابه ومن تابعهم] نو داتبرک په ذوات فاضلو پس له مرګه د ده ده.

نو مطلب مې دادی چې یوواړسړی دخپل ځان په باب کې تقصیرات ووینې ددغو دتقصیراتودمعافي لپاره فقط یوه دغه لار

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه ده چې صرف په عبادت زوروکړي خداى پاک ته چې دسړي وس رسيږي بايد په هر عنوان وسيله طلب کړي په عمل صالح کې چې دسړي وس رسيږي دادې کوي خداى پاک ته وسيله ده دهغه په سبب به خداى پاک مغفرت ورته کوي.نيک ذوات دى خداى پاک ته واسطه کوي کوم شخص ته چې په ژوند کې ورځي ياکوم زيارت ته چې ورځي پس له مرګه په دوارو کې دى په صحيح نيت ورځي څومره چې دده نيت سم ؤچې ددغه شخص په واسطه خداى پاک زما داجرمونه معاف کړي که ژوندي ته ورځي خوهغه وسيله ګرځوي خداى پاک ته خو دنيک عمل په واسطه يې وسيله ګرځوي اوکه مړي ته ورځي هغه زيارت مبارک وسيله ګرځوي خداوند متعال ته خو دنيک عمل په په وجه يې ګرځوي چې اې خدايه پاکه! داخو دستا دوست ده ته ددغه خپل دوست په واسطه ماته دخپلو ګنا هونو مغفرت وکړې ماته دنيک عمل توفيق راکړې اوداسې ددوى په اثار مبارکه ؤباندې وسيله وګرځول شي.

[تفسير مظهري ج: ۱/ص: ۲۱۵]

## دصالحانو په اثارو تبرک نيول ثابت دي

په دې خبره ځان پوه کيدل ضروري او لازمي دي چې تبرک حاصلول په انبياوو اولياوو اواثاروو ددوى په نصوص صحيحه او براهينو قاطعه و ثابت دي. او له دې څخه انکار نه کوى مګر ناخبره

(c) ketabton.com: The Digital Library



په سنت نبوي، نو مورږ څه انداز اثار ذکر کوو ددې له پاره چې دضرورت په وخت کې زمورږ له پاره پوسند وي.

## دحضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وېښتا نو تبرک نيول

۱- حضرت نبي اکرم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په منا شريفه کې نائی راوغوښت چې سر يې ورو خريي نويوځل يې ښي لوری وېښتان په لاس کې ورکړ هغه يې وخريه ابوطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ يې راوغوښت وايي داونيسه بيايې چپ لوری هغه نايي ته ونيوهغه يې هم وخريه بيايي ابوطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته ورکړل چې ټول وېښتان يې واخيستل نوويې ويل چې داوېسه اوپه صحابه کراموباندې يې تقسيم کړه.

[مشکوۃ ج: ۱/ ص: ۲۵۰ / باب الحلق]

۲- اخرج الطبراني وابويعلى من حديث خالدبن وليد ان النبي صلى الله عليه وسلم اعتمر فحلق رأسه فابتدر الناس جوانب شعره فسبقتهم الى ناصية فجعلتها في هذه القلنسوة فلم اشهد قتالا وهي معي الا رزقت النصر قال الهيثمي رجالها رجال الصحيح آه.

ژباړه: له حضرت خالدبن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عمره کوله نو سرمبارک يې ورخيه. نو خلک ورمخته شول چې دده مبارک دسر وېښتان واخلي زه هم ورمخته شوم چې ماته يې دتندې مبارکې وېښتان په برخه ورسيدل اوبيا مې هغه په دغه خپله خولۍ کې کېښودل زه چې هر جنګ ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تللي یم او داخولی له ماسره وي ، نو ماته الله تعالی فتحه او نصرت نصیب کړي. نو د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندي څکه چې دده له ذات مبارک سره یې تړاؤ لرلو.

## دحضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نوکانو تبرک

۳- ﴿ وكان عنده (معاويه ) ازار رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورداؤه وقميصه وشيء من شعره وأظفاره فقال : كفنوني فى قميصه وأدرجوني فى ردائه ،وأزروني بازاره ، واحشوا منخري وشدقي ومواضع السجود من شعره وأظفاره، وخلوابيني وبين أرحم الرحمين ﴾ امرقات المفاتح شرح مشكاة المصابيح ج ١ / ص: ۴۵۰ / رقم الحديث: ۲۰۰ ]

ژباړه : له حضرت معاویه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سره درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لنګ ، څادر ،قمیص ،څه ویښتان او څه نوکان موجود و ، نو ویل یې ماته دده مبارک په قمیص کې کفن راکړئ ، دده په څادر کې مې ونغاړئ ، دده ازار زماازار کړئ او زماپه پوزه او سواختني کې او ځایو دسجدې دده مبارک ویښتان او نوکان واچوئ نور ما او خپل رب سره پریږدئ.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یو وخت کې نو کان پرېکول نو یو صحابي ته وایې چې په صحابه کرامو باندې یې تقسیم کړه.

نو ویل کېږي چې داتبرکات ترننه پورې مو جو دې اکثرو ائمه کرامو، مخکینوخلکو به د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هغه ویښتان

(c) ketabton.com: The Digital Library



ساتل، نوکان به يې ساتل، دده لباس مبارک چې دده چوپانه
قميص اوږتکي څه شی به يې پيداکړل هغه به يې ساتل،تردې
پورې چې دحضرت اسماء رضي الله عنها سره د نبي کريم صلى الله عليه وسلم
دېرې مبارکې وېښته وو اوبه سپينوزرو کې يې ساتلي ؤ اوچې
کوم مريض به ورغی هغه وېښته به يې په اوبوکې ورته وواهه بيابه
يې هغه اوبه وڅښلې خدا و ندمتعال به شفاء ورکوله د افغانستان
په غزني کې يې وېښته شته د پاکستان په لاهورکې شته په بخارا
کې شته هغو ائمه کرامودغه حقيقت پېژاندهغو په واسطه به يې
خداوندکارونه جوړول دده وېښتان دده لباس دده نوکان ترننه
پورې خلکوساتلي دي

۴- ﴿ قَالَ: فَوَاللهِ مَا تَنَخَّمَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نُخَامَةً إِلَّا وَقَعَتْ فِي كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ، فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ، وَإِذَا أَمَرَهُمْ ابْتَدَرُوا أَمْرَهُ، وَإِذَا تَوَضَّأَ كَادُوا يَقْتَتِلُونَ عَلَى وَضُوئِهِ... الحديث ﴾ [صحيح البخاری كتاب الشروط باب الشروط فی الجهاد آهج : ۱ ص: ۳۷۷/۳۷۸ / رقم الحديث ۲۷۳۱ / ۲۶۵۱ وكتاب الوضوء ج: ۱/ص: ۳۸ ]

ژباړه : حضرت عروه رضي الله عنه وايي: زمادي په الله تعالى قسم
وي رسول الله صلى الله عليه وسلم نه دي سوخ کړې له پوزې اوبه دپوزې
مگر صحابه وو به لاس ورته نيولی و بيابه يې په مخ او نور وجود
موښل اوچې کله به يې دڅه امر ورته وکړ هغه به يې په تيزي سره په
ځای کاوه ،کله به يې چې اودس کاوه نو داوداسه په اوبو به يې
داسې راتول شول تردې به وچې په دې اوبو دوی جنگ سره وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- ﴿ عَنْ أَسْمَاءَ رَضِيَ اللهُ عَنْهَا: أَنَّهَا حَمَلَتْ بِعَبْدِ اللهِ بْنِ الزُّبَيْرِ، قَالَتْ: فَخَرَجْتُ وَأَنَا مُتِمٌّ فَأَتَيْتُ الْمَدِينَةَ فَنَزَلْتُ بِقُبَاءٍ فَوَلَدْتُهُ بِقُبَاءٍ، ثُمَّ أَتَيْتُ بِهِ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَوَضَعْتُهُ فِي حَجْرِهِ، ثُمَّ «دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا، ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ، فَكَانَ أَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ جَوْفَهُ رِيقُ رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، ثُمَّ حَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ ثُمَّ دَعَا لَهُ، وَبَرَّكَ عَلَيْهِ وَكَانَ أَوَّلَ مَوْلُودٍ وُلِدَ فِي الإِسْلاَمِ» ﴾

[صحيح البخاري ج ۱ ص ۵۵۵ كتاب مناقب الانصار رقم الحديث ۳۹۰۹ ]

ژباړه : له حضرت اسماء رَضِيَ اللهُ عَنْهَا نه روايت دی وايي: چې کله عبدالله ابن الزبير رَضِيَ اللهُ عَنْهُ زما پرنس ؤ نو زه له مکې معظمې دهجرت په نيت راووتم کله چې مدينې منورې ته راغلم دحمل موده مې پوره وه په قبا مقام کې مې واړول نو عبدالله ابن زبير دې دنياته سترګې راوغړولې.

نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته مې رواوړ هغه په خپله غيږه کې کښېنود بيايې خوماوې را وغوښتې په خوله مبارکه کې يې ښې ميده کړې له هغه وروسته يې دعبدالله ابن زبير په خوله کې ورکړې ، نو دده خېټې ته چې اول څل داخلې شوې هغه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاړې مبارکې وې او بيا يې په خجيرو باندې دده تحنيک ( خرما يې په تالو ورمومښلې ) او دعا يې ورته وکړه اودبرکت غوښتنه يې ورته وکړه . او دمدينې منورې په مهاجرينو کې دغه اول بچی وچې پيدا شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- ﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: كَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَدْخُلُ بَيْتَ أُمِّ سُلَيْمٍ فَيَنَامُ عَلَى فِرَاشِهَا، وَلَيْسَتْ فِيهِ، قَالَ: فَجَاءَ ذَاتَ يَوْمٍ فَنَامَ عَلَى فِرَاشِهَا، فَأُتِيَتْ فَقِيلَ لَهَا: هَذَا النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نَامَ فِي بَيْتِكِ، عَلَى فِرَاشِكِ، قَالَ فَجَاءَتْ وَقَدْ عَرِقَ، وَاسْتَنْقَعَ عَرَقُهُ عَلَى قِطْعَةِ أَدِيمٍ، عَلَى الْفِرَاشِ، فَفَتَحَتْ عَتِيدَتَهَا فَجَعَلَتْ تُنَشِّفُ ذَلِكَ الْعَرَقَ فَتَعْصِرُهُ فِي قَوَارِيرِهَا، فَفَزِعَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا تَصْنَعِينَ؟ يَا أُمَّ سُلَيْمٍ» فَقَالَتْ: يَا رَسُولَ اللهِ نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا، قَالَ: «أَصَبْتِ» [صحيح المسلم/ ج: ۲، باب: طيب عرقه صلى الله عليه وسلم والتبرك به ص: ۲۵۷ / رقم الحديث ۲۳۳۱ ]

ژباړه : له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی وایي: یوځل رسول الله صلی الله علیه وسلم د ام سلیم کورته ورغی دهغې په فرش باندې ویده شو او دا کور نه وه.

بیاوایي : چې یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه وسلم ددې په فرش ویده و نو په دې راتګ وشو( یعنې چا خبره کړه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم درکره راغلی ) ورته وویل شو چې دا نبی صلی الله علیه وسلم دی ستا په کور کې ستا په فرش باندې ویده ده ، نو دا راغله او حال داچې له نبی کریم صلی الله علیه وسلم څخه خولې رواني وې او دځرمني یوه ټوټه په جمه شوې وې .

نو دې هغه شیشه خلاصه کړه لګیا شوه دغه خولې یې په پمبه (مالوچو ) یا خیره را اخېستې او له هغه نه یې په شیشه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نېښتېځلي ، نو رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ وویریده او وې ویل اې ام سلیم ! څه کوې ؟

دې ورته وویل زه دبرکت امید لرم دخپلو کمکیانو له پاره . نو ده مبارک ورته وویل چې دادې حقه خبره وکړه .

۷- ﴿ عَنْ أَنَسٍ، عَنْ أُمِّ سُلَيْمٍ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ كَانَ يَأْتِيهَا فَيَقِيلُ عِنْدَهَا فَتَبْسُطُ لَهُ نِطَعًا فَيَقِيلُ عَلَيْهِ، وَكَانَ كَثِيرَ الْعَرَقِ، فَكَانَتْ تَجْمَعُ عَرَقَهُ فَتَجْعَلُهُ فِي الطِّيبِ وَالْقَوَارِيرِ، فَقَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «يَا أُمَّ سُلَيْمٍ مَا هَذَا؟» قَالَتْ: عَرَقُكَ أَدُوفُ بِهِ طِيبِي ﴾ [صحیح المسلم/ج ۲/ باب طیب عرقه صلی الله علیه وسلم والتبرک به ص ۲۵۷ / رقم الحدیث ۲۳۳۲]

حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ له خپلې مور ام سلیم نه روایت کوی وایې: چې رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ به د دې کره دغرمې دارام کولو له پاره ورتللو ، نودې به څرمن ورته اچوله نو دغرمې خوب به یې ورباندې کاوه او دده مبارک څخه به ډیرې خولې بهیدې، نو دې به یې هغه خولې مبارکې یوځای کولې په خوشبویې اوشیشه کې به یې اچولې،رسول الله صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ ورته وویل اې ام سلیم ! داڅه دي ؟

دې ورته وویل : دا ستا خولې دي له خپلو خوشبویو سره یې ګډوم ترڅو دعطرو په بوی کې نوربنه والی راشي .

۷- ﴿ عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ أَبِي بَكْرٍ أَنَّهَا أَخْرَجَتْ جُبَّةَ طَيَالِسَةٍ كِسْرَوَانِيَّةٍ لَهَا لِبْنَةُ دِيبَاجٍ، وَفَرْجَيْهَا مَكْفُوفَيْنِ بِالدِّيبَاجِ، فَقَالَتْ: هَذِهِ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ حَتَّى

(c) ketabton.com: The Digital Library



قُبِضَتْ، فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا، وَكَانَ النَّبِيُّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَلْبَسُهَا، فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضَى يُسْتَشْفَى بِهَا ﴾ [صحيح المسلم ج: ۲ ص: ۱۹۰ كتاب اللباس ۱-بَابُ تَحْرِيمِ اسْتِعْمَالِ أَوَانِي الذَّهَبِ آه رقم الحديث۲۰۶۹ مشكوة المصابيح ج: ۲ ص: ۳۹۶]

ژباړه : له حضرت اسماء بنت ابوبکر رضي الله عنها نه روايت دي وايي: چې دې عبدالله رضي الله عنه ته درسول الله صلی الله علیه وسلم هغه طيالسی اوکسرايي چپنه مبارکه راوښسته چې غاړه او راکته زی يې په وريښمو جوړه وه . او څاکونه يې هم په وريښمو جوړ شوي ؤ نو دې وويل دا چپنه له حضرت عايشې رضي الله عنها سره وه کله چې هغه له دنيا څخه ولاړه نو ماته پاتې شوه ، دابه رسول الله صلی الله علیه وسلم اغوسته او اوس يې موږ دمريضانو له پاره اوبه پرې کړو بيا هغه اوبه مريضانو ته ورکړو هغوی ته خدای پاک جل جلاله شفاهم ورپه برخه کوي.

۸- ﴿وقدشرب عبدالله بن الزبير وسفينة ومالک بن سنان وام ايمن وغيرهم دم رسول الله صلى الله عليه وسلم ﴾ [اخرجه الطبرانی والحاکم والدارقطنی وذکره فی المواهب الدنيه آه]

يعنې درسول الله صلی الله علیه وسلم وينې عبدالله ابن زبير ، حضرت سفينه حضرت مالک ابن سنان او ام ايمن رضي الله عنهم او نوروهم څښلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- ﴿ وذكر العلامة الشامي ص: ۳۹/ ج: ۱/ قال الامام الشافعي انى لأتبرک بأبى حنيفة وأجئ الى قبره فاذا عرضت لى حاجت صليت ركعتين وسالت الله تعالى عند قبره فتقضي سريعا وفي الصفحة ۴۲/ جلد: ۱/ قوله ومعروف الكرخي ابن فيروز من المشائخ الكبار مجاب الدعوات يستسقي بقبره وهو استاذ السرى السقطى. ﴾

ژباړه: په ردالمحتار کې علامه ابن عابدين رَحِمَهُ اللهُ ليکلي چې امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ ويلي چې زه په امام اعظم ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ تبرک حاصلوم او دده قبر ته ورځم کله مې چې کوم حاجت پيداشي نو زه دده دقبر په خوا کې دوه رکعته لمونځ وکړم اودې الله تعالى ته وسيله کړم زرترزره مې هغه حاجت الله تعالى دده مبارک په واسطه پوره کړي.

همدارنګه معروف کرخي ابن فيروز رَحِمَهُ اللهُ دسري السقطي رَحِمَهُ اللهُ استاد له لويو علماء کرامو څخه ده چې مستجاب الدعوات هم ؤ چې دده قبرهم خلک الله تعالى ته دباران کولو له پاره وسيله کوي.

نو تبرک اوتوسل په دغو ټولو شيانوباندې جائزه ده که جائز واى نو مخکې علماوو او ائمهٔ کرامو نه قول پرې کولو او نه يې دغه عمل ترسره کولو سره له دې چې دهغوى تقوى دهغوى علم او دهغوى احتياط کول په ډيره لوړه درجه کې ؤ. نو دخپلو

(c) ketabton.com: The Digital Library



تقصيراتو دمغفرت لپاره سړی بايد هره لار ولټوي دمغفرې بهترينه لار هغه د نقشبنديې طريقې د شجرې مباركې ويل دي.

## د نقشبنديې مباركې د شجرې د ويلو فائدې

دازمونږ دطريقې چې کومه شجره ده دخپل شيخ نه نيولې تر رسول الله ﷺ پورې داولياوو د نومونو چې کوم کومه يادونه شوې داچې سړی روزانه يوواري په دغه نيت باندې وايي چې خدای پاک۱ دې دغو اولياوويه واسطه زما ذکر جاري کړې ددغو په بر کت ماته مغفرت وکړي ددغو په بر کت ماته علم راکړې نو هر صحيح نيت چې سړی په کې کوي خدای پاک يې دهغه نيت سره سم کار ترسره کوي حتی دهند په لويو، لويو هستيو به چې مرضونه او مصائب راغلل، نو ددغې شجرې نو مونه به يې ورته ليکل خدای پاک به دهغو په سبب خلکو ته شفاء ورکوله او مصائب به يې لرې کول ، ځکه هغه توسل به دوی باندې بيرته په واقع کې توسل ددوی په ښکو اعمالوده خدای پاک ته هغه ښک عمل وسيله کول دي حتی دځينې مريدانو نفي اثبات نه کيږي مشائخ کرام داطريقه ورته ښيي چې اول دې لطائفې وکړي اوبيادې شجره دوايي په دغه نيت باندې چې خدای پاک دې ددغو داولياوو په بر کت باندې زما نفي اثبات ورسوي نو خدای پاک يې نفي اثبات پوره کوي، بلکې دهر نيک مقصد لپاره يې چې سړی خدای پاک ته وسيله کړي هغه مقصود به يې پوره کوي نو داتبرک اوتوسل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ذوات فاضله ووچې يوځلې په احاديثو صحيحه ونه ثابت ده نو داځای دشک اواشتباه خوپاتې نشو دابايد سړی په کامل اخلاص او اعتقاد باندې وکړي څومره چې يې وس رسيږي دشجرې ويل بايد پرې نه ښودل شي داډېر مفيد دی دلطائفو دعاوې بايدوويل شي داهره لطيفه خپل متصرف لري ددغې لطيفې ددعاپه برکت د هغې لطيفې دمتصرف روحانيت حاضرېږي خدای پاک هغه لطيفه ورسره جاري کوي دازمونږ دلطيفو چې کومې دعاوې دي دخپنې طريقومستقل سبقونه دي خودا زمونږ د حضراتو مبارکينو مجددينواندراج ده چې په يوه لطيفه کې درې يا څلورکارونه کېږي نوداچې په غور باندې دلطيفو دعاوې وايي اوشجره وايي اوهغه خدای پاک ته وسيله ګرځوي نومؤثر واقع کېږي ښکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خپل صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وايي چې: ما وسيله وګرځوه، که وسيله مؤثره نه وای بيابه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته ويلي ؤ چې دوه رکعته لمونځ او دعا وکړه. خو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د لمانځه امر هم ورته کوي چې دا يو صالح عمل ده اوداهم ورته ښيي چې د الله تعالی ثنا اودهغه په پيغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باندې درود ووايه اوله دې سره سره دا هم ورته وايي چې ما الله تعالی ته وسيله وګرځوه، الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دې مقصود حل کړي. نو کله چې صحابي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دغه عمل وکړ نو الله تعالی يې دواړه سترګې ورته روغې کړې.

[حضرات کرام نقشبنديه / ص:۱۶۷]

[ اخرجه النسائي والترمذی جامع الترمذي ابواب الدعوات ج ۲ / ص ۶۵۷ / والبيهقي والطبرانی بسندصحيح واخرجه البخاري فی تاريخه وابن ماجه والحاکم باسنادصحيح ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو په دې کې دې ته اشاره ده چې انسان باید په دې ټولو شیانو کې کوشش وکړي، عمل دې هم کوي او وسیله دې هم لټوي، او بیا په دغې وسیلې جوړولو کې د مړي او ژوندي د لیرې او نژدې کوم توپیر نشته.

که فکر وکړو چې یو جادوګر وي هغه د شیطان نومونه او ناروا اوراد پخوي، د شیطان د نوم د ډېرو یادولو له امله ورسره د شیطان ملګرتیا پیدا شي، له ډېرو سره په ناروا کارونو کې مرسته هم کوي، اکثره جادو ځومره مؤثر وي چې خلک مرګ ته ورسوي، مېړه او ښځه سره بېل کړي، خپل خپلوان سره جلا کړي، دا ولې؟ ځکه چې شیطان مرسته ورسره کوي، نو چې د شیطان د نوم په یادولو د شیطان ملګرتیا له هغه سره پیدا کېږي، نو د الله تعالی د دوستانو د نومونو په ویلو به له هغوی سره دوستي او ملګرتیا نه پیدا کېږي؟ بلکې غوره ملګرتیا به یې په برخه کیږي.

اسماء الحسنی چې یو څوک څومره ډېر وایي نو له الله تعالی سره یې نوره مینه ډېره پیدا کېږي، څومره چې د رسول الله ﷺ نومونه یادوي نو له هغه ﷺ سره یې مینه او محبت نو هم زیاتیږي، همداسې د اولیاء الله کرامو نومونه چې یادوي نو له هغوی سره یې مینه او تعلق ډېر پیدا کېږي، نو لنډه دا چې دا ډېره یادونه د تعلق او ملګرتیا جوړولو یوه لاره ده.

د (مزارات اولیاء هرات) په نوم یو کتاب ده، په دې کتاب کې د یوه حدیث شریف مضمون رانقل کړی شوی دی چې: د قیامت په ورځ به له یوه انسان سره الله تعالی حساب وکړي، نیکي او بدي به

(c) ketabton.com: The Digital Library



بې سره برابر شي، نو الله تعالى به ورته ووايي چې ورشه يوه نيکي راپيدا کړه ترڅو دې وبښم، نو دغه شخص به ډېر وګرځي خو هغه يوه نيکي به پيدا نه کړي، ځکه چې په هغه ورځ هرڅوک محتاج وي،نو څوک نيکي کله بل چاته ورکوي، بيا به الله تعالى ورته د خپل يوه ولي نوم واخلي چې زما د هغه فلانکي دوست نوم دې زده ؤ؟ دی ورته په خواب کې وايي چې: هو! نو الله تعالى به ورته وايي چې: بس يواځې په همدې نوم زده کولو مې وبښلې.

نو چې سړی لږ فکر وکړي چې په وسيله الله تعالى ته سړی نږدې کېږي، نو په نبي کريم ﷺ چې څوک يو ځل درود شريف ووايي نو الله تعالى او ملائکې په هغه سړي لس لس ځله درود وايي. د جُمعې مبارکې په شپه چې يو څوک درود شريف ووايي نو په خواب کې يې الله تعالى او ملائکې په ده باندې اويا ځله درود وايي. [مشکوة ج: ۱/ص ۸۶/۸۷ باب الصلوة على النبي ﷺ]

نو په کار ده چې د جُمعې په شپه او په بل هر وخت کې په نبي کريم ﷺ باندې درود وويل شي، ځکه په مقابل کې به يې الله تعالى په مونږ باندې درود اورحمت نازلوي، ځکه چې الله تعالى په دې کار باندې راضي کېږي، دده جلّ جلاله د دوست ثناء دې ادا کړه، ځکه چې رسول الله ﷺ د الله تعالى محبوب دی، دده د محبوب ثناء او صفت دې ادا کړې، نو په مقابل کې يې الله تعالى دومره درباندې خوشاله شو چې د هغه له وجې يې په تا باندې اويا رحمتونه نازل کړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په کوم ځای کې چې د خدای تعالی نوم اخیستل کېږي په هغه ځای د الله تعالی رحمت نازلیږي.

## د نیکوخلکو د نومونو دیادونې په واسطه په هغه ځای انوار نازلیږي

جُناب حضرت قدوتنا مرحوم انوار المشائخ فضل الدین خلیفه صاحب ( قدس الله سره ) چې دارغندی په خلیفه صاحب باندې یې شهرت لرلو هغه به دا واقعه ډېره بیانوله چې: یو ولي په یوه ځای تېرېده نو ویې لیدل چې: انوار وریږي، نو ده دا گمان وکړ چې دلته به کوم ژوندی بزرگ ( ولي ) وي، ورته وربه شم او څه به ورځخه زده کړم، یا به کوم زیارت وي او هلته به دعا وکړم، الله تعالی به مې کارونه جوړ کړي. دغه بزرگ وایي: کله چې دغه ځای ته ورغلم نو هلته د غلو یوه ډله ناسته وه، او هغه غلا شوی سامان یې سره په خپل منځ کې سره وېشلو. زه حیران شوم چې دا زما کشف بې ځایه وه که کوم بل څه چل ده؟ ( خلیفه صاحب مبارک به ویل چې: چونکې د الله تعالی اولیاء هوښیاردي په تلوار کوم کار نه کوي ). نو دغه بزرگ له دې غلو څخه پوښتنه وکړه چې: د دغه مال له تقسیم نه مخکې تاسې په څه شي لگیا وئ؟ له هغوی نه یوه کس ورته وویل چې: زمونږ دغه ملگري د حضرت پیران پیر صاحب یوه واقعه بیانوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ګورئ ! سره له دې چې دا شخص فاسق دی، غلا یې کړې، خو چې د خدای تعالی د کوم دوست واقعه بیانوي نو هلته الله تعالی بیاهم خپل رحمت نازل کړی دی. نو بیا چې یو سړی مسلمان وي، بیا طالب او نېک عمله شي، مجاهد او صوفي شي اوبیا له دې ښه سرېټوب سره ،سره د الله تعالی د دوستانو بیان کوي ، دهغوی واقعات ذکر کوي، نو په هغه به څومره رحمتونه نازلېږي؟

دا طبعي خبره ده چې په کوم مجلس او وعظ کې د خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ د دوستانو نومونه یاد کړل شي نو ډېر اثر پکې وي، ځکه هلته ددوی روحانیت متوجه شي اود هغه سره د الله تعالی رحمت نازل شي، اویه کوم مجلس کې چې د الله تعالی رحمت نازل شي نو له هغې سره د انسانانو حالت بدلېږي، بیا یې په ذکر، دعا او نورو اعمالو کې اثر پیدا کېږي. چې دا اثر خورا ګټور وي.

نو دغه شجرې اود لطائفو دعاګانې هر وخت وایاست، مه یې پرېږدئ ! نو مطلب داچې د وسیلې ثبوت شته، په آیاتونو او احادیثو باندې ثابته ده، د مړي او ژوندي په باره کې، د عمل په باب کې اود ذوات فاضله ؤ په باب کې، نودا ټول ثابت دي، په دې کې باید سړی اشتباه ونه کړي، باید په اخلاص سره دې شي ته متوجه وي د شجرې ویل ددغه توسل له قبیلې څخه دي، په دغه سره انسان بهترین توسل حاصلولای شي، نوپه هېڅ حالت کې باید پرې نه ښودل شي، همدارنګه د لطائفو په دعاګانو کې مشائخ کرام وسیله کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دلطائفوپه وخت کې دعاوې

**د اولنۍ (قلبي) لطيفې دعا** : ( الهی تجليات صفات افعال خودراکه ازلطيفه قلبی حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی عليه وسلم بلطيفه قلبی حضرت ادم علی نبينا وعليه صلوة وسلم رسانيدی همان تجليات بلطيفه قلبی من حقير هم برسان بواسطه مرشدين طريقتم و بالخصوص بواسطه جناب مرشدم . )

نو په دې ځای کې وسيله راغله . معنا داچې خدايه پاکه ستا هغه رڼاګانې او انوار چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له زړه مبارک څخه د حضرت آدم عَلَيْهِ السَّلَامُ زړه مبارک ته دې رسولي دې، نو هغه رڼاګانې اوانوار زما عاجز زړه ته راورسوې ، خو په واسطه د مرشدينو ددغه طريقت چې هغه په دغه شجره کې څومره اولياء الله ذکر دي ( يعنې خصوصاً زما د خپل پير په واسطه الله پاکه! هغه انوار او تجليات زما زړه ته راورسوې ) .

**د دوهمې ( روحي ) لطيفې دعا** : ( الهي فيض صفات ذاتی که از لطيفه روحي حضرت محمد صلی الله تعالی عليه وسلم مصطفی بلطيفه روحي حضرت نوح وحضرت ابراهيم علی نبينا وعليهما الصلوة وسلم رسانيدي همان فيض بلطيفه روحي من حقيرهم برسان بواسطه مرشدين طريقتم وبالخصوص بواسطه جناب مرشدم . )

يعنې هغه د ذاتي صفاتو فيض چې د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له مبارکې روحي لطيفې نه دې د حضرت نوح عَلَيْهِ السَّلَامُ او حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابراهيم عَلَيْهِ السَّلَامُ روح ته دي رسولي دي، خدايه پاكه ! زما عاجز روح ته يې هم راورسوې، په وسيله د اولياوو ددې لارې ، خصوصاً زما د خپل پير مبارک په وسيله باندې.

**د دريمې (سِري) لطيفې دعا** : ( الهي فيض شيونات ذاتی که از لطيفه سِري حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی عليه وسلم بلطيفه سِري حضرت موسی عليه الصلوة وسلم رسانيدي همان فيض بلطيفه سِري من حقير هم برسان بواسطه مرشدين طريقتم وبالخصوص بواسطه جناب مرشدم . )

معنا داچې: اې خدايه پاكه ! هغه فيض د شيوناتو ستا چې له لطيفهٔ سري دنبي كريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه دې لطيفهٔ سري د موسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته رسولی دی هغه فيض زما عاجز لطيفې ته هم راورسوې ، ددغې لارې د اولياء كرامو په واسطه ، خصوصاً زما دخپل محبوب مرشد په واسطه.

**دڅلورمې (خفي) لطيفې دعا** : ( الهي فيض صفات سلبی که ازلطيفه خفی حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی عليه وسلم بلطيفه خفی حضرت عيسی عليه الصلوة وسلم رسانيدي همان فيض بلطيفه خفی من حقير هم برسان بواسطه مرشدين طريقتم وبالخصوص بواسطه جناب مرشدم . )

معنا داچې: اې خدايه پاكه ! هغه د خپلو سلبي صفاتو د لطيفهٔ خفي چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له لطيفهٔ خفي نه دې حضرت عيسى عَلَيْهِ السَّلَامُ ته رسولی دی، هغه فيض زما خفي لطيفې ته هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورسوي، د اولياء كرامو په واسطه، خصوصاً زما دخپل مرشد په واسطه.

**د پنځمې(اخفی ) لطيفې دعا** : ( الهي فيض انوار جامع شان العلم لطيفه اخفی حضرت محمد مصطفی صلی الله تعالی علیه وسلم بلطیفه اخفی من حقیرهم برسان به واسطه مرشدین طریقتم وبالخصوص بواسطه جناب مرشدم. )

اې خدايه ! هغه فيض د شان العلم د انوارو دلطيفې اخفی درسول الله ﷺ، زما اخفی لطيفې ته راورسوې، په واسطه د اولياء كرامو ددغې لارې، خصوصاً زما دخپل مرشد په واسطه.

نو د هرې لطيفې په دعا کې اولياء ورسره دي، دنقشبندیې طريقې ټول اولياء كرام عموماً او خپل مرشد خصوصاً په دې دعا کې وسيله کوي. بيا دعا کوي چې: خدايه زما دزړه ذکر جاري کړې !، زما دروح ذکر جاري کړې !، زما سِر جاري کړې !، زما خفي جاري کړې !، زما اخفی جاري کړې !.

دا دعاګانې اوسنۍ نه دي، بلکې له ډېر پخوا نه رانقل شوې دي، په اردو، فارسي اوهمدارنګه په افغانستان کې هم په ډېرو کتابونو کې دا دعاګانې رانقل کړل شوې دي، ځکه چې د فارسي ژبه يو وخت په بخارا، سمرقند اوهندوستان کې ډېره رائجه وه. نو په فارسي ژبه چې څرنګه رانقل کړې شوې دي، هماغسې پخپل حال پاتې دي او څه تغير اوبدلون ندی راوستی.

همدارنګه د بيعت ( تلقين ) الفاظ ټول خليفه صاحبان په فارسي ژبه وايي، ځکه حضراتو مبارکينوته هم په فارسي ژبه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



الفاظ رانقل شوي وو ، نو دوی دادب له وجې کوم تغیر او بدلون پکې رانه وستلو او هغه یې وسیله وګرځول .

نو د هر کار چې جوړېږي هغه په دغه باندې چې عمل هم وسیله کړي هغه اشخاص هم وسیله کړي بیاد سړي د دنیا او دا خیرت ټول کار و نه جوړیږي نو د هر ملګري تر ډېره وخته په و ظیفو با لکل نه پو هیږي پوهېدل شرط نه دي بلکې کول یې شرط دي پو هېږ وکه نه پو هېږو مونږ ته د خدای پاک جَلَّجَلَالُهٗ حکم ده چې ذکر کوئ مایادوئ نو مونږ به یې کوو خودغه یې لازې دي چې لږ محنت و شي په مجلس کې لږ احتیا ط و شي په خو را ک کې لږاحتیاط وشي دغه دلطائفو دعاګانې اوشجرې وویل شي نوبیا یې سړی زر په اثر پوهیږي حضرت مجدد صاحب ته یو څوک خط وراستوي دا شکا یت ورته پکې لیکي چې زیات وخت مې په طریقت کې تېرشو تر اوسه پورې په هیڅ نه پوهېږم هغه په ځواب کې ورته لیکي

چشم بند و گوش بند و لب بند گر نبینی سر حق، بر من بخند

سترګې له حرامو لیدلو نه بندې کړه غوږونه دحرامو له اوریدلونه بند کړه ژبه له حرامو مجلسو نه بند ه کړ ه که د خدا ی پاک اسرا ر دې ونه لید ونو به ماپورې وخانده .

مونږ پرهیز نه دی کړی چې څه مو مخې ته راغې نومخ نه ترینه اړوو ، بیا شکایت کووچې په وظیفونه پوهېږو

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت نور المشائخ صاحب ته په خط کې یوځوک همدغه شان شکایت لیکي چې دومره وخت مې په طریقت کې تېرشوتراوسه په هیڅ نه پوهېږم ده مبارک په ځواب کې ورته لیکلي وچې محبه! خوراک کم کوه ذکر ډېر کوه دطریقت رنګه مه بدوه.

مونږ که په ټول شوا روز کې پنځه میلته وظیفه وکړو نوبیا زیات شکایت کووچې وظیفه نه کیږي چې اوقات ضایع نه شي دغه دتوسل لحاظ ورسره وشي تا سې یو ه جمعه په پا بند ي سره وظیفه و کړئ له ناکاره مجلسو اودبازار له تګ اوله غیبتو اودرواغونه اجتناب وکړئ لږ وظیفې ډېرې کړئ دشجرې ددعاولحاظ ورسره وکړئ چې هر ملګری دننه په یوه جمعه کې په اثريې پوه نه شوبیا یقیني ده چې نقصان په مونږ کې موجود ده.

په دې لارې کې نقصان نشته چې یوځل دې لارې ته سړی معتقد شونوبیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغسې ځوک نه پرېږدي خامخا يې برخمن کوي.

اللّٰه اللّٰه اللّٰه

اللّٰه

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۲) مجلس

## په عباداتو کې دحضوربرابرېدلواسباب

هر عبادت چې په حضور باندې وي هغه خدای پاک ته ډېر مقبول ده دعاده لمونځ د ه حج ده جهاد ده هر عبادت ده چې په هغه کې خشوع اوحضو ر وي خدای پاک ته ډېر پسند یده مقبول ده که حضورنه ؤيکې برابرېه هغه عبادت خاص اثرنه مرتب کیږي.

**دحضوردبرابرولوطریقه:**

کتابونه لیکي دانسان حضورچې نه برابرېږي دده خیال اوذهن کې سوچونه اوفکرونه ډېر ورځي ددغه لپاره دوه لاملونه دي:

**دحضورنه برابریدلو اول لامل:**

کله دظاهر نه دباندې د سړي زړه ته څه شی تېرېږي یایې په زړه کې یوشي خای نیولی وي دبېرون له طرف نه چې دسړي زړه ته څه تېرېږي هغه اکثره یادنظر له لارې وي یاداوریدلو (غوږونو) لارې وي. یعنې چې کوم شی ډ بر و ینې د هغو لیدلو له امله د سړي تعلق ورسر ه پیداکیږي، بیاپه لمانځه کې هم دده دذهن څخه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



وزي يا چې کوم شی اوري د اوريدلو په سبب د سړي ذهن اوعقل ته هغه شی ور تېرېږي په لمانځه کې يې حضور نه برابرېږي ددغې وجې نه دستر ګو او غوږو کنترول پکارده چې دا کنترول شی هلته ذهن ته بيا غلط سو چونه نه ورلوېږي حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه به چې په کوم ځای کې لمونځ کاوه نو په هغه ځای کې به چې قرآن کريم توره يا يو ليکلی شی ايښی و ترڅو به يې لمونځ نه کاوه چې هغه به يې نه وه لرې کړی ددغې وجې نه فقهي مسئله هم داده چې دجومات نقش کول که په شخصي خپلو رو پيو باندې جوړ کړي ګچ او چونه ور کول جائز دي خو ليکن دا خبره پکې شرط ده چې داسې نقشو نه به نه وي پکې چې حضور خرابوي چې هغه دقبلې په طرف باندې وي نو ستر ګې په هغو باندې لګيږي هغه دزړه حضور خرابوي.

رسول صلى الله عليه وسلم خطبه اوبله دسرو زروګوته يې په لاس په دې وخت کې دنرانو له پاره هم سره زر حلال ؤ دحراموالي حکم يې بيا وروسته راغي دخطبې په ما بين کې يې دا ګوته وشړله او وې غور ځوله وايي چې زما حضور يې خراب کړ کله زه ددې طرف ته ګورم او کله زه ستاسې طرف ته ګورم نو ددغې وجې نه د لمانځه او بل عبادت په وخت کې دستر ګو کنترول پکارده چې سړی سترګې کنترول کړي نو دهغه غلط سو چونه نه پر کنترول کيږي.

دمشا يخو کرامو اکثره چيله خانې داسې وې چې يواځې به يې خان ته دومره ځای برابراوه چې هلته به پکې د سجدې ځای و، د ديوال بيخ ته به نږدې دربده، ځکه د فقهې مسئله هم داده چې ترڅو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د سرې سترګې په کنټرول کې وي، له دې وجې نه په داسې ځای کې عبادت کول چې هلته آواز او سرود نه اوري، هلته دنیاوي مجلسونه نه وي، نوپه داسې ځای کې دې عبادت کوي، اوکه دغه شیان وي، نوبیا د زړه حضور نه برابرېږي، سروز خو په خپل ځای پرېږده بلکې په جومات کې به د قرآن کریم تلاوت هم په زوره نه کوې، ځکه چې لمونځ کوونکي ته تاوان رسیږي. د خارجي اسبابو کنټرول په کار ده لکه سترګې، غوږونه ځکه چې ددې له امله د انسان حضور په عبادت کې خرابیږي

له دې وجې نه مشائخ کرام رَحِمَهُمُ اللّٰهُ د ذکر په آدابو کې دا لازمي کړې چې کله د ذکر په حلقه کې کېناستې نو سترګې به پټوي، ځکه په دې سره حضور بنه برابرېږي، غوږونه یواځې تلاوت او ذکر ته متوجه کړه نو حضور به دې په خپله برابر شي.

**دحضور نه برابریدلو دوهم لامل:**

کله دیو چا خیالات خراب او بې ځایه وي،نو حضوریې نه برابرېږي. دا ځکه چې له دې نه مخکې د انسان په زړه کې یو بل شي ځای نیولی وي، نو له هرڅه مخکې د هغه لیرې کول په کار دي، مخکې له دې چې یوڅوک په لمانځه شروع وکړي نو اول دې هغه څه له زړه څخه وباسي چې دده حضور وربانديې خرابېږي، دا خبره دې په ذهن کې راولي چې زه د خدای تعالی حضور ته دریږم، له رب کریم جَلَّ جَلَالُهُ سره به خبرې کوم، مناجات به ورسره کوم، نو ماته هم په کار ده چې له نور هرڅه نه تعلقات قطع کړم، که له دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره سره بیا هم دا سوچ نه لیرې کېده نو بیا یې د لرې کولو طریقه داده چې کله په لمانځه کې قرائت شروع کړي نو د قرائت الفاظ او معانیو ته دې پام کوي، د هغه په معنا کې دې سوچ کوي، که په خپله قرآن کریم وایي او یایې له امام څخه اوري نو معنا ته دې پام کوي، کله چې یې د قرآن کریم معنا ته فکر شو نو له زړه څخه یې هغه بېکاره سوچ په خپله وزي. خو که بیا هم سوچ نه بدلېده نو بیا دې دهغه شي د لیرې کولو له پاره بنیادي لاره پیدا کړي. لکه حضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته حضرت ابی جهیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ یوه شړې راولېږله، نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم لمونځ پکې وکړ، خو کله چې یې لمونځ وکړ نو فی الحال یې دغه شړې وویسته او بېرته یې ورته ولېږله او ورته وې ویل چې د ابی جهیم رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه ساده شړې ماته راوړئ اودا بېرته هغه ته یوسئ ځکه چې په دې شړې کې نقشونه دي، زما حضور یې خراب کړ.

همدارنګه حضرت ابوطلحه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په باغ کې لمونځ کوي، په ونو کې مرغان ګرځي ، دی دهغو طرف ته متوجه شو ، حضور یې خراب شو، نو له لمانځه نه وروسته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته وایي چې: دا باغ مې ددې له وجې صدقه کړ چې په لمانځه کې یې زما حضور راخراب کړ [موطأ امام مالک بحواله مجالس مفتی اعظم وحیاة الصحابه]

دحضرت عثمان ذی النورین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د خلافت په وخت کې ده ته یو سړی راغی، نو حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ته وایي چې: د خرما د یوې ونې لاندې مې لمونځ کاوه او خرما ته مې پام شو او دېر خوند

(c) ketabton.com: The Digital Library



يې راکړې، نو ټول سوچ مې په هغه ونه کې بند شو، د دې سوچ له وجې زما هغه راز او نياز چې زما او د خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ ترمنځ و هغه کمزوري شو، نو اوس زه هم دغه باغ د خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ په لاره کې صدقه کوم، حضرت عثمان رَضِيَ اللهُ عَنْهُ هغه باغ بيا په پنځوس زره ديناره باندې خرڅ کړ.

نو هر عبادت چې يو څوک کوي نو خامخا به حضور برابروي، د حضور د برابرولو علاج او طريقه داده چې هغه اسباب چې دهغې له وجې انسان ته سوچونه پيدا کېږي نو که هغه اسباب له خارج څخه وي دهغو دفاع دې وکړي مثلاً د سترګو، غوږونو له طرفه او که د ذهن له طرفه وي يا د زړه له طرفه وي نو دهغه محبت دې له زړه څخه وباسي.

اول بايد حضور برابر کړى شي چې زه د خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ سره خبرې کوم، دهغه جَلَّجَلَالُهُ په حضور کې ولاړ يم، نو که په دې سره يې اصلاح نه کېدله نو بيا د قرآن کريم معانيو ته متوجې شي، څکه يا به د رحمت آياتونه وي يا به دعذاب وي، يا به د عبرت واقعات وي، يا به احکام وي، نو کله چې ورته متوجه شي نو په دې سره له ذهن څخه هغه ناکاره سوچونه له منځه ځي اوکه په دې سره هم کار نه کېده نو په زړه کې چې يې له کوم شي سره مينه ده هغه دې له زړه څخه وباسي نو بيا به يې خامخا د الله تعالى په وړاندې حضور برابرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عبادت کې د حضور برابرېدلو لارې:

د لمانځه په هر رکن او شرط کې د حضور د برابرېدو لارې چارې دادي. یو څو لنډ مثالونه به یې وړاندې کړو:

اول: کله چې یوڅوک د آذان غږ واوري نو په دې سره باید په ذهن کې دا خبره راوګرځوي چې دا آواز خو ما لمانځه ته بولي، یوه ورځ به د حضرت اسرافیل عَلَیْهِ السَّلَامُ د شپېلۍ په واسطه داسې آواز کېږي چې ما به د حشر میدان ته وربولي، د خدای جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته به مې غواړي. نو چې له ځان سره یې دا فیصله وکړه چې په دې آذان کې د خدای تعالی له طرفه اعلان ده مونږ مجبور یو چې اجابت یې وکړو، ورځو به، هغه د قیامت اعلان چې کېږي هلته به هم ورځو، نو اوس که ددې آذان په اورېدو سره دده په طبیعت کې خوشالي پیدا شوه چې زه شکر دی د دین په لاره روان یم، نو دا خوشالي دده له پاره بشارت دی چې په هغه وخت کې به هم الله تعالی په ده باندې داسې خوشالي راولي. لکه د زنکدن په وخت کې به ده ته ملائکې زېرې ورکوي چې له آینده واقعاتو ته مه وېرېږه او نه په پاتې شوي اهل اوعیال مه خفه کېږه ستاسې د هرڅه سرپرستي به مونږ کوو او بیا چې کله له قبر څخه راپورته شي هلته به هم ملائکې ورته زېري ورکوي چې په خیر راغلې ستا هرڅه ستا په ګټه دي نوره تاته نه وېره شته اونه به غمجن یې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم: که یوڅوک لمونځ کوي نو د لمانځه له پاره شرط داده
چې ځای به پاک وي، جامه به پاکه وي، بدن به یې پاک وي، اوس
نو باید سوچ وکړي چې په کوم ځای درېږم هغه باید پاک وي، زما
جامې هم باید پاکې وي، بدن مې هم باید پاک وي، نو اصلِ شی
خو زړه ده هغه خو باید له دغو ټولو شیانو نه مخکې له هرڅه نه
پاک وي. مثلاً له شرک نه، له سُمعت او ریا کاري څخه به یې پاکوم
او به زړه کې به یواځې له الله تعالی سره تعلق جوړوم چې: ای خدایه
پاکه! بل هېڅ مې نه دي په کار، د هیڅا له پاره دا کار او عبادت نه
کوم، یواځې یې ستا د رضا او خوشالتیا له پاره کوم.

په لمانځه کې د عورت پټول هم یو شرط دی، په دې باره کې
سړی باید دا سوچ وکړي چې لکه څرنګه چې په دې جامه زما
عورت او د بدن نور عیبونه پټ دي، په دې جامه کې زما عورت
دخلکو له سترګو څخه پټ دی. او له الله تعالی څخه نه په جامه، نه
په توره شپه او نه هم په کوم بل ځای کې پټېدلی شم، که زه د هغه له
ګناهونو او نافرمانیو څخه ځان پټوم نو د هغې له پاره پرده یواځې او
یواځې توبه ده. هغه ندامت ده، هغه حیا ده، او هغه به الهي خوف
وي. نو چې له چا سره دا سوچ پیدا شو چې په دغه جامه زما عیبونه
له خلکو څخه پټ شو، خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ زه عزتمن کړم، نو باید
چې زما عیبونه هم له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ څخه پټ وي، او د الله
تعالی د عذابونو نه د خلاصون یواځینی لاره حیا ده، وېره ده، او
همدارنګه په تېرو بدو عملونو ندامت او استغفار ده او له توبې
ایستلو سره انسان بېرته له ګناهونو څخه پاک شي، څکه نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ فرمایي: ﴿ التَّائِبُ مِنَ الذَّنْبِ كَمَنْ لاَ ذَنْبَ لَهُ ﴾ [مشکوة ج ۱ / باب الاستغفار والتوبة ص ۲۰۶] ژباړه: توبه کونکی له ګناه داسې ده لکه له سره یې چې ګناه نه وي کړې.

بل شرط په لمانځه کې ( استقبال القبلة ) دی یعنې قبلې ته مخامخ دریدل. دلته به لمونځ کوونکی له ځان سره دا سوچ کوي چې: ظاهره بدن مې د قبلې په لوري ده، نو زړه به مې د قبلې د څښتن ( الله تعالی ) په لوري وي. لکه څرنګه چې انسان په دې عقیده دی چې که مې مخ له قبلې نه بل لوري ته وي نو په دې لمانځه کې هیڅ ګټه نشته، نو همدارنګه دې په لمانځه کې دا احساسوي چې زه خاص خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته که متوجه نه شم نو هرڅه مې بې ځایه او بې فائدې دي او که یوڅوک په دې فکر کې شي چې خلک راته صوفي، مجاهد، حاجي او سخي ووایي نو که له چاسره ددغو خبرو لحاظ وي نو بیا یې هیڅ یو عمل کومه ګټه نه لري، نه یې کوم اجر په برخه کېږي.

د شرک خفي په هکله د نبي کریم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلَّمَ مبارک قول ده چې الله تعالی به د قیامت په ورځ اعلان کوي چې هرچاچې له ماسره په عبادت کې څوک شریک کړی وي نو هغه دې خپل ثواب له هغه څخه وغواړي، له ماسره دداسې عبادت کولو کوم اجر نشته [مشکوة ج ۲ / باب الریاء والسمعة ص ۴۵۴] نو څوک چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په حضور کې دریږي، الله اکبر وایي، ځان دې داسې فرض کړي لکه یو غلام چې له خپل بادار څخه تبنتېدلی وي او بیا

(c) ketabton.com: The Digital Library



بېرته پښېمانه شوی او راغلی وي او دهغه په مخکې ولاړ وي، او حیا هم ورته راځي او په خپل کړي عمل هم شرمیږي چې دغه بادار زه څومره ښه ساتلم او ما څنګه بد کار وکړ ، بل دا ویره ورسره وي چې اوس به دغه بادار ماته څه ډول سزا راکوي ؟ نو د ډېرې وېرې او خوف له وجې نه یې سر ښکته اچولی وي او په زړه کې رېږدي چې ماته به اوس کوم قِسم عذاب راکول کېږي ؟ نو سړی چې کله بیا د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حضور ته ودرېږي نو ځان به داسې ورته خجالت معلومېږي چې خدایه پاکه ! تراوسه پورې مې وخت په لهو او لعب او په بېکاره مجلسونو او له حدودو څخه په تجاوز کې تېر کړ اوس نو چې راځې لمانځه ته ، له الله تعالی سره ملاقات ته راځي نو ځان به خجالت ګڼي، ځان به په ډار کې ګڼي، چې هغه مالک به له ماسره اوس څه کوي نو حیابه ورته درېږي چې ما خود الله جَلَّ جَلَالُهُ دېې شمېره نعمتونو ناشکري کړې ده ؟ او الله جَلَّ جَلَالُهُ له ماسره څومره ښه کړې دي ؟ له نیست نه یې پیدا کړم، خوراک څښاک راکوي، لباس اوجامه راکوي، دده جَلَّ جَلَالُهُ په ملک کې اوسېږم ، دده نفقه خورم، او بیا له دې ټولو سره سره دده جَلَّ جَلَالُهُ له اوامرو څخه تېښتم او په بله خوا منډې وهم

نو کله چې له یو مسلمان سره د عبادت کولو په وخت کې دغه فکر ملګری شي نو بیا به یې خامخا په عبادت کې حضور برابرېږي اوبه دغه نېک عمل به الله تعالی ورته اجر هم ورکوي او دده عبادت به د نورو خلکو له عبادت سره فرق هم لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي کريم صلی الله علیه وسلم فرمايي: تاسي زما په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم پسې ستغې سپورې او بد رد مه وايئ ! که تاسي د اُحُد د غره په اندازه صدقه وکړئ زما د صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم د يو پاو يا نيم پاو له صدقې سره په اجر کې نه برابرېږي. (مشکوٰة ج ۲ / باب مناقب الصحابة رضی الله عنهم ص ۵۵۳) دا ځکه چې دهغوی مبارکانو صدقې او خيراتونه په خپلو شرائطو برابر او خاص د خدای تعالی جل جلاله د رضا له پاره وو.

د قرآن کريم د آياتونو د شان نزول په باره کې بار بار دا خبره راغلې چې نبي کريم صلی الله علیه وسلم ته به صحابي راغی چې فلانکی صغيره ګناه راڅخه شوېده او په هغه ګناه به يې پښېمانتيا او عُجز ښکاره کاوه، مغفرت به يې غوښته اودا به يې ويل چې: زه تښتېدلی وم، د خدای پاک جل جلاله ناشکري مې کړې ده ، زر ماته سزا راکړئ، هسې نه چې دغه سزا مې د آخرت ورځې ته پاتې شي، نو ددې له وجې نه چې په صحابهٔ کرامو رضی الله عنهم کې په دې اندازه للهيت او خشيت من الله وو نوځکه خو الله تعالی ورته دومره لوړې درجې هم ورکړې دي.

په کتابونو کې راغلي چې: (حسنَاتُ الابْرارِ سيناتُ المقرّبِين) که له انبياء کرامو علیهم السلام څخه خلاف اولی کار شوی وي په هغې سره هم الله تعالی دوی ته تنبيه ورکړې وي، سره له دې چې دواړه کارونه به روا وو خو دا چې دوی به هغه بهتر پرېښی و بيا به هم عتاب ورته متوجه وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د مکروهاتو په صادربدلو اولیاء الله وو څومره ډېر ژړلي دي؟ په اجتهادي سهوو باندې انبیاء کرامو عَلَيْهِمُ السَّلَامُ څومره ډېرې ژړاوې کړي دي؟

نو لنډه دا چې کله په عبادت کې للهیت راشي نو مسلمان به اهل الله ګرځي او کله چې الله تعالی یو څوک د خپل خان لور ته راوبولي، کومه مرتبه او عزت چې هغه جَلَّ جَلَالُهُ ورته ورکړي بیا یې نه بل څوک ورکولای شي اونه یې بل څوک ترې اخیستلای شي. څومره چې یو څوک خدای تعالی ته ورنژدې کېږي هغومره به دی ورڅخه ډارېږي.

لکه رب کریم چې فرمايي: إِنَّمَا يَخْشَى اللهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمَاءُ... ﴿۲۸﴾

(سورة فاطر)

ژباړه: بیشکه هم داخبره ده چې ویرېږي له الله تعالی څخه له بنده ګانو ددغه (الله) پوهنده عالمان.

تاسې نظر وکړئ څومره چې یوه ډله الله تعالی ته ورنږدې ده په هماغه اندازه یې له الله تعالی څخه وېره هم زیاته وي. په اول نمبر کې پیغمبران عَلَيْهِمُ السَّلَامُ، بیا صحابهٔ کرام رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ، بیا تابعین کرام او اولیاء عظام، نو دا بزرګان چې څومره له الله تعالی څخه ډارېږي نو عام خلک له الله تعالی څخه دومره نه ډارېږي، هغوی بزرګان ځکه زیات ویرېږي چې هغوی ته د الله تعالی معرفت حاصل دی او خان ورته ناقص او خجالت ښکاري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ د لمانځه په وخت کښې څه حال و؟

حضرت علي رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې په لمانځه دریده نو لړزه به پرې راغله او رنګ به یې زیړ شو. مالک ورته وویل چې: یا امیرالمؤمنینه! دا په تا څه چل کیږي؟ هغه په ځواب کې وویل: دالله تعالی دهغه امانت د اداء کولو وخت راغلی کوم امانت چې آسمانونو. زمکو او غرونو ته پیش (وړاندې) کړی شو نو هغوی یې له قبلولو نه انکار وکړ او له پورته کولو نه یې وویریدل، او ما اوس هغه امانت قبول کړ.

په یوه روایت کې راځي: چې علي بن حسین رَضِيَ اللهُ عَنْهُ به چې کله اودس وکړ رنګ به یې زیړ شو میرمنې یې ترې وپوښتل چې دا په تا څه کیږي؟ هغه ورته وویل: آیا ته پوهیږې چې زه دچا په حضور کې دریدو ته اماده کیږم نیسم. او له چاسره غږیږم؟

[مکاشفة القلوب /عربي (مکتبه دارالکتاب) / ص:۴۲ / پښتو مکتبه فریدیه / ص: ۷۰]

نو که څوک له ځان سره فکر وکړي چې زه په لمانځه کې چاته ولاړ یم؟ زه تلاوت د چا په حضور کې کوم؟ زه د الله تعالی په حضور کې تلاوت کوم او هغه راته غوږ نیولی دی، هغه ماته متوجه دی او زما امتحان اخلي، زه دده جَلَّ جَلَالُهُ کلام ورته تېروم او دهغه راته پام دی، نو په دې سره بیا انسان داسې مقام ته رسیږي چې داسې احساسوي لکه الله تعالی چې په خپله تلاوت کوي او ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنه غوږ نیولی وي، اګر که دی دغه تلاوت له بل کوم انسان څخه اوري خو دی به داسې احساسوي لکه چې له الله تعالی څخه یې چې اوري.

الله تعالی خو مونږ ته فرمایي چې: ﴿فَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ﴾ (سورة المجادله آیت ۱۳) (نولمونځونه وکړئ) ﴿وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ﴾ (سورة حج آیت ۷۸) (زکاتونه ورکړئ) الله تعالی فرمایي: ﴿يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ۝﴾ [سورة الاحزاب]

ژباړه: اې مؤمنانو! یادوئ الله په یادولو ډیرو سره.

په دې اوامرو کې به البته فائده زمونږ له پاره وي ځکه یې الله تعالی بار بار راته د کولو امر کوي.

او که یو چا ته الله تعالی مُشاهده نصیب کړي بیا یې داسې مقام په برخه شي لکه خدای تعالی چې په خپلو سترګو ویني. لکه په حدیث شریف کې راغلي: ﴿أَنْ تَعْبُدَ اللهَ كَأَنَّكَ تَرَاهُ، فَإِنْ لَمْ تَكُنْ تَرَاهُ فَإِنَّهُ يَرَاكَ﴾ [صحیح البخاري ج: ۱/ کتاب الایمان حدیث جبریل ص: ۲] معنا دا چې د خدای تعالی عبادت په داسې طریقه کوه ګواکې چې ته یې په سترګو وینې، اګر که ته یې نه وینې هغه خو دې وینې.

کوم خلک چې الله تعالی ته ډیر نژدې کېږي دهغوی له پاره له تولو نه مخکې احتیاط شرط ده، ځان به له مکروهاتو، مشتبهاتو نه ساتي، له غلطو مجلسونو، اشتباهي خوراکونو، له غلط محیط

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ماحول نه به ځان ساتي اوهمدا راز به له غلط ملګري نه هم ځان ساتي. ځکه چې د خداى تعالى له نږدې دوستانو څخه که معمولي سهوه هم کېږي بيا په هغه عمل هم تنبيه ورکول کېږي، بيا يې الله تعالى له تکليفونو سره مخامخ کوي، ځکه لکه څرنګه چې برخه زياته او انعام يې ډېر دى بيا يې سزا هم دغسې زياته ده. طالب، عالم او صوفي به د عوامو په نسبت زيات احتياط کوي.

ځکه دى تر نورو انسانانو الله تعالى ته ورنږدې دى، نو چې بدله زياته غواړي نو اطاعت به يې هم زيات وي. د اولياء کرامو حتى الوسع دا حکم دى چې په عمل کې به عزيمت کوي، په رخصت به عمل نه کوي، سره له دې چې رخصت په شريعت کې يوجائز عمل ده، خو بيا به هم په عزيمت عمل کوي ځکه چې ددوى مقام اوچت دى.

نو غرض داده چې د عبادت په وخت کې بايد خپل حضور برابر کړو، بيا به زمونږ دغه لږ کېناستل، دوه رکعته نفل، لږ تلاوت دابه ډېر غټ اجر لري.

يو سړى يوه روپۍ صدقه کړي نو الله تعالى ورته يو په لس بدله ورکوي، بل يوه روپۍ صدقه کړي هغه ته يو په اووه سوه بدله ورکوي، بل يوه روپۍ صدقه کړي يو په اووه لکه بدله ورکوي، بل يوه روپۍ صدقه کړي يو په کروړونو الله تعالى بدله ورکوي . اوس صدقه يوه روپۍ ده خو بدله او اجر يې مختلف ده، په ثوابونو کې يې فرق ده. دا ځکه چې د نيت د حضور په برابرېدلو کې فرق ده،

(c) ketabton.com: The Digital Library



څومره چې اخلاص زیاتیږي هغومره انعام هم ورسره زیاتیږي، نو بیا ددغو خلکو سزا هم دغسې ده، عذاب یې هم دغسې زیاتیږي

په یوه روایت کې راځي چې: که یو عام سړی ګناه وکړي نو یو په یو به ورځخه بدله اخیستل کیږي، خو که دغه ګناه یو عالم وکړي یو په اویا به یې سزا ورکوله کیږي، ځکه ددوی مقام جګ او لوړ دی ددوی انعامات زیات دي، نو چې انعامات یې زیات دي بیا به انتقام ته هم متوجه کیږي.

اوس که مونږ متوجه شو چې په لمانځه، تلاوت اونورو عبادتونو کې مو حضور ولې نه برابریږي؟ وجه یې داده چې: د اسبابو لحاظ مو نه دی کړی، دا د حضور د برابریدلو اسباب څه شی دي؟ نو کله چې د حضور اسباب وکتل شي او دهغوی علاج وکړل شي نو بیا امید شته چې الله تعالی به کار وکړي.

لکه څرنګه چې ظاهري بدن مریض شي دهغه له پاره الله تعالی معالجه مقرر کړې ده، ډاکټران وي، مریض بار بار ور روان وي چې کېدای شي له دغې نسخې سره روغ شم نو چې کوشش وکړي خدای پاک ورته شفا ورکړي.

نو ددغو روحاني مرضونو له پاره هم که یو څوک کوشش وکړي دغه اسباب ولټوي علاج یې وکړي بیا خدای پاک مهربانه ده چې کارونه یې ورته جوړ کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۳) مجلس

## د روژې د میاشتې اهمیت

﴿يَـٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوا۟ كُتِبَ عَلَيْكُمُ ٱلصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى ٱلَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ ﴿١٨٣﴾﴾ [سورة البقره]

ژباړه : اې مؤمنانو! فرض کړی شوې ده په تاسې باندې روژه ، لکه چې فرض کړی شوې وه په هغو کسانو چې پخوا له تاسې څخه وو ( لکه پخواني امتونه او پیغمبران تر آدمه پورې ) له پاره د دې چې تاسې ځان وساتئ ( له ګناهونو څخه او پرهیزګاران شئ ؛ ځکه چې روژه دشهواني قوې ماتوونکې ده ) .

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِذَا كَانَ أَوَّلُ لَيْلَةٍ مِنْ شَهْرِ رَمَضَانَ صُفِّدَتِ الشَّيَاطِينُ، وَمَرَدَةُ الْجِنِّ، وَغُلِّقَتْ أَبْوَابُ النَّارِ، فَلَمْ يُفْتَحْ مِنْهَا بَابٌ، وَفُتِّحَتْ أَبْوَابُ الْجَنَّةِ، فَلَمْ يُغْلَقْ مِنْهَا بَابٌ، وَيُنَادِي مُنَادٍ: يَا بَاغِيَ الْخَيْرِ أَقْبِلْ، وَيَا بَاغِيَ الشَّرِّ أَقْصِرْ، وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ، وَذَلكَ كُلُّ لَيْلَةٍ "﴾ [ جامع الترمذی ج ۲ /ص: ۱۴۷ / رقم الحدیث ۶۸۲ ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي چې کله اوله شپه د روژې شي شیطا نان وتړل شي او سرسخته پیریان هم وتړل شي او دجهنم ټولې دروازې وتړل شي او دجنت ټولې دروازې خلاصي شي او یوغږ کونکی غږ کوي وایي اې باغي له خیرڅخه مخ را وګرځوه. اواې باغې دشر څخه له شره وساته او الله تعالی لره عتقاء وي په هره شپه دروژې کې.

﴿ عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ رَبَّكُمْ يَقُولُ: كُلُّ حَسَنَةٍ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِ مِائَةِ ضِعْفٍ، وَالصَّوْمُ لِي وَأَنَا أَجْزِي بِهِ، وَالصَّوْمُ جُنَّةٌ مِنَ النَّارِ "«وَلَخُلُوفُ فَمِ الصَّائِمِ أَطْيَبُ عِنْدَ اللهِ مِنْ رِيحِ الْمِسْكِ، وَإِنْ جَهِلَ عَلَى أَحَدِكُمْ جَاهِلٌ وَهُوَ صَائِمٌ فَلْيَقُلْ إِنِّي صَائِمٌ» ﴾

[ جامع الترمذی ج ۲ / ص: ۱۵۹ / رقم الحدیث ۱۷۶۴

ژباړه : له حضرت ابوهریره رضي الله عنه نه روایت دی وایي : چې رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي الله تعالی وایي چې دهرې نیکۍ بدله په لس ګونه وي تراوه سوه پورې او روژه زما له پاره ده زه به یې بدله ورکوم . او روژه ډال ده داور دجهنم له پاره . او رژه دار دخولي بوی الله تعالی ته ترمشکو هم بهتر ده . او که یوه جاهل روژه دار ته څه تکلیف رساوه نو دی دې ورته وایي زه روژه دار یم.

د روژې په میاشت کې له ټولو نه مخکې مسلمان باید دې ته متوجه وي چې کوم فضیلت خدای پاک جل جلاله په دې میاشت اودې میاشتې په وختونو کې ایښی دی هغه فضیلت د نور کال په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټولو میاشتو او وختونو کې نشته، د خدای تعالی رضا او زیات ثوابونه چې کوم په دې میاشت کې لاس ته راځي په نورو کې یې نه شي ترلاسه کولای

په یوه حدیث شریف کې له نبي کریم ﷺ څخه روایت شوی دی چې: ددې میاشتې بهتري په نورو میاشتو داسې ده لکه: خدای تعالی بهتري په نورو مخلوقاتو. ( تنبیه الغافلین ،عربي : ص ۱۷۸ ، رواه ابن عراق في تنزیه الشریعة المرفوعة ( ۱۶۱-۲/۱۶۰ ) . ) اود خدای تعالی او مخلوق ترمنځ انسان څه نسبت نه شي کولای چې دخدای پاک جل جلاله په مخلوق څومره بهتري ده ؟ نو همداسې ددغې میاشتې بهتري په نورو میاشتو باندې ثابته ده.

د هر وخت له پاره دا قانون ده چې : کوم وخت محترم وي، کوم ځای محترم وي او کوم خلک چې خدای تعالی ته محترم وي نو دهغه وخت، دهغو خلکو اود هغه ځای فائده اوګټه به هم هغو خلکو ته رسیږي څوک یې چې ډېر احترام کوي. دغه د روژې مبارکه میاشت څومره محبوبه او محترمه میاشت ده، خو که څوک ددغې میاشتې عزت او قدر ونه کړي نو دغومره ددغه شخص له پاره زجر او سزا هم زیاته ده.

په تفاسیرو کې لیکل شوي دي چې: که یو څوک په حرم شریف کې یواځې د ظلم اراده وکړي او ظلم یې لا نه وي کړی نو الله تعالی فرمایي چې زه به ددغې ارادې سزا هم ورکوم. نو مفسرین کرام فرمایي چې: که په عامو ځایونو کې یو څوک د کومې ګناه اراده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړي نو يواځې په اراده کولو سره الله تعالی ورته سزا نه ورکوي ترڅو يې چې هغه بد عمل نه وي کړی، خو په حرم شريف کې يواځې د ارادې په کولو سره هم سزا ورکوي، ځکه چې حرم شريف عندالله محترم دی نوچې ځای محترم شواحترام يې هم دغومره ضروري دی.

نو روژه په ټولو مياشتو کې بهتره مياشت ده، ځکه ددې مياشتې نسبت الله تعالی دخپل ذات طرف ته کړی دی.[ مشکوة المصابيح ج: ۱ کتاب الصوم ص: ۱۷۳ ] خو ددې بهترې ثواب به مونږ ته هلته رارسيږي چې مونږ ددې مياشتې حرمت وپېژنو، احترام يې وکړو او احترام يې دادی چې په دې مياشت کې عبادت زيات وکړو او د عبادت معيار ته زياته پاملرنه او توجه وکړو. لکه څرنګه چې د درود شريف په باب کې راغلي چې که يو مسلمان په نبي کريم صلی الله عليه وسلم باندې درود وايي نو له ځان سره دې داسې تصور کوي چې زما دغه درودنبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د الله تعالی له طرفه د ملائکو په ذريعه رسيږي او له دې سره دې دا تصور هم وکړي چې که زه يو ځل درود وايم نو په مقابل کې به يې الله تعالی په ما باندې لس ځله درود وايي. او د جُمعې په شپه او ورځ د يوه درود په مقابل کې الله تعالی او ملائکې په انسان باندې اويا ځله درود وايي . او دا تصور چې څوک په هره لطيفه وايي نو په هغو لطائفو ددغه درود اثر پيدا کېږي .بې له وظيفو نه درود ويل او له وظيفو سره دورد ويل په دې کې هم فرق ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کله چې په داسې حضور سره یو څوک عبادت کوي، نو ل عبادت سره یې مینه او شوق زیاتیږي، له عمل سره یې اخلاص ا محبت زیاتیږي، ددغه عمل قدر او ارزښت ورته معلومیږي، نو څومره چې دده په ذهن کې دهغه عمل ارزښت زیاتیږي همدومره به الله تعالی ددغه شخص په دې عمل باندې اثرات مرتب کوي. ځکه چې اوس له عمل سره اخلاص هم ملګری شو.

لنډه داچې که له ځان سره فکر وکړو چې دا هغه مبارکه میاشت ده چې په ټولو میاشتو کې الله تعالی د ځان له پاره منتخب کړې ده.

په دې میاشت کې د نفلي عبادت ثواب د فرضي عبادت له ثواب سره برابر دی. او یو فرض د اویاوو فرضونو ثواب لري.( مشکوة المصابیح/ج ۱/ کتاب الصوم ص: ۱۷۳) د مسلمان له پاره د دوزخ له اوره د خلاصون یوه وسیله اوذریعه ګرځي. نو که طالب ده، که ملا ده، که حاجي وي، که صوفي وي، که نر وي او که ښځه باید تر نورو وختونو په دې میاشت کې اوددې میاشتې په عبادت کې ډېر اخلاص وکړي. له خپلې وسې سره خیراتونه او صدقې وکړي. په دې خبره پوه شئ چې په دې میاشت کې څومره خیر او ثواب لاس ته راځي بل وخت بیا نه راځي. تردې پورې چې په دې میاشت کې دې له مزدورانو سره هم له نرمي او شفقت څخه کار اخلي، کم کار دې ورباندې کوي، له خپل نوکر سره دې هم له مهرباني څخه کار واخلي. ځکه هغوی هم د الله تعالی عبادت کولو ته ضرورت لري اودا خو معلومه نه ده چې د خدای تعالی دوستان به څوک او د چا په جامه کې به وي، د طالبانو په جامه کې به وي او که د ملنګانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



په جامه کې ؟ نو اصلِ مطلب داچې له هر مسلمان سره به په دې مياشت کې نرمي کوئ. ځکه چې د الله تعالى د دوستانو معلومات نه کېږي، کله به د طالب په جامه کې وي، کله به د ملنګانو په جامه کې وي که يو څوک د ملنګ يا ليوني په جامه کې وي خلکو ته يې ارزښت نه معلومېږي خو هغه په حقيقت کې د الله تعالى په نزد ډېر معتبر انسان وي.

## حضرت ضياء المشائخ (قدس الله سره) په حضرت مجدد صاحب (قدس الله سره) څومره ګران و؟

جُناب حضرت ضياء المشائخ ﷫ واقعه بيانوله چې: يو وخت زه او زما يو ملګری له کور څخه د تفريح په نيت راووتلو ، زمونږ په علاقه (شور بازار) کې يو مجذوب د بابا خال محمد رحمة الله عليه په نامه اوسېده، جامې به يې نه اغوستې، لوڅ به ګرځېده، ماته خپل ملګري وويل چې دې مجذوبِ ته ګوره چې د شريعت خلاف عمل کوي، د عورت پټول فرض دي او دی لوڅ لپړ ګرځي، ما هم د ملګري خبره تائيد کړه چې رښتيا وايې دا خو د شريعت خلاف عمل دی.

نو حضرت صاحب مبارک وايي چې: د شپې مې خوب ليده چې د جناب حضرت مجدد صاحب ﷫ زيارت ته ورغلم او له هغه سره دهغه چپ طرف ته دده مبارک دوه زامن شاه محمد سعيد او خواجه محمد معصوم (قدس سرهما) ناست دي، زه ورغلم اود حضرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مجدد صاحب ښي طرف ته کښناستم او ډېره مینه یې راسره وکړه، په همدې وخت کې مې لیدل چې یو سړی د افغانستان د جنرالانو په ډېر ښائسته لباس کې راغی، ما چې په ځیر ځیر ورته وکتل نو داسړی ( بابا خال محمد ) و، جناب مجدد صاحب رحمه الله ته یې سلام واچاوه ، له احوال او پوښتنې وروسته حضرت مجدد صاحب ورته وویل چې: خیریت خو به وي ؟ څنګه راغلی یې ؟ نو ( بابا خال محمد ) ورته وویل چې: خیریت دی، نور هیڅ خبره نشته، زما طرف ته یې اشاره وکړه چې ستا دغه لمسیان مې بې ځایه خوروي، نو حضرت مجدد صاحب زه په غېږ کې ورځملولم او زما غوږ یې تاو کړ، دومره یې تاو کړ چې غوږ مې درد وکړ او چې کله په همدغه وخت کې د غوږ د درد له وجې راویښ شوم نو غوږ مې ګرم هم و او درد یې هم کاوه، په همدغه وخت کې جناب والد صاحب حضرت نورالمشائخ مبارک هم غږ راباندې وکړ چې: ابراهیم جانه ! ما ورته وویل: بلې قربان ! نو والد صاحب راته په خواب کې وویل چې: بیا څوک بې ځایه مه خوروه!

دلته دا خبره واضح کول هم ضروري دي چې: د حضرت نور المشائخ رحمه الله د تهجد لمانځه د اوداسه له پاره اوبه حضرت ضیاء المشائخ رحمه الله تیارولې ، هغه مبارک به چې غږ وکړ چې ( ابراهیم جان ) نو ده به سمدستي ورته اوبه وروړې . نو حضرت صاحب مبارک وایي چې کله ما دغه خوب لیده نو دا د مشر حضرت صاحب د تهجد د لمانځه وخت و، نو ما د خپل معمول له مخې دا فکر کاوه چې دی مبارک به اوبه غواړي ، خو خبره بله وه. فاعتبروا

(c) ketabton.com: The Digital Library



یا اولی الابصار. له دې خوب څخه د حضرت ضیاء المشائخ صاحب رحمه الله د ولایت او ګرانښت درجه معلومیږي په حضرت مجدد صاحب رحمه الله حضرت صاحب مبارک څومره ګران ؤ.

نو راځو اصلِ خبرې ته چې: یو څوک به د خلکو په نظر لیونی وي، لوڅ لغړ به وي خو د الله تعالی په نزد یې درجه او عزت ډیر زیات او لوړ وي.

## له عاجزو او بې وزلو خلکو سره پام کوئ !

حضرت انوارالمشائخ ( دارغندی مرحوم خلیفه صاحب رحمه الله ) قصه کوله چې: مونږ په شیلګر کې اوسېدو ، یو غریب طالب و ، طالبانو به ټوکې ورباندې کولې . بله ورځ استاد راغی او وې ویل چې: ما نبي کریم صلی الله علیه وسلم په خوب ولیده او راته وې ویل چې: دا زما طالب ده ګوره ! چې خفه یې نه کړې. کله کله په طالبانو کې یو عاجز مسکین طالب وي، نو ډېر احتیاط ورسره کول په کار دی کله په عامو مسلمانانو کې یو فقیر سړی خو هغه په پټه دخدای دوست او ولي وي، له ده سره هم باید احتیاط وشي.

نو خبره مو د روژې مبارکې کوله . چې په روژه کې باید له نورو وختونو سړی ډېر زیات اخلاص او کوشش وکړي، ډېر احتیاط وکړي، دا معلومه نه ده چې په راروانه روژه کې به څوک وي او څوک به نه وي ؟ ډېر داسې ملګري و چې تېر کال له مونږ سره په ترجمه کې موجود وو، خو اوس هغوی خپل حقیقي مالک ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځانونه سپارلي او دشهادت لوړ مقام ته رسيدلي دي ، نو را روان کال ته بيا خدای عالم ده چې په روژه کې به څه پېښيږي ؟ دا د ذکر او درس حلقه به بيا زمونږ په لاس کې وي او کنه ؟ د روژې دغه فضائل به مونږ بيانولای شو او کنه ؟ ورځ نه ، بلکې يو ساعت او لحظه چې هم يو چاته فراغت پيدا کېږي بايد سرې الله تعالی ته متوجه شي نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې فراغت غنيمت وګڼه ؟

اوس خو يې قدر نه راته معلوميږي، د ژوند قيمت نه راته معلوميږي خو که خدای مه کړه په ابتلاء او ازموينه کې واقع شوو بيا ددې نعمت قدر راته معلوميږي او ارمان به يې کوو خو په لاس به څه نه راځي

زمونږ ډېر داسې نازولي مشائخ کرام اوس هم شته چې په داسې ځايونو کې اوسيږي چې هلته ورته د ختم کولو له پاره څوک نه پيدا کېږي، په خوشالي او اطمينان سره په يوځای کې مجلس او مجمع نه شي جوړولای نو ددې مياشتې د هر ساعت او هرې دقيقې قدر وکړئ چې راڅخه ضائع نه شي، دې ته بايد متوجه شو چې زه کوم نيک عمل وکړم ، زه بايد صلوة تسبيح وکړم چې په دې سره الله تعالی لس قسمه ګناهونه معافوي، هره ورځ يې بايد وکړم، که هره ورځ نه وي بايد په جُمعه کې خو يې يوځل وکړم او که نه په مياشت کې خو يې بايد وکړم او که نه په کال کې خو يې بايد يوځل کول ډېر ښه او غوره کار دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په [ مشکوة المصابیح/ ج: ۱/ باب التطوع ص: ۱۱۷ ] کې حدیث شریف دی نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت عباس رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ ته فرمايي چې: هره ورځ صلوة تسبیح کوه، که نه په هره جُمعه کې یې کوه، که په کال کې یې یوځل کوه او که دومره هم نه شي کولای نو په ټول عُمر کې یې یو ځل خامخا وکړه. همداسې د تهجد لمانځه له پاره په ټول کال کې نه شو جګېدلای، نو په روژه کې خو هسې هم د پېشمني له پاره پورته کېږو، نو له دې موقع نه باید ګټه پورته کړو، فی الحال اودس وکړو او تهجد ادا کړو، په دې میاشت کې د تلاوت موقع هم وي، باید تلاوتونه هم وکړو، ذکرونه وکړو، لطائف تازه وساتو، د نفی او اثبات په وظائفو کې کوشش وکړو. همدا موقع ده ، په دې میاشت کې چې څومره مزدوري کېږي بل وخت دا موقع بیا نه وي

نو غرض داده چې که موږ او تاسې دغه وخت ته متوجه شو، قدر یې وکړو، قیمت یې راته معلوم شي نو بیابه یې موږ ته ګټه رارسیږي، اوکه داسې نه وي نو بیا دغه میاشت خو په کفارو هم راځي، په فساقو او فجارو هم تیریږي، په بد عمله خلکو هم تیریږي، خو هغوی ته یې هېڅ فائده نشته، بلکې دالله تعالی له غضب او قهر سره مخامخ کېږي. دا دخدای تعالی میاشت ده، د جنتونو دروازې په دې میاشت کې خلاصې او د دوزخونو دروازې بندې وي، نو له دې موقع نه ګټه واخلئ، د نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دا معمول و چې د روژې میاشت به رانژدې شوه نو له مخکې نه به یې صحابهٔ کرام رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُمْ خبر کړل چې ګورئ ! د خیر او برکت میاشت

(c) ketabton.com: The Digital Library



راروانه ده، نبي کریم صلى الله عليه وسلم به په دې میاشت کې ډېر خوشاله و اودا به یې ویل چې: خدایه! د دې میاشتې ټول فضیلتونه مو نصیب کړې. نو چې نبي کریم صلى الله عليه وسلم یې احترام او قدر کاوه، صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم یې عزت کاوه نو په مونږ هم لازم ده چې د دې میاشتې هغسې احترام او قدر وکړو لکه څرنګه چې په احادیثو کې یې بیان شوی دی او وخت په غفلت او بې پروایي او په عبثیاتو کې تېر نه کړو، ځکه دا وخت ډېر قیمتي وخت دی، بیا به یې ارمان کوو خو په لاس به څه نه راځي، نو مخکې له دې چې ارمان وکړو باید خپلو اعمالو او کردار ته متوجه شو، بیا به الله تعالی هم راسره کومک کوي.

الله تعالی دې مونږ او تاسې ټولو ته په دې وعظ او نصیحت د عمل کولو توفیق رانه برخه کړي. وأقول قولي هذا أستغفرالله لي ولكم ولسائر المسلمين والحمد لله رب العلمين

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۴) مجلس

## د فقهې او تصوف په اصطلاح کې د عبادت صحت او عدم صحت

په کوم لمانځه او عبادت کې چې حضور برابر نه وي د صوفیاء کرامو په نزد هغه عبادت او لمونځ صحیح نه دی. اصلاً دلته دوه مسلکونه دي. یو د فقهاوو مسلک دی او بل د اهل تصوف.

د فقهې علماء له ظاهر څخه بحث کوي، په ظاهره چې د لمانځه شرائط، ارکان او واجبات په صحیح طریقه ادا شي، حرام، مکروهات او مفسدات چې په لمانځه کې نه وي نو فقهاء دا فتوی ورکوي چې دا لمونځ صحیح دی، معنا د صحت یې داده چې د دې لمونځ کوونکي ذمه فارغه شوه او بیا د دغه لمانځه اعاده وربانديې نشته. یو څوک روژه ونیسي، له دغو دریو اعمالو خوراک، څښاک او جماع نه ځان وساتي نو فقهه وایي چې روژه یې صحیح ده، ذمه یې فارغه ده، دوهم وار روژه نیول وربانديې نشته.

هر عمل چې د شریعت په ظاهري چوکاټ کې برابر شو نو فقهه (شریعت) د دې فتوی ورکوي چې د دې سړي عبادت صحیح دی.

خو د صوفیانو کرامو په اصطلاح کې د صحت معنا (مقبولیت) ده. لمونځ، زکات، جهاد او حج دا به هلته صحیح وي چې مقبول

وي، دا کار حضور غواړي اوله حضور سره د نیت اصلاح هم غواړي، ریا به پکې نه وي، سړي ته به خان غټ نه ښکاري، سمعت به یې مطلب نه وي، یواځې او یواځې به یې د الله تعالی رضا حاصلول مطلب وي. نو صوفیاء کرام وایي چې کله حضور برابر شو، ظاهري شرائط زائد شیان دي، نو کله چې عبادت مقبولیت پیدا کړ نو بیا دغه عبادت صحي شو، فرض او واجبات ټول شرائط دي، خو چې نیت نه وصیحح نو د فقهې په اصطلاح کې هم ویل کېږي چې لمونځ یې صحیح نه ده، ځکه چې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په نزد قبول نه ده، نو دغه سړي درجه په دې عبادت سره نه پورته کېږي.

روژه که د الله تعالی د رضا له پاره نه وه نو هغه هم صحیح نه ده، په ظاهره خو یې ذمه فارغه شوه، خو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وریاندې نژدې کېږي نه صوفیاء کرام چې دا خبره کوي هغوی ته الله تعالی باطني فراست ورکړی دی، نو دوی د عباداتو په هغه پټ راز باندې پوهېږي، چې په معنوي لحاظ په دې کې ګټه ده یا تاوان ده، په ظاهره به یو شی خوږ وي خو په باطن کې به یې بل شی وي چې هغه به د انسان له پاره تاوان وي، نو صوفیاء کرام هغو پټو معنوي نقصاناتو ته ګوري

## علم ظاهر او باطن لازم او ملزوم دي

د یوبزرګ په واقعه کې راځي چې: لمونځ یې وکړ، نو چې خپل لمانځه ته متوجه شو نو دا خپل لمونځ ورته ډېر ښانسته ښکاره شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



[هر عبادت، جومات، کعبه شریفه، انبیاء عَلَیْهِمُ السَّلَامُ خپل حقیقت لري] نو لمونځ یې ډېر ښائسته و، خو د لمانځه سترګې یې ړندې دي. دا بزرګ حیران شو چې لمونځ خو مې ډېر ښه په حضور ادا کړ، فرائض او واجبات یې هم ټول برابر و نو دا لمونځ مې ولې ړوند ده ؟ نو خپل مُرشد ته ورغی او ورته وې ویل چې: ما خو ډېر ښه لمونځ وکړ نو چې ورته متوجه شوم [ دې ته کشف الحقائق وایي ] نو خپل لمونځ مې ړوند ولیده. نو مرشد یې ورته وویل: چې کېدای شي تا به په لمانځه کې سترګې پټې نیولې وې. ده ورته وویل چې: سترګې خو مې ددې له پاره پټې نیولې وې چې حضور مې ښه برابر شي، نو مرشد یې ورته وویل چې: له علم ظاهر څخه دې مخالفت کړی دی، نو د علم ظاهر فیصله او حکم خو داده چې په لمانځه کې د سترګو پټول مکروه دي.

اوس نو ددې نه دا معلومېږي چې د صوفیاء کرامو داحقیقت چې مخ په وړاندې خي نو د شریعت ظاهري لحاظ به پکې وي، هغه به په ځای وي، نو که د شریعت لحاظ څوک ونه کړي، فرائض، واجبات او سُنن په ځای نه کړي که لمونځ ده ، که روژه ده او که بل هر عمل ده نو د صوفیاء کرامو په نزد هم صحیح نه ده، داسې نه ده چې ظاهري که هرڅه ګډوډ وي خو چې نیت صحیح وي نو کار به جوړ وي.

د ایمان او احسان د مبارک حدیث په تشریح کې چې دې حدیث ته حدیث جبریل هم وېلی شي ،حضرت شاه انورشاه کشمیري رحمة الله علیه لیکي چې: د احسان مطلب داده چې علم ظاهر او باطن یو

(c) ketabton.com: The Digital Library



د بل له پاره لازم شي، داسې ربط پيدا شي چې د ظاهري اندامونو نښانه په زړه کې موجوده شي اود زړه نښانه په اندامونو کې جوته (ښکاره) شي. ظاهره صورت په شريعت داسې برابر کړي چې د هغه له وجې په زړه کې اثر پيدا شي او په زړه کې دومره حضور برابر کړي چې په ظاهره بدن يې اثرات ښکاره شي، په انسان کې تواضع او عاجزي پيدا شي، د خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ د ويرې علامې پيدا شي نو علم ظاهر او باطن يو له بل سره تړلي دي، څوک وايي چې دا خاتمه صحيح ده، څوک بل طرف ته صحيح ګڼي. خو صحت هلته پيدا کېږي چې دواړه کامل شي

له دې امله حضرت امام مالک رَحِمَهُ اللهُ وايي چې: که څوک په ظاهره شريعت خان برابروي او دمعنويت څه لحاظ نه ساتي نو دا شخص فاسق ده او که د باطن لحاظ ساتي اود ظاهر څخه بې پروا وي نو په دې سره کله انسان زنديقيت ته ورسيږي او چې کله يې دواړه سره يوځاى کړل نو دا شخص به بيا حقيقت ته رسيږي

دده مبارک دا مقوله ده چې وايي

﴿ مَنْ تفقَّهَ ولم يتصوف فقد تفسق .ومن تصوف ولم يتفقه فقد تزندق ومن جمع بينهما فقد تحقَّق ﴾ [ حقايق عن التصوف /ص ۴۵۶ بحواله حاشية العلامة على العدوي على شرح الامام الزرقاني على متن العزية في الفقه المالكي ج: ۳ /ص ۱۹۵ . وشرح عين العلم وزين الحلم للامام ملاعلى القاري ج: ۱/ ص: ۳۳]

يعنې څوک که يواځې ظاهري علم کوي او تصوف نه کوي ا څکه چې دعلم تصوف په ذريعه سره اصلاح د نيت راځي د احسان

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اخلاص پیدا کولو معنا ده! نو بیا دا شخص فاسق ده. او څوک چې یواځې صوفیتوب کوي اود ظاهره شریعت لحاظ ورسره نه وي دا کار کله کله سړی کفر ته ورنژدې کوي. د ظاهري شریعت معلومات ورته نه وي، په حلالو د حرامو اوبه حرامو د حلالو فتوی ورکوي. او څوک چې دواړه (علم ظاهر او باطن) سره یوځای کړي نودا شخص به حقیقت ته رسیږي.

## کوم لمونځ صحیح ده؟

اوس نود علم ظاهر او علم باطن په اصطلاح کې هغه لمونځ صحیح کیږي چې ظاهري شرائط، فرائض، واجبات، سنن او مستحبات یې په ځای او له حرامو، مکروهاتو او مفسداتو څخه خالي او نیت یې پکې برابر وي. نو اوس چې ظاهر هم برابر شو او زړه هم په نیت سره برابر شو نو اوس د دواړو ډلو په اصطلاحاتو سره دغه لمانځه ته صحیح ویل کیږي.

همداسې روژه که ظاهري اندامونه کنترول شي، له خوراک، څښاک او نورو نواهیو څخه ځان وساتل شي او نیت هم ورسره برابر وي نود شریعت او تصوف په دواړو اصطلاحاتو کې دا روژه صحیح ده. یعنې هم د انسان ذمه فارغه شوه اوهم یې درجه ورباندې لوړیږي.

یو مسلمان دخپل مال حساب وکړي اود هغه مال زکات په شرعي طریقه ادا کړي، معنا داچې خپلو مستحقو کسانو ته یې ورکړي، مثلاً هغه غریب، مسلمان، ته یې ورکړي، خپل پلار،

(c) ketabton.com: The Digital Library



زوی، لمسي او همدارنګه مالداره ته يې ورنه کړي او له دې سره سره يې نيت هم صحي وي هغه داسې چې مطلب يې د الله تعالی رضا وي، دا وايي چې دا په ماباندې د الله تعالی له طرفه يو حق ده، نو دفقهې په اصطلاح هم دا زکات صحيح کېږي، ذمه يې فارغه ده اود اهل تصوف په اصطلاح هم صحيح ده، ځکه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې قبلوي او درجې يې ورته لوړوي.

نو غرض داچې ځوک دې دا تفرقه نه محسوسوي چې علم ظاهر يا علم شريعت خان ته شی ده اوتصوف يعني علم باطن خان ته شی ده بلکې دواړه سره لازم او ملزوم دي.

حضرت شيخ عبدالحق محدث دهلوي رَحِمَهُ الله فرمايي چې: علم ظاهر او باطن د پوست او مغز حيثيت لري.

د بدن ظاهره څرمن ده، په منځ کې يې هډوکي دي ماغزه دي، نو دا شريعت هلته کامل کېږي چې ظاهره څرمن يې هم صحيح وه او باطن او مغز يې هم صحيح وي نو په دغه انسان بيا د ډاکټرانو له خوا د روغ جوړ حکم کېږي، کله د انسان ظاهره شکل او څرمن روغ وي خو په زړه يا دماغو کې تکليف لري، لکه لېونيان چې په ظاهره ښه رګ روغ وي،ښه ښکلي رنګونه لري، خو څرنګه چې په ده کې معنوي او پټ نقصان ده، ځکه ورته مريض ويل کېږي، که همداسې ظاهره څرمن خرابه شي که زړه يې روغ وي خو بيا هم ډاکټران يې روغ نه بولي. نو دشريعت او طريقت معنا د پوست او مغز ده، ظاهر برابرول او نيت برابرول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بالفاظ دیگر د ټول تصوف او طریقت خلاصه داده چې انسان باید په ځان اوپه خپل هر عمل کې اخلاص پیدا کړي، بې له اخلاصه عمل خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه قبلوي، ﴿ وَمَآ أُمِرُوٓاْ إِلَّا لِيَعۡبُدُواْ ٱللَّهَ مُخۡلِصِينَ لَهُ ٱلدِّينَ ﴾ [ سورة البینه آیت ۵ ]

ژباړه :حال داچې امر حکم نه و ورکړی شوی دوی ته په تورات او انجیل کې مگر ورکړی شوی ؤ چې عبادت کوي دوی دالله تعالی په داسې حال کې چې خالص کوونکي وي الله لره دین له شرکه او نفاقه په داسې حال کې چې را گرځیدونکي وي له باطله حق ته (په لاره دابراهیم پس څرنگه کافر کیږي په محمد باندې ؟) .

یعنې خلکو ته امر نه دی شوی مگر په دې چې د خدای پاک عبادت به کوي په داسې حال کې چې اخلاص به پکې وي. که اخلاص نه وي نو کوم قدر او قیمت یې نشته او بیا گټه هم نشي ورته رسولی .

## د ریاکارانو انجام او پایله

﴿ عن ابي هريرة رضى الله عنه قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اِنَّ اَوّل النَّاسِ يقضى عَلَيْهِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ رَجُلٌ اُسْتُشْهِدَ فاتى به فعرّفه نعمته فعرفها قال فما عملتَ فيها قال قاتلتُ فيک حتى استشهدتُ قال كذبتَ ولكنك قاتلتَ لان يقال جرئى فقد قيل ثُمَّ اُمر به فسحب على وجهه حتى

(c) ketabton.com: The Digital Library



القی فی النار ورجل تعلم العلم وعلمه وقرأ القرآن فاتی به فعرّفه نعمه فعرّفها قال فما عملت فیها قال تعلمتُ العلم وعلمته وقرأتُ فیک القرآن قال کذبتَ ولکنک تعلمت العلم لیقال انک عالم وقرأت القرآن لیقال هو قارئٌ فقد قیل ثم اُمر به فسحب علی وجهه حتی القی فی النار ، ورجل وسع الله علیه واعطاه من اصناف المال کله فاتی به فعرّفه نعمه فعرّفها قال فما عملت فیها قال ما ترکتُ من سبیل تحب ان ینفق فیها الا انفقتُ فیها لک قال کذبتَ ولکنک فعلتَ لیقالُ هو جوادٌ فقد قیل ثُمَّ اُمر به فسحب به علی وجهه ثُمَّ اُلقی فی النَّارِ ﴾ [ صحیح المسلم و مشکوة المصابیح / ج: ۱ کتاب العلم ص: ۳۳ ]

ژباړه: له حضرت ابو هریره رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي چې: د دوزخ اور په دریو طبقو باندې بلیږي:

«**اول**: ریاکار شهید. **دوهم**: ریا کار عالم **دریم**: ریا کار سخي»

شهید به الله تعالی راوغواړي او ورته به وایي چې په تا مې په دنیا کې څومره نعمتونه لورولي و؟ تا دهغو نعمتونو څه شکرانه ادا کړه؟ دی به ورته په خواب کې وایي چې: زه ستا د دین د ساتنې له پاره وجنګېدم تردې پورې چې خپل شیرین ځان مې هم قربان کړ. خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ورته وایي چې: «كَذَبْتَ» دروغ دې وویل. ته ددې له پاره جنګېدلې چې خلک دې باتور وګڼي چې فلانکی څومره تکړه او ښه مجاهد ده، څه ښه جنګ جګړه کوي، په جنګ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې دې زما رضا نه بلکې خپل عزت او نوم دې مقصد و، هغه تاته په دنیا کې ویل شوي دي. نو الله تعالی به ملائکو ته وایي چې: دوزخ ته یې کش کړئ!

دوهم هغه عالم چې ځان ښوونې او ریاکارۍ اویاد نورو دنیوي مقاصدو له پاره یې علم حاصل کړی وي اود الله تعالی رضا یې شاته غورځولې وي. د قیامت په هغه لویه ورځ به دالله تعالی په حضور کې دی هم حاضر کړل شي. او ورته وبه ویل شي چې: په تا خو مې هم ډېر احسانات کړي وو، تا یې څه شکرانه ادا کړې ؟ دغه دنیا پرسته او ریاکار عالم به د الله تعالی په ځواب کې وایي چې: ما ستا دین زده کړی و او خپل ټول ژوند مې ددې دین د خدمت له پاره وقف کړی و، خلکو ته مې ستا دغه دین ورساوه. الله تعالی به ورته په ځواب کې وایي چې: ( كَذَبْتَ ) دروغ دې وویل. تا دین ددې له پاره زده کولو او یادې چې بل چاته ښودلو نو نیت دې داؤ یکې چې خلک مې ښه عالم وبولي او عزت مې وکړي، خلک شکرانې راکړي، پیسې راکړي، تا غوښتل چې په دې علم سره خلک د ځان تابع کړې. ستا هغه ټول مقاصد په دنیا کې حاصل شوي دي، تاته په دنیا کې خلکو ښه عالم ویلی. دلته دې له ماسره کومه بدله نه ده پاتې. ملائکو ته به وویل شي چې دی هم دوزخ ته داخل کړئ!

دریم به هغه سخي راوغوښتل شي چې شپه ورځ به یې صدقې او خیراتونه زکاتونه ورکول، له طالبانو، مجاهدینو او نورو مجبوره کسانو سره به یې مرستې کولې. نو الله تعالی به پوښتنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورنه وکړي چې: تاته خو مې ډېره دنیا، جایداد او مال دولت درکړی و، تازما ددغو نعمتونو په مقابل کې څه شکرانه ادا کړه؟ دی به د الله تعالی ددې پوښتنې په ځواب کې وایي چې: ستا د دین په هره شعبه کې ما خپل مال مصرف کړی، یواځې ستا د رضا له پاره مې ستا له مسکینانو بندګانو سره کومکونه کول. الله تعالی به ورته وایي: (کذبت) دروغ دې وویل. خیراتونه دې ددې له پاره کول چې خلک دې مهمان نوازه وبولي، او خلک ووایي چې څه ښه سړی دی د خلکو خدمتونه کوي، له خلکو سره کومکونه کوي، نو تاته دا هرڅه په دنیا کې ویل شوي. ملائکو ته به امر وشي چې دوزخ ته یې پرمخې ور واچوی!

اوس نو که مونږ له خانه سره فکر وکړو چې بهترینې لارې همدا درې دي چې سړی یا ښه عالم وي، یا مجاهد وي او یاهم ښه سخي وي، خو چې په دې هر یوه کې اخلاص نه وي، خدای پرستي نه وي، باطن برابر نه وي، نو هېڅ فایده پکې نشته. نو ترټولو مُهم او ضروري شی د ځان اصلاح ده، د باطن برابرول دي، هرڅومره چې اعمال وګورې خبره یې بېرته نیت ته راګرځي. ﴿إِنَّمَا الأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ، ...﴾ [صحيح البخاري ج ۱ /بَابُ كَيْفَ كَانَ بَدْءُ الْوَحْيِ إِلَى رَسُولِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ ص ۲۰۶] یعنې د ټولو اعمالو دارومدار په نیت سره ده. که نیت اصلاح وي نو عمل به هم مقبول وي. که ظاهري څه نقصانات وي بیایې هم برداشت کېدلای شي خو که باطني خُبث او نقصانات پکې وي بیا هغه عمل کوم اعتبار نه لري، اونه هم دخلاصون ذریعه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګرځېدلای شي. ځکه که لږ ریا هم پکې پیدا شي نو شرک ګڼل کېږي او بیا به یې خدای پاک نه قبلوي او الله تعالی به ورته په خوب کې وایي چې: د چا له پاره چې دې دا عمل کړی ؤ نو ورشه له هغه څخه یې ثواب او اجر غواړه او له ماسره یې ثواب نشته.

## په جمعه دیوه لمانځه نه کولو باندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له رضا بې برخې کیدل

حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ په حضرت حبیب عجمي (قدس سره) پسې د ماښام لمونځ کوي، کله چې حبیب عجمي رَحِمَهُ اللهُ قرائت شروع کړ نو دی خو عجمي و د تلاوت حروف یې سم نه شو ادا کولای. نو د (الحمد) په ځای یې (الهمد) وویل. حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ جید عالم اود حبیب عجمي استاد و، نو حسن بصري صاحب سلام وګرځاوه او ځان ته یې په لمانځه شروع وکړه. حضرت حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ د شپې الله تعالی په خوب کې وینې او له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه پوښتنه کوي چې ای خدایه! ته په کوم عمل ډېر خوشحالیږي؟ چې زه هغه عمل وکړم او ته راڅخه راضي شي. نو الله تعالی په خواب کې ورته وویل چې: زما رضا خو تاته د ماښام په لمانځه کې په لاس درغلې وه خو تا پرېښودله. یعنې که په حبیب عجمي پسې دې لمونځ کړی وای نو زه راضي وم. دی په خواب کې ورته وایي چې: خدایه! هغه خو عجمي ده، حروف یې صحي نه شو ادا کولای، نو ځکه مې لمونځ پسې ونه کړ. الله تعالی

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته وویل چې: که عجمي هم ده خو حبیب ده. زما د دوستانو له جملې څخه ده. نو چې سړی حبیب شي، دوست شي نو ډېر کم شی یې هم قبلیږي. [تذکرة الاولیاء پښتو/مخ: ۴۶]

نو مطلب دا چې اصلي کار نیت جوړوي. نو چې یو څوک د چا دوست شي نو هغه دوست بیا ورته له ډېرو نقصاناتو تیریږي. او که یو وار خدای مه کړه دښمني جوړه شوه نو بیا کم، کم شي ته هم ګوري چې دا دې ولې کړي دي.

د یوچا خپل اولاد وي مور او پلار ورته له ډېرو نافرمانیو څخه ورتیریږي، ځکه چې دوست یې ده. دا خپل اولاد ورته ګران وي، تردې پورې چې یوه سړي جرم کړی وي نو د وخت بادشاه ته د هغه یو خاص دوست وسیله ګرځوي اود سفارش له پاره یې ورته بیایي چې له ما جُرم شوی دی ته راسره ولاړ شه نو بادشاه یا والي یا ولسوال هغه مُجرم ددغه دوست په وجه معاف کړي چې فلانکی ورسره راغلی ده که نه نو مابه ده ته جزاء ورکړې وه، نو چې یو څوک یو وار د خدای تعالی حبیب شي، دده جَلَّ جَلَالُهُ له دوستانو څخه حساب شي نودده له وجې نور هم معاف کوي.

نود طریقت مقصد په هر عمل کې اخلاص پیدا کول دي، یو څوک که دخدای تعالی دوست کېږي نو دا کار په اخلاص سره لاس ته راځي، که اخلاص نه وي، نیت صفا نه وي نو یواځې په اعمالو سره یو څوک د خدای تعالی دوستي نه شي ترلاسه کولای. بیابه محاسبه ورسره کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محبوبينو له جُملې څخه دی

نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د محبوبينو له جُملې څخه ده، دده په برکت هغه آفتونه او مصيبتونه او عذابونه چې په مخکنيو قومونو په اجتماعي شکل راتلل هغه آفات او مصيبتونه اوس نشته. ځکه قرآن کريم په دې ګواه دی چې په پخوانيو قومونو کې به سرکشي زياته شوه، د وخت د پيغمبر سره به يې مقابله شروع کړه نو الله تعالى به عام مصيبت او عذاب وريانديې راوست او په اجتماعي طور سره به يې هلاک کړل.

خو د نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ امتيان، که هغه د اجابت امتي وي او که د دعوت امتي وي، حتى د کفارو له پاره هم رحمت ده، هغوی هم نه تباه کېږي. مسلمانان چې فاسقان وي هغه هم دخپلو بدبختيو او ګناهونو په سبب په اجتماعي طور نه هلاکېږي. تاسې ته به معلومه وي چې هلاک اوله نيستي سره به مخ شول په مخکينيو قومونو کې به ديوې ګناه له وجې بې شميره قومونه په ځمکه به يې ننه اېستل. اود نبي کريم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په امت کې هغه ګناهونه په مسلمانانو کې ټولې موجودې دي خو بيا يې هم الله تعالى نه تباه کوي. ولې ؟ ځکه چې دا د حبيب اُمت ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نبي کريم ﷺ قاصد خداى جل جلاله ته تر بل هر واره پر ورنږدې شو

يوځل په کومه مسئله له رسول الله ﷺ څخه يو صحابي رضي الله عنه پوښتنه وکړه هغه له جبرئيل عليه السلام څخه پوښتنه وکړه، هغه ورته ووېل چې ماته هم په دې هکله څه معلومات نشته، زه به يې له الله تعالى څخه پوښتنه وکړم، نو کله چې د الله تعالى له حضور څخه بېرته راغى نو نبي کريم ﷺ ته وايي چې: زه الله تعالى ته دومره زيات ورنږدې شوم چې بل هېڅ وخت دومره زيات نه وم ورنږدې شوى. دا ځکه خداى پاک جل جلاله خان ته نږدې کړ چې دى يې د خپل حبيب قاصد و. نو څوک چې يو ځل حبيب شو نو له ده سره بيا دده خپلوان هم خلاص دي.

په [سورة الطور آيت: ۲۱] کې راځي: که يو څوک د خداى پاک جل جلاله له دوستانو څخه وي او اولاد يې هغه رتبه نه لري، خو بيا هم الله تعالى يې له هغې رتبې سره يوځاى کوي.

خداى پاک جل جلاله خپل دوست نه خفه کوي او دوستي په هغه ځاى کې معلومېږي چې په يو چا سختي او تنګي راشي. پښتانه هم وايي چې دوست سړي ته په تنګي کې په ښه ورځي، داچې ژوند آرام وي، تکاليف، عبادات او احکام نه وي بيا خو هرڅوک وايي چې زه هم مسلمان يم په عباداتو کې به سړى تکليفونه تېروي، په آفاتو او بلياتو به صبر کوي، تر څو ستا هغه صداقت او ريښتنولي وتلل شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي چې ته په ډې خپله خبره کې خومره رښتوني یې نو چې رښتینولي دې ثابته شوه نو بیاستا په برکت سره د نورو خلکو کار هم جوړیږي. نو الله تعالی دې په مونږ او تاسو کې واقعي اخلاص پیدا کړي.

د انسان د اصلاح بهترینه طریقه (طریقهٔ محمدیه) ده. چې دا کتاب د، چې په هغه کې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اخلاق او عادات اودانسان باطني امراض اودهغه د علاج لار مکمل بیان شوې ده. که مونږ او تاسې سوچ وکړو چې انسان ماته څه راکولای شي که یو څوک مې مولوي صاحب، خلیفه صاحب، حاجي صاحب وبولي، که دی راته ښپلی برابرې کړي، نو دا کار په آخرت کې ماته څه ګټه رارسولای شي؟ له کوم عذاب څخه مې خلاصولای شي نو په دې سوچ سره چې ترڅو په خپله په ځان کې اخلاص پیدا نه کړم اود خدای تعالی رضا په خپله حاصله نه کړم نو ددې خلکو په آخرت کې هیڅ ګټه نه رارسیږي نو په خپله به په انسان کې اصلاح راشي او د الله تعالی طرف ته به متوجه شي

که تاسې د صوفیاء کرامو او نورو اولیاء الله وو واقعات وګورئ نو له هغوی نه کې دا معلومیږي چې انسان هغه وخت کمال ته رسیږي چې که دده عیبونه بیانوي اویا دده صفت کوي دا دواړه په ده باندې یو شان وي، که څوک یې صفت کوي او که غیبت یې کوي ده ته کوم فرق نه ورکوي. ځکه دا د دین کار خو څوک د کوم بل چا له پاره نه کوي بلکې د الله تعالی د رضا اود خپل ځان د ګټې له پاره یې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



له وفات نه وروسته رابعه بصریه رَحِمَهَااللّٰهُ چا په خوب ولیده، ...
ورنه وې پوښتل چې (مُنکَر او نَکِیر) ملائکو څرنګه معامله درسره
وکړه؟ دې په خواب کې ورته وویل: هرکله چې (مُنکَر او نَکِیر) ...
مانه پوښتنه وکړه چې: (من ربک) رب دې څوک ده؟ نو ما ورته
وویل چې بیرته واپس لاړ شئ او الله تعالی ته عرض وکړئ، هرکله
چې درابعې په دنیا کې له تا نه سوا بل چا سره تعلق نه ؤ، نو بیا
دملائکو په ذریعه دخواب غوښتلو ته څه ضرورت دی.

[تذکرة الاولیاء پښتو/ ص ۵۴]

نو لنډه داچې انسان هغه وخت لوړو مقاماتو ته رسیږي چې د
خلکو صفت او غیبت په ده هیڅ اثر ونه کړي، ځان هیڅ وګڼي، عدم
یې وګڼي. حتی حضرت مجدد صاحب رَحِمَهُاللّٰهُ فرمایي چې: ځان له
کافر څخه بهتر ګڼل هم دکمال نښه نه ده، نو کله چې په عُجز قائله
شوې نو بیا په ترقي فی المقامات راځي، لکه یوشاعرچې وایي:

افتادگی آموز اگر طالب فیضی
هرگز نخورد آب زمینی که بلند است

ترجمه: که فیض، خیر او برکت غواړې نو عاجزي کوه، ځکه
کومه ځمکه چې په نوره ځمکه باندې پورته او لوړه وي هغې ته
هېڅکله اوبه نه ورځي. نو که ته هم غرور او تکبر کوې نو تا ته به هم
هېڅکله فیض در ونه رسیږي. نو که د الله تعالی قُرب او رضا
غواړې نو له عُجز او انکسار څخه کار واخلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۵) مجلس

## د صالحانو او د ذکر بيان

﴿وَلَقَدْ ءَاتَيْنَا دَاوُۥدَ مِنَّا فَضْلًا ۖ يَٰجِبَالُ أَوِّبِى مَعَهُۥ وَٱلطَّيْرَ﴾

[سورة سبا آيت: ۱۰]

ژباړه: او خامخا په تحقيق ورکړې ؤ موږ داؤد ته له جانبه خپله فضل (لوئي پر نورو، ومو فرمايل غرونو ته چې) اى غرونو را وګرځوئ (بنه) غړونه خپل له ده سره (په وخت د تسبيح کې او له ده سره تسبيح ويل) مرغانو هم.

حضرت داؤد عليه السلام د الله تعالى يو برګزيده او نازولى پيغمبر و، نو ده له الله تعالى څخه دا غوښتنه وکړه چې که په يوځاى کې ستا د ذکر مجلس وي او زه له هغې څخه په غفلت کې تېرېږم نو خدايه زما پښې ماتې کړې، په دې وخت کې دا د پښو ماتېدل زما له پاره يو لوى نعمت دى. (احياء علوم الدين كتاب الاذكار والدعوات ج: ۱/ ص: ۳۵۲ مكتبه، مدينه پبلشرز) څکه د غفلت په حالت کې زه تباه کېږم، ايمان او عقيده مې خرابيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



﴿ عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: ( إِذَا مَرَرْتُمْ بِرِيَاضِ الْجَنَّةِ فَارْتَعُوا ) قَالُوا: وَمَا رِيَاضُ الْجَنَّةِ؟ قَالَ: (حِلَقُ الذِّكْرِ) ﴾
[ترمذی. رقم الحدیث (۳۵۱۰). وهکذا مشکوة المصابیح /ج: ۱/ باب ذکرالله عزوجل والتقرب الیه ص: ۱۹۸]

ژباړه: له حضرت انس بن مالک رضي الله عنه نه روایت دی وایي: نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي: چې کله تاسې د جنت په باغیچو تېرېږئ نو ښکې څرېږئ! صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم ورڅخه پوښتنه وکړه چې: د جنت باغیچې څه شی دي؟ ده صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې: د ذِکر حلقې دي یا د حدیث مبارک الفاظ داسې دي چې: کله په باغیچو د جنت تېرېږئ نو چې څومره زيات ښکې څرېدلی شئ وڅرېږئ! نو دغه د ذِکر مجالس دا د جنت باغونه دي. هغه برکات او خوشحالي چې په جنت کې پیدا کېږي ددې ذکر دمجلس له وجې پیداکېږي، نو دلته چې په دې مجالسو کې څومره زیات وخت مصرف کړل شي هلته به یې په جنت کې مقام او مرتبه هم دومره اوچته وي نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمايي چې: ﴿ المجلس الصالح يكفر عن المؤمن ألفى مجلس من مجالس السوء. ﴾ كه یوڅوک دوه زره مجلسونه بې باكه وكړي اود ذِكر په يوه مجلس كې شريك شي نودغه يو مجلس بې ددې ټولو بېهوده مجلسونو كفاره كرځي. [احیاء علوم الدین کتاب الاذکار والدعوات /ج: ۱/ص: ۳۵۲ مکتبه، مدینه پبلشرز]

حضرت ثابت بناني قدس سره وايي: كله چې الله تعالی ما يادوي، نو زه پوهېږم. خلک حيران شول چې دا څه وايي؟ نو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښوونه يې ورښخه وکړه چې ته خو پيغمبر نه يې چې تاته وحيې وشي او ته ورباندې پوه شي چې اوس تا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يادوي، دی په خوب کې ورته وايي چې: زه کله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يادوم نو زه پوه شم چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ما يادوي، ځکه الله تعالی وعده کړې ده چې: ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ وَاشْكُرُوا لِي ﴾ [سورة البقره آيت ۱۵۲]

يعنې تاسې ما يادوئ زه به تاسې يادوم. [احياء علوم الدين كتاب الاذكار والدعوات /ج: ۱/ ص: ۳۵۰ الباب الاول فی فضيلة الذكر وفايدته/ مكتبه ، مدينه پبلشرز] نو د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په وعدو کې خو دروغ نشته. مونږ الله تعالی په ژبه، زړه او نورو اندامونو يادوو او الله تعالی چې مونږ يادوي نو په رحمت سره مو يادوي، د الله تعالی خصوصي رحمت هغه ځای ته متوجه کېږي. حتی د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارک حديث کې راغي چې: د ذاکرينو په مجلس کې ټولو ته په آخر کې د مغفرت اعلان کېږي، چې تاسې څومره سوالونه او غوښتنې کړې دي هغه ټولي قبولي دي، که مو د جهنم له اوره پناه غوښتې وې هم له هغې څخه خلاص ياست.

[مشكوة المصابيح/ج ۱/ باب ذكرالله عزوجل والتقرب اليه ص: ۱۹۷]

## تنبيه:

ذکر بايد يوازې په دې کې منحصر نه کړی شي چې يوازې (سبحان الله) يا (الله ، الله) ويل ذکر ده، بلکې درس او تدريس، د قرآن کريم ترجمه او تفسير دا ټول په ذکر کې شامل دي، ځکه دلته هم د الله تعالی صفات بيانيږي، دهغه جَلَّ جَلَالُهُ د کلام تشريح کېږي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځومره چې د هر وخت پکې تیریږي همدومره د هر رحمت به دغه ځای ته متوجه وي. همدارنګه په مدارسو کې وخت تېرول، سبقونه ویل، مطالعه او تکرار کول، له استاد څخه کتاب اوریدل دا ټول د ذکر مجلسونه دي خو په دې شرط چې که مونږ ته یې قیمت معلوم شي

یو سالک وایي:

یک ساعت صحبتی با اولیاء بهتر از صد سال طاعت بی ریا

له اولیاوو الله سره لږ څه وخت تېرول دا له سل کلن بې ریا طاعت څخه بهتر دی، خو حضرت مولانا اشرف علي تهانوي رحمه الله ورسره یو شرط ایښی دی او هغه داچې په دې مبارکانو باندې د جذب یو حالت راځي، یا یو حال د توجه الی الله موجود شي نو په هغه ساعت کې که ته هم ورسره شریک شوې نو ستا د سلو کلونو له عبادت نه هغه یو ساعت بهتر ده. نو له دې وجې باید مونږ اوتاسې دهغوی په مجلسونو کې شرکت وکړو، دهغوی په مجلسونو کې په ادب سره حاضرشو، دهغوی خدمت په ځان لازم وګڼو، هغوی ته په ښه عقیده نظر وکړو، دهغوی عظمت په زړه کې وساتو، کېدای شي چې الله تعالی مو له هغه یو ساعت سره کله ناکله مخامخ کړي، نو د دنیا او آخرت کارونه به مو په داسې طریقه برابر او جوړ شي چې مونږ به یې سوچ هم نه وي کړی.

مونږ چې د خپلو بزرګانو د ذکر په مجلسونو کې وخت تېر کړي نو په هر مجلس کې پوره پوره اثر نه وي، دومره فی نفسه اثر خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



خامخا وي، خو که کله مو پام کړی وي په ځینو ختمونو کې د یو چا ژړا ښځې نه دریږي او کله بیا په ځینو ختمونو کې هیڅ هم نه وي، ددې هرڅه خپل وخت او حالت وي، کله کله د یو شوم او بدبخت د شرکت له وجې په هغه ټول مجلس د الله تعالی رحمت بند وي، ځکه هغه له اولیاء الله وو سره قلباً تعلق نه لري، نو ځکه په هغه مجلس کې اثر نه وي او فیض ټول بند شي چې بیا اثرات او انوارهم له منځه ولاړشي.

## د یو شُوم ( بد بخته ) له لاسه د رُوم ټول ښار وسوزېده

په کتابونو کې لیکي از دست یک شوم سوخت تمام شهر روم، د یوه شوم او بدبخت له وجې د روم ټول ښار وسوځېده، کله د ځینو بدبختو له وجې په ټولو خلکو عام عذاب راشي اود وچو له تپه لامده هم وسوځي. ځکه قرآن کریم په دې خبره شاهد دی. او وایي چې له دې وډار شئ چې که بیا د خدای عذاب راغی نو هغه به یوازې ظالمان نه هلاکوي بلکې ټول به رانیسي.

په یوه علاقه کې به ښه متقي او خدای پرسته عالم او ښه سړی وي، خو په دې محله او علاقه کې به داسې ګناهونه کېږي چې دهغو له وجې به الله تعالی بارانونه بندوي، ټول به دعاګانې کوي او هیڅ به نه قبلیږي، نو کله داسې د قبض حالات مشائخو ته هم پیدا کېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لنډه داچې په اکثرو مجالسو کې یو څوک شرکت کوي نو کېدای شي کله په داسې یو مجلس ور برابر شي چې یوساعت به یې د سلو کلونو له بې ریاعبادت څخه زیات اجر لري او زیاتې خوشحالیانې به یې په برخه شي (جذبة من جذبات الحق یوازی عمل الثقلین) د حق له جذبو نه یوه جذبه د ټولو انسانانو اوپېریانو له عبادت او اعمالو سره برابره ده. نو که په داسې حالت کې یوڅوک دغسې یو ځای ته برابر شي نو په یوه مجلس کې به یې کار جوړ شي. کله کله داسې هم پېښېږي چې په یوه مجلس کې دیوه سړي د ډېرو وظیفو کار خلاص شي، کله په یوه ختم کې داسې پېښېږي چې ځومره شریکان ناست وي د یوې یوې لطیفې کار د ټولو خلاص شي، کله په یوه مجلس کې د شیخ او مرشد په یوه توجه سره د ولایت ټول مقامات پوره شي، نو حالات له حالاتو سره فرق لري.

ددې له پاره مفسرین کرام وجه دا بیانوي چې: لمر په څلورم آسمان کې ده، دغه لمر ځمکې ته رارسیږي، د باندې خلک هم ورته ګرځي، رڼا یې ټولو موجوداتو ته رسیږي، خو کله چې دغه لمرته یوه شیشه مخامخ شي اوبیا دا شیشه مالوچو (پنبه) ته برابره شي، د شیشې وړانګه پرې ولوېږي نو هغه مالوچ اور اخلي، سره له دې چې لمر په خپله په مالوچو لګیږي خو د لمر د رڼا له وجې اور نه اخلي، خو کله چې د شیشې هغه وړانګه چې له لمر څخه یې اخیستې ده هغه ورته برابره شي نو بیا دا پونبه اور اخلي.

[تفسیر مظهري /ج: ۴/ ص: ۳۴۸ سورة یونس آیت ۶۳]

نو د الله تعالی رحمت هم عام ده، خو هر سړی د خپل استعداد موافق برداشت لري. کله کله یو څوک د یو ولي شیشي ته برابر شي (څکه دوی ته د محبوبیت صرفه مقام حاصل ده) نو چې هغه تجلیات ذاتي د الله تعالی راشي او په هغه حالت کې ته هم ورته مخامخ شوې نو ټول کارونه به دې په یوه وار سره خلاص شي. دا خبره د تفسیر ده. د قیل او قال خبره نه ده. او عقل یې هم مني. لمر شته خو مالوچ اور نه اخلي، خو چې شیشه ورته مخامخ شوه او د شعاعو انعکاس وشي نو دلته مناسبت پیدا شي، قرب موجود شي، نو دهغه قُرب له وجې نه تاثیر هم زیات شو. د الله تعالی او بندګانو ترمنځ مراحل دي، مونږ کمزوري یو، الله تعالی انسانانو ته پیغمبران راولېږل نو کفارو به اعتراض کاوه چې مونږ ته ملائکې ولې نه راځي، الله تعالی ورته وویل چې: تاسې دملائکو ملکوتي صفات نه شئ برداشت کولای، ستاسې اود ملائکو ترمنځ مناسبت نشته. تاسې سره یواځې دخپلو همجنسو (انسانانو) مناسبت ده نو څکه پیغمبر هم درته ستاسې له ډلې انسان درلېږو. ترڅو تاسې یې برداشت وکړای شئ!

صحابهٔ کرام رضي الله عنهم د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره دملاقات په وخت کې نه بې هوښه کېدل، خو که په شاته طبقاتو کې یوچاته د نبي کریم صلی الله علیه وسلم رابطه پیدا شي نو بیایې برداشت نه شي کولای. همدارنګه د لویو لویو اولیاوو الله وو سره خلکو کلونه کلونه تېر کړي دي خو هغوی به له خپل حال څخه نه وتل، خو که نن

(c) ketabton.com: The Digital Library



یو چاته په ختم کې دیو شیخ رابطه برابره شي نو بیا له حال څخه وځي، له خولې یې چیغې وځي او برداشت یې نه شي کولای.

نو دلته مناسبت موجود ده. فیض زیاتیږي، هغه هم انسان ده، دی هم انسان دی، د انسانیت له وجې اکتساب کولای شي، له دې وجې چې زیات فیض ورته انتقالیږي نو ځکه یې اثر هم ډیر وي.

قرآن کریم د الله تعالی کلام دی، ټولې دنیا ته یو شان راغلی، پیغمبر عَلَیْهِ السَّلَامُ ټولې دنیا ته مبعوث دی، خو په خلکو کې فرق دی، په استعدادونو کې فرق دی. مثلاً یو استاد په سلګونو شاګردانو ته سبق وایي، په دغو ټولو طالبانو کې د دوه کسانو استعداد هم سره برابر نه وي، یو ملګری ټول سبق زده کړي، بل نیم زده کړي، بل دریمه حصه زده کړي، دا ځکه چې په استعدادونو کې فرق ده.

## د بایزید بسطامي رَحِمَهُ اللهُ په لیدلو یې خپل روح له لاسه ورکړه

یو شیخ خپل مُرید ته وایي چې درځئ د بایزید بسطامي صاحب ملاقات ته ولاړ شو، نو مرید ورته وویل چې یو څوک د الله تعالی انوار، تجلیات او فیوضات په خپلهویني نوهغه ته د بایزید بسطامي د لیدلو څه ضرورت دی؟ نو مُرشد یې ورته وویل چې: دلته یې د خپل استعداد موافق ویني او هلته به یې د بایزید بسطامي د استعدادموافق ووینې نو کله چې د حضرت بایزید بسطامي کورته ورغلل اودهغه پوښتنه یې وکړه چې بایزید بسطامي صاحب چیرته دی، نو متعلقینو ورته وویل چې: هغه اوبه

(c) ketabton.com: The Digital Library



راوړي. دوی يې مخې ته ور ووتل، له هغې خوا نه يو ملنګ د اوبو يو لوښی رااخيستی او را روان دی، کله چې دغه مرشد بايزيد بسطامي صاحب وليد نو خپل مريد ته يې وويل چې: دا بايزيد بسطامي دی، کله چې مريد ورته وکتل نو له دې سره يې سم له خولې څخه بې اختياره چيغې ووتلې، پورته کېده او په ځمکه لګېده او روح يې قبض شو. نو ددې مُريد مرشد له بايزيد بسطامي ﷫ څخه پوښتنه وکړه چې دا څه کيفيت او پېښه وه؟ ده مبارک ورته وويل چې: دده د ذاتي تجلياتو يو قِسم د ما تر ليدلو پورې ترلی ؤ، کله چې يې په ماباندې سترګې ولګېدې نو هغه انوار ورخلاص شول، برداشت يې نه درلود نو ځکه يې روح قبض شو. نو دادی نه حضرت بايزيد بسطامي بې حاله شوی نه ددغه مريد مرشد بې حاله شوی. خو د مريد يې دغه برداشت و.

نو غرض دا چې په نېکو مجلسونو کې څومره ډېر اشتراک کېږي نو په هغې کې ګټه داده چې کله کله سړی د خيرات په مجلس برابر شي، د ويش په مجلس برابر شي، نو هلته يې بيا په يوه چيغه د دُنيا او آخرت کارونه برابر شي. دغه مجلس بيا د ډېرو مجلسونو له پاره کِفاره ګرځي. دا صحبت بيا د سلو کلونو بې ريا عبادت څخه بهتره دی. انسان په خپلو شخصي رياضتونو هغه ځای ته نه رسيږي لکه څنګه چې دنيکو او کاملو خلکو په يوه مجلس سره لوړو درجو اومقاماتو ته رسيږي نو له دې وجې نه بايد هر وخت له اهلِ خير سره زمونږ ناسته پاسته وي. حضرت مجدد صاحب دا خبره کوي چې: له اولياؤالله سره بايد د زړه له اخلاصه تعلق وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲٦) مجلس

## د وخت ارزښت او د خدای جَلَّ جَلَالُهُ نه د ډاراسباب، یا د آخیرت طرف ته متوجه کیدل

حضرت بایزید بسطامي رحمه الله خپلې مور مبارکې په سبق ویلو پسې ولېږه، په یوه مدرسه کې یې واړول او د قرآن کریم په تلاوت یې شروع وکړه، کله چې دغه آیت ته ورسېده ﴿أَنِ ٱشۡكُرۡ لِي وَلِوَٰلِدَيۡكَ﴾ [ سورة لقمان آیت : ۱۴ ] یعنې دخدای پاک حُکم ده چې تاسې زما شکر او د مور او پلار شکر اداکوئ. نو په ده مبارک باندې دغه آیت ډېر زیات اثر وکړ، له دې وروسته یې له أُستاد څخه اجازه واخیسته او کور ته راغی او خپلې مور ته وایې چې مورې! نن مې په قرآن عظیم الشان کې یو آیت وواېه، په دې آیت کې الله تعالی حکم کړی دی چې تاسې زما او د مور او پلار شکر ادا کړئ.

نو زه خو ډېر عاجز یم، د دواړو کماحقه خدمت نه شم کولای، داسې نه شم کولای چې د خدای تعالی پوره معرفت هم حاصل کړم او د مور او پلار خدمت هم وکړم. نو یا مې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وقف کړه چې زه ډډه دین زده کړم او دی وپېژنم. او یا مې له خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی جَلَّجَلَالُهُ نه داسې وغواړه چې تاته مې هبه کړي چې بواځې ستا خدمت کوم. نو مور مبارکه یې ورته وایي چې: زوی جانه ! ته مې بواځې د خدای د دین خدمت ته وقف کړی، ما خپل حق درته ببنلی، زه خپل خدمت نه درڅخه غواړم.

نو حضرت بایزید بسطامي رحمه الله له بسطام څخه د شام په طرف روان شو، اومسلسل دیرش کاله یې په سفر کې تیر کړل، په دغو (۳۰) کلونو کې یې دخدای جَلَّجَلَالُهُ دین زده کړ، له طالبي څخه ملایي ته ورسید او تردې حده یې تقوی او خدای پرستي زیاته شوه چې ټوله شپه به یې په عبادت تېروله اود ورځې به یې خپل سبقونه ویل چې له (۱۱۷) مشایخو څخه یې فیض حاصل کړ چې دهغوله جملې څخه یو حضرت امام جعفرصادق رَحِمَهُ اللهُ هم دی.

[ تذکرة الاولیاء پښتو ص: ۸۶ / فارسي چاپ ایران، ص ۱۶۴ ]

له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ څخه دومره زیات ډارېده چې یوه شپه یې دومره ډېر وژړل چې آخر مُریدان ورته راغلل او ورته وایي چې په تا خو الله تعالی ډېر احسان کړی دی، ډېر لوی مقام یې درکړی نو دومره زیات ولې ژاړې ؟ نو دی مبارک ورته وایي چې له دې وجې ژاړم چې: که له مانه یو داسې عمل شوی وي چې زه وربانديې خبر نه یم او په هغه باندې الله تعالی ناراضه وي. نو زه به خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته څه جواب ورکوم ؟

## د حضرت بایزید بسطامي او يوه ځناورترمنځ محاوره (خبرې) کول

حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ ٱللَّهُ په يوه کوڅه کې روان ده، ده له خوا سره يو سپی تېر شو، ده مبارک خپلې جامې ورڅخه راټولې کړې، له دې سره الله تعالی ورته سپی ګويا کړ. سپي ورته وويل چې: یا شیخ! که چېرته زه وچ يم نو له وچ سپي سره په لګېدو خو جامې نه مردارېږي او که زه لوند يم نو که له لانده سپي سره دې جامې ولګېږي بیا هم په درې خله مينځلو سره جامې پاکېږي خو که په تا کې عُجب او تکبر پيدا شي نو که د اوو سمندرونو اوبه په خپل ځان توی کړې بیاهم نه پاکېږې. نو حضرت بایزید بسطامي رَحِمَهُ ٱللَّهُ دې خبرې ته حيران شو او بيا يې سپي ته وويل چې: په تا کې ظاهري نجاست ده، ظاهره بدن دې نجس ده، په ما کې باطني نجاست ده، په انسان کې چې بده عقيده او بداخلاق پيدا شي نو باطني خبث او نجاست پکې پيدا کېږي، نو په تا کې ظاهري او په ما کې باطني نجاست دی، نو راځه چې دواړه ملګرتيا سره شروع کړو، دواړه به يو ځای وخت تېروو، او يو له بل څخه به عبرت اخلو. سپي ورته په خواب کې وويل چې: زما او ستا په منځ کې دوستي نه شي کېدلای، ته زما د دوستي لائق نه يې، ځکه زه چې په هرځای کې له خلکو سره مخامخ شم نو خلک مې په تيږو او لوټو ولي، ما له خانه شړي. او ته چې کوم مجلس ته ورشې نو ټول خلک درته په

(c) ketabton.com: The Digital Library



احترام ولاړ وي چې شیخ المسلمین راغی خو زماڅخه به په ورځ د قیامت پوښتنه نه کیږي او له تا نه ددغه هرڅه پوښتنه دقیامت په ورځ کیږي نو زما اوستا ترمنځ جوړه نشي راتلای حضرت بایزید بسطامي صاحب په ژړا شو چې زه د سپي د ملګرتیا لائق هم نه یم دغه نه دقیامت په ورځ پوښتنه نشته او زما نه به دقیامت په ورځ پوښتنه کیږي، څکه له ما سره ملګرتیا نه کوي، نو زه به د الله تعالی اورسول الله ﷺ د دوستي لایق څرنګه وګرځم.

[تذکرة الالیاء فارسي چاپ ایران ص: ۱۷۴]

## د حضرت خواجه عبدالخالق غجدواني رحمه الله خپلو مریدانو ته بهترین نصیحت

حضرت خواجه عبدالخالق غجدواني رحمه الله خپلو زامنو ته نصیحت کوي او ورته فرمایي چې زامنو! شپه ورځ د خدای تعالی بندګي کوئ! کوم نعمتونه چې تاسې ته الله تعالی درکړي دي د هغو شکر ادا کوئ! یوه لحظه هم له خدایه مه غافله کېږئ اله خوانو ښځو، مالدارو خلکو او مبتدعینو سره ناسته پاسته مه کوئ څکه چې دا خلک به مو په دین کې درته نقصان پیدا کړي، دا ستاسې د دین غله دي. که تاسې فکر وکړئ نو څوک چې له چاسره زیاته رابطه او علاقه ساتي نو دهماغو خلکو اخلاق او عادت به پکې څای نیسي اودهغوی اعمال به پکې اثر پیدا کوي. نو حضرت غجدواني رحمه الله زامنو ته وایي چې! له دوی سره ناسته پاسته مه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوئ ځکه بې دیني او بداخلاقي به مو په برخه شي. داهل سنت والجماعت دمذهب پابند اوسه او دسلف صالحینو ائمه وو دمذهب هم پابند شه. [حضرات کرام نقشبندیه / ص:۱۶۷]

## د وخت ارزښـــت

حضرت عمرو بن عبدالله رضي الله عنه به یواځې پنځه وخته لمانځه او د جنازې لمانځه ته له کوره راوت، نور وخت به یې دننه په کور کې تېراوه. چاورځه پوښتنه وکړه چې: د باندې ولې نه راوځې؟ده ورته وویل چې: ټول خلک غله دي، د سړي وخت ضائع کوي، په ټولو شیانو کې وخت قیمتي او خورا مهم شی دی، کوم کور ته چې غل ورځي نو په هغه کور کې ترټولو قیمتي شی ګوري او ورسره وړي یې، نو عمر د انسان ترټولو شیانو قیمتي سرمایه ده، ځکه که په کروړونو روپۍ څوک مصرف کړي نو تېرې پنځه دقیقې نه شي راګرځولای. نو خلک ټول غله دي، وخت ضائع کوي نو ځکه نه ورته راوځم.

## دصحابهٔ کرامو رضي الله عنهم له خدای جل جلاله نه د وېرې یوځو نمونې

حضرت حنظله رضي الله عنه له خپل کور څخه راووت، حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ورته وایي چې: حنظله: څه حال دی؟ دې مبارک په خواب کې ورته وايي چې: زه خو منافق شوی یم، هغه ورته وویل چې: ولې؟ ده ورته وویل: کله چې مونږ له رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله صلی الله علیه وسلم سره په مجلس کې ناست یو، نو هغه چې مونږ ته کوم نصیحت او وعظ کوي نو دومره یقین مو وربانديې راشي لکه جنت او جهنم چې په سترګو وینو، لکه خدای تعالی چې بالمشاهده راته ښکاري. خو کله چې دده له مجلس څخه راووځو نو له خپلو مېرمنو او اولادونو سره اوله نورو خلکو سره په دنیاوي معاملاتو کې مصروف شو. نودا خو منافقت دی.

حضرت ابوبکرصدیق رضی الله عنه ورته وویل: چې داکار خو په مونږ کې هم شته. دواړه یوځای نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته ورغلل او خپل مشکل یې ورته وړاندې کړ حضرت حنظله نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وایي: چې حنظله خو منافق شوی. نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې ولې؟ دی رضی الله عنه ورته وایي چې: کله له تاسره په مجلس کې ناست یو نو حضور مو د کمال درجې ته رسیدلی وي، لکه جنت، جهنم او د الله تعالی ذات چې په خپلو سترګو وینو. خو چې کله ستا له مجلس څخه جدا شو نو بیا هرڅه راڅخه هېر وي.

نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وایي چې ای حنظله! که تاسې همېشه په دغه حال باندې پاتې وای لکه زما سره چې یاست او یا د ذکر په حلقه کې یاست نو بیا به ملائکو له تاسې سره ستاسې په فرشونو، بسترو، لارو اوکوڅو کې په لاس سترې مشي کوله خو (ساعةً و ساعةً) یو حال کله کله داسې وي چې د انسان له الله تعالی سره دومره علاقه پیدا شي، آخرت یې زړه ته دومره نږدې شي لکه په سترګو

چې يې ويني، خو کله کله بيا داسې حال وي چې د اولاد، مېرمنې او د خان د خدمت وخت وي، په دې سره الله تعالى څوک نه نيسي

[مشکوة المصابيح/ج ۱ /باب ذکرالله عزوجل والتقرب اليه ص: ۱۹۸]

که د مشائخو کرامو ژوندکي ته متوجه شو نو دهغوی خوف ډېر زيات دی، بل طرف ته د دين فيصلې ته که څوک وګوري چې په ژوند کې خو کله کله بايد په سړي داسې کيفيت راشي چې د دنيا هرڅه يې هېر شي او يواځې آخرت ته متوجه شي يو وار چې په يقين سره د چا زړه ته ولوېږي چې زه مړ کېږم بيا به په ټول ژوند ګناه ونه کړي، خو دغه قيمتي ساعت مونږ ته په لاس نه راځي

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د حديث مبارک له مضمون څخه دا معلومېږي چې دا ساعت زياتره د مشائخو کرامو په مجلسونو اود ذکر په حلقو کې وي. نو د مشائخو کرامو په صُحبت اود ذکر په حلقه کې الله تعالى کله کله انسان ته داسې حال ورپه برخه کوي چې (زُهد عن الدنيا) يې په برخه شي يعنې له دنيا بېزاره او يواځې يې آخرت ته مخه شي. له دې وجې په کار ده چې وخت په غفلت کې تېر نه شي، په داسې محيط کې تېر نه شي چې هغه خلک له الله تعالى څخه غافله وي.

حضرت عبدالخالق غجدواني رَحِمَهُ اللهُ به دا نصيحت هم کاوه چې: د جاهلو صوفيانو له مجلس او ناستې پاستې نه هم ځان ساتئ؛ هغوی به مو ټول استعداد ختم کړي، ځکه دوی له ځانه صوفيتوب کوي او له دين څخه ناخبره دي نو چې څومره مو له وسه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوره وي له نيکانو خلکو سره په مجلس کې شرکت کوئ ، د هغوی له ښو نصېحتونو څخه ګټه واخلئ، کله کله ډېره ښه موقعه انسان ته په لاس ورځي او چې دغسې اثر پيدا شي نو ټول کارونه به يې برابر وي. [حضرات کرام نقشبنديه / ص:۱۶۷]

يو مولوي صاحب قصه کوله چې: ما دا تجربه کړې چې: پخوا به کله د يوه استاد په مجلس کې کېناستم نو کله به يې په ما باندې نيم ساعت اثر و او کله يو ساعت. مطلب داچې آخرت ته به متوجه شوم اود دنيا ټول خواهشات او خوند به مې له ذهن څخه ووتل. د مشائخو کرامو د مجلسونو تجربه مې هم کړې چې: کله به زه ددوی مجلس ته ورغلم نو لږ تر لږ تر دريو ورځو پورې به په ما باندې ښه اثرات و. که نه يوه جُمعه يا لس شپې خو به داسې اثر و چې د دنيا له هرشي څخه به مې زړه موړ و او ټوله توجه به مې يواځې د الله تعالی رضا اود اخيرت په کارونو کې وه.

نو چې په يوه مجلس کې يوه شپه ، درې شپې ، يوه جمعه د آخرت طرف ته توجه پيدا کېږي نو بيا خو د انسان شوق نور هم زياتيږي او دغه صحبتونه اوپه هغو کې اشتراک نور هم زياتيږي او په انسان کې الله تعالی د اصلاح ماده پيدا کوي اود اصلاح توفيق يې په برخه کېږي. انشاء الله تعالی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۷) مجلس

## د حضرت شاه نقشبند رحمه الله مناقب او د علم تصوف اصطلاحات

حضرت شاه نقشبند رحمه الله چې دا طریقه ده ته منسوبه ده، او مسمی کیږي په طریقه نقشبندیه سره. مخکې تر پیدا ېښت دده حضرت محمد بابا سماسي رحمه الله او حضرت امیر کلال بخاري رحمه الله دادواړه په لاره تیریږي دحضرت شاه نقشبند صاحب په کلي چې ورځې نو حضرت بابایي سماسي چې دحضرت امیر کلال بخاري پیر ده هغه امیرکلال صاحب ته وایي چې ددغه کلي نه دیو ولي بوی راځي دلته یو داسې څوک پیدا کیږي چې خداوند متعال به ددین دېر غټ خد مت ورنه واخلي او داخبره دغه دوه بزرګان په داسې وخت کې کوي چې تر دې وخته حضرت شاه نقشبند رحمه الله لا پیدا هم ندی.

اوبیا یو وخت کې بیرې راځي او ورته فرما یي چې هغه خوش بویي دولي چې مخکې پته وه اوس رانبکاره شوې ده خو حضرت بابا یي سماسي خپل خلیفه حضرت امیر کلال چې دشاه نقشبند صاحب پیر ده دغه ته وایي چې دا یو بچی چې نوی پیدا شوی ددغه په تربیه کې به دومره کوشش کوې لکه څومره چې ما دتا په تربیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې کوښش کړی ده او د ته به خاص توجه کوې دده دادب او اخلاقو به ډېر خیال ساتې.

بیا چې کله حضرت شاه نقشبند قدس سره څه لو یېږي او وخت دذکر او بیعت ته رسیږي دحضرت امیر کلال بخاري رحمه الله نه یې بیعت وکړچې بنا بر ظاهر ددغه علم باطني استاذ دده حضرت امیر کلال بخاري ، خو په اویسیت باندې ده د فیض استفاضه له عبدالخالق غجدواني قدس الله سره څخه کوله. دی د اویسیې له قبیلې څخه و. [جمال الاولیاء ص: ۲۶۷-۲۶۸]

د تصوف په اصطلاح کې اویسیان یوه داسې خاصه طایفه ده چې مخکې له یوه قبر یا یوه پیر سره دده دروح تعلق وي، دهغه د روح نه یې د فیض اکتساب کړی و، کله داسې وي چې بنا بر ظاهر هېڅ پیر ونه لري خو دی د اولیاوو الله وو له جملې څخه وي، څکه ده روح د فیض اکتساب دهغه د روح نه کړی وي، دې ته اویسیه ویل کېږي.

## د حضرت شاه نقشبند رحمه الله له خپل مرشد سره مقام او مرتبه

شاه نقشبند رحمه الله به چې کله د حضرت امیر کلال بخاری رحمه الله مجلس ته حاضر شو نو په ټولو مریدانو کې به ده مبارک شاه نقشبند رحمه الله ته ډېر التفات او توجه کوله، دده رعایت یې ډېر کاوه، له شاه نقشبند مبارک نه مخکې په دغه طریقه کې دوه قسمه معمولات و، جهري ذکر به هم کېده او خُفیه ذِکر به هم کېده، خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالخالق غجدوانی قدس سره نه چې حضرت شاه نقشبند به اویسه طریقه باندې د فیض اکتساب وکړ نو دهغه عادت ذکر خفي و، کله چې به د ذکر حلقه جوړه شوه، نو خفي ذکر به کېده، د حضرت امیر کلال بخاری قدس سره په مجلس کې به شاه نقشبند مبارک ناست و ذکر به یې ورسره کاوه ، نو کله به چې جهري ذکر شروع شو نو دی به له دغه مجلس څخه پورته شو. داخو طبعي خبره ده چې یو پیر له مُرید سره زیاته علاقه لري، یا یو استاد له کوم خپل شاګرد سره ډېره علاقه لري، یا پلار له کوم زوی سره ډېر تعلق وي نو په هغو نورو مریدانو، شاګردانو او زامنو بد اثر کوي.

نو په مریدانو باندې به دا خبره ډېره درنده تمامیدله چې دی ولې له مجلس څخه پورته کېږي، سره له دې چې دی نوی مرید هم دی او حضرت امیر کلال بخاری دومره زیاته توجه هم ورته کوي، نو مریدانو ته د اعتراض ځای پیدا شو. نو حضرت امیر کلال بخاری رحمه الله ته یې وویل چې: حضرت! تاسې له نورو ټولو مریدانو دده ډېر رعایت کوئ! خو دی بیا هم له تاسې څخه مخالفت کوي ته چې کله جهري ذکر شروع کړې نو دی ستا له مجلس څخه وځي حضرت امیر کلال بخاری رحمه الله دوی ته هېڅ هم ونه ویل. خو یو وخت تقریباً پنځه سوه کسان په یوه مجلس کې ناست وو، بیا حضرت امیر کلال بخاري رحمه الله ددوی د پوهولو له پاره ورته وویل ستاسې په زړه کې دا خبره راګرځي چې: له شاه نقشبند سره زما دومره زیات تعلق ولې ده ؟ ، سره له دې چې هغه په خپلو حلقو کې مخالفت هم کوي، نو حضرت امیر کلال د خبرو په منځ کې ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وايي چې: دمخلوق نظر د خالق د نظر تابع وي، يعنې اولياء الله د الله تعالى مخلوق دى نو په يوچاچې د خالق نظر وي نو دمخلوق نظر هم هغه طرف ته وراوړي. په حديث شريف کې صراحة راځي: ( ...وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ... ) [ رواه البخاري في كتاب الرقاق ]

چې: زه د کامل ولي سترګې شم دى په ما باندې ليدل کوي. نو د ولي نظر تابع د الهي نظر وي. (حضرت امير کلال بخاري وايي) تاسې په ما باندې په دې باره کې کوم اعتراض مه کوئ! ما معذور وګڼئ! په شاه نقشبند چې د الله تعالى څومره نظر ده په دې مجلس کې په هيڅا باندې دومره نشته. نو ځکه زه هم زياته توجه ورته کوم، ځکه چې زما نظر د الله تعالى د نظر تابع ده

## د حضرت شاه نقشبند ( قدس الله سره ) له خپل مُرشد سره ادب

په خپله حضرت شاه نقشبند مبارک له حضرت امير کلال بخاري رحمه الله څومره زيات ادب کاوه؟ يوه ورځ شاه نقشبند مبارک په دښته کې روان و، نو حضرت خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ په مخه ورغی او خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ په آس سپور و، د يوه کوچي په شکل کې يې خان ورته ښکاره کړ، لکړه په لاس لکه تُرکی، ځکه په بخارا کې تُرکيان زيات اوسيږي. شاه نقشبند مبارک فرمايي چې: په لرګي يې چوخ کړم او په تُرکي ژبه يې راته وويل: زما آسونه ورک دي، تا خو به نه وي ليدلي؟ ما ورته هيڅ ونه ويل. دغسې څو وارې په مخه راغی. آخر مې ورته وويل چې: زه دې پيژنم چې ته خضر عَلَيْهِ السَّلَامُ يې. دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



فرمايي چې: دی راپسې او زه ورڅخه مخکې يم ، نو راته وايي چې کله مې پيژنې نو بيا خو يوڅه آرام آرام څه چې زه او ته خو يوځاي مجلس او صحبت سره وکړو. دی وايي چې: ما هيڅ التفات ورته نه کاوه. کله چې د امير کلال بخاري رحمه الله مجلس ته ورسېدم نو هغه ته چې الله تعالی باطني فراست ورکړی وو راته وې ويل چې دحضرت خضر عليه السلام سره دې په لاره وليدل ؟ ما ورته وويل چې: هو ! صيب. ده راته وويل چې تا خو څه التفات نه ورته کاوه ، د ده ډېر خواهش و چې له تاسره مجلس او صحبت وکړي خو تا ورته ډېر التفات نه کاوه. نو حضرت شاه نقشبند مبارک خپل مرشد ته په خواب کې وويل چې: زه دخپل کور نه ستاسې د ليدلو په اراده راوتلی وم، نو هغه توجه او التفات چې له کوره د راوتلو په وخت مې ستاسې سره وه دهغې په مقابل کې حضرت خضر عليه السلام هم هيڅ ده. [حضرات کرام نقشبنديه / ص:۱۸۲]

نو د هر سړي به په خپل کامل شيخ اعتماد وي، داسې کامل لکه د شاه نقشبند مبارک. په حضرت خضر عليه السلام پسې دخلکو زړونه چوي چې کاشکې مې يو وار ليدلی وای، دعا مو ورنه غوښتې وای ، خو حضرت شاه نقشبند داسې نه چې له حضرت خضر عليه السلام سره مخالفت لري، بلکې په خپل پير يې دومره زيات اعتماد دی چې زه له خپل کور څخه د خپل پير او مرشد په توجه راوتلی يم خو چې حضرت خضر عليه السلام هرڅومره راته مخکې مخکې شي خو زه به هيڅ التفات نه ورته کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## حضرت شاه نقشبند رحمه الله ته د خپل مرشد له خوا د بل کامل مُرشد د پیدا کولو امر

بيا دهمدې کامل ادب ثمره وه چې ده له خپل مرشد سره درلود. نو يو وخت يې خپل مرشد حضرت امير کلال بخاري رحمه الله راغواړي او ورته وايي: زه چې ستا هغه باطني استعداد او همت ته ګورم نو هغه بې انتها او فوق العادة استعداد ده، له ماسره چې ستا څومره کار ترلی و د خپل پير په فرموده. ما هغه ټول پای ته رسولی ده، خو ستا د خواهشاتو مُرغه نور پرواز هم غواړي. نو ته ولاړ شه او له مانه چې څوک پورته په لاس درغلل له هغه سره تعلق جوړ کړه. نو دی وايي چې: د شپې مې خوب ليده چې يو تُرکی درويش او ملنګ چې په تُرکي ژبه غږيږي، هغه په خوب کې راته راغی څه خبرې يې راته وکړې. نو زما د زړه تعلق ورسره جوړ شو. بيا ډېر وخت وريسې ګرځېدم چې يو وخت په لاره کې په مخه راغی او يواځې مې پوښتنه ورسره وکړه او د ځای معلومات مې ورڅخه وکړ، نورمجلس مې ورسره ونه کړ. وروسته زه خبر شوم چې هغه تُرکی درويش په خپل مُلک کې د بادشاهي مقام ته ورسېد، زه ورغلم، هلته دی سره له دې چې بادشاه و خو بيا يې هم خدای تعالی ته دومره توجه وه چې هغه په نوروخلکو کې نه وه، نو په بادشاهي کې هم نفلونوته پورته کېدو. او ما دورځې د نوکر په شکل په دروازه کې وخت تېراوه. څکه چې دی مې شيخ و اود فيض

(c) ketabton.com: The Digital Library



اکتساب مې ورځخه کاوه او په شپه کې به مو بيا مقامات طی کول
ټول وخت مو په همدې طريقه تېراوه، چې قصه لنډه کړو.

شاه نقشبند رَحِمَهُ اللهُ په آخر کې وايي چې: ماته چې څومره په دغ
طريقت کې معلومه شوه ، نو خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته درسېدو نږدې
لاره داده چې سړی خپل اختيار ترک کړي او خپلو ټولو اعمالو ته د
قصور په نظر وګوري، د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د دين او د رسول
الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ارشاداتو په مقابل کې به خپل اختيار ته هيڅ
اعتبار نه ورکوي او هلته کمال ته زر رسيږي چې دخپلو اعمالو
کمزوري او تقصير ورته ښکاره شي چې ما دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له
شان سره موافق عمل نه دی کړی ، ځکه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هم
فرمايي : ﴿ لَا أُحْصِي ثَنَاءً عَلَيْکَ أَنْتَ كَمَا أَثْنَيْتَ عَلَى نَفْسِكَ ﴾
[مشکوة المصابيح/ج ۱/ باب السجود وفضله ص ۸۴] ژباړه : ای ربه!
ستا د شان سره لائق عبادت زه نه شم ترسره کولای.

حضرت امام ابوحنيفه رَحِمَهُ اللهُ په کعبه شريفه کې دوه رکعته
لمونځ کوي، ټول قرآن کريم پکې تلاوت کوي ، بيا هم په کعبه
شريفه کې خپل تقصير وړاندې کوي او فرمايي: ﴿ الهي ما عرفناک
حق معرفتک و ما عبدناک حق عبادتک ﴾ ای خدايه پاکه ! ښه دې
پېژنو چې ته مو خالق يې ، ته مو رازق يې خو ستا له شان سره لائق
عبادت مونږ نه دی کړی.

څومره غټ غټ ائمهٔ کرام چې تېر شوي دي، د هر يو چې له الله
تعالی سره څومره قرب په برخه شوی دی نو همدومره خپل ځان کم

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته ښکاري، څومره چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته محبوب کېږي، له الله تعالی سره يې رُتبه پورته کېږي نو دغومره دی له خپل ځان نه بر کناره کېږي ، خپل ځان ورته هيڅ هم نه ښکاري

نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به هم په دعا کې دا ويل چې: ( اَللّٰهُمَّ اجْعَلْنِي فِي عَيْنِي صَغِيراً وَ فِي اَعْيُنِ النَّاسِ كَبِيْراً ) ژباړه : خدايه پاکه! ماته خپل ځان په خپلو سترګو کې وړوکی رابښکاره کړې او دنورو خلکو په سترګو کې مې عزتمن ولرې.

نو الله تعالی ته د رسېدو ښه او لنډه لاره داده چې په هرځای کې به خپله اراده پرېږدي او له دې سره سره به خپل تقصير ته هم متوجه يې.

حضرت بايزيد بسطامی رحمه الله وايي يوځل له الله تعالی سره په مناجات کې وم ورته ومې ويل : كَيْفَ الْوُصُولُ اِلَيْكَ ؟ ) يعنې تاته درسيدلو لار کومه ده ؟ غيبې آواز مې واوريده ويل يې : ای بايزيد ! طَلِّقْ نَفْسَكَ ثَلاثاً ثُمَّ قُلِ اللهُ ) يعنې نفس ته درې طلاقه ورکړه ، بيا ما يادوه ، يعنې خپل نفس پرېږده نو زما او ستا په منځ کې بل حاجب ( پرده ) نشته. [تذکرة الاولياء، فارسي چاپ ايران / ص:۱۸۷]

نو چې يوڅوک داسې فکر وکړي چې په يو چا باندې نعمتونه ولورول شي نو فی الحال يې ځان ته پام شي چې زه خو ښه ملا يم، زه ښه مجاهد او صوفي يم نو دعه نسبت د ( زه ښه يم ) چې ځان ته وشي نو ځان ورته غټ ښکاره شو نو نور مقامات يې ختمېږي،

مخې ته نور حرکت نه شي کولای ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته د رسېدو
لاره بندګي، عاجزي او فقیري ده. په لیلة المعراج کې د الله تعالی
بهترین صفت چې خپل خوږ پیغمبر ورباندې یادوي هغه د (
عبدیت ) صفت ده. الله تعالی فرمايي: ﴿ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ
﴾ [سورة بني اسرائیل آیت: ۱]

ژباړه: هغه ذات لره پاکي ده چې خپل بنده یې بوت. نو په دې
ځای کې مفسرین کرام فرمايي چې: د نبي کریم صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ خو
ډېر نومونه او صفات دي، په صفاتو کې یې الله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ په دې
خاص ملاقات کې چې هغه د ﴿ قَابَ قَوْسَيْنِ ... ﴿٩﴾ ﴾ سورة النجم ،
مقام و په هغه کې یې د عبدیت مقام ذکر کړ ، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته
د مخلوق تر بندګي بل صفت مختار نه دی، عاجزي صفت مختار
ده. ﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ ﴾ غایت عاجزۍ تاته کوو، تاته تندی په خمکه ږدو
نو الله تعالی ته د رسېدو ښه لاره عاجزي ده او چې سړي ته خان غټ
ښکاره شو نو بیا د عاجزي معنا ختمه شوه، بیا د الله تعالی له
لوري د رحمت دروازې محدودې شي

## د تصوف ځینې اصطلاحات

**هوش دردم:** هر انسان باید په هره نَفَس کې نظر وکړي چې یوه
ساه هم باسي باید په غفلت کې تېره نه شي، ځکه دا د الله تعالی
نعمت ده او د هغه د نعمت شُکرانه واجب ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**نظر بر قدم:** ظاهري معنا خو يې داده چې کله په لاره روان وي نو بيا او بل طرف ته به نه ګوري، خو د تصوف په اصطلاح کې يې معنا داده چې هر قدم په ځمکه ږدي داهم دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ يو نعمت ده چې په تا يې کړی دی، دومره ژوند يې درکړ بايد چې دا په غفلت کې تېر نه شي.

**خلوت در انجُمن:** دا معنا چې په عام مجلس کې ناست يې خو په زړه کې دې اشنايي او تعلق له الله تعالى سره وي، ظاهره به په دنيا او ددنيا په کارونو کې مصروف يې، له خلکو سره به په مجلس کې يې خو هلته دې زړه له الله تعالى سره وي﴿ رِجَالٌ لَّا تُلْهِيهِمْ تِجَٰرَةٌ وَلَا بَيْعٌ عَن ذِكْرِ ٱللَّهِ ... ﴿٣٧﴾ ﴾ [سورة النور] د الله تعالى مقرب بندګان هغه دي چې بيعه او تجارت يې د الله تعالى له ذکر نه نه غافله کوي.

حضرت مجدد رحمه الله العظيم فرمايي

در درون آشنا شو واز بيرون بيګانه شو   اين چنين زيبا روش کم مى بود اندر جهان

په زړه کې له الله تعالى سره آشنا شه، په الله تعالى عاشق شه او به ظاهره باندې چټ ګرځه چې خلک د صوفي ګمان هم درباندې ونه کړي، داسې ګرځه لکه پردی او نا آشنا، چې خلک د بر اعتماد درباندې ونه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سفر در وطن:

سفر دروطن دې ته وایي چې په خپل بدن کې د عالم امر او عالم خلق په تصفیه او تزکیه کې کوشش وکړي او له ذمیمه اخلاقو څخه حمیده اخلاقو ته انتقال وکړي.

## یاد کرد:

یاد کرد دې ته وایي چې: کله حضور وي او کله بې حضوري.

## یاد داشت:

یاد داشت دې ته وایي چې: حضور دائمي وي. یعني په یاد کرد کې حضور په تکلیف سره پیدا کېږي او په یاد داشت کې حضور د ذاکر صفتِ راسخه وګرځي.

## وقوفِ زماني:

وقوف زماني دې ته وایي چې: صوفي همیشه له خپلو احوالو څخه خبر اوآګاه وي. چې آیا دده دا حال موجِب د شُکر ده او که موجب د معذرت ده. حضرت یعقوب چرخي رحمه الله وایي چې: ماته حضرت شاه نقشبند رحمه الله د بسط په وخت کې دشکر ابستلو حکم کاوه اود قبض په حالت کې یې د استغفار کولو حُکم کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وقوفِ عددي:**

دې ته وایي چې: ذاکر د نفی او اثبات په وخت کې د عدد یعنې شمېر رعایت کوي او ساه په طاق باسي. یعنې چې درې، پنځه آن تر بو ویشتو پورې یې وره سوی.

**وقوفِ قلبي:**

دې ته وایي چې: ذاکر خپل زړه ته (چې تر چپ تي درې ګوتې لاندې ده) متوجه وي. کوم اوهمېشه یې په ذکر مشغول ساتي. او غفلت ته یې نه پرېږدي.

انسان چې له ډېرو تیروتنو سره مخ کېږي دنفسي خواهشاتو دمنلو له امله چې انجام او پایله یې داوي چې بیا له ډول، ډول ناخوالو او عذابونو سره لاس په ګرېوان شي. او ډېر خلک خو په ځان خبر هم نه وي او تباه برباد شوی وي، داخپل نفس چې په صاحب صاحب ویلو ډېر قوي کړې چې څوک ورته پورته کېږي احترام یې کوي نو ده ته خپل ځان ډېر لوی ښکاره شي او معلومات نه ورته کېږي چې په باطن مې له فساد او خرابي سره مخ دی.

سالک فرمایي:

میان عاشق و معشوق رمزیست کرام الکاتبین راهم خبر نیست

دعاشق او معشوقې ترمنځ داسې راز او نیاز او داسې اشارات دي چې ملائکې سره له دې چې له انسان سره ناستې وي، لیکل

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي خو بیا هم په دې اشاراتو او دنقشبندیې طریقې په پټ ذکر باندې خبرې نه وي.

دا ذِکر خفي چې ډېر فضیلت لري وجه یې همدا ده چې هغه کرام الکاتبین ملائکې هم په انسان علم نه لري، دقیامت په ورځ چې سوال او ځواب خلاص شي، بیا له ملائکو څخه الله تعالی پوښتنه کوي ددې انسان چې څومره اعمال و هغه تاسې ټول راوړل؟ ملائکې به ورته وایي چې: هو! څه چې یې کړي دي هغه ټول مو راوړي دي. نور یې هیڅ نه دي پاتې. نو الله تعالی به ملائکوته فرمایي چې: ددې بنده له ماسره یو داسې عمل ده چې زما نه سوا بل څوکورباندې خبر نه دي. دا هغه ده ده دپټ ذِکر (خفي ذکر) دفتر ده.

هغه خو الله تعالی له ځان سره ساتلی وي. بیایې وړاندې کوي.

این چنین زیباروش کم می بوداندر جهان.

دداغسې ښائسته کردار خلک په دنیا کې ډېر کم دي. چې په ظاهره چټ اوپه باطن کې یې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره مینه وي خو بیا یې هم خلک له دې پټې مینې څخه خبر نه وي.

## په یو نیک شخص باندې د الله تعالی امتحان او ازموینه

یو شخص په خلکو کې ډېر محبوب و، بل یو سړی په تجارت پسې روان و، نو خپله لور یې راوستله اودغه سړي ته یې وویل چې: زما په کور کې بل څوک نشته، یواځې دغه پېغله لور مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ، په بل چا اعتماد نه لرم ، ته ډېر غټ پیر او بزرګ یې ، زما دا لور به زما تر راتلو پورې له تاسره امانت وي او پام به ورباندې کوې.

کله چې دغه تاجر په سفر روان شو ، نو دلته شیطان هم خپل کوشش او هڅې پېل کړې ، چې دا نېک شخص له دې پېغلې سره په بدعملي اخته کړي ، پیر به هم ډېر زیات احتیاط کاوه ، خان یې ساته ، یو وخت دغه پېغله ویده ده ، شیطان یې مخ ورباندې لوڅ کړ اودغه نېک انسان سترګې پرې ولګېدې ، بل وخت کې دا پېغله ویده ده شیطان یې خېټه ورباندې لوڅه کړه بیا ددې بزرګ سترګې ورباندې ولګېدې نو طبعاً په دغه بزرګ هغه بشري صفات غالب شول او له الله تعالی سره یې دتعلق سلسله کمزورې شوه ، څکه په فتنه کې یې خان واقع کړ او الله تعالی فرمایي: ﴿ وَلَا تَقْرَبُوا الزِّنَىٰ ﴾ [ سورة اسراء آیت : ۳۲ ] یعنې زنا مه ورنېږدې کیږئ.

او نبي کریم صلی الله علیه وسلم فرمایي : ﴿ « كَالرَّاعِي يَرْعَى حَوْلَ الْحِمَى، يُوشِكُ أَنْ يَرْتَعَ فِيهِ، أَلَا وَإِنَّ لِكُلِّ مَلِكٍ حِمًى، أَلَا وَإِنَّ حِمَى اللهِ مَحَارِمُهُ، ... ﴾ . [صحیح المسلم کتاب المساقات / باب أخذ الحلال وترك الشبهات / ج ۲ / ص ۲۸ . ـ رقم حدیث : (۱۵۹۹) ]

ژباړه : لکه شپون چې مېږې څروي د چراګاه (مال څر) خواته ، نږدې ده چې په دې چراګاه کې ګډې شي ، خبراوسئ ! دهر باچا له پاره چارګاه وي ، او خبراوسئ ! دالله تعالی چراګاه دهغه محارم دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(یعنې پاچایان دعربو او داسې نور، دهر یوه لـه پاره خپله چراګاه وي، چې عام خلک لـه هغې نه منعه کوي او چې څوک ور داخل شي هغه ته سزا ورکوي، او څوک چې احتیاط کوي نو دې چراګاه (مال خر) ته نږدې هم نه ورځي لـه دې څخه ویرېږي چې په کې واقع به شي.

او دالله تعالی له پاره هم داسې چراګاه دي چې هغه دده محارم دي چې هغوی ته به انسان نه ورنږدې کیږي تر څو پورې وګډ نشي چې بیا به یې پایلې او نتیجې ښې نه وي، یعنې ګناوې هغه چې الله تعالی حرامې کړې دي لکه: قتل، زنا، غلا، قذف، شراب، غیبت، نمیمت، پردی مال خوړل او داسې نور. داټول دالله تعالی چراګاه دي څوک چې ور داخل شو یعنې دا یې وکړل نو دی دالله تعالی دعذاب لائق دی.

او څوک چې ور نږدې شو قریبه ده چې پکې واقع به شي، نو څوک چې له خپل ځان سره احتیاط کوي نو نه ورنږدې کیږي او نه له هغو شیانو سره تعلق ساتي چې په هغه سره ګناوو ته ور نږدې کیږي له دغه امله شبهناکو شیانو ته نه ورنږدې کیږي.

[النووي / شرح مسلم ج: ۲ / ص:۲۸]

نوکه د یو چا چراګاه ته دې مېږې ورنژدې کړې آخر به درڅخه پکې ورګډې شي.

نو هلته تعلق جوړ شو، آخر دغه بزرګ په بدلمنې او بدعملي ګرفتار شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا څه وخت وروسته خپل پیر او مرشد ته ورغي چې زه خو تباه شوم، له ما څخه خوکبیره ګناه وشوه، ددې علاج به څه وي ؟ هغه ورته وایي چې: ته فلانکي کلي ته ولاړ شه، په هغه ځای کې یو بزرګ ده، ددې مرض علاج به درته وښیي. دی هغې علاقې ته ولاړ اودهغه سړي پوښتنه یې وکړه، نو هر چا وروباندې بد وویل چې: ته دومره ښه صوفي سړی یې . دا خو د رنډیو او بدکارو ، د بدعملو خلکو کلی ده، هغه سړی چې ته یې پوښتنه کوې یو لوی فاسق ده، هلکان اوجینکی ساتي اوشراب څښي،ته ولې دهغه پوښتنه کوې ؟

دی بېرته راوګرځېده، یوڅه ځای راغی، بېرته ور وګرځېده او له ځان سره یې وویل چې: یوځل خو یې خامخا وینم چې څرنګه سړی ده ؟ خلکو که دهغه بزرګ هرڅومره بدي ورته په ګوته کوله وې نه منله بیا هم دهغه کور ته ورغی. چې کله ورننوت نو له ده سره یې ولیدل ، ورسره کېناست، دده په یوه څنګ کې ښایسته هلک اوپه بل څنګ کې یې ښایسته نجلی ناسته دی، اوشراب هم ورسره اینبي دي. نو ده وویل چې: خلکو خو رښتیا ویل چې: دی دا کارونه کوي

خو کله چې خبرې شروع شوې نو په خبرو کې یې دومره زیات اثر وچې دی یې بېخي ناقراره کړ، نو آخر ورته عرض کوي چې: کله تاته الله تعالی دومره غټ مقام هم درکړی ده نو داسې کارونه ولې کوې ؟چې یو طرف ته دې هلک او بل طرف ته دې نجلی کښېنولې او هلته درته د شرابو بوتل اینبی دی. نو دغه بزرګ ورته وویل چې: دا هلک مې زوی ده اودا نجلی مې مینځه ده اوپه دغو بوتولونو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې سرکه ده او دا درې واړه روا (جائز) کارونه دي. دی ورته وایي چې: خلک خو په تا دا ګمان کوي چې دی هلکان او نجونې ساتي او شراب څښي. دی ورته وايي چې: دا مې ددې له پاره داسې کړي چې خلک خپلې لورګانې ماته پرې نه ږدي (اشاره يې ده ته وه). دا ددې له پاره کوم چې خلک مې په بزرګۍ خطا نه شي او پر ما اعتماد ونه کړي. خپلې لورګانې راته پرې نه ږدي هسې نه چې زه په زنا کې ورسره واقع شم.

ډیرو غټو مشائخو کرامو داسې کړي چې: شهرت يې ډیر شوی نو بیا یې په یوه داسې رخصت عمل کړی چې د خلکو توجه ورڅخه واوړي، او هغه شهرت ختم شي.

حضرت انوارالمشائخ مرحوم خلیفه صاحب به ویل چې: [ شُهرت آفت ده ]

دا زمونږ په طریقه کې چهلې ډیرې نشته. ځکه په دغو چهلو کې شهرت پیدا کیږي، او شهرت آفت ده، سړی تباه کیږي، کله چې یو شخص ته ګوته ونیول شوه چې دا فلانکی صاحب ده او خلک زیات اعتماد ورباندې وکړي، دی په خان خبر هم نه وي خو نفس يې دومره غټ شوی وي چې بیا یې کنټرول مشکل وي.

نو (خلوت در انجمن) معنا دا چې په مجلس کې دعامو خلکو سره په الفت محبت کې وخت تیروي خو په زړه کې یې تعلق له الله تعالی سره وي او هغه تعلق ابدي تعلق وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**وقوف قلبي:** دا معنا چې انسان بايد په خپل زړه باندې علم ولري چې زما زړه غافله ده اوکه د الله تعالى په يادونه بوخت دی.

اولياؤالله چې د خپل زړه حالات بيانوي. څوک وايي چې: زه د زړه يو ساعت لحاظ کولای شم، څوک وايي چې زه يې نيم ساعت کړای شم، هغه دا معنا چې زړه دومره په کنټرول کې ده چې هلته وسوسه هم بالکل مداخله نه شي کولای. د يو ساعت، يو سکنډ له پاره هلته شيطان مداخله نه شي کولای. نوداچې په سړي کې دا مقامات پيدا شي چې ساه يې په غفلت نه وځي، قدم په غفلت نه پورته کوي اوپه يوه مجلس کې هم دالله تعالى له ذکر څخه نه غافليږي، که د دنيا په هره جائزه معامله کې لګيا وي، خو زړه يې له الله تعالى سره وي.

لکه چې الله تعالى فرمايي: ﴿ فَإِذَا قَضَيْتُمُ الصَّلَاةَ فَاذْكُرُوا اللَّهَ قِيَامًا وَقُعُودًا وَعَلَىٰ جُنُوبِكُمْ ...﴾ [سورة النساء آيت ۱۰۳]

ژباړه: بيا کله چې اداء کړې تاسې لمونځ نو يادوئ تاسې الله تعالى په ولاړې او په ناستې او پر اړخو خپلو.

مفسرين کرام ليکي: دلته د الله تعالى مقصود او غوښتنه د ذکر دوام ده، چې هر وخت به الله تعالى يادوئ؛ هميش يادول خو دا معنا نه چې په ژبه باندې به الله الله، سبحان الله سبحان الله يا الحمد لله وايي. بلکې معنا داچې زړه به دې يو آن او لحظه هم دالله تعالى له ذکر څخه غافل نه وي.

بیا چې دا آن موجود شو نو شاه نقشبند رحمه الله فرمایي چې: چې رب تعالی وپېژانده معرفت قلبي ورته پیدا شو نو ﴿لایخفی علیه شيء﴾ بیا یو شی هم نه ورڅخه پټیږي. دغه کشف چې اولیاؤ الله ته کېږي دا څکه چې الله تعالی په خپله فرمایي: ﴿...وَبَصَرَهُ الَّذِي يُبْصِرُ بِهِ...﴾ [رواه البخاري في کتاب الرقاق] چې: زه بیا د خپل خاص بنده سترګې شم په ما باندې لیدل کوي، نو بیا دغه انسان په دنیاوي اسبابو او عیشونو نه خطا کېږي، هغه بیا عشق ده، او عشق بیا یو اور ده، چې له محبوب نه ماسوا نور هرڅه سوځوي.

دچاپه زړه کې چې الهي سوز او عشق پیدا شو بیا نه ښځه او نه هم اولاد، نه اقارب او نه بل څه په نظر ورځي بلکې یواځې او یواځې دالله تعالی او نبي کریم ﷺ مینه او محبت یې مقصد او مطلب شي. بیا هغه زړه د الهي نور مظهراو مرکز وګرځي.

نو دې ته لږ سوچ په کار ده چې د زړه شیشه پاکه شي. کله چې د زړه شیشه پاکه شي نو بیا یې رڼا هم دغومره زیاته وي.

د لمر شعاعو ته چې وړوکې شیشه ونیسې نویه دیوال باندې وړوکې وړانګه غورځوي، خو که غټه شیشه وي او خیرنه وي، مطلب داچې د استعداد خبره ده، که هرڅومره غټې وي خو چې شیشه یې صفا نه وي نو د لمر هغه رڼا نه شي منعکس کولای. خو چې شیشه غټه وي او د صفایي کوشش هم ورسره کېږي نو چې څومره صفایي زیاتیږي همدومره یې رڼا هم زیاتیږي، اوهلته یې نورو خلکو ته هم فائده رسېدل شروع شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د انوارو شعاع ددې انسان له سینې نه د بل انسان سینې ته هم په بنه توګه ورځي.

## ایا په جذب اودس ماتیږي اوکنه ؟

د جذب متعلق بیان مخکې تېر شو اوس به دا خبره واضحه کړو چې په جذب سره اودس ماتیږي که نه ؟

دا جذب چې چاته پیدا کېږي دا یو داسې کیفیت ده چې د انسان حواس کار نه پرېږدي، داسې نه وي لکه ویده اویا بې هوښه چې په ځان نه پوهېږي. په ځان ښه پوهېږي خو ځان اداره کولای نه شي.

حضرت مولانا شیرعلي شاه مدني رَحِمَهُ اللّٰهُ بیان کاوه چې: زه د طالبانو د تحریک په وخت کې دافغانستان دهرات ولایت ته تللی وم، هلته د (خواجه غلطان ولي رَحِمَهُ اللّٰهُ) په نامه یو زیارت دی، چې ډېرو علماوو او طالبانو تجربه هم وربانديې کړې. عام خلک داسې وایي چې: داسې یو لوړ ځای ده، چې یو اړخ دې ځان واړاوه نو په دوهم اړخ کې بیا ځان نه شې اداره کولای، د غونډۍ تر ښخه پورې چې رغښتی نه یې نو ځان نه شې تم کولای. ښه په ځان پوهېږي، وینښ یې. نو په جذب کې هم دغسې یو کیفیت وي. د سړي عقل په ځای وي، سترګې او وجود یې کار کوي نو لنډه داچې د جذب په حالت کې عقل او هوش پوره کار کوي یواځې د ځان د کنټرول خبره ده، نو په جذب سره اودس نه ماتیږي.

فیض الله خلیفه صاحب ویل چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ما باندې به د حضرت صاحب مبارک په مجلس کې ډېر جذب راتلو، نو يو وخت کې يو عالم راته وويل چې: تاته څه کيفيت پېښيږي ؟ چې داسې پورته پورته غورځې؟ ما ورته وويل چې: نور خو نه پوهېږم خو کله چې ذکر شروع شي، نو زما د زړه د برابرې نه نيولې آن تر زنې پورې په دې منځ کې د نور يوه شيشه راشي، دا شيشه مې پورته کوي او په ځمکه مې ولي. بنه په ځان پوهېږم، خو ځان تم کولای نه شم. نو په ذې سره اودس نه ماتيږي. دې ته متوجه شئ: اعتراض او اشتباه دې څوک ځان ته نه پيدا کوي اونه دې په بل چا باندې رد کوي. دا د هرچا خپلې برخې دي، داچې څوک څه کوي او څهويني؟ د دې ليدلو حال خو هرچاته څوک نه شي ويلای. دا خو پټ اسرار دي.

منصور حلاج حال ووايه ، آخر په دار وځړول شو. هر چاته حال ويل ناروا دي. يواځې خپل مرشد او يا دمرشد خپلو خصوصي مريدانو ته به حالات بيانوي، چې هغه بنه معتقد خلک وي.

منصور حلاج چې کله په دار وځړول شو، نو يو سړي ټوله شپه په ژړا او غم کې تېره کړه چې : اې خدايه ! دا منصور خو ستا دوست او ولي و، ستا مقرب بنده و او تا ورته داسې سزا ورکړه چې په دار وځړول شو . نو همدا سړی بيا خوبويني چې الله تعالی همدغه شخص ته وايي : منصور ته ما خپل راز ويلی و او ده هغه راز پټ ونه ساته، خکه مې دا سزا ورکړه. د بادشاه راز چې څوک پټ نه شي ساتلی دهغه به همدا سزا وي. لکه هغه پښتانه هم وايي چې :

دبادشاه شکرې په غم لړلې وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت شاه نقشبند رَحِمَهُ اَللهُ هم وايي: دوه ځله په ما باندې هم داسې مقام راغلی چې نژدې وه زه هم د منصور حلاج غوندې دعوه وکړم چې: (انا الحق) خو زمونږ په علاقه کې د پانسي (دار) دوه خايونه و، نو هلته به ورغلم او خپل نفس ته به مې ويل چې: که دا دعوه دې وکړه نو ستا به هم دغه سزا وي. ته به هم د منصور په شان په دار وځړول شې. خو د الله تعالی رحم او کرم اود حضرت خواجه عبدالخالق غجدواني قدس سره فيوضات راباندې راغلل او له دې مقام څخه بې واړولم.

شاه نقشبند مبارک قسم کوي چې کله منصور حلاج په دار کېده که هلته دخواجه عبدالخالق غجدواني يو خليفه هم موجود وای نو منصور به چا نه وای په دار کړی او دی به يې له دغه مقام څخه اړولی وای. (حضرات کرام نقشبنديه / ص: ۱۸۳)

نو دا مقامات او اسرار چې چاته په نصيب کېږي نو هرچاته خو يې څوک نه شي بيانولای، نو اعتراضونه دې څوک نه کوي (المرء يقيس على نفسه) هر سړی په خپل ځان قياس کوي چې زه خو دا شی نه وينم نو دا شی نشته. دا په سلګونو کتابونه العياذبالله په دروغو نه دي جوړ شوي. زه به يې نه وينم، نو زما د نه ليدلو له وجې خو د هغه شي نيستي لازمه نه شوه. دا د باطن شيشې دي، صفايي غواړي، د چا چې څومره استعداد وي دغومره شی ورته معلومېږي ، نو اعتراضونه بايد په دې رابطه ونه کړل شي. دا ټولې خبرې ثبوت لري

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۸) مجلس

## د حضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت کول

﴿قَالَ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ، حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ﴾

[ رواه البخاري ومسلم في كتاب الايمان / ص: ۷ ]

ژباړه: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي چې: له تاسو نه یوڅوک هم کامل مؤمن نه شي گرځیدلی چې ترڅوزه ده ته ترخپل مور اوپلار اوترټولو خلکونه یم محبوب شوی ،نه یم ګران شوی.

اوس له نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دامحبت چې ترخپلو موراوپلار اوترټولو خلکو به زيات محبوب وي داکوم قسم محبت دی؟

عام کتابونه لیکي: چې طبعي محبت چې دانسان په وس کې نشته، دخپل خان دخپل اولاد یادمور اوپلار سره طبعي محبت ده له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره طبعي محبت نه ده مراد. ځکه داسي خو هرکم خلک پیداکیږي چې ده ته ترخپل ځان مور اوپلار اواولاد ترټولو خلکو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ګران وي نومراد ورنه محبت عقلي ،ايماني او اختياري دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعني دامحبت دامعنا چې دسړي به د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره دومره مېنه وي چې ترخپلو خواهشاتو اودخپل مور اوپلار ترخواهشاتو دخپل اولاد ترخواهشاتو ، د ملکرو او حکومت بلکې دهرچاله خواهشاتو اوارزوګانو به، ده ته د نبي کريم صلی الله علیه وسلم ارزو قدرمنه وي، حتی دسړي خپل نفس غواړي چې بدکاري وکړي خود نبي کريم صلی الله علیه وسلم امر داده چې نه به يې کوي،داسړی به کامل مؤمن هلته وي چې دخپل نفس خواهش پرېږدي اودنبي کريم صلی الله علیه وسلم د امر سره سم عمل وکړي

دسړي موراوپلار ،دسړي نه يوڅه غواړي اودحضرت نبي کريم صلی الله علیه وسلم حکم بل څه وي نوداسړی به هلته دکامل ايمان څښتن کېږي چې دخپل موراوپلار اوخپل اولاد خبره،دخپلې ښځې خبره،دحکومت اوملګري خبره ټولې يې شاته وغورځولې،خودنبي کريم صلی الله علیه وسلم په امر باندې يې عمل وکړدادانسان په وس او اختيار کې شته

نوانسان هلته کامل مؤمن ګرځي چې دی دنبي کريم صلی الله علیه وسلم اوامر اونواهي ،هغه ته ترخپل ځان،مور اوپلار ټولونه مخکې کړي ،له دې وجې نه دغه انسان چې دنفس مقابله کوي دمور اوپلار اواولاد مقابله کوي،پده به قسم،قسم دخواهشاتوپه تقاضا ،تکليفونه راځي خوچې په چاکې دايمان کمال ؤ نوداټول تکليفونه ورته اسانه کېږي ،هغه بيا برداشت کولای شي، داوداسه په کولو کې،دلمانځه په کولوکې ، دروژې په نيولې کې ،دحج په کولوکې، دجهاد په کولوکې الغرض په ټولو کې انسان ته تکليفونه وي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوچې چاد نبي کریم ﷺ سره مینه پیداشوه، نوداتکلیفونه ټول ورته اسانه کیږي، بیاپه طاعت اوعبادت باندې خوندا خلي، حتی چې دصحابه کرامو په وخت کې داسې پیښنه وه ،بلکې په اوس وخت کې هم خلک شته چې دیوانسان پلار خدانخواسته په کفرکې وي اودشریعت حکم جهاد ورته متوجې شو،چې ته به جهادورسره کوې،نوداانسان به هلته کامل مؤمن وي چې دخپل پلار اواولاد هیڅ پروا ونلري اوجنګ اوجهاد اخیروژلوته یې تیارشي، خود نبي کریم ﷺ حکم نه ماتوي.

حتی خپل ځان قرباني ته تیارکړي، که څه هم انسان له ډول ، ډول تکلیفونو سره مخ وي ،خوهلته چې دشریعت حکم ده،هغه نشي ماتولی له خپل ځان څخه ورته د نبي کریم ﷺ حکم محبوب دی، دهغه ارزو ورته ګرانه شي، نودخپل ځان څخه تیرشي اومرګ قبول کړي ،خودهغه حکم نه ماتوي ،دخدای پاک جل جلاله حکم نه ماتوي، دغه مرتبه دکمال دایمان ده.

دصحابه کرامو دغه محبت دلوړې درجې ؤ، ځکه ددوی اطاعت هم ډېرؤ ،ولې چې ترټولوخلکو نه ددوی محبت زیات ؤ،ددوی معرفت دلوړې درجې ؤ ،دوی چې رسول الله ﷺ په کوم ډول پیژانده، نوروخلک چې دصحابه کرامونه چې راشاته دي هغوی ته داسې معرفت نه ؤ ترلاسه شوی ،ددوی علم د نبي کریم ﷺ په حال باندې علم شهودي ؤبه سترګوبې حالات لیدل،د رسول الله ﷺ معجزې یې لیدلې، دنزول حالات یې لیدل،نوددوی معرفت زیات ؤ درسول الله ﷺ مقام او

مرتبه په ښه توګه پیژندله ،څکه ددوی د رسول الله ﷺ سره مینه هم په لوړه کچه وه.

حضرت عمر رضي الله عنه رسول الله ﷺ ته وایي ماته تر پلار اواولاد اونوروټولوخلکوته ګران یې. ( الامن نفسي ) مګرله خپل ځان ځخه ته نه یې راته ګران

رسول الله ﷺ ورته وویل چې والله که ته ترهغه پورې کامل مؤمن شې چې ترځوله ځان ځخه زه درته ګران شوی نه یم حضرت عمر رضي الله عنه ورته وایي چې یو وار داسې خبره وي نووالله اوس ماته ترخپل ځان هم ګران یې

څکه دوی د نبي کریم ﷺ عظمت او لوړ والی د برپیژانده. له دغې وجې نه چې دخدای پاک جل جلاله له طرف نه دآدب حکمونه صحابه کراموته ( په سورة حجرات کې ) نازل شول چې تاسې دنبي کریم ﷺ په حضور کې په زوره زوره غږیدا مه کوئ په ټولو صحابه کراموکې درسول الله ﷺ قدراوعزت حضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضي الله عنه ښه پیژانده، دوی به ددغه آیت نه وروسته د نبي کریم ﷺ په مجلس کې داسې په آدب غږیدل لکه یوځوک چې چاته پټه خبرکوي،حتی دوهم وارې به ورته وویل شول چې څه وایې،د رسول الله ﷺ هم له دوی سره بې اندازې محبت اومینه وه،یوځل رسول الله ﷺ په مسجد کې روان ؛نوحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه ته یې یولاس په لاس کې ورکړی اوحضرت عمرفاروق رضي الله عنه ته یې بل لاس په لاس کې ورکړی

(c) ketabton.com: The Digital Library



او ورته وايي چې: مونږ به دقبرنه هم یوځای راپورته کیږو [مشکوة المصابیح/ج ۲/باب مناقب ابی بکر وعمر ص ۵۶۰] اودحشرپه میدان به هم یوځای ګرځو؛ خوسره له دومره نزدیکت اوشفقت بیاهم دومره چې دوی داریدل، نورصحابه کرام د دوی په شان نه داریدل.

دحضرت ذوالیدین رضي الله عنه مشهور حدیث دی، یووخت نبي کریم صلی الله علیه وسلم په څلورر کعتیزلمانځه کې سهوه شواودوه رکعته لمونځ یې وکړ، دحضرت ابوبکر صدیق رضي الله عنه اوحضرت عمر فاروق رضي الله عنه په شمول ډېر نورصحابه کرام هم موجود وو، حضرت ذوالیدین رضي الله عنه راغی رسول الله صلی الله علیه وسلم ته وایې یارسول الله! لمونځ لنډ شو اوکه له تاهیرشو؟

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایې چې یوهم نه دی شوی. دی ورته وایې چې نه صاحب! څه خو شوي، لمونځ دې کم وکړ، رسول الله صلی الله علیه وسلم له نوروصحابه کرامو رضي الله عنهم څخه پوښتنه وکړه چې همداسې لکه ذوالیدین رضي الله عنه چې وایې؟ نوروصحابه کرامو رضي الله عنهم ورته وویل هو! لمونځ دوه رکعته شو.

[مشکوة المصابیح/ج ۱/باب السهو ص ۹۲]

نورسول الله صلی الله علیه وسلم دوه رکعته نور وروسته وکړل

دلته محدثین کرام لیکي چې په دغوخلکو کې حضرت ابوبکر اوحضرت عمرفاروق رضي الله عنهما موجود ؤ اوپه دې غلطۍ باندې پوه هم شول چې لمونځ دوه رکعته وشو؛ خودوی څه ونه ویل، دا ولې؟

خواب داکوي چې ددوی دواړو له نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره بې انتهازیات محبت ؤ دهغه هیبت یې په زړه کې موجودؤ؛ نودوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې جرئت نه شوای کولای چې دوی په دې هکله له رسول الله ﷺ سره خبرې وکړي.

نو څومره چې څوک ډېر پیژني همدومره دده په زړه کې دهغه محبت زیات پیدا کیږي، همدومره دهغه نه خوف او ویره پیدا کیږي.

لکه چې علماء کرامو ته دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ معرفت زیات حاصل دی څکه دوی له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نه ډېر زیات ویریږي.

دصحابه کرامو چې له رسول الله ﷺ سره مینه ډېره لوړه کچه وه، وجه داوه چې دی یې ډېر ښه پیژانده.

نو سړی به هلته کمال ته رسیږي چې کله دده له رسول الله ﷺ سره له هرچانه محبت زیات شي

دمحبت بحث ډېر زیات دراز دی زه به یې دلته یو نمونې درته وړاندې کوم

## دمحبت علامات او نښې

نو دمحبت او مینې علامه داده چې څوک وایي زما له حضرت رسول الله ﷺ سره محبت دی، په دې دعوه کې به دی هلته رښتونی وي چې دی درسول الله ﷺ په سنتو باندې ځان برابر کړي، که څوک له رسول الله ﷺ سره دمحبت دعوه لري او په سنتو یې عمل نه کوي، په سنتو یې ځان نه برابروي؛ نو دی په دې دعوه کې درواغجن دی، څکه چاته چې څوک خوندور کوي ;نو دهغه جامه او لباس هم خوندور کوي، دهغه عادات او خویونه هم خوندور کوي او دا ټول په تمامه معنا په ځان کې راولي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



لکه څوک چې ډېر ته کيني نوورته وايې چې ماته انګريزي وينښته راجوړ کړه، څوک وايې ماته تبليغي وينښته راجوړ کړه، داولي وايي څکه چې ده ته دهغوى لباس اوعادات خوند ورکوي؛ نودچاچې له چاسره مينه وي ،کوشش کوي چې دهغه خوى ،عادات اواخلاق په ځان کې راولي.

دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره دمحبت علامه داده چې دسپري دقران عظيم الشان سره ډېره مينه وي، اوکه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت وي ؛نود رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له سنتوسره يې محبت وي.

هرولي چې دولايت مقام ته رسيږي نوهغه دحضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په متابعت باندې رسيږي ، چې څومره ډېرمتابعت وهمدومره دهغه ولي مقام لوړيږي.

حضرت مجددالف ثاني شيخ احمد سرهندي رحمه الله ،چې په طريقت کې يولوى عظيم الشان شخصيت تېرشوى دى او لوړ مقامات يې چې تر لاسه کړي دي ،دده نه څوک پوښتنه کوي چې دادومره غټ منصب خداوندمتعال په څه وجه درکړ؟

دى ورته وايې چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په متابعت مينه او محبت باندې.

دى مبارک وايې چې يووخت کې زه په ځاى کې په چپ اړخ څملاستم؛نويه ماباندې چې کوم فيوضات راتلل ،هغه بندشول، زه پوه شوم چې مادسنتوخلاف عمل وکړ؛خوداسې هم نه چې په ځاى کې په ښي اړخ واوړم،ماويل چې بې ادبي دې وکړه، بيرته ولاړ شوم اوبيا کيناستم اوبيا په ښي اړخ باندې څملاستم ،چې دسنتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



متابعت په کامله توګه راشي؛نودخداوندمتعال له خواداسې فیوضات راباندې راخلاص شول چې دبروخت مې نه وو لیدلي

[مقدمة التصوف ص ۲۰/ ۲۱]

سنن ابن ماجه لیکي چې یوواړه سنت ،لکه دبيت الخلا ته دننوتلو په وخت کې چپه پښه مخته کړي اود راوتلو په وخت کې ښي پښه رامخته کړي .ددغې وا ړه سنت ژوندي کول تریولوی حسنه بدعت نه ،لکه مدرسه جوړول، هم دبرزيات ثواب لري

[ سنن ابن ماجه /ص ۳/ حاشیه ۹ بحواله ، انجاح الحاجة ]

سره له دې چې مدرسه بدعت حسنه دی ،خومره غټ کارونه ښکې کیږي خودغه سنت چې دخلکو ترپامه یوعادي شی ورځي .ددغه ثواب ورباندې دبرزيات دی

په حدیث شریف کې راغلي چې دیوه سنت ژوندي کول،په وخت دفساد دامت کې دسلو شهیدانو اجر لري [مشکوة المصابیح /ج ۱/ باب الاعتصام بالکتاب والسنة ص ۳۰ ] ځکه دین د رسول الله صلی الله علیه وسلم په سنتو ژوندی دی ،که سړی بزرګي کوي اودشریعت موافق نه وي، نوکله دهغه اخري خاتمه خرابه شي اوکافر اوزندیق شي.

نوموږ اوتاسو که داغواړو چې په دیني امورو کې دې زموږ ترقي وشي،دخدای پاک جل جلاله او رسول الله صلی الله علیه وسلم سره موږ نږدیکت پیداشي ؛نوباید داکوشش وکړو چې دشریعت په چوکاټ کې باید ځان برابر کړو اوامر به ځای کول ،دګناهونوځخه ځان ساتل،ځان په سنتوبرابرول

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوڅچې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره څوک مينه لري نوڅچې په خوب کې يې ليدلی وي هغه څيره دي وربه زړه کوي، که يې نوي ليدلی اوحج ته تللی وي نو دروضې مطهرې څيره دې وربه زړه کوي، که نوې نودرود شريف دې په داسې اخلاص سره وای لکه دی چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضور کې مخامخ چې ناست وي اوهغه يې په سترګو ويني، کله چې دسړي دومره ادب اوعقيده پيداشوه، دسنتو اوشريعت پابندشو ،شوق اواخلاص پيداشو؛نوبيا خداوند متعال په يوه واړه عمل سره انسان ته دومره درجې وربه برخه کوي چې بل يې په کلنوکلنو کوي دهغه دومره درجې نه ځګيرږي؛ يوسړی به په کلونو،کلونو لګياوي دهغه عبادت به يې ثواب وي لکن رتبه به يې نه ځګيرږي، يعنې قرب به نه ورته پيداکيږي اويوڅوک چې يو واړې داخلاص ماده پکې موجوده شوه،سينه يې صفا شوه،محبت موجود شو، دهغه رتبې بيا داسې ځګيرږي لکه ددنيا دصاحب منصبانو رتبې چې ځګيرږي، هغه بيا په واړه عمل خداوند متعال ته دومره نژدې کيږي چې نور خلک په ډيروعملونو دې مرتبې ته نه رسيږي ، لکه داحديث مونږ ډير ځله ذکر کړی دی چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايې چې په صحابه کرامو پسې بدمه وايې ،که تاسو دأحدغره په اندازه سره زر صدقه کړی ،دهغوی ديوپاؤ يانيم پاؤ صدقې ته هم نه رسيږي. [صحيح البخاري فضائل اصحاب النبی صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ باب ۵ ؛ مسلم فضائل صحابه ؛ رقم الحديث ۲۲۱/۲۲۳]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه په هغوکې اخلاص ،صداقت اومحبت موجودؤ، کارېي ربښتوني ؤ د دوی د رسول الله ﷺ سره ډيره مينه او محبت ؤ،حضرت صديق اکبر رضي الله عنه ټول جايداد په رسول الله ﷺ باندې قربان کړی، حتی دومره دصحابه کرامو دومره مينه او محبت ورسره ؤ چې کله به دده له مجلس نه جدا شول نوګوښې به خوراک اوڅښاک خوند نه ورکاوه، منډې به يې وهلې اود رسول الله ﷺ مجلس ته به يې ځان رساوه.

حتی صحابي مبارک دکفاروپه لاس کې بندي ده ،دپانسی حالت ده ،کفار ورته وايې چې تاته دا محبوبه ده چې ته خلاص وای اوپه خپل کورکې وای اورسول الله ﷺ مودتاپه ځای نيولی وای او پانسی کړی موواى؟ پدغه به ته راضي وي؟ دی ورته وايې چې داخوڅه کوئ چې زماپه ځای دې هغه پانسی وای،والله چې دی هلته په کورکې وي دده په پښه کې اغزی ولاړ شي هم که ماته دامحبوبه وي او نه يې زغملی شم.

سبحان الله! رسول الله ﷺ څومره په دوی ګران ؤ.

دده دوفات نه وروسته چې دی ددنيا نه انتقال شو چې داغږ په ټوله علاقه خپورشو چې رسول الله ﷺ ددنيانه رحلت وکړ، حضرت عمرفاروق رضي الله عنه غوندې شخص چې څومره غټ علم اوقوي استعداد خداوندمتعال ورکړی ؤ خومحبت يې په دومره لوړه کچه ؤ چې دهغه حواسو کارپرېښود،توره يې راويستله چې که چاداغږ وکړچې رسول الله ﷺ وفات شو، زه به سر ورنه پرې کړم. 1البداية والنهاية احتضاره ووفاته ﷺ / ج ۲ / ص ۱۶۵۴

(c) ketabton.com: The Digital Library



دېر صحابه کرام په نفس غړ اوریدلو لیونیان شول، عقلونوېه یې کارپرېښود، حضرت عبدالله بن زید رضي الله عنه په باغ کې ؤ چې خبر شو چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو؛ نوهلته خدای پاک جل جلاله ته دعاکوي چې اې خدایه! چې زما دسترګو سړ والی خود نبي کریم صلی الله علیه وسلم په دیدار کې ؤ اوس چې هغه ولاړ؛ نورې مې سترګې ړندې کړې چې په نورچامې سترګې ونه لګیږي. په هغه ځای یې خدای دعاقبوله کړه اوسترګې یې ړندې شوې

په احد کې چې کله جنګ شروع شو یوصحابي مبارک درسول الله صلی الله علیه وسلم مخې ته ودریده اوځان یې ډال کړترڅوپه رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دغبشي، تورې یا نیزې وار ونه لګیږي .نوداصحابي مبارک (۷۳) ځایه زخمي شو

[البدایة والنهایة فصل فیما لقی النبی صلی الله علیه وسلم یومئذ من المشرکین قبحهم الله /ج ۲/ص: ۶۵۴]

دیوې ښځې د احد په غزا کې دخپلې کورنۍ غړي هریو پلار، میړه او ورور درې واړه شهیدان شوي دي .خوچې کله یې دامخته راغې اورسول الله صلی الله علیه وسلم نه وینې؛ نواول له هرڅه نه مخکې درسول الله پوښتنه کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم حال څه ډول دی؟ چاورته وویل چې دتاپلار، میړه او ورور شهیدان شوي دي دا ورته وایې چې هغوی پرېږده دهغوی غم ماته درسول الله صلی الله علیه وسلم دغم نه ګران او سخت ندی. [سیرة النبی پښتو ترجمه عنوان دمدینې په لوراودمدینې او... نه هیریدونکې ولولې ص: ۴۰۹]

دېته واقعې عشق وایې ،چې خپل ځان یې مرګ ته ورکاوه ،دخپل اولاد مرګ ته تیارؤ ؛خودې ته نه ؤ تیار چې درسول الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



صلی الله علیه وسلم په ښېښه کې دې يو ازغی قدر هم ولاړ شي، دامحبت چې ددوی دومره ډېرۀ وجه داوه چې دوی د رسول الله صلی الله علیه وسلم عظمت په ښه توګه پيژانده ؛نوهيبت يې په زړه کې ؤ،محبت اوعشق يې په زړه کې ؤ.

دازمونږ طريقت هم، دصحبت طريقت دی ،ډېره ترقي چې په دې کې په مخ باندې راځي هغه په دې باندې چې دخپلو مشائخو سره داسې اخلاص موجود شي لکه دصحابه کرامو اخلاص چې له رسول الله صلی الله علیه وسلم سره موجود ؤ.

داچې سړی په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې عاشق کيږي،دهغه له پاره اول شرط داده چې سړی به په خپل شيخ باندې عاشق کيږي ،چې دې ته دتصوفو په اصطلاح کې فنافی الشيخ ويل کيږي، دفنافی الشيخ دامعنا ده چې دهغه خپل شيخ احوال ،حرکات اوسکنات به ده ته ترهرڅه شي محبوب وي ،کوشش به کوي چې دهغه په نقش قدم باندې ځان برابر کړي

نود خپل شيخ سره محبت دڅه وجې نه ده ،دده دشخصيت له وجه دی؟ نه دده دشخصيت له وجې خونه دی، بلکې ددې وجې نه دی چې شيخ د نبي کريم صلی الله علیه وسلم وارث دی ،اوس چې له خپل شيخ سره ددين په خاطرمينه پيداشوه، داپه واقع کې دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مينه ده؛نوخدای پاک جل جلاله دهغه دهدايت لارې اسانه کوي، بيا د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره مينه اوعشق پيداکوي.

اود رسول الله صلی الله علیه وسلم سره عشق دڅه وجې نه وي؟!!

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې وجې نه ده چې دی دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه مونږ ته پیغمبر ده ؛نو دهغه دعشق په واسطه بیا دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دعشق لاره پیدا کوي؛نوفنا فی الشیخ مقدمه دفنافی الرسول ده اوفنا فی الرسول مقدمه دفنا فی الله لپاره ؛ حضرت سلطان محمود غزنوي صاحب روان دی دوخت یوجید عالم ابوالحسن خرقاني رحمه الله ته څوک ورلیږي چې ورشه ! چې امیرالمومنین دې غواړي ،دوخت بادشاه دې غواړي.

ده ورته وویل چې زما اودهغه څه دي؟ زه یو ملنګ یم اوهغه بادشاه دی بیا دباشاه قاصد ورته وایې چې ﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ أَطِيعُواْ ٱللَّهَ وَأَطِيعُواْ ٱلرَّسُولَ وَأُوْلِي ٱلۡأَمۡرِ مِنكُمۡ ﴾ [سورة النساء، آيت ۵۹] چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اطاعت وکړئ، دهغه درسول اطاعت وکړئ،دخپلوامیرانو اطاعت وکړئ.

ابوالحسن خرقاني رحمه الله ورته وایې چې زه داطیعوا الله نه اطیعوا الرسول ته هم نه یم ورخلاص [تذکرة الاولیاء پښتو ص:۲۴۰]

چې یو څل محبت دالله تعالی سره پیداشو بیا رسول هم له منځ څخه وزي، دپیغمبر سره محبت دڅه په خاطرده؟ خودالله تعالی ددین په خاطر ده ،دغه ټول له منځه وزي. یعني ددوی سره عشق ددوی دخان په خاطر نه شي، بلکې بیا یواځې په دغه خاطر شي چې دی دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دوست ده،نو( الحب فی الله ) په خاطر محبت ورسره کیږي، چې هغه دایمان دکمال مرتبه ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو کوشش دې سړی داکوي چې ځان دې د سنتو تابع کړي ، ځان دې د شریعت پابند کړي، زمونږ د طریقت اول شرط دا ده چې سړی به په شریعت ځان برابر وي.

چې یو خل ځان په شریعت برابر شو ،اخلاق او عادات په شریعت برابر شو ،بیا به د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عمل کې ترقي راولي. بیا الله تعالی فرمایي: ﴿ وَالَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ﴾

[ سورة العنکبوت آیت : ۶۹]

ژباړه : او هر څه هغه کسان چې کوښښ کوي تل په ( دین د ) موږ کې خامخا و به ښیو هرو مرو ( خامخا ) دوی ته لارې خپلې ( چې موږ ته پرې راځي ) .

یعني چې څوک زما د دین په لارکې کوشش کوي زه بیا د خپل ځان د دیدار لارې ورته خلاصوم، زما په طرف په اسانه طریقه راتلای شي، که اطاعت نوي، محبت نشي پیداکیدای چې محبت نشو پیدا، فنا نشې راتلای او چې فنا رانغله بیا به سړی نا امیده پاته کیږي. او هغه بیا کامیابي هم نشي تر لاسه کولی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۲۹) مجلس

## د حضرت امام اعظم ابوحنیفه رَحِمَهُ اللهُ مناقب او علمي مقام

یو خلیفه صاحب بیان راته کاوه چې په یوه کور کې ناست وم نو ګورم چې په تاخچه کې څه انوار پورته کېږي، سمدلاسه ورپورته شوم چې په نوموړي تاخچه کې یو زوړ کتاب پروت ؤ، کله مې چې زاواخیست د امام رباني صاحب رحمه الله مکتوبات شریف ده، داچې د کور څښتن ته یې قدر معلوم نه ؤ، نه یې پېژانده. د کور څښتن ویل چې دلته کوم مُلا ایښی ده، خو دغه خلیفه صاحب چې د فراست څښتن و، معلومات ورته وشو.

نو د هرچا د کتاب چې څوک مطالعه کوي نو له هغه سره یې تعلق او محبت پیدا کېږي او څومره چې تعلق او محبت پیدا کېږي دغومره دهغه انسان طرف ته فیوضات وریه برخه کېږي

د یو چا په باب علمي معلومات چې سړی پیدا کړي نودا ډېر ضروري شی ده، بیا خاصکر د طالبانو له پاره، مونږ د مذهب په سلسله کې د امام صاحب پیروان یو، خو که دهمدغه امام صاحب د علمي خدمتونو او نورو کراماتو او علمي مقام په باره کې څوک پوښتنه رانه وکړي نو مونږ طالبانو ته بیا په دې باره کې هېڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلومات نه وي. همدارنګه مونږ د نقشبندیې طریقې پیروان یو، خو که له مونږ څخه یو څوک د شاه نقشبند، یا امام مجدد الف ثاني (قدس الله سرهم) په باره کې پوښتنه وکړي، دهغوی معلومات له مونږ څخه وغواړي، یا د حضراتو مبارکانو په باره کې یوڅوک راڅخه معلومات وغواړي نو مونږ یې په خواب کې هېڅ هم نه لرو، وجه داده چې محبت کم وي نو دهغوی دژوند حالات مو مطالعه کړي نه وي.

خبره چې کره او دسند ور ګرځي دا هلته چې له مونږ سره دهغې خبرې په اړه کره علمي معلومات هم وي، له دې سره شوق هم زیاتیږي.

## دامام اعظم ابو حنیفه رحمه الله دژوند حالات

حضرت امام اعظم ابوحنیفه رحمه الله چې مونږ یې په مذهب یو؛ په (۸۰) هجري کال کې پیدا شوی اویه (۱۵۰) یا (۱۵۱) یا (۱۵۲) هجري کې یې له دې فاني دنیا څخه دتل له پاره سترګې پټې کړې مشهور قول داده چې په (۱۵۰) هجري کې وفات شوی ده. (مشکوة المصابیح / ج: ۲ / الباب الثاني في ذکر اصحاب الاصول ص: ۱۶۲۴) دی په خیرالقرون کې د تابعینو په مقام کې ده. په یو روایت کې راځي چې څلور صحابهٔ کرام رضي الله عنهم یې لیدلي او بل روایت کې راځي چې اته صحابهٔ کرام رضي الله عنهم یې لیدلي دي. دامام صاحب لمسی دده په باب کې وایي چې: کله امام صاحب پیدا شو نو خپل پلار حضرت ثابت رحمه الله حضرت علي رضي الله عنه ته ورووړ او حضرت علي رضي الله عنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هم ده ته او هم دغه ماشوم [ امام صاحب ] ته د خیر او برکت دعا وکړه، نو دهغې ښکلې دعا داثر نتیجه ده چې الله تعالی دده په اولاده کې دا د علم سلسله جاري کړه [مشکوة المصابیح /ج ۲ /الباب الثاني فی ذکر اصحاب الاصول ص ۶۲۴]

حضرت امام صاحب په فقهه کې دومره ژور معلومات لري چې دده په باره کې حضرت امام شافعي رحمه الله فرمايي: ( الناس عیال ابی حنیفة فی الفقه ) په فقهه کې ټول خلک د امام صاحب عیال دي

[مشکوة المصابیح /ج ۲ / الباب الثاني فی ذکر اصحاب الاصول ص ۶۴۷ بتغیر لفظ . مرقاة المفاتیح ، شرح مشکاة المصابیح ، ج: ۱ /ص ۷۷ . بهذا الفظ ]

۱ - یوځل دحضرت امام شافعي رحمه الله په مخکې چا په امام صاحب رحمه الله کې څه خبره وکړه ، ده راوغوښت اوورته وې ویل: چپ شه دهغه چا په هکله کې خبرې کوې که دا علم په څلورو برخو وویشل شي نو درې برخې یې د امام صاحب سره دي او په څلورمه کې هم دنوروخلکو سره منازعه کوي ،چاپوښتنه ورنه وکړه داڅرنګه ؟

ده ورته وویل: فقه عبارت ده دسوال اوځواب نه ،ټول علما دامنې چې دسوالونو اجادامام صاحب کړی ،اوپه ځوابو کې دده سره اختلاف ده چې داجواب حق ده اوکه نه ؟ اوس سوالونه دده شول نیم علم ، جوابونه هم نیم دده په جانب ، اوپه هغه څلورمه برخه کې هم دلائل وایي . [مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- حضرت امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ وايي: ما له حضرت امام مالک رَحِمَهُ اللهُ نه پوښتنه وکړه چې تا حضرت امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ ليدلی؟ ده راته وويل: هو! حضرت امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ يو داسې متبحرعالم دی، دمثال په توګه که دلائل په دې درته شروع کړي چې دامته (ستنه) چې د سيمتوده، اودی ووايي چې نه، دسروزروده نودابه په دلائلو باندې ثابته کړي چې دسروزروده
(مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۱۷۸)

## امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ به دامام صاحب په زيارت کې خپل مذهب پريښود

۳- حضرت امام شافعي د امام صاحب د وفات په کال پيدا شوی. د امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ مسلک داده چې د سهار په لمانځه کې دعاء قنوت وايي او چې رکوع ته ځي په همدغه وخت کې لاسونه پورته کوي او چې کله له رکوع نه راپورته کيږي نو هم لاسونه پورته کوي

نو يوځل امام شافعي رَحِمَهُ اللهُ بغداد ته ولاړ او د حضرت امام ابوحنيفة رَحِمَهُ اللهُ زيارت ته ورغی اودوه رکعته لمونځ يې پکې وکړ، او(رفع اليدين) يې ونه کړو اويادادوه رکعته دسهارلمونځ واودعای قنوت يې پکې ونه ويله، نودده نه پوښتنه وشوه چې تاخپل مذهب ولي پريښود؟ ده ورته وويل: ماخپل مسلک پريښود

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددغـه لوی امام دادب لـه وجې ،دامې مناسب ونه ګڼړله چې دده دزیارت په خواکې زه دده دمذهب خلاف عمل کوم.
[مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۸ .]

له دې واقعې نه سړي ته ډېر معلومات په لاس ورځي. یو داچې زیارت ته تګ ثابت شو ځکه ټول ائمهٔ کرام زیارتونو ته تلل، له دې سره سره د قبر آداب هم ثابت شول ځکه امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ دامام صاحب دزیارت دومره ادب کوي چې دچاپه وس کې نشته ، سره له دې چې بالذات شاګرد یې هم نه ده، بلکې بالواسطه یې شاګرد ده، ځکه دی د حضرت امام محمد صاحب شاګرد ده، نو امام شافعي صاحب دومره ادب کوي چې د امام صاحب له قبر سره یې دخپل مذهب معمولات پرېښودل اود امام صاحب په مذهب یې عمل وکړ.

٤- امـام شـافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ وایي: ټول خلک په فقه کې دامام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ اولاد ده. د امام شافعي رَحِمَهُ اللّٰهُ نه په بل روایت کې راغلي اووایي:دچا چې داقصدوي چې زه لـه ځان بنـه او بې ساری عـالم جوړ کړم، نو یـه علـم فقـه کـې دامـام صـاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ اودده دشاګردانو اتباع وکړي. [مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۸ .]

## د حضرت امام ابوحنیفه رَحِمَهُ اللّٰهُ تقوا او سخاوت

۱- ( وما استظل بحائط المدیون حین اتـاه متقاضـیا ) دامـام صـاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ به چې په چا قرضه باندې وه نو چې کله به د قرضي دمطالبې لپاره ورغی ،دهغه ددیوال ه سوري ته به نه کیناست اولمر ته بـه ولاړو

(c) ketabton.com: The Digital Library



له د نه چاپوښتنه وکړه چې ولې د دېوال سوري ته نه دریږي ؟ ده ورته وویل چې حدیث شریف دی ( کل قرض جرنفعا فهوربا) هرهغه قرض چې فایده وربانديې واخیستل شي هغه سود ده ،نوداسې نه چې زه دده د دیوال په سوري فایده واخلم په سود کې واقع شم

۲- یوځل یې مضارب ته دتجارت (۲۰۰۰۰) روپۍ لپاره ورکړي وي ، په تولويې جامې اخیستې وي کله یې چې راوړي نو یوه دانه پکې عیبجنه وه ؛ده ورته وویل چې کله یې په چاخرڅوي نو عیب یې ورته وښایه ! هغه جامې خرڅې کړې اوعیب یې هیرشو ،چې ده ته یې داحال ووایه، نوسم دستي یې دغه ټوله سرمایه اوګټه صدقه کړل ،ځکه شک پکې پیدا شو.

[مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۸ .]

۳- دحضرت امام صاحب په هکله راځي چې یو وخت دده په علاقه کې یو پسه ورک شو ،نوامام صاحب پوښتنه وکړه چې دپسه اخري عمرڅوکاله وي ؟ په خواب کې ورته وویل شول چې (۷) کاله نو ده تر(۷) کاله پورې دپسه غوښه نده خوړلې ،چې کیداې شي په قصابۍ کې هغه ورک شوی پسه حلال شوی وي

[مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۹ .]

٤- المثنی ابن رجاء وایي : چې دايي په ځان لازمه کړې وه ،چې کله زه دخپرو په منځ کې په جائزه طریقه هم قسم وکړم نو زه به یو دینار صدقه کوم ،اوچې کله به په دغه طریقه حانث شو یو دینار صدقه به یې کوله .اوچې په خپل عیال به یې څومره نفقه کوله ،دغومره شی به یې صدقه کول . [مناقب الامام ابی حنیفة ص ۱۰ .]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵- حضرت وکیع رحمه الله وایي : امام صاحب رحمه الله به چې کله نوې جامې وکړې نو دغو پیسو په انداز به یې خپلو ټولو استاذانو ته جامې وکړې. او چې کله به ده ته ډوډۍ راوړلې شوه ، نو دوه برخې به یې فقیرانو او مسکینانو ته وکړه ، کله چې دده په زوی (حماد) خپل استاذ قرآن کریم ختم کړ نو (۵۰۰) درهم یې دده استاذ ته هبه کړل [مرقاة المفاتیح شرح مشکاة ص ۷۷.]

۶- محمد ابن جابر رحمه الله وایي : امام صاحب رحمه الله به ډیرې کمې خبرې کولې او چې کله به پوښتنه ورنه وشوه داسې بیان به یې وکړ لکه دریاب چې روان شي ، خندا یې هم کمه وه او دخدای په مصنوعاتو کې به یې فکر کاوه ، همیشه به دقیامت په هکله غمجن ولکه ډیر غټ غم چې ورته پیښ وي [مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۹]

۷- امام ابویوسف رحمه الله وایي زه یوځل دامام صاحب سره روان وم ، یو سړي بل ته وویل چې دغه امام ابوحنیفه رحمه الله ټوله شپه نه ویده کیږي ، امام صاحب وویل : زما دې په خدای تعالی قسم وي چې بیان دې نشي زما نه هغه څه چې زه یې نه کوم ، نو ددې نه وروسته یې ټوله شپه خوب نه کاوه . [مناقب الامام ابی حنیفة ص ۱۲.]

۸- ابوسفیان وایي : چې موږ به عمروبن مرة ته ورتلو ، نو امام صاحب رحمه الله مولید چې دماخستن اوسهار لمونځونه یې په یوه اودس کول . [مناقب الامام ابی حنیفة ص ۱۲]

۹- یحیی الحمانی دخپل پلار نه روایت نقل کوي چې هغه وایي ما دامام صاحب سره شپږمیاشتې ملګرتیا وکړه ، دا ټول وخت به ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دسهار لمونځ دماخستن په اوداسه کاوه اوهره شپه چې بیګاه به یې قرآن شروع کړ سهار به یې ختم کړ (مناقب الامام ابی حنیفة ص ۱۲)

۱۰- حضرت مثنی رحمه الله دحمید له مور (چې دامام صاحب رحمه الله دزوی پرورش کونکې وه) نه نقل کوي، هغه دامام صاحب دبي بي نه روایت نقل کوی وایي کله چې زما او دامام صاحب تر منځ دواده خپلولي منځ ته راغلې، ده د شپې خوب نده کړی ده به دګرمي په موسم کې دماسپښين اومازديګر تر منځ خوب کاوه او په ژمي کې به یې دماښام اوماخستن ترمنځ خوب کاوه.

(مناقب الامام ابی حنیفة ص ۱۲)

۱۱- یحیی بن ایوب الزاهد وایي امام صاحب ټوله شپه خوب نه کاو، حضرت عاصم وایي: چې ده دومره لمونځونه کول چې دی دډیري مضبوتیا (کلکوالي) له وجې په میخ نومول کیده امام زفر وایي: چې ټوله شپه یې خوب نه کاو او په یوه رکعت کې یې ټول قرآن کریم ختم کاوه (واسد بن عمرو وایي: چې څلوېښت کاله ده دماخستن په اودس دسهار لمونځ کړی او ده به په لمانځه کې دومره ژړل چې دګاونډیانو به زړه وربانديږ وسوځیده چې دادومره ولې ژاړي. او په کوم ځای کې چې دی دفن دی هلته ده مبارک (۷۰۰۰) واري قرآن کریم ختم کړی، کله چې دی وفات ونو حسن بن عماره ده ته غسل ورکوي او ورته وایي: خدای تعالی دې تا ته مغفرت وکړي ته خو هغه څوک یې (چې مسلسل دیرش کاله تا روژه ونیوله، اوڅلوېښت کاله تا دشپې خوب نده کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[مرقاة المفاتح شرح مشکاة ص ۷۷]

۱۱ - حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ ٱللَّهُ وایي : یوه ورځ مونږ دامام صاحب سره په جامع مسجد کې لمونځ کاوه، دمسجدله چت څخه دده په غیږ کې مار راولوېده خلک ټول وتښتیدل اودی دځپل ځای څخه هم ونه ښوریده ، صرف دومره یې وکړل چې ماریې ایسته کړ. [مرقاة شرح مشکوة ج ۱ ص ۷۲]

۱۲ - له حضرت خارجه ابن مصعب رَحِمَهُ ٱللَّهُ نه روایت ده وایي : هغه څلور ائمه کرام دي چې په یوه رکعت کې یې قرآن کریم ختم کاوه : عثمان بن عفان ، تمیم الداری ، سعیدبن جبیراوابوحنیفة رضی الله عنهم اوامام صاحب به په روژه کې (۲۰) خله قرآنکریم ختم کاوه (۳۰) خله په تراوکې او (۳۰) ځله په تهجدوکې.

[مناقب الامام ابی حنیفة ص: ۱۳]

۱۳ - حضرت زائدة وایي : مادامام صاحب سره په جومات کې دماخوستتن لمونځ وکړ ،دیوې مسئلې دپوښتنې لپاره ورغلی وم، دده ماته پام نه و اوبه لمانځه ودرید قرائت یې شروع کړ کله چې دې ایت ته ورسید: (فَمَنَّ ٱللَّهُ عَلَيۡنَا وَوَقَىٰنَا عَذَابَ ٱلسَّمُومِ ۝) نوبارباریې وایه آن تر دې چې دسهار اذان وشو اوزه ورته انتظار وم.

[مناقب الامام ابی حنیفة ص: ۱۳]

۱٤ - حضرت قاسم وایي : امام صاحب دغه پورتنی آیت په لمانځه کې شروع کړاوباربار یې وایه ژړل یې او خدای تعالی ته یې عاجزی کوله. [مرقاة المفاتح شرح مشکاة ص ۷۷]

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵- اوس نو په دغه امام صاحب پسې دغه بې ادبه ،داخبره کوي چې امام صاحب قیاس ته په نص ترجیح ورکی ؛داخبر ده ته ورسېده نوده وویل :

هغه څه چې دحضرت رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه راغلی وی ،ماپه سراوسترګو منلي اوچې دصحابه کرامو نه راغلی په هغوکې به یې غوره کوو اوکوم چې دتا بعینو( خپل وخت ملایانو ) نه راغلي نوموږ هم رجال یودوی هم [مرقاة المفاتح شرح مشکاة ص۷۷]

## په حدیثوکې دحضرت امام اعظم رَحِمَهُ اللهُ احتیاط

امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ په اوداسه کې نیت شرط نه بولي ،نوسوال کیږي : چې دنیت په هکله هغه ده حدیث راغلی (انما الاعمال بالنیات ) او امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وایي : چې اودس داسې مثال لري لکه دکالیو مینځل (هغه خونیت ته ضرورت نلري ) نونیت دده په نزد شرط نده ،نوهغه ده قیاس ته یې په حدیث ترجیح ورکړه ؟

ځواب : امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ قیاس ته په حدیث ترجیح نه ور کوي ،بلکې ددغه نه دده احتیاط رامعلومیږي ، اصل کې په نبیذالتمرکې اختلاف ده ،امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وایي : په نبیذالتمر ( دخرماوبه ) اودس جائزده اوعام علما وایي چې په نبیذالتمر اودس نده جائز ځکه چې مطلقې اوبه نه دي.

امام صاحب رَحِمَهُ اللهُ وایي : ځکه اودس وربانديې جائزده چې صریحې نص پکې راغلی روایت کې راځي . چې کله حضرت رسول

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله صلی الله علیه وسلم په ليلة الجن کې پيريانو ته د دعوت لپاره ورغی ،چې بېرته راوګرځېده نو حضرت عبدالله ابن مسعود رضی الله عنه ته وايې : نبيذالتمر درسره شته ؟ هغه ورته وايې : هو ! نو په هغو اوبو يې اودس وکړ.

اوس نو امام صاحب رحمه الله وايي چې عقل خو داوايې چې په دغو اوبو دې اودس جائز نشي ،ځکه چې مطلق اوبه نه دي من کل الوجوه ؛ددغې وجې چې کله مطلق اوبه موجودې وي نو په دغو اوبو اودس نده جائز.

اوس نو امام صاحب رحمه الله وايي چې نص موجود ده نو قياس ته ضرورت نشته اوبل طرف ته غسل هم نده وربانديې جائز ، ځکه حديث خاص په اوداسه کې راغلی اونبيذالزبيب ، نبيذالعسل ته هم اعتبار نشته ځکه چې نص نه ده پکې راغلی.

نو امام صاحب رحمه الله وايي چې کله موږ قرآني نص يا نبوي حديث نه ده پيدا کړی ،هلته مو بيا له اجماع وروسته قياس ته اعتبار ورکړی ، که نه چې يو ځل حديث موجود وي بيا قياس ته ضرورت نشته . نو امام صاحب د نصوصو ډير اهتمام کاوه.

## دامام ابوحنيفة رحمه الله دفقاهت بشارت

حضرت امام ابوحنيفه رحمه الله يو وخت خوب وبنی ، چې زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په قبر لګيا يم آن تر دې چې د ده وجود مبارک مې را لوڅ کړ، نو بيا يې دخوبو معبر( معنا ورکوونکي ) محمد بن

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیرین رحمه الله ته څوک ولیږل ،چې ددې خوب معنا څه ده ؟هغه یې داتعبیر وکړ: چې صاحب ددغه خوب تعبیر او معنا داده چې خدای پاک به په دین باندې داسې پوهه ورنصیب کړي چې ستانه به مخکې هېچا ته هم نه ده وریه نصیب شوې ،چې هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم له حدیثو نه به د مسائلو استنباط را ایستل دي.

[مرقاة المفاتیح شرح مشکاة ج: ۱ / ص: ۷۲]

له دغې وجې نه چې ده د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت په ځان باندې په پوره او ښه توګه عملي کړې ؤ (د رسول الله صلی الله علیه وسلم امت په ټولو امتو باندې زیات ده ،لکه روایت کې راځي چې په ورځ دقیامت کې به (۱۲۰) صفه خلک وي (۸۰) صفه به د رسول الله صلی الله علیه وسلم امتیان وي ) نو دده هم اتباع دغومره زیات دي دوه ثلثه امت دده اتباع دي، کوم ملکونه چې دده په مذهب دي لکه افغانستان ،ایران څه برخه دعراق څه سیمه د بخارا ، سمرقند ، سوډان ، سوریه ، اردن ، شام ، پاکستان ، هندوستان ،بنګال ، ترکیه او کشمیر ،چې مخکې ټول حنفیان و او اوس هم اکثره حنفي مذهب لارویان دي

نودا د ده دمقبولیت علامه ده ،چې رب کریم دده په قول اوعمل کې دومره اثر ایښی ، ددنیا علماوو دده تا ئید کړی اودده په مذهب یې مشرف کړي دي

[مرقاة المفاتیح شرح مشکاة ج ۱ / ص ۷۴]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۰) مجلس

## که څوک له مهلکاتو ډډه وکړي نو د تلپاتې ژوند ښېګړې او راحتونه به يې په برخه شي

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ، عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ: «اجْتَنِبُوا السَّبْعَ الْمُوبِقَاتِ»، قَالُوا: يَا رَسُولَ اللهِ وَمَا هُنَّ؟ قَالَ: «الشِّرْكُ بِاللهِ، وَالسِّحْرُ، وَقَتْلُ النَّفْسِ الَّتِي حَرَّمَ اللهُ إِلَّا بِالْحَقِّ، وَأَكْلُ الرِّبَا، وَأَكْلُ مَالِ الْيَتِيمِ، وَالتَّوَلِّي يَوْمَ الزَّحْفِ، وَقَذْفُ الْمُحْصَنَاتِ الْمُؤْمِنَاتِ الْغَافِلَاتِ»﴾

[صحيح البخاري ج: ۱/ ص: ۴۹۳ / رقم الحديث: ۲۷۶۶]

ژباړه: له حضرت ابو هريره رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي: رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويلي: له اوو مهلکاتو ګناهونو ځخه ځان وساتئ؛ صحابه کرامو عرض وکړ داڅه دي؟

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل: ۱- له الله تعالی سره شريک نيول ۲- جادو. ۳- هغه څوک وژل چې مرګ يې ناروا وي، مګر په حق. ۴- دسود خوړل. ۵- ديتيم مال په ناحقه خوړل. ۶- په جنګ کې له کفارو څخه تښتېدل. ۷- او په پاک دامنو مؤمنو ناخبرو ښځو دزنا تور لګول

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې الفاظو مبارکوڅخه داسې معلومیږي چې انسان ته دګناهونوپه سبب هلا کت اوتباهي پیداکیږي.

دنیکو اعمالو په سبب باندې انسان ته حیات اوژوندون پیداکیږي اودبدو اعمالو په واسطه باندې انسان ته مرګ اوهلاکت پیداکیږي.

ددنیاوي ژوندون او حقیقي ژوندون په څیر هلا کت هم په دوه ډوله دی (۱) دنیاوي هلا کت. (۲) او حقیقي هلا کت.

دنیاوې ژوندون خودخلکو په فکرو باندې دې ته ویل کیږي چې انسان خوراک اوڅښاک کوي اودمرګ تروخته پورې داشپیته یا پنځوس کاله دژوند شیبې تیروي.

حقیقي ژوندون داده چې سړی دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په دین باندې ژوندی شي،دهغه په برکت باندې چې کوم انسان ژوندی شو بیا په دې ظاهري مرګ چې سړی مړشي ،هغه نه مري،دشهداء په باب کې خداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ په قرانکریم کې خپله فیصله کوي چې هغه څوک چې دخدای پاک په دین باندې مړشي ،هغوی ته مړه مه وایئ ،هغوی ژوندي دي.

په ظاهري ډول خوکفن ورکوو،غسل ورکوواوجنازه ورباندې کوو،مال یې ویشو ، ښځه که ولري ،هغه بل څوک په نکاح کوي،اوس دمړو ټول احکام ورباندې جاري شول، خوخداوندمتعال ورته ژوندي ویلې دي،نوداکوم ژوندون دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



داهغه حقیقي ژوندون دی چې دهغه ژوندون په واسطه دانسان نه روح وختله،هم دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دعبادت نه ،نه غافله کیږي،په قبرکې دجنت ترداخلیدوپورې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په عبادت باندې لګیاوي، حتی په جنت کې به هم عبادت وي، که څه هم هلته عبادت نشته،انسانورباندې مکلف ندی، پدغه عبادت به دوی خونداخلي، انبیاء کرام،اولیاء کرام اوشهداء ته خداوندمتعال حقیقي ژوندون وربه نصیب کړي

**مـرګ** : مرګ دوه ډوله دی صوري او حقیقي

۱- یوظاهري ( صوري ) مرګ دی،چې دانسان نه روح وختله نومړشو

۲ - بل حقیقي مرګ دی چې دابدي تباهي سره مخامخ شو،که څه هم هغوی( کفار) په دنیا کې ژوندکوي ،خوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ هغوی ته په قرانکریم کې مړه ویلي دي

﴿ يُخْرِجُ ٱلْحَيَّ مِنَ ٱلْمَيِّتِ وَيُخْرِجُ ٱلْمَيِّتَ مِنَ ٱلْحَيِّ ﴾ (سورة الروم آيت ۱۹)

په دې آیت کریمه کې مفسرین یوتفسیر دا هم کوي چې مړی دژوندي نه پیداکوي،یعنې کافر له مسلمان څخه پیداکوي، پلاریې مسلمان زوی یې کافر،نواګرکه دوی خوراک اوڅښاک کوي،تګ راتګ کوي، خوبیاهم خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دلته کفارو ته مړي ویلي دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه چې ددين په حيثيت باندې مړه دي،حقيقي هلاکت يې نصيب شوی دی، چې په دنياکې هم سرې خوار، ذليله اوشرمنده وي اوپه اخيرت کې هم ورباندې شرميږي.

نورګناؤ په هکله رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د(الْمُوبِقَاتِ) مهلکاتو لفظ ويلی دی ،چې داسړی ورباندې خرابيږي ،ياپې رتبه ورباندې ختميږي اوياد هغه هلاکت اخروي عذاب سره سړی مخامخ کيږي.

له حضرت جابر ابن عبدالله رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روايت دی وايي : چې د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې بدبويي پورته شوه، حضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وويل چې دا په کوم ځای کې منافقين د مسلمانانو په غيبت لګيا دي.

[تنبيه الغافلين / عربي / مکتبه حقانيه / ص ۸۶ / رقم الحديث: ۱۹۷]

نو دلته دمسلمانانو په غيبت باندې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته بدبويي ورسيده ،لکه شی چې مردار شي اودهغه نه وروسته شی اوبدبويي وکړي، نوددګناؤ داسې بدبويي موجوده وي

اګرکه محدثين کرام اعتراض کوي چې په يوه ځای کې په هغه وخت کې غيبت وشو،رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته يې بدبويي ورسيده اونن سبا ټول خلک په غيبتونوکې لګيا دي اوددې په بدبويي باندې خوڅوک نه پوهيږي ؟

نوځواب داکيږي چې نن سبا فضا ټوله خرابه شوې ده،هلته وخت ښه ؤ ،خلک نيک ؤ چاګناوې نه کولې، که ګنا به ورنه وشوه،نوسمدستي به يې توبه ايستله، نوهوا اوفضا ټوله صفا وه .

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوپه هغه وخت کې به چې لړ بدبويي دګنا اثر موجود شو نو سمدستي به ټول خلک وربانديې پوهيدل، نن سبا څکه نه پرې پوهيږي چې فضاتوله دګناهو په کدوراتو لړلې ده دښه او بدبوی توپير څوک نشي کولی.

دتقوی اثر داده چې په چاکې خداوندمتعال هغه حقيقي ژوندون پيداکړی وي چې ګناؤ ته ورنږدې شي ،نوزړه يې نه منې ،حتی ديوشي حلا لتوب اوحراموالي له قرانکريم اوحديث څخه معلوم نوي،يوکاردی،تجارت دی يايوبل کاروبار خوکوي، خوچې سړی متقي وي که په هغه شي کې شک ؤ اوپه هغه شي کې حرمت ؤتاته نده معلوم ،نودستي دې زړه بنديږي.

د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه څوک پوښتنه کوي دګناؤ علامه څه ده.سړی به ګناه په څه پيژني؟ نو رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وويل چې: ﴿ اِسۡتَفۡتِیۡ قَلۡبَکَ دَعۡ مَا یَرِیۡبُکَ اِلٰی مَا لَا یَرِیۡبُکَ... ﴾

[جامع الترمذی ج ۲ ابواب صفة القيامة ص ۷۸.]

ژباړه : له خپل زړه نه فتوا غواړه هغه څه پرېږده چې تاته شک پکې در لويږي او هغه کوه چې شک نه پکې در لويږي.

يعنې چې دتاپه زړه کې يې شک درولويږي چې داکاروکړم اوکه نه ؟ نوته پوه شه چې داګناه دی، داپه هغه ځای کې چې نه آيت شريف تا اورېدلی وي اونه حديث شريف اونه دفقهي حکم تااوريدلی وي، کله چې زړه صفا شو ،حقيقي ژوندون حاصل شو نودهغه حرمت او خباثت دستي ورته معلوميږي بيا زړه په تردد کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي زړه یې نه غواړي چې داکار وکړم، داحقیقي ژوندون چې راغی بیا سړی دګناؤ اوهلاکت نه بچ کوي، اوپه حرامو باندي نه لګیا کیږي ،چې نفس دحرامو اوګناؤ ځای راځي زړه دي دستي قبض کیږي اوحکم کوي چې داشی ناروا دی.

حضرت عبدالخالق غجدواني رحمه الله خپلومریدانوته نصیحت کوي اوپه نصحیت کې ورته مهم شی داښیي چې دګناهونوځان ساتئ؛ حتی داورته وایي چې دهلکانو او نا محرمو ښځواو دنیادارو (غنیانو) له مجلسونوڅخه ځانونه وساتئ؛ ،ځکه هلک چې ږیره یې نه وي،ښځه چې نامحرمه وي،غني چې ددغوسره دتا تعلق جوړ شي دادتا ددین غله دي.دیانت دي درخرابوي. [حضرات کرام نقشبندیه / ص ۱۶۷]

حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي چې غلط نظر دشیطان دهغه غشي په شان دی چې په زهروککړ وي. [احیاء علوم الدین /ج ۱/ الفصل الثاني في اسرار الصوم وشروطه الباطنه / ص: ۳۲۹]

یعنې چې په دغه غشي انسان ولې ، لکه دانن سبا چې یوقسم زهري ګولۍ دي چې سړي ورباندي ولګیږي بیا نه جوړیږي؛نوچې سړي په غلط نظرلګیا شو داجاسوس ده،نودستي د ګناومحبت زړه ته اچوي ،دستي زړه ته رسیږي.

نواصل عمده شی دادی چې سړی دګناهونوڅخه ځان وساتي، ځکه هغه سړی تباکوي ،مړکوي یې ، کله چې له ګناهونوڅخه ځان وساتل شو نوبیا په کم عمل دومره فائدې مرتبې کیږي چې بل څوک یې په شوارزکې کوي اوبویاک سړی یې په یوه منټ کې کوي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغه دشواروز دعمل نه ددغه یووار چې سبحان لله ووایې ډېر ثواب لري.

داچې سرې دتقوا حالاتو ته وګوري، ﴿ ٱلْحَمْدُ لِلَّهِ رَبِّ ٱلْعَٰلَمِينَ ۝ ٱلرَّحْمَٰنِ ٱلرَّحِيمِ ۝ مَٰلِكِ يَوْمِ ٱلدِّينِ ۝ ﴾ پورې ټول دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ صفات دي، حمد اوثنا ده ،هغه داسې چې:

الله تعالی پالونکی دټولو مخلوقاتو دی، ټول خلک ده پیداکړي اوروزي ورکوي ،ترمړګ پورې یې تربیه کوي، خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رحمن دی، چې غټ اوواړه نعمتونه ددنیاټول درکوي، په خلکو باندې رحیم دی چې ټول داخرت نعمتونه ورکوي، مالک یوم الدین ) دی دجزا دورځې څښتن دی، چې هلته سوال اوجواب ،عذاب اوثواب هرڅه دده په اختیارکې دي، هلته بیا دبل چا تصرف اوقدرت نشته، تردې ځایه چې قرائت وویل شو نواوس خبره دخدای پاک سره شروع شو، (ایاک نعبد) ای خدایه پاکه ! خاص تاته عبادت کوم ،غږ ورته کوي،خطاب ورته کوي، مخامخ خطاب ورته کوي [حضرات کرام نقشبندیه / ص:۱۶۷]

بیضاوي ( ص:۱۴ / المکتبة العربیة ) لیکي چې اول دکلام یې په سورة الفاتحه کې په داسې طرز بیان کړ چې اول حال دعارف ( سالک او مرید )دی چې یو یې ابتداي حالت دذکر دی اوبل یې انتهایي حالت دي، نو په اول وخت کې به مرید ذکر کوي: الحمدلله ، اوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په مصنوعاتواونعمتونو کې به سوچ اوفکر کوي، چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په ماڅومره ډېر انعامات کړي دي،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داچې وشو چې هلته انسان همیش په ذکر باندې لګیا ؤ،خدای پاک همیش ورته یادؤ، همیش دخدای پاک په احساناتو کې ذده سوچ ؤ ،چې حدای پاک په ماخومره نعمتونه لورولي دي، اوهلته دقیامت دورخې سوچ ورسره پیداشي چې که زه هرڅه کوم هلته بیا له ماسره محاسبه کیږي،نوانسان کرار،کرارکوشش شروع کړي، بیا مقام دواصلینو ته ورسیږي ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته رسیږي، مشاهده ورته پیداشي:( ایاک نعبد) بیا مخامخ دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ سره خبرې شروع شي، هغه انتهامقام دمرید دی، دایې ابتدایي حالت دی ،په ابتدایي حالت کې به ذکر کوي ،په ابتدایي حالت کې به مراقبې کوي، په ابتداکې به کوشش کوي، دګناهونونه به ځان ساتي، ځکه (مالک یوم الدین ) دی،هلته دعذاب ورځ راروانه دی، جهنم را روان دی، سوال اوجواب راروان دی، کله چې په انسان کې ددې خبرو سوچ اوفکر پیداشوبیا کشف ورته پیداکیږي، مشاهده ورته کیږي، بیا هغه تجلیات اوانوارالهي په سترګو باندې ویني، بیا نو دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ سره مخامخ خبره شروع شي.

﴿ إِيَّاكَ نَعْبُدُ وَإِيَّاكَ نَسْتَعِينُ ۝ ﴾ مونږ روزانه له نفلوڅخه پرته په (۳۲) رکعتونوکې الحمدلله وایو، خوداکثرو معنا ته وریام هم نوي، په سوچ کې موهم نراخې چې دچاصفت کوو،چاته څه وایو،(ایاک نعبد) چاته نعره کوو؟ ( وایاک نستعین ) دچانه کومک غواړو؟

د﴿ ٱهْدِنَا ٱلصِّرَٰطَ ٱلْمُسْتَقِيمَ ۝ ﴾ دچانه دحقې لارې دهدایت غوښتنه کوو؟

داغفلت په مونږ کې ولې دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو په ذکر باندې نه یو لګیا ،اصل ذکر داده چې دانسان نه غفلت لرې شي، په هرحال کې يې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په یاد وي، نوکه لمونځ کوي ،هم الله تعالى به دې یاد وي، په حضور به يې کوي، دریا لپاره به نه وي، ددنیا دبل غرض لپاره به نوي، بلکې دخدای پاک له رضا پرته بل دهیڅ شي لحاظ به نوي پکې ، که علم کوي،که جهاد کړي،که روژه نیسي،که حج کوي، که زکات ورکوي، که صدقه ورکوي، که هر نیک عمل کوي، دخدای درضا نه ماسوابل څه نیت او مقصد به دې نوي.

کله چې دانسان ذکر په دې طریقه شو چې غفلت ورنه لرې شو، بیا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه دافیض اوبرکتورباندې کیږي چې درحمت دروازې ورباندې راخلاصیږي.

نوذکر مقصد داده چې په انسان کې دادتقوا اواحسان اواخلاص حالات پیداشي، چې هره معامله يې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا لپاره شي.

نوله ګناهونوڅخه به ځان ساتي، په نیک عمل کې به کوشش کوي، بیا خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ اثر مرتب کوي.

داچې زمونږ ډیر ملګري ( مریدان ) داسې وي چې ډیروخت په وظیفوکې تیرکړي،اوسره له هغه هم په اثر يې نه پوهیږي ددغه بنیادي دوه غټې وجې دي:

۱ - داچې دمریدانو احوال مختلف دي،پدغه کې بایدڅوک بیا وسوسه ونه کړي،مونږ چې دتصوفو څومره کتابونه کتلي نودا لیکي چې په انسانانوکې فرق شته،بعضې داسې مریدان وي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وظيفې يې پای ته رسولې وي بیاهم په هیڅ نه پوهيږي، حتی دی به په خپله بزرګۍ لاته پوهيږي، خودده مشائخوته به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په ده علم ورکړی وي ،دده مقام به ورته معلوم وي، نوداچې دستاربندي ورته کوي، یا اجازه ورته کوي، نوځه پکې وینی.

نوباید دامایوسي له چاسره پیدانه شي، چې زه په وظیفه نه پوهيږم، نونه يې کوم، کیدل شرط دي، پوهیدل شرط نه دي، که مونږ پوهيږو اوکه نه پوهيږو دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حکم ده ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ﴾ [سورة البقره آیت : ۱۵۲] یا ﴿ يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اذْكُرُوا اللَّهَ ذِكْرًا كَثِيرًا ۝ ﴾ [سورة الاحزاب آیت : ۴۱]

نودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ حکم دی ،ذکربه کوو.

۲ – بنیادي علت دموجوده وخت دطریقت دبندښت اورکاوټ لپاره داده چې مونږ له ګناهونوڅخه دده او پرهیز نه کول ، یاموخبرې جیګې اوتیټې ،یامواعمال جګ اوټیټ دي یا نفقه ټیټه اوجیګه وي، دنظرحفاظت نشته،دغوږوحفاظت نشته،دژبې حفاظت نشته،داندامونوحفاظت نشته، په عباداتوکې کوشش نشته،نوڅرنګه به سړی په وظایفوپوه شي.

ددنیاکمال چې یوسړی حاصله وي نوهلته يې حاصله ولی شي چې چا کوم شی ایجاد کړی اودهغه دحاصلولو لپاره يې چې کوم قانون وضع کړی وي دهغه قانون په مطابق ولاړشي ،یوانجنیرده ،تیپ یارادیو جوړوي ته به دهغه شاګردي کوې،هغه پرزې به زده کوې بیا به يې عملي کوې بیا ته انجنیر کیدلی شي ، چې الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



تعالی کوم قانون رالیږلی اورسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کوم قانون مونږ ته بیان کړی ،ائمه کرامو یې کوم جزئیات مونږ ته بیان کړي ،نومونږ که وغواړوچې پدغه لار کې پرمختګ وکړو الله تعالی ته به ورسیږو ،پدغه قانون چې هغه قرآن حبل الله متین ده چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته به رسیږو چې پدغه باندې عمل کوو نودګناه نه به ځان ساتو.

ددې خارجي مثال داده چې جاپان موټرجوړ کړی دی،دده موټر انجن ته به یو دتیلو پائپ ورغلی وي یوبه دابو پائپ ورغلی وي.

داوبو پائپ خپل کار کوي چې هغه ماشین نورمال ساتي ، دتیلو پائپ خپل کار کوي چې دهغه په ذریعه انجن چلیږي.

اوس که دتیلوځای ته چاداوبو پائپ برابر کړ اوداوبو پائپ یې دتیلو ځای ته برابر کړ ؛نوبیا موټرچلیږي؟

نوچې ددنیا په تخنیک کې انسان پرزه بدله کړه هغه چې کوم شی جوړ کړی ده ،دده په قانون ونه چلاو نوموټر په ځای ودریده.

دانسان وجودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ جوړ کړی داد برپه حق کیږي،ځکه چې دالله تعالی بنیاد دی.

نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایې ﴿ الانسان بنیان رب ملعون من هدم بنیان الرب ﴾

بنده دالله تعالی بنیاد دی ،حضرت ادم عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ یې پخپله بلاکیفه پیداکړی ده،په هغه انسان باندې لعنت دی چې دالله تعالی بنیاد ړنګوي ،ددغې وجې نه چې یوانسان چاپه ناحقه مړ کړ لکه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دټولې دنیا انسانان یې چې وژلې وي اوچې یوانسان یې دمرګ څخه خلاص کړ لکه چې دټولې دنیا انسانان یې چې ژوندي کړي وي، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیادیر خوشحالیږي لکه په دې آیت کریمه کې یې چې اشاره ورته کړې او فرمایي:

﴿ مَن قَتَلَ نَفْسًا بِغَيْرِ نَفْسٍ أَوْ فَسَادٍ فِي الْأَرْضِ فَكَأَنَّمَا قَتَلَ النَّاسَ جَمِيعًا وَمَنْ أَحْيَاهَا فَكَأَنَّمَا أَحْيَا النَّاسَ جَمِيعًا ﴾ [سورة المائده آیت ۳۲]

ژباړه: بېشکه شان دادی هر څوک چې ووژني یو نفس بې له (عوض، بدل د) بل نفس نه (یا بې) له فساده په ځمکه کې (چې ملک کې یې فساد کړی وي) نو ګواکې ټول خلک یې وژلي دي، او هرچا چې ژوندی کړو دغه (یو نفس چې دژوندون سبب یې شي) نو ګواکې ژوندي کړي یې دي ټول خلک.

اوس دغه پرزې چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په انسان کې پیداکړې ددغې چې خپل چوکاټ بشودلې ده چې سترګې به څرنګه مستعملوي،ژبه به څرنګه استعمالوي، غوږونه به څرنګه مستعملوي، ټول اندامونه به څرنګه مستعملوي، چې دبنده مصنوع په هغه طریقه ونه چلوي،نوولاړ ختم شو. نودالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ مصنوع چې الله تعالی جوړکړی ده هغه چې په هغه چوکاټ کې ونه چلوي؛نوهغه انسان به بیا څرنګه ترقي وکړي خوداترقي هلته راځي چې پدغه چوکاټ سرې وچلیږي

دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ شکریه دیته ویل کیږي چې کوم اندامونه یې چې دکوم غرض لپاره درکړي،ته یې په هغه کې مستعمل کړې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ادي دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ شکریه اداء کړه ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ بیا درته راضي کیږي

اوادخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وعده ده .﴿ لَئِن شَكَرْتُمْ لَأَزِيدَنَّكُمْ ﴾ [سورة ابراهیم آیت :۷]

ژباړه : قسم دی که چیرې شکر وویست تاسې (په تیرو نعمتونو احسانونو زما) نو خامخا به زیات کړم تاسې ته نعمت

اوشکریه یې دغه ده چې کوم اندام یې دکوم غرض لپاره پیدا ده په هغه کې مستعمل کړی شي ،دنیایي دکوم غرض لپاره پیدا ده ،په هغه کې مستعمله کړ شي ،اهل یې دځه لپاره پیدا ده په هغه کې یې مستعمل کړی؛

نوچې دده په چوکاټ شو نودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درسره وعده ده چې ترقي به درته راځي

په مخکې غتوغتودرسي کتابونوکې لکه حسامي ،حاشیه شرح العقاید ، بیضاوي شریف ، مشکوة شریف،مرقات،اومسلم ثبوت کې تاسو وګورئ؛داسې اولیاء کرام تیرشوي دي چې دابویه سربه یې جای نمازونه وغوړول داوبو په سربه په لمانځه ولاړ اوډوبه ول به یې نه

دشرح العقائد حاشیه [ص:۱۰۶] رانقل کوي چې شیخ احمدبن خضرویه رَحِمَهُ اللهُ سره له زرو مریدانو دابو په سره تګ اوپه هوا الوتل کول ،داکرامت انسان ته الله تعالی دځه لپاره ورکړی ده ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا راز شیخ ابوعبدالله یافعي رَحِمَهُ اللهُ دمکې معظمې امام ویلي دي چې شیخ رکن الدین الملتانی رَحِمَهُ اللهُ او شیخ نصرالدین سراج الدهلوی رَحِمَهُ اللهُ به دماخستن لمونځ په حرم شریف کې کاوو

[شرح العقائد ص:۱۰۶]

نوبو شریعت ده چې کتابونو یې مونږ وایو اوبل طریقت ده چې دغه به مونږ په ځان عملي کوو، بل حقیقت ده چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په هغه نتیجه مرتبه کوي، اوکشف سړي ته پیداکیږي، مشاهده به درته پیداکیږي،بیا به کرامات ورته پیداکیږي، خومطلوب زمونږ کرامات نه دي

مطلوب زمونږ استقامت ده، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له مونږ نه داستقامت غوښتنه کړې ده، رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ زمونږ نه داستقامت غوښتنه کړې ده،چې ځان په شریعت برابر کړئ

کرامت مونږ څۀ کوو ،که دچا په لاس یې ښکاره او که نه دادخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ کار دی،داکرامت څۀ کوو چې سړی په هواکرځي خدانخواسته اخیره خاتمه یې خرابه وي، اصل لوی کرامت داده چې ایمان وساتل شي اوبه ایمان کې سړی مړشي

نودانسان دترقي دانسان دحقیقي ژوندون مانع مهلکې ګناوې دي، ګناوې چې په انسان کې خای ونیسي بیا حقیقي حیات او ژوند له منځه ځي ،په انسان کې ترقي نه راځي، هغه کمپنۍ دانسان په مخ باندي نه ځي اوکه انسان په شریعت باندې ځان برابرکړ دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وعده ده چې دنیوي او اخروي کارونه به یې ټول برابر وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



درسول الله صلی الله علیه وسلم له بعثت نه مخکې ډېرصحابه کرام رضی الله عنه په کفراوشرک کې ؤ،بت پرستي يې کوله، په هغه وخت کې لائق دلعنت ؤ،لائق دغضب ؤ ،لائق دعذاب ؤ؛خوچې کله يې کلمه وويله په اسلام مشرف شول نوبيا دتقوا هغې درجې ته ورسيدل چې هيڅوک نشي ورسيدلی،هغه انسانان ؤ چې تراسلام نه مخکې کافران ورته ويل کيدل خوله اسلام نه وروسته بيادخدای پاک جل جلاله دوستان شول.

حضرت عمر فاروق رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه وسلم ته مخامخ وايي چې له اسلام نه مخکې په ټولو انسانانوکې ترټولونه ته په مابد لګيدلې خوچې نن مې کلمه وويله په ټوله دنياکې ماته محبوب هم ته يې.

داحضرت عمر رضی الله عنه هلته دجاهليت په وخت کې مقام درلود بيا په اسلام کې ددغه تقوی په برکت خدای پاک جل جلاله بيا داسې اثرېکې پيداکړ. چې يوڅوک يې په نيکيو او مناقبولېکنه وکړي ،نو خدای خبر چې څومره کتابونه به يې لېکنه ځای کړي

## له حضرت عمر رضی الله عنه سره سمندراوغرونه خبرې کوي

تاريخ ابن هشام دحضرت عمر رضی الله عنه په باب کې ليکي چې ده دجهاد لپاره تياری شروع کړ چې په ايران اوفارس باندې يې حمله کوله ،خلکو ته يې حکم وکړچې خانونه تيارکړئ ،کله چې دجهاد شپې رانږدې شوې درې شپې دی ورک شو،منافقينو اعتراضونه شروع کړل چې اميرالمؤمنين خلک جنګ ته راوبلل اودی په خپله

(c) ketabton.com: The Digital Library



پټ شو، درې ورځې وروسته چې راغی نو خلک یې راټول کړل خلک پوښتنې ورنه کوې،دی ورته وایې چې زه دلارې دمعلوماتو لپاره تللی وم، (دعربو له علاقې نه دریاب راتاودی) وایې چې دریاب ته ورغلم ،دریاب ته مې وویل چې زمامجاهدین راروان دي اوبه تاباندې تیریږي دفارس اوایران طرف ته روان دي ،ته به څه معامله ورسره کوې؟ ګوره چې غرق یې نه کړې، وایې چې اوبوراته وویل چې داخو څه کوې چې په کشتیوکې راځي که دتا عسکر په ماباندې راغلل مونږ به ټول ورته یخی شو چې پښې یې هم لندې نه شي. دا څه تعجب خبره نه ده ، حسامي او شرح العقاید [ شرح العقائد ص:۱۰۶ ] په بیان دکراماتو کې دا واقعه رانقل کړې ده چې درود نیل داعادت ؤ چې په هرکال کې به په هغه معلوم وخت دی دریده ترهغه به نه روانې ده چې ترڅو به یې یوه پیغله ښه سینګار کړې نه وه او رود نیل ته به یې نه وه ورغورځولې

حضرت عمر رضي الله عنه یوه وړه پرچه کې ورته ولیکل چې ای دریابه! که په خپل اختیار روان یې نو مه څه ،که دخدای پاک په امر روان یې نو زه هم هغه الله ته سوال کوم چې تا روان کړي.

هغه کاغذ یې چې دشپې ورواچاوه سهار تولو خلکو ولیدلو چې شپاړس ګزه او چتې اوبه پکې روانې وې ، دیوه نیک انسان دیوې رقعې په برکت ټول خلک خدای پاک له لوی امتحان څخه وژغورل او دټول عمر له پاره ورنه خلاص شول.

[مرقات المفاتح کتاب المناقب باب مناقب عمر رضي الله عنه / ج ۱۱ /ص ۲۰۵ ،
جامع کرامات الاولیاء ج: ۲ / ص: ۱۲۸]

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوبیا وچې اوغروته ورغلم چې که زما عسکر اومجاهد درته راغلل ته به څه ورسره کوئ؟ دازما مجاهد چې ستړي نه شي،وایې غره راته وویل چې مونږ به هوار شو اودتامجاهد به ستړي نه شي.

په مدینه منوره کې یووخت ګرمه هوا راغله،حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ګوته ورته وښوروله چې اې هوا ! پدې مدینه کې دخدای نظام چلیږي،دلته عدل ده چې دلته مسلمانانو ته تکلیف ورنکړي هوا ودریدله چې ترڅو دی ژوندی و په مدینه منوره باندې بیاګرمه هوا رانغله.

یووخت کې زلزله شوه زمکه یې په تازینه (قمچینه) ووهله چې ولې په تاباندې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نظام نه دی جاري؟ چې ترڅو دی ژوندی ؤ په هغه زمکه باندې بیا زلزله رانغله.

[جامع کرامات الاولیاء ج: ۲ / ص: ۱۲۸]

امام فخر الدین رازي رَحِمَهُ اللهُ دسورة الکهف په تفسیر کې لیکي چې په مدینه منوره کې په یو کورکې اور ولګیده، حضرت عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ په یوه خیره داسې ولیکل: یانار اسکنی باذن الله ) یعنې اې اوره ! دالله تعالی په اذن قرار شه ، نو دغه ټوټه یې اور ته ورواچوله هغه سمدستي مړ شو.

[جامع کرامات الاولیاء ج: ۲ / ص: ۱۲۸]

دادومره کرامات،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په څه ورکړي ؤ؟ په دغه دین یې ورکړل ،له اسلام نه مخکې څه تو؟ اودڅه شي مستحق ؤ؟ چې بیا یې اسلام په ځان عملي کړ په اسلام مشرف شو بیا خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څومره عزت ورکړ.

داخو هغه کرامات دي چې په غټو کتابونو کې رانقل شوي دي نور دتاريخ کتابونه ځيني داسې شيان بيا نوي چې دبعضې خلکو زړونه نه لوېږي. هريو صحابي ته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ همدغه کرامات ورکړي دي.

## دحضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ كرامت

له حضرت عبدالرحمن بن ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا نه روايت دى وايي: چې حضرت ابوبكر صديق رَضِيَ اللهُ عَنْهُ درې تنه ميلمانه كورته بوتلل او دى له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ولاړ.

چې كورته ناوخته راغى دخپلې بي بي نه پوښتنه كوي چې ميلمنو مړى وخوړه؟ بي بي ېې ورته وويل چې نه .هغوويلې چې ترڅو حضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه وي راغلى ترهغه پورې موږ ډوډى نه خورو.

حضرت ابوبكر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ سخت خفه شو چې د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ميلمانه دي،هغه ماته حكم كړى ؤ اومادډوى مړى دومره وخنډوله نوېه كوركې كم شى و هغه يې ورته تيار كړل.

نوچې ډوډۍ په خوراک يې شروع وکړه چې ګوله به يې پورته کوله هلته به نوره په کاسه کې راپيداکيدله :نوېه هغه لېږ ډوډۍ ميلمانه او كورنۍ ټول ماړه شول.

حضرت صديق اكبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ خپلې بي بي ته وايې چې ته څه خيال كوې چې دا ډوډۍ څرنګه ده هغه ورته وايې چې والله

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترمخکې نه اوس درې چنده زیاته ده بیاپه کورکې چې څومره ژ هغوتوولو دامړي، وخوړله دهغه نه بعدېې رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته ورولیږله، د نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په کورکې دا دوه ایښې ده وایې چې دیوقوم سره زمونږ معاهده وه دهغه قوم سره سهار زمونږمعاهده ماته شوه خلک ټول سره تیت پرک شول دولس نفره دلته دنبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ کورته راغلل له هر سړي سره ډیرنفرو والله اعلم نوهغه ډوډۍ یې وخوړله اوټول ورباندې ماړه شول.

[جامع کرامات الاولیاء/ج/۱/ص ۱۰۴]

داچې څومره خلکوته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددنیا اواخیرت اعزاز نصیب کړی داپه دین باندې دعمل کولو په وجه ورنصیب شوی ،داپه تقوی ورنصیب شوی، خوشریعت دواړه اړخه لري ،چې نیک عمل به کوي،دبدوکارونوڅخه به ځان ساتي. بیا یعنوانسان ترقي کوي، بیا به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته نږدې کیږي ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به دغه انسان ته دغسې عزت ورکوي.

الحمدلله دازمونږ اوتاسې دطالبي اواسلام اونیک ژوند ،په بې شمیره روپیو هم چاته نه پیداکیږي ؛خولکن که ددغې ژندګې قدر مونږ ونه پیژنو ،لیرې به شو،دمجلس سره څه احتیاط وکړو ،د ماحول سره،دخوراکونوسره اودچښاک سره ؛نوبیابه ددغوشیانو خوند حسآ موږه درک کړو لکه سړی چې خوږشی وخوري په ژبه پوهیږي چې خوږه ده، نویه قسم درته وایم چې بیا به ددغه عبادت خوند داسې درک کوو لکه یو خوږ شي چې خورو او موږ ته داجوتیږي چې خوږ دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په عبادت کې د حِسي خوندمثال

یوه ورځ ماته یوملګري حال بیان کړ الحمدلله زمونږ دموجوده وخت په طالبانومریدانوکې داسې خلک شته ،نورخه نه بیانوم بواځې داچې دی وایې چې دعبادت په وخت کې ماته دومره خوندپیداشي ،دلمانځه په حالت کې بیاخاص کر دسجدې په حالت کې دومره فیوضات راځي ،داسې خوند راته پیداشي چې دډېره خونده داسې حس کوم چې هډوکې مې مات شول،لکه هغه یوشی چې ډېرخوږشي بیخې یې برداشت نشې کولای

په عبادت کې دومره اندازه خوندورته پیداکیږي ،داددغه دین احترام دی.ددغه دین وجه ده، چې ددغه دین په برکت باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په یوه انسان کې ددین مینه دومره اعزازاودومره ذوق پیداکوي ،دغه هغه حسي ذوق ده،زړه یې خوند پرې اخلي، اندامونه اوژبه یې خوندپرې اخلي اودخونداخیستل هلته راځي چې سړی ځان کنترول کړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۱) مجلس

## دشریعت خلاصه ، علم ، عمل اواخلاص دی

حضرت مجدد الف ثاني رحمه الله فرمايي چې شريعت ددنيا او اخيرت دسعادت اوښېرازۍ ضامن دی. يعنې څوک چې په شريعت باندې عمل غوره کړي خداوندمتعال جل جلاله دغه انسان ته په دنياکې هم سعادت اونيک بختي پيداکوي اوپه اخرت کې هم سعادت اونيکبختي ورته په نصيب کوي.

لکن دی فرمايي چې شريعت دڅه شي نه عبارت دی چې سړی دهغه په سبب اوبرکت باندې په دنيااواخرت دواړوکې دسعادت ور وګرځي؟نوپه مکتوبات شريف کې ليکي چې شريعت له دريوشيانو څخه عبارت دی: علم ،عمل اواخلاص.

يوواربه په دين باندې ځان خبروې بيابه دهغه خپلې خبرې سره موافق په هغه به عمل کوې،اوبيا به په هغه عمل کې مخلص وې هغه عمل به دې دخدای پاک جل جلاله درضا لپاره وي ،دادرې صفات چې په چاکې جمعه شي چې علم ،عمل اواخلاص،ده ددغوخلکو سره دخداوندمتعال له طرف نه وعده ده،دحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوله مبارکه ددغو خلکو سره وعده ده چې خداوندمتعال جل جلاله دغه مسلمان په دنياکې هم کاميابه کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوپه اخرت کې هم ، دصحابه کرامو رضي الله عنهم په باب کې باربار په قرانکریم کې درضایت اظهار کوي: ﴿ رَضِيَ ٱللَّهُ عَنْهُمْ وَرَضُواْ عَنْهُ ﴾ [ سورة البينه : ۸ ] ژباړه : راضي به وي الله تعالى له دغو ( مؤمنانو څخه په طاعت سره ) . او راضي به وي دوی له هغه ( الله تعالى څخه په ثواب ) .

اوس دا صحابه کرامو رضي الله عنهم ته چې دغه مقام خدای پاک جل جلاله ورنصیب کړ داله څه وجې نه ؟

ځکه دادرې واړه شقه په دوی کې موجود و ، هرالهي حکم به چې نازلیده نودوی به کوشش کاوه. رسول الله صلی الله علیه وسلم ته به یې ځان ور رساوه په هغه مسئله باندې به یې ځان خبراوه ، اوبیابه یې هغه مسئله او حکم په ځان منلو ، حتی حضرت عمر رضي الله عنه سورت البقر دقرانکریم په دونیم کاله کې خلاص کړی. ځکه چې هرآیت به یې وویلې نومخکې به نورآیتونه نه ویلې ترڅوچې هغه به یې په ځان عملي کاوه.

نوعلم ؤ ددین په مسئلو یې ځان خبراوه اوبیا به یې سمدستي په هغه عمل کاوه ، اوپه عمل کې به مخلص ؤ ، دومره اندازه هغوی دعلم اومعرفت سره شوق اوذوق درلود چې قران اوحدیث ددوی په صفتونو باندې ډک دی اودومره اخلاص پکې موجود ؤ چې اکثرو به کوم عمل وکړ خدای پاک جل جلاله به دستي آیت نازل کړ چې زه پدغه عمل ددوی نه راضي یم

حضرت علي رضي الله عنه څلور دیناره یوپه شپه صدقه بل یې په روڅ کې صدقه کړ یوپه پټه بل په ښکاره خدای پاک جل جلاله دستې آیت

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازل کړ: ﴿ ٱلَّذِينَ يُنفِقُونَ أَمْوَٰلَهُم بِٱلَّيْلِ وَٱلنَّهَارِ سِرًّا وَعَلَانِيَةً فَلَهُمْ أَجْرُهُمْ عِندَ رَبِّهِمْ وَلَا خَوْفٌ عَلَيْهِمْ وَلَا هُمْ يَحْزَنُونَ ﴿٢٧٤﴾ ﴾

[سورة البقرة]

ژباړه: هغه کسان چې صدقه کوي مالونه خپل (دالله په لار کې) په شپه کې په پټه او په ښکاره په (شته) دوی ته اجر (ثواب) د دوی په نزد درب د دوی. او نشته (هیڅ ډول (طریقه)) ویره په دوی باندې او نه به دوی هیڅکله غمجن کیږي (دثواب په نقصان سره).

[تفسیرمظهر ج: ۱/ ص: ۴۳۰]

دهغه وخت څلور روپۍ یې صدقه کړې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ یې په قرانکریم کې دستې ذکروکړ که کمکی عمل ؤ هم دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره.

حضرت ابوبکرصدیق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څلوېښت زره روپۍ. لس زره په شپه کې لس په ورځ کې ،لس زره پټې لس زره په ښکاره صدقه کړې [مکاشفة القلوب ص: ۲۳ باب الفضلة] خدای پاک پدغه آیت کې دده مدحه او ستاینه هم وکړه چې که به یې غټ کاروکړ هم چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره ؤ مقبول و ،که به چاکمکی عمل وکړ هم دخپل وس سره موافق دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا لپاره ؤ مقبول ؤ؛نوواجب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ دخپلې رضا اظهاردوی ته کړی و.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوی ته دجنت زېری ورکړی څکه چې ددین درې سره شعبې په دوی کې موجودې وې: علم ؤ،ددین په هره مسئله باندې دوی خان پوه کاوه،حتی وعظ اونصیحت به وشو،رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به احکام بیان کړل بیا به چې بعضې

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابه کرام پرې پوه نه شونو هغه بل صحابي ته به ورنږدې شو چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه وويل ،دهغه نه به يې پوښتنه کوله اوځان به يې پرې پوه کاوه.اوبيابه يې سمدستي عمل ورسره ملګرى کاوه ،که به څه ناځه له دوى نه نقصان پيښ شو دستي به رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته راتلل اوتوبه به يې وايستله،معذرت به يې وغوښت چې له مانه يوداسې ناروا کار شوى ،اګرکه هغه به ګناه صغيره وه هم ؛خودومره دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډار ورسره ملګرى و ،مخلصين ؤ دستي به يې ځان پيش کړچې هرحد په مابانديې جاري کېږي جاري يې کړئ خوچې اخرت ته پاته نشي

اخلاص ،عمل اوعلم ټول په دوى کې موجود و ،قران اوحديث ددوى له صفاتونه ډک دي.

نوحضرت مجدد صاحب رَحِمَهُ اللهُ وايي چې شريعت ددنيااواخيرت ضامن دى ؛خوشريعت دغه درې سره جزه غواړي :علم،عمل اواخلاص.

په قرانکريم کې خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ مونږ ته دعلم حکم کوي ﴿ فَسْـَٔلُوٓاْ أَهْلَ ٱلذِّكْرِ إِن كُنتُمْ لَا تَعْلَمُونَ ﴾ (سورة النحل) بيا دعلم مقام ذکر کوي : ﴿ يَرْفَعِ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ مِنكُمْ وَٱلَّذِينَ أُوتُواْ ٱلْعِلْمَ دَرَجَـٰتٍ ۚ وَٱللَّهُ بِمَا تَعْمَلُونَ خَبِيرٌ ﴾ (سورة المجادلة)

خداى پاک مسلمانانو ته لوړې درجې ورکړې اوعلماء کرامو ته يې خصوصا بيا ډېرې لوړې درجې ورکړې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابن عباس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فرمايي : چې دعلماء کرامو په نورو خلکو باندې سل درجې جګې دي ،په جنت کې ديوې درجې تربلې درجې پورې دومره فاصله ده لکه له زمکې نه تراسمانه پورې هم يې حکم ورته کړې چې علم زده کړئ اوهم يې مدحه کړې ده چې دعلماء کرامو بيا زمايه نزد باندې په اخرت کې دومره لوړمقام ده اودومره لوړ مقام ورکوم.

له علم نه وروسته الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له مونږ نه عمل غواړي :

﴿ وَأَقِيمُوا الصَّلَوٰةَ ﴾ لمونځ وکړئ ﴿ وَءَاتُوا الزَّكَوٰةَ ﴾ زکات ورکړئ ﴿ كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾ (سورة البقره) په تاسو باندې ماروژه فرض کړې ده ، ﴿ وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا ﴾ (سورة ال عمران) په تاسو مې دبيت الله شريف حج فرض کړی ده.

په دغو ټولو کې دعمل غوښتنه ده ،علم هم راباندې لازم ده اودعمل غوښتنه هم ده، په هرحکم کې خدای پاک زمونږ نه داغوښتنه کړي.

اوبيا دافرمايي چې :﴿ وَمَا أُمِرُوا إِلَّا لِيَعْبُدُوا اللَّهَ مُخْلِصِينَ لَهُ الدِّينَ حُنَفَاءَ ﴾ (سورة البينه) دانسانان نه دي مامور مګر په دې چې عبادت به کوي، خاص دخدای پاک درضا لپاره، درې سره په قران کريم کې ذکر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیا ددریو سره ثمره خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ذکر کوي :﴿ وَنُودُوٓاْ أَن تِلْكُمُ ٱلْجَنَّةُ أُورِثْتُمُوهَا بِمَا كُنتُمْ تَعْمَلُونَ ﴿٤٣﴾ ﴾ [سورة الاعراف]

ژباړه : او آواز به وکړ شي دغو ( جنتیانو ) ته داسې چې دغه جنت په میراث ( وړیا ) در کړی شوی دی تاسې ته هغه په سبب دهغه چې وی تاسې چې کول به مو ( له حسناتو په دنیا کې ).

یعنې نن چې دجنت دغونعمتو ته ورسیدی دادهغه عمل په سبب چې هغه تاسې په دنیاکې سترې پکې تیرې کړې وې، تکلیفونه موتیرکړي ؤ،دهغولوږو تندو دهغو سړو،دهغو مسکنتو ثمره وه چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وایې چې نن ماتاسې ته په جنت کې دامقام درکړی.

خودا یادساتئ چې که څومره علم وي چې اخلاص نه وي پکې هرڅومره علمونه وي چې اخلاص نه وي پکې ،دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په نیزباندې دیوې زرې په اندازه قدر نلري، چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رضا نوې ،خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وایې:

قَالَ اللهُ تَبَارَكَ وَتَعَالَى: ﴿ أَنَا أَغْنَى الشُّرَكَاءِ عَنِ الشِّرْكِ، مَنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَكَ فِيهِ مَعِي غَيْرِي، تَرَكْتُهُ وَشِرْكَهُ ﴾

[ صحيح المسلم كتاب الزهد باب تحريم الرياء ج ۲ ص: ۴۱۱ رقم الحديث ۲۹۸۵]

ژباړه: له ماسره چې څوک په عبادت کې شرک کوي دبل څه شي نیت پکې کوي چې فلانکی ماته ښه سړی ووایې یامې صفت وکړي زه دداسې عمل نه بې پروا یم دداسې عمل ثواب زه نه ورکوم په

(c) ketabton.com: The Digital Library



قیامت کې به حکم ورته وشي چې دچالپاره دې عبادت کړی ورشه دهغه نه یې ثواب وغواړه.

په هرنیک عمل کې چې اخلاص نه وي که هغه جهاد ده، که علم ده، که روژه ده، که لمونځ ده ،که زکات ده اوکه حج ده او که نور نیک اعمال دي دخدای پاک په نزد دقبول وړ ندي اوچې اخلاص موجود شو بیا دغه انسان دغه خدای پاک جَلّجَلالُهُ طرف ته نهایت زیاته توجه پیداکیږي، بیاددغه انسان دیته نه سوچ کیږي چې اودریږي څوک دې زما صفت وکړي، یاخلک زما غیبت ونکړي ، خلک دې زما احترام وکړي ددغو شیانو فکر بیانه ورسره پیداکیږي.

څکه ددوی عمل دخدای درضا لپاره وي :نوکه خلک یې صفت کړی اوکه غیبت کړی چې دخدای پاک جَلّجَلالُهُ په نزد باندې دده عمل مقبول وي نودخلکوصفت څه ګټه ورته کړي اودخلکو غیبت څه تاوان ورکوي

ددغې وجې نه چې دمخکنیو اسلافو علماوو مشائخ کرامو تاریخ چې سړی وګوري ،هر عالم ،هرپیر،هربزرګ دهغه وخت چې شهرت به یې ډېرشو نوبیا به یې قصدا یوداسې عمل وکړ چې هغه شهرت مې ختم شي ،داسې نه چې زه دنفس په جال کې واقع نه شم اوبیا له سختیو او کړاؤ نو سره مخ شم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# حضرت حافظ شیرازی د خپل شهرت ختمولو له پاره څه وکړل؟

حضرت حافظ شیرازي رَحِمَهُ اللَّهُ دخپل وخت دعلماء اواولیاء الله ؤ په سلسله کې راځي، خو چې کله یې شهرت ډېرشو، نودخپل شهرت دختمولو له پاره یې داکار پیل کړ چې روزانه به له بازار نه کورته راتلو دشرابو بوتل به یې ورسره راواخیست اوپه هغه ځای کې رنډۍ خانې ډېرې وي لکه اوس هم په ایران کې ډېرې دي ، نویوه رنډۍ به یې له ځان سره راروانه کړه خپل ځای ته به یې راوسته.

خلکو چې دده داعمل ولیده ټولو دده سره بایکاټ او پرېکول وکړل چې داخوموږ بزرګ اونیک سړی باله داخوشرابي اوزاني ده ؛ نوددغه سره تعلق او راشه درشه په کارنده ،نوله داسې خلکونه دعاغوښتل اوآدب څه ګټه لري.

تردې پورې چې حافظ شیرازي رَحِمَهُ اللَّهُ وفات شو،دوفات نه بعد علماء په دې کې مختلف شول چې دده جنازه وکړواوکنه؟

بعضې علماوو کرامو وویل چې ده ددین ډېرزیاته بې ادبي کړې ده،خکه عالم ؤ دعالم اوبزرګ په نامه یې وخت تیرکړی ؤ دومره بې دیني یې کوله چې شراب یې څښل ،زنا یې کوله دعلم رنګه یې بدنه کړې وه ،ددین رنګ یې بد کړی ؤ ؛نودجنازې قابل نه دی چې جنازه یې وکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوبعضې خلکو به ویل چې ګنهګار ده ،دګناه په سبب خودجنازې نه منعه نشته،جنازه به پرې اوکړو . اخیرفیصله په دې وشوه چې دده له خادم نه به پوښتنه وکړو چې دده څه عمل و؟

له خادم نه یې پوښتنه وکړه چې داحافظ شیرازي دادومره وخت چې موږدې وینو چې کله به دی کورته راته نودشرابو بوتل به یې په لاس کې ؤ اوبلې خواته به یې پردې ښځه هم له ځانه سره روانه کړې وه نودا راته ووایه چې دده څه عمل ؤ؟

نوهغه خادم ورته وویل چې داسمه ده چې هره ورځ به ده یوبوتل شراب اویوه ښځه له ځانه سره راوستله ؛خو بوتل به یې په کورکې یوه زاړه کډې ته ورتویولو کله چې علماء دخادم دخبرې دثبوت له پاره ورغلل چې داخادم رښتیا وایي او که دروغ ،نو علماء کرامو دغه کډی او یا کوهی پخپلو سترګو ولیده چې دشرابو له وجې غوړ پړ شوی ؤ داشک او شبه خو دعلماء کرامو له منځه ولاړه .

بیا یې ورته وویل چې دازانیه ښځه یې چې دځان سره روا ستله ددغې سره یې څه معامله کوله؟

نوده ورته وویل چې روزانه به چې ده ښځه راوستله دده دخانقاه په شاه کې کوټه وه غُسل خانه هرڅهٔ دضرورت شیان پکې موجود ؤ دغې ښځې ته به یې وویل چې دتاخو پدغه بدعملي کې مطلوب داده چې روپۍ پیداکړې دغه روپۍ زه درکوم خوغسل وکړه ټن شپه دخدای پاک عبادت وکړه. او خدای پاک ته په اخلاص توبه وباسه .

علماء کرام حیران شول چې زمونږ په دې نیک بنده باندې څومره بدګماني وه اودده څه حال ده ،بیایې ورته وویل چې ده به

(c) ketabton.com: The Digital Library



اخروخت کې څه وصیت کړی اویا لیکلی ده ؟ خادم ورته وویل چې ده دخپل ژوند دپای په شیبو کې یوشعر لیکلی او له دې نه وروسته یې ددې فاني دنیا څخه دتل له پاره سترګې پټې او خپل لایزال خالق ته یې خپله روح وسپارله. دوی ورغلل کاغذیې راواخیست ، په شعر کې ده مبارک دا الفاظ لیکلي دي:

قدم دریغ ازجنازه حافظ مدار

اگرچه غرق به گناه هست میرود به بهشت

قدم دریغ مدار از جنازه حافظ

که گرچه غرق گناه است میرود به بهشت

[دیوان حافظ محشي کلدن ص:۱۳۸، دوفات واقعه هم په ص ۱۳۸ کې ده]

قدم دحضرت حافظ له جنازې څخه مه منعه کوئ که څه هم دی ګنهکاردی خوبیاهم (ان شاء الله) جنت ته داخلیږي.

حضرت حافظ شیرازي رَحِمَهُ اللّٰهُ په دې پوهیده چې زما په جنازه کې په ددوی اختلاف راځي ځکه چې نیکوخلکو ته د رتکدن په وخت کې دجنت زیری کیږي.

لکه په دې آیت کریمه کې راځي ﴿ تَتَنَزَّلُ عَلَيْهِمُ الْمَلَٰٓئِكَةُ أَلَّا تَخَافُوا وَلَا تَحْزَنُوا وَأَبْشِرُوا بِالْجَنَّةِ الَّتِي كُنتُمْ تُوعَدُونَ ﴾ (سورة حم السجده)

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : را نازليږي به پر دوی پرښتي ( عند النزع والبعث يا في القبر چې داسې به وايي ) مه ويريږئ او مه خپه کيږئ او خوشاله اوسئ تاسي په هغه جنت کې چې له تاسې سره يې وعده کړې شوې وه ( په ژبه دانبياؤ الله سره ) .

نوحافظ صاحب ليکي چې زما له جنازې څخه مخ مه اړوئ که څه هم زه گنهگاريم خو ( ان شاء الله ) جنت ته روان يم ،ځکه چې دده هرکار دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا لپاره ؤ، مخلص ؤ چې داسې نه چې داشهرت ماخطا کړي، زياتره وخت دډيرو خلکو نفسونه په دې خبره باندې ډير لوړيږي او خوشاله کيږي، چې خلک ورته تيټ اوجگ کيږي خلک يې عزت اواحترام کوي پدغه سبب دده نفس لوی شي ، بيايې نتيجه داشي چې نوموړی کس له تباهي سره مخامخ شي.او بيا يې په ډول ، ډول ناخوالو سر شي .

## په يو جائز عمل ترسره کولو هم ديوسړي شهرت له منځه تللی شي

يولوی ولي دخپل ځای نه دبخارا په طرف را روان شو اوخپل مريدان يې هم ورسره ملگري و ، اوپه اوښ باندې سپور ده نودبخارا خلک استقبالي ( مخې ) ته ورته راووتل، ده چې داخلک وليدل نووې ويل چې نفس مې خراب نه شي،بې لارې نشي نودروژې مياشت وه ډوډۍ يې راواخيسته ،په خوراک يې شروع وکړه اوپه اوښ سپورشو ،خلکو چې دی وليد چې دروژې په مياشت کې روژه خوري ، نوسمدستي يې مخونه تر وگرځول او بدگوماني يې پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وکړه او وې ویل چې دومره لوی بزرګ ده مونږه یې استقبالي ته راغلي یو اودی خوروژه خوري؟

ده داخپلو ملګروته مخ وګرځاوه چې وګوري ددین په مسئله مې عمل وکړ ،مسافر ته دروژې خوراک روا ده خوخلکو دومره کرکه وکړه داروژه خوړل دته جائز ؤ ځکه مسافرته خو روژه خوړل رخصت اوروا دي ،ده داکار قصدا وکړ مقصد داچې دالله تعالی په دوستانو او نازولیو کسانو باندې بدګوماني کول ښه ندی کېدای شي ځینې بزرګان بعضي جائز کارونه دنفس دانکسار او ذلالت له پاره کوي که څه هم هغه روا کار به ځینو بې علمه خلکو ته دګناه کار معلومیږي.

## دکستېم خلیفه صاحب هم شهرت او ځان ښوونه نه خوښوله

زمونږ په مشائخ کرامو کې حضرت شیخ المشائخ الحاج مولوي عنایت الله رَحِمَهُ اللّٰهُ چې دکستېم په خلیفه صاحب مشهور ؤ ،چې څوکاله مسلسل حج تللی او کله به چې له حج څخه واپس راته کور ته به یې حال نه ورکاوه ، تردې پورې چې کورته به ورننوت ،ددې له پاره چې خلک ورباندې خبر نشي.

یوکال یې خپل زوم ورسره تللی ؤ ، نودراتګ په وخت کې په کوم ځای کې کوزشول ،کورته یې تلیفون راوکړځه طالبان اومولویصاحبان اوعام خلک یې استقبال ته ورغلل خودکستېم خلیفه صاحب مبارک دومره خپه شو چې داخلک چاراخبرکړل په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي باندې خوموږ غرقيږو چې داخلک زمونږ استقبال ته راځي دومره احترام اوعزتونه موکوي.

## ډیری علماء د نفس دذلیل کولو په خاطر شروع کړی مقصدهم پرېږدي

یوه خلیفه صاحب ماته دیوه عالم قصه کوله وايي: یوعالم چې زموږ له طریقې سره یې تړاؤ درلودلو تقریر کولو چې کله یې تقریر نیمایې ته ورسیده او په جوش راغی نوسمدستي یې یو ناڅاپه خپلې خبرې پای ته ورسولې او ددې جملې ( واخردعوانا ان الحمد لله رب العالمین ) اویاد ( وماعلیناالا البلاغ المبین ) له ویلو پرته ځای په ځای کیناستلو. وایي وروسته ماپوښتنه ورځخه وکړه چې څه درباندې وشول نومړي عالم په ځواب کې ورته وویل: کله چې تقریرشروع شو دادتقریر خبرې ښې په جوش راغلې اوخلک هم ښه متوجې شول نود تقریر په سلسله کې مې نفس غټ شو چې زماتقریر په خلکو باندې څومره ښه اثروکړنوماوویل چې دانفس په دې ځای کې ذلیله کړم نوددې وجې ځخه کیناستم.

نو داقصه یې کوله چې هغه مولوی صاحب په ځان پوه شو چې نفس مې خراب شو نفس مې غټ شو نوسمدستي کیناست چې هغه خلکو ته یې نفس شرمنده وګرځاوه. او دا کار یې دطریقت دتعلق په برکت بس کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامام مجددالف ثاني رحمه الله څخه رانبولي ترحضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه پورې بلکې ترنن وخته پورې دطریقت ټول مقصداخلاص دی چې څومره مشایخ کرام دي څومره چې اخلاص کوي دومره يې مقام اومرتبه لوړېږي چې یوواړې کاردخدای جل جلاله لپاره شو بیایې خدای تعالی په خبره کې هم اثرپیداکوي په عمل کې هم اثرپیداکوي بلکې په هرڅه کې یې الله تعالی اثرپیداکوي.

شریعت محمدي ددنیااواخیرت ضامن دی خودادرې سره اسباب غواړي علم عمل اخلاص بې علمي هم دتباهي سبب ده امام مالک رحمه الله وایي: مَنْ تَصَوَّفَ وَلَمْ يَتَفَقَّه فَقَدْ تَزَنْدَقَ - ترجمه څوک چې تصوف بې له علم څخه لاسته راوړي نوکیدی شي بیاکله کفرته هم پکې ورسیږي ځکه دروا اوناروافرق نه پکې کوي

## دپنجاب دیو پیرواقعه

چاقصه راته کوله چې دپنجاب لوري ته یوپیر و سپی به یې ګرځولو اوډېره یې هم خرېلې وه چې کله یې سپی مړشو نوهغه مریدانویې په سپي جنازه وکړه اوبیا یې په سپي باندې قبرهم جوړکړ اوس یې زیارت ته ورځي نوددې جملې دامام مالک رحمه الله مصداق وګرځېده.لکه هغه پښتانه هم چې وایي چې څوک بې علمه شیخي کوي هغه کفرېږي بس دی امام مالک رحمه الله وایي که څوک ځان بزرګ بزرګ کوي اوعلم نه وي ورسره کیدای شي چې کفرته ووزي اوکه څوک بیاعلم کوي اوعمل نه وي ورسره اخلاص

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوتصوف نه وي ورسره نوامام مالک رَحِمَهُ اللهُ وایي: ﴿ وَيَقُولُ الإِمَامُ مَالِكٌ : مَنْ تَصَوَّفَ وَلَمْ يَتَفَقَّه فَقَدْ تَزَنْدَقَ ، وَمَنْ وَلَمْ يَتَصَوَّفْ فَقَدْ تَفَسَّقَ ، وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَهُمَا فَقَدْ تَحَقَّقَ ﴾ [حقایق عن التصوف الباب الخامس ص ۳۸۴ /بحواله شرح عین العلم وزین الحلم لامام ملاعلی القاری ج: ۱/ ص: ۳۳]

څوک چې علم کوي اوتصوف نه وي ورسره داسړی فاسق ګرځي عالم نه ورته ویل کیږي ﴿ وَمَنْ جَمَعَ بَيْنَهُمَا فَقَدْ تَحَقَّقَ ﴾ څوک چې دادواړه سره یوځای کړي چې هم علم وي اوهم تصوف وي دتصوف مطلب داده چې عمل یې په اخلاص وي هرڅه یې دخدای تعالی له پاره وي نو بیا دغه انسان کمال ته هم رسیږي اوکامل ګرځي .

نوموږ به ځان هم خبروو ددین په احکامو باندې اودعمل به پوره کوشش کوو چې په ځان یې عملي کړو اوبه عمل کې به نیت دخدای جَلَّ جَلَالُهُ درضاوي داسې نه چې فلانکی ماته عزت راکړي شکرانې راکړي مبلمستیاوي راته وکړي قدراواحترام مې وکړي خبره مې ومني ددغوشیانونیت به نه کوي ډېرمشائخ کرام داسې وي چې خلک ورته جګ اوټیټ کیږي پایې لاسونه وربښکلوي اویاازدحام رش ورباندې جوړوي په دوی مبارکانو باندې ډېربوج اوسبب دې تکلیف ورته ګرځي په کنځاوو باندې دومره نه خفه کیږي لکه په دغونوموړوخبروباندې چې مخکې مو درته لیکلې دي ځکه په نوموړیوخبرو باندې نفس ډېرغټیږي اودابیادتباهي سبب ګرځي .

## نفس د صاحب ، صاحب توري په ویلو ډېر غټیږي

یوه ولي ډېر سپیره خوراکونه کول او ډېره کمه ډوډۍ یې خوړه چې یو وخت خپل نفس ته متوجې شو نو خپل نفس یې د یوه غټ غوایي په څېر ولیدلو بیا خپل نفس ته وایي چې ماخو ته ساتلی هم نه یې داته په څه شي باندې غټ شوې ؟ ( خدای جَلَّ جَلَالُهُ خپلو دوستانو ته حال ورښیي ) هغه ورته وایي چې زه په خوراک باندې نه مزی کیږم زه په ښو میوو باندې نه غټیږم نو دی بیا ورته وایي چې ته په څه شي مزی کېږې ؟هغه ورته وایي چې زه په دې مزی کېږم چې دا صاحب ،صاحب راته ویل کېږي په دغه باندې زه ښه مزی کېږم.

تاسې لیدلي ؟ چې یو سړی قدرت ته ورسیږي نو سمدستي مزی شي طبیعت یې بدل شي ځکه هغه ته صاحب صاحب ویل ډېر شي نو دغه ولي بیا قصداً داسې عملونه شروع کړل لکه مخکې مو چې اشاره ورته وکړه نو د خلکو توجه ورڅخه بدله شوه یعنې هغه صاحب صاحب ویل ورک شول بیا چې خپل نفس ته متوجې شو نو خپل نفس یې د یوه ډنګر تازي په شکل ولید او په دغه وخت کې یې خوراکونه هم ښه ډېر کړي وو نو بیا دی ورته وایي چې داولې داسې ډنګر شوی یې ؟ اوس ره له دې چې وس خودې ښه ساتم هم ښه خوراکونه اومېوې درکوم نو دا نفس ورته وایي چې څوک خپل دښمن ته حال وایي د هغه به داسې حال وي لکه دې ما ته خو زما دښمن یې.

نبي کریم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته الله جَلَّ جَلَالُهُ وایي ( عادی نفسك فانه قام بعداوتی ) : د خپل نفس دښمني کوه ځکه دا زما په دښمني باندې ولاړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی نفس په اصل ذات کې سرکشه اماره بسوء دی ﴿ وَمَآ أُبَرِّئُ نَفْسِيٓ إِنَّ ٱلنَّفْسَ لَأَمَّارَةُۢ بِٱلسُّوٓءِ ﴾ [ سورة يوسف ]

ژباړه : او زه نه پاکوم نفس خپل ( په دی شان چې نه کوي ميل بدي ته ځکه چې ) ببشکه نفس خامخا ډير امر کوونکي دی ( هر وخت ) په بدي سره .

نوچې ترڅودانفس اصلاح نشي دالله تعالی په ذکر مطمئن نشي نفس راضيه نشي نفس مرضيه نشي نفس تقريباً اوه مقامات لري چې مخکې ذکر شوي دي چې دا د سرکشي له مرتبې څخه ونه وزي نوبوانسان ډير ولوبو،لوبوکندوته غورځوي تاسې نه ګوری ډيرداسې علماء شته چې په علم دنه عمل کولو له وجې څخه غروراوتکبر ورڅخه کيږي .

چې په کتاب يې ليږ اوډيرسرهم خلاصيږي نوهغه ته دخلکو ليږوږيام شي نودی په غوره کې شي اونفس يې غټ شي نويه خپل علم دنه عمل کولو له وجې ګمراه شي ولې ځان ډيرغټ ورته ښکاره شي نو په خپل علم باندې دعمل نه کول يې دده اوخدای جَلَّ جَلَالُهُ ترمنځ پرده شي .

## د علم اصلي حقيقت دامام غزالي ( قدس الله سره ) په رايه په تصوف کې دی

حضرت امام غزالي رحمه الله دومره لوی عالم و چې که دده دعمر په شپو دده تصنيف تقسيم کړشي نوهرې شپې ته به يې يوتصنيف يو، يو کتاب ورسيږي ،په هرفن کې دده تصنيفات شته دي په

(۴۵۰) هـ کې پیدااوېه (۵۰۰) هـ کې وفات شوی دی نوټول عمر یې (۵۰) کاله دی،هغه وایي چې له ماسره یووخت یوفکر اوسوچ پیداشو چې هریوشی حقیقت لري هغه داسې حقیقت چې په هغه کې بیاتغیرنراځي داعلم هم یوحقیقت دی نوددغه اصلي حقیقت به ځنګه وي نوماچې دکتابونومطالعه وکړه نودالاسته راوړنه مې وکړه چې علم یقین ته ویل کېږي هغه یقین به په دومره اندازه مضبوط وي یعنې دایومنل شوی حقیقت دی چې علم یقیني شی دی دمثال په توګه چې دایوه ستن ده که دایوځوک په هوااوالوزوي دومره خوارق ماته ښکاره کړي اووایي چې داسړی ولاړ ده زماپه هغه یقین کې بایدتردد اوشک رانشي اصلي علم دغه مقام ته ویل کېږي

وایي ماخپل علم ته وکتل داسې مقام ته نه ؤ رسیدلی ځکه ډېر علماء داسې وي چې په یوه خبره ښه کلک وي خو چې بیابل دلیل یوبل ځوک ورته وړاندې کړي بیادغه نوموړی عالم له خپلې خبرې څخه اوښتی وي شک اوتردد ورته پکې پیداشي نوکتابونه مې پسې کتل چې دعلم حقیقت به زه چېرته پیداکړم دعلم انواعوته پسې ولاړم په علم الصرف کې مې پیدانکړ په علم النحوکې مې پیدانکړپه علم المعانی کې مې پیدانکړ بې شمېره علوم مې پسې وکتل په اخیرکې مې دتصوفویوڅه کتابونه وکتل نومې ویل چې ددغوخلکو سره تعلق پیداکړه که خدای عَزَّجَلَالُهُ ددغوخلکو په واسطه په تاکې څه حقیقت پیداکړي نفس ماته داسوچ راواچاوه چې ته خوډېرښه عالم یې اوډېرزیات تصنیفات لرې اوخلک دې ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



عزت اوقدرکوي نوکه ته اوس دیوچامریدشوې اوملنګي دې غوره کړه هغه احترام اوعزت اوهغه دعلم دبدبه به دې ټوله په ا وبولاهو شي نودی وایي چې زمااودنفس ترمنځ شپاړ میاشتې دمقابلې لړی جاري وه نونفس نه خوشحاله کیده یعنې مریدي ته یې نه پرېښودلم چې زه مرید شم هغه به راته ویل چې هغه احترامات اوعزتونه به ټول درڅخه پاتې شي کله به شیطان داسې فکرونه اوسوچونه راواچول چې علمي خدمتونه به ټول درڅخه پاتې شي خوله یوې لوبې او مسلسلې مقابلې وروسته ماته یودبې هوشي حالت پیښ شو اوداحالت ماته له دېروسوچونواوفکرونوڅخه پیداشوی ؤحتی زه به وغورځیدم طبیبانوته یې بوتلم هیچامې علاج او درملنه نشوای کولای حکیمانوبه داویل چې داروحاني مرض دی وایي چې له شپاړومیاشتووروسته خدای جَلَّ جَلَالُهُ ماته الهام وکړ اوروان شوم دشام په لوري باندې دمشق ته ولاړم هلته مې دیوچانه بیعت وکړ اوبیا مې ددمشق په جومات کې اعتکاف شروع کړ

په هغه اعتکاف کې ماته یوڅه اسرارپیداشول وروسته دحج موقع رانږدې شوه نومې ویل چې راځه دحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ د استوګنې له ځای نه روان شه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ داوسېدلو ځای یعنې حرمینوشریفینو ته هلته چې کله راغلم بیاچې په دې ځای کې ماته څومره اسرارپیداشول اودعلم حقیقت چې په دې مقام کې ماته معلوم شو نودی وایي چې زه یې له بیانولوڅخه عاجزیم چې په ژبه یې درته بیان کړم خوبوازې دومره به ووایم چې که فرض یې کړه ددنیا ټول هوښیاران اوپوهان رایوځای شي اووایي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ ددغواولياوو نه پرته په نوروخلکو کې ښه اخلاق پيداکړو نوددنياټول پوهان اوهوښياران به په دې خبره کې غلط او دانظر به بې ځايه وي ځکه يوانسان چې ولي کيږي نودى به د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په اخلاقو باندې ملبوس وي بيابه ولايت ته رسيږي چې دهغه دسنتوتابعداري به کوي اودسرداردوکونين داخلاقوصفت خوالله تعالى په قرآنکريم کې کړى دى ﴿ وَإِنَّكَ لَعَلَىٰ خُلُقٍ عَظِيمٍ ۝ ﴾

[سورة ن]

ژباړه: ته دډېرولويو ،لويواخلا قوخاوندېې نودولي سينې ته دنبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسينې څخه فيوضات حاصليږي په هغه کې دهغه مبارک اخلاق پيداکيږي نود نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تراخلاقو ښه اخلاق په ټوله نړۍ کې دهيچاهم ښه ندي تيرشوي

نوامام غزالي صاحب وايي چې دغه لاره ده که سړى په اخلاص خپله کړي بيابه هغه اسراروته پيداکيږي چې په دنياکې په مدرسوکې نه زده کيږي هغه په ظاهري درس اوتدريس کې نه پيداکيږي علم اوعمل چې اخلاص نوي ورسره ملګرى شوى هيڅ ګټه نه لري خواخلاص چې پيداکيږي نوبيه دې لاره کې پيداکيږي

[احياء علوم الدين ج:۵ / ص:۱۳/ ۱۴/ خاتمة فى الاشارةالى ترجمة المصنف رضى الله عنه وسبب رجوعه الى طريقة الصوفية رضى الله عنه]

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۲) مجلس

## دتقوا او اصلاح شرطونه او اسباب

**د تقوا اقسام:**

تقوا په درې قسمه ده (۱) دعوامو تقوا (۲) دخواصو تقوا (۳) داخص الخواصو تقوا.

دعوامو تقوا داده چې صرف کلمه شریفه ووايې او د شرک او کفر څخه ځان وساتي په عامه معنا هغه ته متقي ويل کيږي.

دخواصو تقوا داده چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ اوامر په ځای کړي اودنواهیونه ځان وساتي.

داخص الخواصو تقوا داده چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ اوامر په ځای کړي اوله نواهیوڅخه یې ځان وساتي، خپل سر اوخپل روح دهغه شیانو نه وساتي چې دخدای پاک له معرفت، دخداوندمتعال له ذکر نه انسان مشغوله وي

اوس داخوا دتقوا مراحلې وي نوتقوابه په انسان کې څرنګه پیدا کیږي، هرانسان داغواړي چې زه دې دداسې رتبې څښتن وای چې خداوندمتعال له مانه راضي وای، دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دیدار ماته په نصیب شوی وای. جنت ماته په نصیب شوی وای. داخو الحمدلله دهرمسلمان امید ده، هرمسلمان داعقیده او ارزو لري چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



کاشکې ماته خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ داسې مقام اوسلسله راکړې واى
چې زه بنه ملا شوى واى، زه بنه صوفي واى، اوزه بنه بزرگ واى.
خودا تقوا چې پيداکيږي ددغه لپاره کتابونو لارې بيان کړې دي
چې سړى به په هغولارو پسې کوشش کوي؛نوامید شته چې
خداوندمتعال انسان تريوه مقامه پورې ورسوي ځکه دخداى پاک
جَلَّجَلَالُهُ وعده ده ﴿ وَالَّذِينَ جَٰهَدُواْ فِينَا لَنَهْدِيَنَّهُمْ سُبُلَنَا ۚ وَإِنَّ اللَّهَ لَمَعَ
الْمُحْسِنِينَ ﴾ [سورة العنكبوت آيت ۶۹]

ژباړه : هغه کسان چې کوښښ کوي تل په ( دين د) موږ کې
خامخا وبه ښيو هرومرو ( خامخا ) دوى ته لارې خپلې (چې موږ ته
برې راخي ) .او بېشکه الله تعالى خامخا له نيکو کارانو سره دى (
په مرسته (مدد ) کې ).

يعنې خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ وايي چې څوک زما په لار کې کوشش
وکړي ؛زما رضا غواړي، زما معرفت غواړي، داسې معرفت
غواړي چې هغه دنيکو خلکو ده ؛نو زه دهغو ملگرى يم ؛زه به لارې
ورونښيم چې په هغو لارو دى ماته را رسيږي،اوخداوندمتعال
دمحسنينو چې مراد ورنه مخلصين دي اوخداى پاک جَلَّجَلَالُهُ
دمخلصينو ملگرى ده.

څومره چې سړى پدغه طلب کې مخلص شي چې د خداى پاک
رضا غواړم دغومره دخداوندمتعال رحمت په هغه باندې زيات
رانازليږي ،دهدايت لارې ورته خلاصيږي، بيا خداى پاک جَلَّجَلَالُهُ
هغه ورته ښيي چې هغه دده له وس اوتوان نه وتلې خبره وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ددې وجې نه په حدیث شریف کې راځي :

﴿عن انس قال قال : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ من عمل بماعلم ورّثه الله علم مالم یعلم﴾ [رواه ابونعیم فی الحلیه ، التفسیرالمظهری ج ۵/ص ۱۱) و احیاء العلوم ج:۱/ص: ۱۵۱/کتاب العلم ]

له حضرت انس رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي : رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمایي : څوک چې په خپل علم باندې عمل وکړي ،داخو اختیاري شی دی په خپله خوښه یې زده کړه اوعمل یې پرې وکړ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به داسې علم ور زده کړي چې له دینه مخکې دهغه نه ؤ په برخه شوی، دده بې اختیاره شی ،دده بې کسبه شی به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته ورکړي، چې علم مکاشفه ورته ویل کیږي ،الهامات ورته ویل کیږي؛نوهغه کار چې دانسان په وس کې دی هغه وکړي ،مجاهده اوکوشش وکړي زده یې کړي اوبیا یې په ځان عملي کړي؛نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مبارکه خوله باندې وعده ورکوي چې هغه شیان به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وروبیژني چې هغه دده په وس او توان کې نه ؤ (وراثة) چې هغوته میراثي شیان ویل کیږي چې انسان ته بې کسبه پیداشي،پلار مړ،ورورمړ، قریب مړ دهغه دنیا سړي ته پاتې شوه ،نه دده لاسونه وړباندې تیاکې ،نه پښې پرې سترې بلکې هیڅ نه وو شوي، له ښه اویده پرته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ده ته په میراث ورپرېښوده.

نودد غه هم دامعنا ده چې علم مکاشفه ،علم فراست اوالهامات چې پیداکیږي داپه هغه علم چې دتاپه اختیارکې ده هغه عملي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي،په هغه عمل وکړي چې ستا په اختيارکې دي؛نوبيا به دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ له خوا تاته موروثي او بې اختياره علم او هغه پټ رازونه درپه برخه شي چې ستا له وسه دباندې ( بهر ) او ستا په اختيارکې هم نه وي.

داکشفيات يوموروثي علم دى، چې علم لدني ورته ويل کيږي او دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه ورکول کيږي ؛خوکتابونوليکلي دي چې کشفيات څومقامه لري چې دچادزړه حال سړي ته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ معلوموي،دقبرونوحال خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ سړي ته معلوموي ،حتى دعبادت حال خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ سړي ته معلوموي چې داعبادت اوس قبول دى اوکه نه ؟

يو ولي يووخت کې په ډېرښه حضور،په ډېرښه اخلاص باندې لمونځ وکړ بيا چې خپل لمانځه ته متوجې شو چې خپل لمونځ يې وليد چې په سترګوړوندۀ نودى خپل پيرته ورغى چې ماخپل لمونځ ډير په عاجزي سرته ورسولو بيا مې هم ړوند وليدلو.

هغه ورته وويل چې په لمانځه کې خوبه دې سترګې پټې نه وي نيولې ؟ ده ورته وويل چې هو! سترګې خومې پټې نيولې وې.

هغه مې هم په دې نيت پټې نيولې وې چې حضور مې ښه برابر شي. ده ورته وويل چې دشريعت خلاف کاردې کړى ،په شريعت کې په لمانځه کې دسترګوپټول مکروه دي.

نو داميراثي اولدني علم ګورئ، هلته لمونځ ورته معلوم شواوهلته يې نقصان ورته معلوم شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوهغه کوم شی چې دسړي په اختيارکې ده چې ظاهري علم ده،چې په دغه ظاهري علم عمل وکړي بيا خداى پاک جَلَّ جَلَالُهٗ داسې ميراثي علم وربه برخه کوي چې هغه دده په اختيارکې نه دي ،بيا په خپلو نقصاناتو هم پوهيږي.

## اولياوو ته خداى پاک په حرام خوراک خبروركوي

په کويټه کې زمونږ استاد شيخ الحديث چې دخواجه خان محمد صاحب خليفه ده ،مونږته يې قصه کوله چې په پنجاب کې يوپيرو دپرنيک سړى ؤ (دطالبي دوخت خبره يې راته کوله ) ددغه پير صاحب يوپوليس مريد ؤ هغه ځوواري دډوډۍ دعوت ورته وکړخوهغه به نه ورسره تلو، اخير هغه مزدوري وکړه دمزدوري په پيسو يې هرڅه تيارکړل بيايې ورته وويل چې دپوليسي دتنخوا روپۍ نه دي، درشوت روپۍ نه دي بلکې په خپل لاس مې ګټلې مزدوري مې وکړه په هغه مې هرڅه اخيستي اوبيا مې تاته ډوډۍ کړې. نودغه مرشد يې چې دشپې ورسره ميلمه شو ډوډۍ يې وخوړه بياچې سهارشو دغه پوليس چې دده مريد ؤ ورغى دده پوښتنه کوي نوهغه ورته وايې چې خداى پاک دې تباکړه ! لکه چې زه دې چې تباکړم.

دايه مادې څه حرام خوړلي ؤ. زما په نس کې ټوله شپه سپې غپيدل. ده ورته وويل چې ټول شيان مې مکمل دمزدوري په روپيو اخيستي ؤ ده ورته وويل چې نه يوڅه شى شته ؛نوولاړ دخپلې ښځې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه يې پوښتنه وکړه چې پدغه خوراک کې خوبه تادزاړه کور څه شی نه وو ورګډ کړې؟ هغې له ليږ ځنډه وروسته ورته وويل چې په کورکې نوره مالګه نه وه يوازې هغه مالګه وه چې تا مخکې راوړې وه هغه مې ور واچوله ، غوړي ،وړه او دترکاري نوې شيان ټول په پاکو روپو ؤ خو مالګه ناپاکه ورګډه وه ،هغه ولې ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ فراست ورنصيب کړچې په خپل نقصان پوهيده چې يو مالګه په ډوډۍ کې ناقصه شوه دهغه علم هم خداوندمتعال ورکړ چې په ماحرام خوړل شوي دي

## يوه خُرما يې په اشتباه وخوړه څلويښت شپې يې کشف بند شو

حضرت ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ يولوی ولي الله تيرشوی ده ،دامام صاحب شاګرد ده ،دېر کشفيات يې درلودلو يووخت داسې ورباندې راغی چې کشف يې قطعه شو، بيا يو ځای ته چې هلته به دجمعې په ورځ اوليا، جمعه کيدل هغه ځای ته ورغی دغه ځای له پخوا ده ته هم معلوم ؤ .

توره تياره وه اوليا ، چې راروان شو چې يو ولي راننوت ويې ويل چې نن خوبه جومات کې څوک نابلده تن موجود دی ،هغه بل ورته وويل چې ابراهيم ابن ادهم ده وايې څرنګه راغلی دی ؟ وايې چې څلويښت شپې کيږي چې خپل حال ورنه ورک شوی ولې ؟ وايې چې ديودکاندار نه يې خرماوې اخيستي هغه خرما يې چې ورتللې تله پورته شوه يوه دانه دتلې نه کوزه ولويده ،دکاندار دهغې په عوض

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې بله خرما ور واچوله ، خوده ته په ګمان کې دا ورغلل چې هغه کوزه پرته خرما زما وه ، هغه یې راواخیسته او په اشتباه باندې وېې خوړله ؛نوهغه کشفیات یې بندشول . بیرته ورغی هغه دکاندارته یې روبی. ورکړې چې مایوه دانه دټول نه زیاته خرما خوړلې .        [تذکرة الاولیاء فارسي ص ۱۲۲/ چاپ ایران]

اوس داچې سړی په نیکي روان شي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دومره اندازه. صفايي ورته حاصلوي ددغې وجې نه حضرت رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وايي : ﴿ اِستَفتِی قَلبَکَ دَعْ مَا یَرِیبُکَ اِلَی مَا لَا یَرِیبُکَ... ﴾

[جامع الترمذي ج: ۲. ابواب صفة القیامة ص ۷۸.]

دخپل زړه نه فتوا وغواړه ! چې په کوم شي کې شک درولویده نوپرې یې ږده. خودامقام دخواصو ده چې سړی په شریعت ځان برابرکړي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یې تزکیه وکړي، بیا دمسلمان زړه له ګناه ځخه کرکه اونفرت کوي،که نه پوهیږي اوکشف هم نلري ، خوچې هغه ناروا ځای ،ناروا خوراک کوي زړه یې بندشي شک اوتردد ورته پیداشي.

ددې ځای سره موافق بیان دتکرار نه دځان ساتني له امله موږ له دې ځایه لرې کړ که غواړې چې دغه تفصیل لاس ته راوړی ، نو اول ټوک انوار المجالس له (۲۵۰) نه تر( ۲۶۴) مخه پورې درمطالعه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دولایت شرطونه

**دولایت اولنی شرط له خپل شیخ سره محبت کول دي** چې سړی ولایت ته رسیږي نودخپل شیخ سره له محبت اوانقیاد سره سره دېره ناسته او ولاړه ،تګ اوراتګ به کوي اوچې څه حکم اوارشادیې درته کاوه،چې داسې وظیفه وکوه نوهمداسې به کوي بیابه یې مخالفت نه کوي.

**دوهم شرط: ډېر ذکر کول دي**

چې څومره ډېر ذکرکوي دغومره محبت پیداکیږي، دغومره دخداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ سره تعلق جوړیږي،څکه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ فرمایي: ﴿ فَاذْكُرُونِي أَذْكُرْكُمْ ﴾ تاسې ما یادوئ زه به تاسې یادوم. «سورة البقر آیت: ۱۵۲»

اودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ یادونه رحمت ده چې په هغه انسان باندې رحمت وکړي. نوسړی چې دولایت مقام ته ،دخواصودتقوا مقام ته رسیږي، شرط یې داده چې دکامل پیر سره بیعت وکړي، اوبیا دهغه سره محبت،اخلاص، تعلق، ناسته اوولاړه،تګ اوراتګ ،دهغه حکم منل، موجود وي.

عامه طبقه خوڅه کوئ په طالبانو اوملایانوکې بنیادي نقصانات دادي چې ددغوخبرو لحاظ نه ساتي، اول خوچې څوک دچاعیب ورته په ګوته کړي ؛نوهغه یې په غرض حمل کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوهم داچې څوک دچاعیب ویني ؛نوهغه ورته بنیي نه ،ولې ؟ چې خفه نه شي.

نومخلص ملګری هغه ده چې په تاکې یې عیب ولیدل اودریه ګوته یې کړ چې داکار مه کوه په دې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درنه ناراضه کیږي.

**دریم شرط:**

تعلق له خپل شیخ سره اوزمونږ نقصان داده چې زمونږ دخپلو مشایخو سره تعلق کم ده، اخلاص کم ده، محبت کم ده، تګ اوراتګ موورسره کم ده، انقیاد مونشته، که دظاهري علم استاد ده که دباطني علم استاد ده.

که یوه ورځ یې خشکه راته وکړه بس نور مونږ تري مرور یو، لکه چې داپه خپل شیخ اویااستاد باندې احسان باروي چې زه خو دتامرید یاشاګرد یم ،ته ولې خوشکې راته کوې

﴿ عَنْ أَبِي سَعِيدِ الْخُدْرِيِّ، قَالَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «اتَّقُوا فِرَاسَةَ الْمُؤْمِنِ فَإِنَّهُ يَنْظُرُ بِنُورِ اللهِ»

[حقائق عن التصوف ص ۳۲۰ باب الکشف بروایة الترمذي]

ژباړه: له حضرت ابوسعید خدري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ نه روایت دی وایي: چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فرمايي: دمومن له فراست نه ځان وساتي ،ځکه چې هغه دالله په نظر سره ګوري

نومشائخ چې کله په تاکې ځه شیان ویني نودهغه په خاطر به خوشکه درته کوي کله دځینو خلکو اصلاح په خوشکه راځي، کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



دځینو مریدانو اصلاح په وهلو راځي. کله دځینو مریدانو اصلاح په خفه کولوراځي چې بندیې کړي چې ډېر به نراځي. کله دځینې اصلاح په دې راځي چې ډېر کیني.

## له بیعت نه مخکې اصلاح

یولوی عالم یوشیخ ته دبیعت په نیت باندې ورغی هغه شیخ ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په باطني فراست معلومه کړه چې دی نهایت کبرجن ؤ دغرور اوتکبرنه ډک ؤ، نوده ورته ووېل چې دبیعت شرط داده چې یوه جمعه به ددغه جومات دټولوخلکو څپلی سموې، بیا به زه وظیفه درکوم اوکه نه ،نه یې درکوم، ده ووېل چې داعجیبه خبره ده زه خوغټ ملا، عالم اومدرس یم زه به دخلکو څپلی څنګه سموم ؟ده ورته ووېل چې بله طریقه نشته بیرته ولاړ. ده خودتصوفو کتابونه کتلی ؤ نوفائدې یې لیدلې وې نوبیرته راغی بیایې دغه شرط ورته ووایه ،اخرېې دځان سره دافیصله وکړه چې یوه جمعه تکلیف تیر کړه نویوه جمعه یې داڅپلی سمول شروع کړل

هغه شیخ ته خداوندمتعال په فراست باطني دامعلومه کړه چې اوس په ریا اخته شوچې خلک به وایې چې دامولوي صاحب څومره ښه سړی ده دخلکو څپلی سموي نوورته وېې ویل چې بس نورې یې مه سموه، اول یې دسمولو نه انکار کاوه اوس یې بیا پرېښودلې نه، چې نه صاحب ! داخودمسلمانانوخدمت ده. نوره واقعه مخکې ذکر شوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوهغو مشائخو كرامو ته خداى پاك جَلَّ جَلَالُهُ فراست وركړى وي دسړي اصلاح كوي ،خومونږ ته كه خوشكه وكړي پدغه ورنه خفه كيږو، كه بې وخته ورته راغلو توجه يې راته ونه كړه پدغه تري مرور كيږو چې ولې يې توجه راته ونه كړه .

## حضرت انوارالمشائخ دملاقات په ځاى يوائې په سترې مه شي اكتفاء وكړه

دجناب حضرت انوارالمشائخ مرحوم خليفه صاحب(مولوي فضل الدين ) يونفر قيصه راته كوله چې دميرانشاه نه زه اويو څو نور ملګري له حضرت انوارالمشائخ مرحوم خليفه صاحب سره دحضرت امين جان آغاصاحب كورته په سفر لاړو ،هلته دماښام په وخت كې ورسيدو،چې دكوردروازې ته ورسيدو نوحضرت امين جان آغاصاحب له كورنه راووت سترې مشي اوهركلى يې راته ووايه، دسترې مشي نه وروسته حضرت امين جان آغاصاحب ورته وويل چې صاحب ! تاسي كينئ هلته ماته چاتليفون كړى ده څه ضرور كار ده هتله ورځم انشاء الله په نيم ساعت كې بيرته راځم

جناب خليفه صاحب مبارك ورته وويل چې بس دومره كافي و،دغه ملګرى وايې چې مونږ دپريه زړه كې خفه شو(دغه طالبان د اومريدان ؤ) چې هغه وايې چې زه په نيم ساعت كې بيرته راځم اوجناب خليفه صاحب ورته وايې چې بس دوغومره كافي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،،دمیرانشاه نه مونږ دومره کرایې ولګولې اودلته موصرف په ولاړې ولید.

کله چې حضرت امین جان آغاصاحب روان شو مونږبیرته را روان شو نوجناب خلیفه صاحب مونږ ته مخ راوګرځاوه چې ګورئ بام کوئ ددغه دامعناده چې زه دومره غټ سړی یم زه درته راغلی یم نه یه خامخا ماته ځان راخلاصوې.

هغه خپل کارکه هرڅومره ضروروي هم نوپرېږدې به یې اوماته به خامخا ځان راخلاصوي

مونږ راغلي دده د پوښتنې په نیت ؤ پوښتنه وشوه نور چې دی مشغول ؤ دابیا بې ادبي ده،دمشانخو سره چې دي خپل ځان ته رامتوجې کوې چې خپل کار زرخلاص کړه اوزه دلته په انتظار درته ناست یم.

نوزه چې دلته ناست وای نوده به خپل کار په منډه خلاصولو ولې چې دمیرانشاه خلیفه صاحب راغلی ؟

ګورئ حضرت انوارالمشائخ رحمه الله دحضرت صاحب خلیفه ؤ اوحضرت امین جان آغاصاحب دعمر له لحاظ دده مبارک دزوی په ځای ؤ لکن دمشائخ کرامو دنسبت په خاطر باندې دومره اندازه احترام چې دمیرانشاه څخه ورغلی هلته صرف په سترګې مشې اکتفا کوې،بس دغه مونږ ته کافی ده چې تاته تکلیف ونه رسیږې.

داسې هم پیښه وي چې په جمعوجمعو موقع سړې ته پیدانه شي اوبه انتظار وخت تیروي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دمجدد الف ثاني (قدس الله سره) د مُريدانو شکايت او ده ځواب

حضرت مجدد الف ثاني رَحِمَهُ اللهُ چې په طريقت کې ډېرلوی بهترين او غوره شخص تيرشوی ده نوده ته به چې کله ځيني عوام سرمايه دارخلک راغلل نودی به ورته راووت اوتريوساعت پوري به ورسره ناست ؤ اوچې غريبان ملنګان مريدان به چې راغلل نوهغوی به په انتظارناست ؤاوزر به نه ورته راووت،نودي مريدانو ته په زړه کې دا اشتباه پيداشوه چې دی دغنيانولحاظ کوي،دمالداروخلکو لحاظ کوي ،هغوی ته زر راوځي،ورسره کيني اودستي چای مړی ورته راوړي اوموږ دلته شپې اوورځې په انتظار ناست يو ،زموږ ملاقات ته نه راوزي،هغه ته خداوندمتعال علم باطني ورکړی ؤ،د دوی په اشتباه باندې پوه شو، له کور څخه راووت اوورته ويې ويل چې ګورئ ېچيانو زماله تاسې سره دزړه تعلق ده،ميلمه چې چاته ورغی شرعا حق پرې لرې چې دهغه به احترام کوې ،خودهغوی خلکو زموږ سره همدومره تعلق دی چې (السلامٌ عليکم وعليکم) ستړې مشې. نور دوی نه زمامريدان دي،نه بيعت شته ،نه محبت شته ،نه اخلاص شته،لنډه داچې نورهيڅ نشته همدومره کاريې ده نوميلمه چې راغی دميلمه احترام خوبه سړی کوي.

اودتاسوسره خوشپه اوورځ زماتعلق ده ،که تاسې زماسره په مجلس کې ناست يې اوکه نه يې ناست زه دتاسې په غم باندې غمجن يم،زه دتاسې په باب کې خداوندمتعال ته عاجزي کوم زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتاسې په باب کې خداوندمتعال ته زارئ کوم او ژړاوې کوم که تاسې له ماسره موجود وئ اوکه نه وئ موجود، زما له تاسې سره دزړه تعلق ده خودېر مُریدان په دې باندې نه پوهیږي چې فلاني ته راووت بس ورسره وې خندل ،ورسره کیناست اوما دومره انتظار وکړاو ماته راګوري هم نه.

نوکثرت ملازمت دخپل شیخ له محبت اوتابعداري سره ،محبت به هم وي،حکم به یې هم مني بیا خداوندمتعال سړي ته دهدایت لارې خلاصوي،دتقوی مقام ور نصیب کوي ،دولایت مقام به ورته ورکوي،ډیرې غټې، غټې هستۍ اومشائخ دخپل مرشد په ملاقات کولوکې په میاشتو، میاشتو پراته وي او چاته یې شکایت هم ندی کړی،په یوځای کې علماء کرام وي،غټ غټ شیخ الحدیثان وي، هغه دملاقات له پاره وخت تیروي، دوه شپې،درې شپې وکړي بیا هم دملاقات وخت نه ورته پیداکیږي ،خولکن دوی ته یې هغه مقام معلوم وي.

خپل پیرته به خپل خان داسې سپاري لکه مړی چې په تخته باندې پروت وي هغه سړی چې غسل ورکوي چې که په سریې اوبه ورتویې وي اوکه په پښویې ورتویه وي،که په بنی طرف یې اړه وي اوکه په چپه خوایې اړه وي خومړی دانه وایې چې اول مې سر پرې مینځه بیا مې پښې پرې مینځه یا بس ده نورمې مه مبنه صفا شوم ،نور په تکلیف یم.

تومریدبه هم دمړي په شان خان سپاري لکن زمونږ مطالبې وي خواهشات وي،دانقصانونه موپه دغو کې دي څکه کار ډېر په مخ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خي، هغه مُرید چې دهغوی محبت دخپلو مشائخو سره زیات وي، په مُریدانو کې یې دستي اثر معلومیږي، وظیفې یې هم زر زر پخیږي، کار یې هم زر زر په مخ باندې ځي.

حضرت دوست محمد کندهاري صاحب، چې د ډېره اسماعیل خان په درابن کې یې زیارت دی، په یوه کال کې دی دځلورو طریقو پیر شو.

خودومره منقاد و چې دخپل شیخ بیت الخلاء یې په لاس باندې پاکوله، دومره خدمت یې کاوه.

داکابرو ددیوبند دعلماؤ یواستاد بیان کاوه چې یو استاذ تللی ؤ دیو بل استاذ پوښتنې ته، هغه مړؤ وایې چې دهغه دکور دبې بې ځپلکې یې په سر اوسترکو باندې ایښې وې اوژړل یې چې ای خداوندمتعاله! که دخپل استاذ په باب کې زمانه بې ادبي شوې وي، دهغه حقوق مې نه وې په ځای کړې نوخدایه! دده دناموس څپلۍ زه تاته وسیله کوم. نوهغه څپلۍ یې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته وسیله کولې دومره ادب اوانقیاد پکې موجود ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۳) مجلس

## دمحبت اصلي سبب

بینادي شی خوداده چې هرکار سرې کوي هغه بې علمه سرته نه رسیږي ،که څوک هرعمل دعبادت کوي خوچې نیت پکې صفا نه وي معرفت نوې ترهغه وخته هغه عمل نه قبلیږي، نوبنیادي شی داده چې اول سړی علم حاصل کړي چې ددغه علم په حاصلولو باندې معرفت دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ،معرفت دحضرت رسول کریم صَلَّىٰاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ،معرفت دامورو ددین ورته پیداشي،نوبیا به دهغه خپل معرفت اوعلم سره موافق عمل کوي اوبه هغه کې به مخلص اوسیږي څکه چې حضرت عمر فاروق رَضِيَاللهُعَنْهُ دحضرت کعب رَضِيَاللهُعَنْهُ نه پوښتنه کوي چې دعلم خاوندان څوک دي؟ هغه ورته وایې چې دعلم خاوندان هغه څوک دي چې په خپل علم باندې عمل کوي ،کوم خلک چې په خپل علم باندې عمل نه کوي هغوی ته علماء نه ویل کیږي.

اوس نواول بنیادي شی علم ده، دعلم په برکت دسړي سره دالله تعالی محبت هم پیداکیږي د رسول الله صَلَّىٰاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ محبت هم ورسره پیداکیږي ،ددین محبت هم پیداکیږي، په صحابه کرامو کې چې دچا څومره زیات محبت ؤ،څومره زیات علم ؤ دغومره دهغوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله تعالی جل جلاله اودرسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت هم زیات ؤ،د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په ټول امت کې اعلم ترین حضرت ابوبکر الصدیق رضی الله تعالی عنه ؤ خوځومره چې خداوند متعال ده ته علم زیات ورکړی و دغومره دخدای پاک جل جلاله خوف په ده باندې غالب ؤ،دغومره یې دخدای پاک جل جلاله اودحضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم سره محبت زیات ؤ چې سړی دمحبت مقام ونه پیژني نومحبت نشي کولای.

## دحضرت ابوبکر الصدیق رضی الله عنه دمحبت واقعه

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه چې په ټولوخلکو کې دزیات علم (اعلم الناس) خاوند ؤ دده د نبي کریم صلی الله علیه وسلم سره څومره محبت ؤ نو دهغه دمحبت یوه واقعه به دلته ذکر کړو:

په اسلام کې لومړی خطبه چې په حرم شریف کې په ښکاره ویل شوې ده هغه حضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ویلې ده، حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه له، رسول الله صلی الله علیه وسلم نه التماس کوي چې یارسول الله ! ترڅوبه دادین موږ پټ ساتو ته اجازه وکړه چې ددغه دین دعوت په ښکاره خلکوته شروع کړو.

رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایې چې مسلمانان تراوسه پورې ډیر کم ( ۳۸ سړي ) دي دکفارو دمقابلې توان نشته پکې تریو څه وخته پورې پوشیده اوپټ دعوت په کار دی . خوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه ډیر اصرار کوي چې نه ښکاره دعوت شروع کوو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودی دصحابه کرامو سره راووت په حرم شریف کې یې خطبه په جهر او په زوره شروع کړه ،دعوت الی الله ،دتوحیداوشهادت کلمه یې په ښکاره باندې شروع کړه، کفارو له هر طرف نه په ده باندې په یو وار باندې حمله وکړه لکه یوسړی چې په چاباندې حمله کوي اودومره بې اندازې زیات یې وواهه چې دډېرو وهلو له امله یې هوښه پریوت،مخ مبارک،پوزه مبارکه، غوږونه مبارک اوټول وجود مبارک یې په وینوککړشو.

دومره زیات یې ووهه چې نوردخلکو داخیال شو چې نور مړ کیږي نویې پریښود ،دده هغه ترېوران چې لاتراوسه یې اسلام نه و منلی،راغلل اوله دغه ځایه یې کورته ویوړ،دماښام په وخت کې چې کله دی په هوش راغی اولنی خبره یې داوکړه چې درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څه حال ده، هغه ترېوران ورسره ناست ؤ، هغه خوپه اسلام لانه ومشرف شوي،هغوی ته د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قدر نه و معلوم، نوهغوی ورته وویل چې تاته داټول تکلیف د ده له وجې نه پیښ شوی ، دده دمحبت په وجه دومره ووهل شوې چې زمونږ دژوند توقع نه ؤ اوته بیا له ټولونه لومړی د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحال پوښتنه کوې؟ نودوی له دې مجلس نه ورنه پورته شول اونفرت یې ورنه وکړ.

دده مبارک مور حضرت ام الخیر رَضِيَ اللهُ عَنْهَا ،چې لاتردغې ورځې پورې په اسلام نه وه مشرفه شوې، ترېوران وایې چې مونږ لاړو دژوند توقع پیداشوه خوشه شی ورته پاخه کړه چې وېې خوري .تکلیفونه یې څه کم شول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی چې ووتل موریې دخوراک څه ورته تیارکړل خوحضرت ابوبکر صدیق رضی الله عنه له خوراک کولو انکار وکړچې والله چې ترهغه به زه خوراک ونه کړم تر څو چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم په حال خبر شوی نه یم.

دمور شفقت زیات وي که څه هم په اسلام لانه ده مشرفه خواولاد ده ورته وایې چې زه رسول الله صلی الله علیه وسلم څۀ پېژنم چې چیرته دی،چیرې یې پوښتنه وکړم؟ دی مبارک ورته وایې چې دام جمیل رضی الله عنها (چې دحضرت عمر فاروق خورده) کورته ورشه هلته دی اوله ام جمیل رضی الله عنها څخه پوښتنه وکړه چې رسول الله چیرته ده اوڅنګه ورځ یې تیره کړې ده؟

ام الخیر رضی الله عنها چې دده مبارک مور ده دحضرت ام جمیل رضی الله عنها کورته ورغله هغې ته وایې چې زما زوی نن خلکو دحضرت محمد صلی الله علیه وسلم په ملګرتیاکې دومره وهلی چې تراوسه پورې بې اوښه پروت ؤاوس یې دژوندڅه توقع یوڅه پیداشوه خوهغه دخوراک نه لاس اخیستی قسم یې کړی چې زه به ترهغه وخته خوراک ونکړم چې ترڅوزه درسول الله صلی الله علیه وسلم له حال څخه خبر شوی نه یم اوس یې زه تاته راولیږلم که تاته معلومات وي چې په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې ورځ څنګه تیره شوې ده اوچیرې ده؟

هغې مبارکې ددې په خاطرچې هغې د رسول الله صلی الله علیه وسلم حال هرچاته نشوای بیانولی اوام الخیر هم تردې وخته پورې نه وه مسلمانه نوورته وېې ویل چې زه محمد صلی الله علیه وسلم نه پېژنم ،نه د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نا زوی پېژنم خوداچې تایې تکلیف بیان کړ درځه چې درسره ورشم یوښتنې ته چې اوس څنګه دی.

دواړه جوړه راغلې چې دحضرت ام جمیل رضي الله عنها په صدیق اکبر رضي الله عنه باندې سترګې ولګیدلې چې مبارک وجودیې ټول په ربنوکګردی ،مخ یې پړسیدلی دی،نوبې اختیاره داسلام په مېنه دخولې نه چیغه ووتله اوېه ژړاشوه چې خدای دې داخلک تباکړي چې تاته یې درسول الله صلی الله علیه وسلم په محبت کې دومره تکلیف درکړی.

حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه بیاهم ورته وایې چې ماپرېږده حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم څرنګه ده اوچیرته دی ؟ دې ام الخیرته اشاره وکړه چې مور دې ناسته ده که حال ووایم هغه به کفاروته خبر وکړي.

ده ورته وویل چې پروا یې مه لره . ام جمیل رضي الله عنها ورته وویل چې حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم دزیدبن ارقم رضي الله عنه په کور کې ده اوالحمدلله په هغه باندې ورځ ښه تیره شوه،هغه ته څه تکلیف نه دی رسیدلی.

مور یې خوراک ورته را واخیست خوهغه بیا قسم کوي چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مې په خپلو سترګومې لیدلی نه وي ترهغه وخته پورې به زه خوراک ونه کړم.

اخیر یې مورمجبوره شوه. له کوره بهر ووتله چې کله ټول کفارخپلو کورونو ته ننوتل داراغله اوحضرت صدیق اکبر رضي الله عنه یې له لاس څخه ونیو،په خپلو پښونه شوای تللی لاسونه یې په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندې واړول اوډزيد بن ارقم رضي الله عنه کورته ورغلل، کله يې چې په رسول الله صلى الله عليه وسلم باندې سترګې ولګيدلې اود رسول کريم صلى الله عليه وسلم سترګې په ده باندې ولګيدلې نو رسول الله صلى الله عليه وسلم په ژړا شو له دوی سره دمجلس ټول صحابه کرام په ژړا شول، حضرت ابوبکرصديق رضي الله عنه ته نبي کريم صلى الله عليه وسلم غيږ ورکړه او وايې چې خدای پاک جل جلاله دې داخلک تباکړي چې تاته يې داډول تکليف رسولی.

بيادی ورته وايې چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم زما دمورپه باب کې دعا وکړه چې خدای پاک جل جلاله يې په اسلام مشرفه کړي. هغه صلى الله عليه وسلم دعاوکړه، خدای پاک جل جلاله دده مور مبارکه هم په اسلام مشرفه کړه.

او حضرت حمزه ابن عبدالمطلب رضي الله عنه هم دحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه دخطبې له وجې په دغه ورځ په اسلام مشرف شو.

چې دټولو مسلمانانو (سړيو) شمير (۳۹) ته رسيده.

نودحضرت ابوبکر صديق رضي الله عنه سره دخپل ځان غم نشته، دخوږوغم نشته ورسره ،دمرګ غم نشته ورسره ، بلکې دهغو ټې ساړيو سختيو پر مهال هم دخپل محبوب رسول الله صلى الله عليه وسلم پوښتنه کوي چې دحضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم څه حال ده؟

[ حياة الصحابة عربي/ کتب خانه فيضي لاهور/ ج ۱/ ص ۳۶۸/ باب تحمل الصحابه رضي الله عنهم فی الشدائد والأذی فی الدعوة الی الله ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت عبدالله بن زید ابن عبدربه رضي الله عنه واقعه

رسول الله صلی الله علیه وسلم چې کله له دنیاڅخه رحلت وکړ نوحضرت عبدالله بن زید ابن عبدربه په خپل باغ کې کار کاوه چاورته وویل چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفات شو، نودی وایې اې خدایه ! نورې دا زماسترګې ړندې کړه چې په بل چاباندې مې سترګې ونه لګیږي ; نوبیه هغه ځای باندې یې خدای پاک جل جلاله سوال قبول کړ او سترګې یې ړندې شوې.

[ضیاء البخاري شرح صحیح البخاري ، ج ۲/ ص ۵۳۶]

## له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره ځناوروهم مینه کوله

انسانان خوڅه کوې په حیواناتوکې دده مبارک سره دومره محبت و چې دده یوه اوښه مبارکه چې قصوانومیده ،دده صلی الله علیه وسلم سره یې دومره مینه اوعشق درلود چې دوفات نه وروسته به یې له سترګو اوښکې بهیدلې اوترهغه یې خوراک ونکړ ترڅوچې مړه شوه. له اوښې سره دومره احساس وچې رسول الله صلی الله علیه وسلم یې نه لیده خوراک یې نه کاوه.

نوسرې چې څومره خداې پاک جل جلاله ته نږدې کیږي دغومره یې محبت زیاتیږي اوددې تولو بنیاد علم او له علم سره عمل کول دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نولنده داچې مونږ اوتاسو چې که د طریقت او یا عبادت یا ددین په هره شعبه کې لګیایو باید چې اول نیت ورته صفا کړو، دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا له پاره هغه کار وکړو، اوبیا دهغه سره موافق عمل وکړو نوبیابه دمحبت نمونه په مونږ کې ښکاره کیږي چې رښتیا داخلک د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت لري، داخلک دالله تعالی سره محبت لري، اوبیا به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه اثر وربانديې مرتب کوي چې دصحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ په عملونو کوم اثر مرتب کېدی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مهربانه کیدی شي مونږ ته هم هغه اثر رانصیب کړي .

په قران کریم کې ډیر خله راغلي چې ﴿ رَّضِيَ ٱللَّهُ عَنۡهُمۡ وَرَضُواْ عَنۡهُۚ ﴾ [ سورة البينه آيت ۸ ] الله تعالی دصحابه کرامو څخه راضي ده،صحابه کرام له الله تعالی څخه راضي دي. ځکه چې په قرانکریم کې ددوی منقبتونه اوصفتونه ذکر کیږي چې په خپل علم یې عمل کړی و،اخلاص یکې ؤ، اوهرڅه یې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اودرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ درضا په خاطر کول.

نوبنیادي شی داده چې موږ په علم کې کوشش وکړو اوپه علم باندې عمل اوالهي محبت په ځانونو کې پیداکړو چې په هرشي کې مودخدای جَلَّ جَلَالُهُ اودرسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت پیداشي، نوخداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ به یې په قول اوعمل کې برکت پیداکوي

او که په موږ اوتاسې کې مینه ، محبت او اخلاص نه وي بیا نو هسې خوشې سترې په ځانونو تیروو او کومې ګټورې پایلې او نتیجې هم لاس ته نه راځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۴) مجلس

## د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او صحابه کرامو د ژوند حالات

کوم نعمتونه چې خدای پاک چاته ورکړي وي دا امانت دي دغو نعمتونو پوښتنه شته، د نبي کریم ﷺ او صحابه کرامو زندګي ته چې سړی نظر وکړي چې دوی د اسلام په پیل کې څومره تکلیفونه تیر کړي او بیا څومره د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ خوف ورسره ؤ دیوه نعمت د شکرانې په نه ادا، کولو به له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه ډیر زیات ډاریدل.

یو صحابي په کور کې پروت ده مریض ده، نور صحابه کرام یې پوښتنې ته ورغلل دی ژاړي، هغوی ورته وایې چې ولې ژاړې؟ رسول الله ﷺ چې د دنیا نه رحلت کاوه له تانه راضي ؤ، صدیق اکبر رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې د دنیانه رحلت کاوه له تانه راضي ؤ، خداوند متعال جَلَّ جَلَالُهُ د رسول الله ﷺ په واسطه په تا باندې د جنت زیرې هم کړی دی ، نو ته ولې ژاړې؟ ده ورته وویل چې په دې نه ژاړم چې زه مړکیږم په دې ژاړم حضرت حمزه رَضِيَ اللهُ عَنْهُ چې شهید شو دومره شی دده نه ؤ چې دی موږ کې پټ کړی وای یوه شړی یې درلوده چې سر به یې پټ کړ پښې به یې لوڅې شوې او چې پښې به مو پټې کړې سر به یې لوڅ شو اخر مو د سر طرف په هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کمبله وریتې کړې ښې مو په وښو وریتې کړې،هغه ترمانه پورې
پداسې حالت دفقرکې شهید شو زه مرکیږم زما د کوټې په کونج کې
اوس هغه ده څلورزه روپۍ پرتې دي، په دې باندې ژاړم چې دنیا مې
ډېره شوه.

﴿أَخْرَجَ الطَّبَرَانِيُّ ، وَابْنُ حِبَّانَ فِي صَحِيْحِهِ عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا قَالَ : خَرَجَ أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ بِالْهَاجِرَةِ إِلَى الْمَسْجِدِ فَسَمِعَ عُمَرُ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ فَقَالَ : يَا أَبَا بَكْرٍ! مَا أَخْرَجَكَ هَذِهِ السَّاعَةَ ! قَالَ : مَا أَخْرَجَنِي إِلاَّ مَا أَجِدُ مِنْ حَاقِّ الْجُوعِ قَالَ : وَأَنَا وَاللهِ ! مَا أَخْرَجَنِي غَيْرُهُ . فَبَيْنَا هُمَا كَذَالِكَ إِذْ خَرَجَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ: «مَا أَخْرَجَكُمَا مِنْ بُيُوتِكُمَا هَذِهِ السَّاعَةَ؟» قَالَا: الخ ... ﴾ [رواه حياة الصحابة عربي /كتب خانه فيضى لاهور / تفصيلا / ج ١/ ص ٤٠٣ / وصحيح المسلم ج ٢ /ص ١٧٦ /رقم الحديث (٢٠٣٨) مختصراً]

ژباړه: له حضرت عبدالله ابن عباس رضي الله عنهما نه روایت دی
وايي چې حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه دغرمې په سخته ګرمۍ کې
راووت دجوماټ طرف ته روان ده حضرت عمر فاروق رضي الله عنه چې
دده اواز واورید هغه هم راووت،نوحضرت ابوبکرصدیق رضي الله عنه
نه یې پوښتنه وکړه چې ای صدیقه! ته په دې غرمه کې څه شي را
ایستلی یې؟ حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ورته وايي چې دلوږې له
وجې مې معدې درد کولو نو دباندې راووتلم چې دا درد لیږ په قرار
شي، ددې وجې نه راووتم. حضرت عمرفاروق رضي الله عنه قسم ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوي چې زه هم دلوږې له تکلیف نه راوتلی یم، وږی وم په کورکې مې دخوراک څه نه لرل.

په دې وخت کې رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ راووت چې ګوري دواړه یاران چې درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دسختو ورځو ملګري هم دي او ده مبارک ته ګران هم ډیر دي، دغرمې په سخته ګرمۍ کې ولاړ دي، نورته وایې چې یاصدیق اوعمر تاسې په دې وخت کې څه شي را ایستلي یئ؟ هغه دواړه ورته وایې چې یارسول الله ، دلوږې دتکلیف نه راوتلي یو.

رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قسم ورته کوي چې والله زه هم دلوږې د تکلیف له وجې نه راوتلی یم دکوم له وجې نه چې تاسو راوتلي یئ.

خوکه دې تللو طاقت مو وي راځئ چې دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کورته لاړشو کیدای شي چې دهغه په کورکې دخوراک څه شی وي.

نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحضرت ابوبکرصدیق اوحضرت عمر فاروق رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا په شمول دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کورته ورغلل.

دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ داعادت ؤ چې روزانه به یې دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له پاره ډوډۍ یاشیدې ساتلې چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به دده په کورتیریده نوشیدې به یې ورته راویستلې اوهغه به رسول کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وچیښلې نوځکه رسو ل کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوی ته وویل چې دحضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللهُ عَنْهُ کورته به ورشو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوږه دې ځل باندې رسول کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په هغه وخت ورنغی چې مخکې به ورته، نوحضرت ابی ایوب انصاري رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ په باغ کې ده خپل کار کوي دده ښځه مبارکه ورته راووتله چې ویې لیدل نو: ﴿ قَالَتْ: مَرْحَبًا وَأَهْلًا، ﴾ ورته وې ویل ښه راغلاست دې وې خپل اهل ته راغلئ او هر کله راشئ.

نبي کریم صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ پوښتنه ورنه وکړه چې حضرت ابوایوب انصاري چیرې ده ؟ هغه ورته وایې چې باغ ته تللی دستې راځي.

حضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ ٱللَّٰهُ عَنْهُ دوی ولیدل په منډه له خپل باغ نه راغی اوچې ځرنګه را ورسیده دخوشحالي اظهارېې وکړ چې مرجبا ښه راغلاست دې وي رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اودهغه ملګروته، او دایې له ځان سره دشکراني اداء کولو په خاطر وویل چې نن به په دزمکې مخ ترمانه عزتمند میلمانه دبل چاتوې په نصیب شوي.

بیا ورته وایې چې یارسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ! نن خو دنورو وختو څخه ناوخته شوي ؟ دی ورته وایې چې بلې.

نووایې چې تاسې دلته کینئ ابوایوب انصاري په منډه باغ ته ولاړ او دخرمایوه ګیډۍ یې راپرې کړه چې په هغه کې وچې خرما هم وې اوښې پخې خرماهم وې اونیمې پخې خرماهم وې.

رایې وړې او رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مخکې یې کیښودې چې تاسې داخورئ ، رسول الله صَلَّى ٱللَّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وایې چې ولې دې داسې اوښکالی راوشکاوه چې درې سره قسم خرما وې دې پکې ؟ یوځوخرماوې به دې راشکولې وې هغه بس وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت ابوایوب انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وايي چې زما زړه داؤ چې رطب، تمر اوبسر درې واړه وخورئ يعني نيم پوخته خرما، پخې خرما اووچې خرماچې کوموته مو زړه کيږي هغه تولې وخورئ، خوله دې سره زه تاسوته يوشی هم حلا لوم رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وايي چې ابی ايوبه! پام کوه چې دلوشلوشی حلال نه کړي.

حضرت ابوايوب انصاري رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کورته لاړسيرلی ياسيرلی، بناپه اختلاف درواياتو، حلال کړل، خپلې مېرمنې ته يې وويل چې ډوډۍ پخه کړه اونيم پسه دکباب په شکل پوخ کړه اونيم پسه يې د شوروا په شکل پوخ کړه.

کله چې ډوډۍ پخه شوه نوکباب اوشوروا يې راوړه او درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مخ ته يې کيښودل. رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضرت ابوايوب انصاري ته وايي چې په ډوډۍ کې ليرغوښه کيږده چې زمالور حضرت فاطمې ته يې ورورم چې هغه هم داډيروخت کيږي چې وږې ده څه يې نه دي خوړلي.

هغه غوښه يې حضرت فاطمې ته وروړه اودی بيرته راغی اوخپل خوراک يې وکړ.

حضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت عمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وايي چې په ورځ دقيامت به له موږ نه ددې نعمت پوښتنه کيږي.

[ رواه حياة الصحابة عربي / کتب خانه فيضی لاهور / تفصيلا / ج: ۱/ ص: ۴۰۳ / وصحيح المسلم ج ۲ /ص: ۱۷۶ /رقم الحديث: (۲۰۳۸) مختصراً ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلوږې نه په عذاب ،په داسې تکليفي حالت کې په نس ماړه شول ددغه حالت نه بیاهم داربږي چې ددغه نعمت به هم له مونږ نه پوښتنه کيږي.

## د حضرت حسن او حُسين رضي الله عنهما د لوږې واقعه

له حضرت فاطمې رضي الله عنها نه روايت دى وايي چې يوځل رسول الله صلى الله عليه وسلم زموږ کورته راغى کورې چې په کورکې حسنين رضي الله عنهما نشته .پوښتنه يې وکړه چې زمازامن چيرته دي؟ حضرت بي بي فاطمه رضي الله عنها ورته وايې چې يارسول الله صلى الله عليه وسلم ! دېرون راهيسې زمونږ په کورکې دخوراک شى نشته نوحضرت علي رضي الله عنه دباندې ورسره بوتلل او ويل يې چې تابه په تکليف کړي زه به يې بوزم دفلانکي يهودې باغ ته که له هغو خرماونه څه خرما رالويدلې وې دزمکې نه به يې راټولې کړم چې دوى ته يې ورکړم.

رسول الله صلى الله عليه وسلم ورپسې ورغى چې حسنينو مبارکينو خرماوې خوړلې؟ طبيعت يې جوړده ،کمکي ماشومان دي پوښتنه يې وکړم

دى چې ورغى نودخرمادونې لاندې اوبه ډنډولاړې دي .دوى دواړه ساعت پکې تيروي. بيا رسول الله صلى الله عليه وسلم ورته وايې چې ياعلي ؛ دابچيان کمکي دي ګرمي يې په تکليف کوي درخه چې وختې يې بوزو. هغه ورته وايې يارسول الله صلى الله عليه وسلم لږ ودريږه چې بي بي فاطمې ته هم څه خرماوې ټولې کړو هغه هم له ډيره وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټهاره، نو څه خرماوې یې تولې کړې بیا یې د حضرت فاطمې رضي الله عنها له پاره کورته ورسره راوړې، نو یو خوړ ماشوم نبي کریم صلی الله علیه وسلم په اوږه واخیست او بل ګران او کمکی ماشوم حضرت علي رضي الله عنه په اوږه واخیست او کورته روان شول

[حیاة الصحابة عربي / کتب خانه فیضی لاهور / ج ۱/ ص ۴۰۶]

حضرت عطاء رحمه الله وایي: چې ماته خبر را کړل شوی چې حضرت علي کرم الله وجهه فرمایي: چې څوورځې په موږ باندې تهارې تیرې شوې په کورکې دومره څه نه ؤ چې موږ خوړلی وی او یا مو بچیانوته ورکړي وی. او نه د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په کور کې څه و.

یوه ورځ دباندې (بهر) راووتم چې هلته په لارکې مې یو دینار پیدا کړ، یو ساعت ورته ودریدم چې را وایې خلم او که پرې یې ږدم، خو اخر مې را واخیست دلوږې له مله، ورغلم له دوکاندارنه مې څه وړه واخیستل کورته مې راوړل حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنها ته مې وویل: چې داوړه خوشته کړه.

حضرت بي بي فاطمې دډیرې لوږې نه چې دا وړه یې خوشتول ددې دتندې مبارک ویښتان په کاسه کې لویدل اوبې اوبنه وه، داوړو دخوشتولو طاقت یې نه ؤ بیا یې پاخه کړل نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته راغلم دغه بیان مې ورته وکړ، راته وې ویل: خوره یې دغه دالله تعالی له لوري تاسې ته رزق دی.

[حیاة الصحابة عربي / کتب خانه فیضی لاهور / ج: ۱/ ص: ۴۰۶]

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابه کرامو اورسول الله ﷺ داسې ژوندګې تیره کړې ده چې دنیا به یې ډېره شوه نوژړل به یې.

حضرت علي رضي الله عنه به اخروخت کې په دې ژړل اوخفه ؤ چې یووخت کې په ماداسې لوږې تیرې شوې چې له رسول الله ﷺ سره ؤ په نس پورې به مو تیږې تړلې وې او اوس زما دمال زکات څلوېښت زره دیناره کیږي.

[حیاة الصحابة عربي / کتب خانه فیضي لاهور / ج ۱/ ص ۴۰۶]

په صحابه کرامو رضي الله عنهم باندې داسې تکلیفونه راغلي دي چې په کورکې یې په شپه اوورځ دخوراک دضرورت شیان نه پیداکیده، هغه دعیش او ارام ژوند شیان خو له سره نه ؤ.

## امهات المؤمنین له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه دنفقې د زیاتوالي غوښتنه کوي

ام المومنین قسم خوري چې په یوه میاشت کې زمونږ په کورکې اور نه دی بل شوی [مشکاة المصابیح/ ج ۲ / کتاب الاطعمة / ص۳۶۵] داسې وختونه په مونږ تیرشوي دي چې څه غنیمتونه ونیول شول نوټولې بیبیانې مبارکې له رسول الله ﷺ نه راتاؤ وې اوورته وایې چې مونږ ته دې په نفقه کې څه زیادت کړی وای.

صحابه کرام رضي الله عنهم دباندې د رسول الله ﷺ کورته ناست دي ، رسول الله ﷺ چاته دکوردننوتلواجازه نکړې چې ورشي حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه راغی هغه ته هم اجازه نشته

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عمرفاروق رضي الله عنه راغی هغه ته هم اجازه نشته وروروسته بې بیا دوی دواړو ته اجازه وکړه چې ورننوتل د ډېر پریشانه ناست ده.

حضرت عمرفاروق رضي الله عنه د ډېر کشف چښتن ؤ هغه ورته وایې چې یارسول الله صلی الله علیه وسلم! زه چې د کوره راوتم زمانه خپلې ښځې مطالبه وکړه چې په نفقه دې لېږ راته زیاته کړې وای ښه به وه، حضرت رسول الله صلی الله علیه وسلم تبسم وکړ وېې ویل چې دادتاسې میندې هم له مانه راتاو دې زمانه دنفقې دزیادت غوښتنه کوي.

حضرت صدیق اکبر رضي الله عنه ورجګ شو په خپله لور (حضرت عایشه رضي الله عنها) باندې یې دوهلو اراده وکړه ، حضرت عمرفاروق رضي الله عنه ورجګ شو په خپله لور (حضرت حفصه رضي الله عنها) باندې یې دوهلو اراده وکړه ، رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وایې چې نه وهی به یې نه.

که مونږ او تاسې دطالبې زندګې ته وګورو الحمدلله دومره د ازادې زندګي ده چې په شوا روزکې خویووخت نه بلکې دواړه وخته لنده ډوډۍ رسیږي اوبیاهم چې مونږ دنعمت شکرانه اداء نکړو، دازمونږ عوام وروڼه الحمدلله دومره آباد دي چې په هروخت کې په ډوډۍ ماړه ترکاري هرڅه ورته رسیږي ،نوباید چې ددغه هم سوچ راسره پیداشي چې ددغونعمتونوبیا له مونږ نه پوښتنه کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۵) مجلس

## د نعمتونو قدر او شکرانه بايد اداء شي

﴿عَنْ عَمْرُ بْن ميمون الاوْدِیّ قَالَ قَالَ رَسُولُ الله صَلَّ اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لِرَجُلٍ وَهُوَ يَعِظُهُ اغتَنِم خَمْسًا قَبْلَ خَمْسٍ شَبَابَکَ قَبْلَ هَرَمِکَ وَصِحَّتِک قَبل سُقْمِکَ وَغِنَاکَ قَبل فَقْرِکَ وَفَرَ اغَکَ قَبلَ شُغْلِکَ وَحَيوتَکَ قَبلَ مَوْتِکَ﴾ [مشکاة المصابيح / ج:۲ / کتاب الرقاق / ص-۴۶۳]

ژباړه: له حضرت عمروبن ميمون رضي الله عنه نه روايت دی وايي: نبي کريم صلی الله عليه وسلم يوه سړي ته د نصيحت په حيث وفرمايل چې پنځه شيان مخکې له پنځوشيانو غنيمت وګڼه :۱- ځواني غنيمت وګڼه مخکې له سپين ګيرتوب .۲- صحت تندرستي غنيمت وګڼه مخکې ترمرض نه .۳- موړوالی(ابادي) غنيمت وګڼه مخکې تر فقر اومسکنت. ۴- فراغت غنيمت وګڼه مخکې تر مشغولتيا .۵- او ژوند غنيمت وګڼه مخکې تر مرګ .

څکه کله نا کله په سړي داسې حالت هم راځي چې بيا نورشيان خو څه کوئ دالمونځ به هم بيا نشي کولی نو اوس لا فرصت شته دخدای پاک ددين خدمت په ښه توګه سرته ورسوئ او د نيکانو او صالحانو په مجلسونو کې شرکت او ګډون کوئ ، ځکه ډيري لويې

(c) ketabton.com: The Digital Library



، لویې هستۍ ولاړې له موږ سره یې دمجلسونو قدر نه وُ اوس یې موږ له مجلسونو څخه بې برخي یو .

## اول نعمت: عمر دی

یودهغونه دانسان دعمر( ژوندون ) دی یعنې ژوندون مخکې له مرګ نه غنیمت وګڼه، مطلب یې دادی چې سړی دې پدې ځان پوه کړي چې زما دژوندون هرملېږ هرسیکنډ ،هر ساعت دومره قیمتي شی ده چې ټوله دنیا چې سړی خرڅه کړي یوساعت اویوملېږ ژوندون نه شي اخیستلای ،ددنیا نورنعمتونه اکثره داسې دي چې هغه په روپو اخیستل کیږي، په سفارش پیداکیږي، په زورپیداکیږي ؛خو عمر داسې یولوی نعمت دی چې دابیا په هیڅ قیمت نه پیداکیږي

چې یووار دخداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ دطرف نه هغه کومه نیټه چې دمرګ له پاره مقرر وه هغه راورسیده که ددنیا ترټولونه لوی بادشاه وي ،دلوی قدرت څښتن وي ،لکه په ټوله دنیاباندې څلوروکسانو بادشاهي کړې دوو مسلمانانو اودوو کافرانو خو دټولې دنیا بادشاه که هم وي چې کله ملک الموت ورته حاضرشوی ده چې ټوله دنیا یې ورکړې وای ؛نوبیا یې هم یوملېږ ژوندی نه وُ پری ایښی، دایودومره غټ قیمتي نعمت ده چې په هیڅ طریقه بیا نه پیداکیږي او سړی ارمان پسې کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په يو ځل (سبحان الله) ويلو سره دقبر د پنځوسوو کلونو دعبادت ثواب ورکوي

يو ولي الله په يوه هديره باندې تريده ديو قبر متعلق کشف ورته وشو چې په قبرکې سړی ده اودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په عبادت باندې لګياده، ده تعجبا سبحان الله وويل، هغه دقبرڅښتن پده باندې غږ وکړ چې زما پنځه سوه کاله کيږي چې زه وفات شوی يم اوخداوندمتعال په عبادت اودغه زندګي باندې لګيا يم لکن ددغو پنځو سوو کالونو عبادت به ټول زماتاته وبښم که ته دادېو وار سبحان الله چې تاوويله ثواب ماته وبښې ځکه ددنيا شی بی ارزښتنه نه ده، دنيا مزرع (کښت) داخيرت ده.

دلته يوه کلمه دسبحان الله ويل قيمت لري دومره غټ چې سبحان الله دزمکې نه تراسمانه پورې، په يوقول باندې نيمه تله دميزان ډکوي. الحمدلله توله تله دميزان ډکوي.

داددغه ژوند کلمه ارزښت لري چې سړی مړشو بيا يې خپل عمل قطعه کيږي، حديث شريف کې راځي:

﴿عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، أَنَّ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، قَالَ: " إِذَا مَاتَ الْإِنْسَانُ انْقَطَعَ عَنْهُ عَمَلُهُ إِلَّا مِنْ ثَلَاثَةٍ: إِلَّا مِنْ صَدَقَةٍ جَارِيَةٍ، أَوْ عِلْمٍ يُنْتَفَعُ بِهِ، أَوْ وَلَدٍ صَالِحٍ يَدْعُو لَهُ ﴾ [صحيح المسلم/ج: ۲ / ص: ۴۱ / رقم الحديث: ۱۶۳۱ / مشکاة المصابيح/ج: ۱/ ص: ۳۲]

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه : له حضرت ابو هريره رضي الله عنه نه روايت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي : کله چې انسان مړ شي عمل يې قطعه شي يوازې درې شيان به تل ترتله ورسره وي (چې له مرګه وروسته يې هم ثواب ورته رسيږي) ۱- صدقه جاريه (لکه مدرسه ، مسجد، پُل ، لار ، ) ۲- علم نافع چې بل چاته يې رسولی وي ۳- نيک صالح اولاد چې دعا ورته کوي.

او ياپې دانيک عمله اولاد دقرانکريم تلاوت ، ددينې علومو درس او تدريس کوي دهغه ثواب هم مړي ته رسيږي.

نو هغه (ولي) پنځه سوه کاله په قبر کې دخدای پاک جل جلاله په عبادت تيرکړي هغه ورته بښي خوچې داديوه ځل سبحان الله ويلو ثواب ته ماته راکړې. ګوری دابيا نه پيدا کيږي.

**دوهم نعمت فراغت دی:**

دوهم نعمت فراغت دی ،داچې سړی په مصيبتوکې نه وي واقع ،سړی پدې شيانو کې نوې واقع ،دخدای پاک جل جلاله عبادت اوبندګي ته خلاص وي دغه ترټولونه غټ نعمت دی ،هغه خلکوته چې دغه نعمت معلوم ؤ نوهغو به خداوندمتعال جل جلاله ته دفراغت سوالونه کول اوددغه فراغت يې قيمت ورته معلوم ؤ دغه يې نه ضائع کاوه خدای پاک جل جلاله له دوی سره څه معامله کوله زه يودوه واقعې دلته بيانوم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت بي بي رابعې يوه زړه دردوونکې واقعه

حضرت بي بي رابعه درسول کریم ﷺ په امت کې يوه نیکه ښځه تیره شوې ده خوداحضرت بي بي رابعه په يوداسې مسکین کورکې پیداشوې ده چې په کومه شپه چې داپیداشوه په هغه شپه دچراغ تیل نه ؤ ،په کورکې دومره غوړ نه ؤ چې ددغې جنکۍ دنامه غوټۍ يې پرې غوړه کړې وی ( دا ځکه ورغوړوي چې ماشوم يا ماشومه نوې پیداشي نو دنامه غوټۍ يې زخمي وي ددې غوړولو په واسطه بیا ښه شي پخوا خو طبیبان کم ؤ اوس خو وسایل زیا ت شول فراخي راغله )

په هغه کورکې دومره جامه نه وه چې دابې پکې تاوکړې وای ،ددې قبله ګاه صاحب دخدای پاک جل جلاله داسې دوست ؤ چې دخداوندمتعال جل جلاله سره يې داوعده کړې وه چې زه به يې دتاله دربارنه دبل چانه غوښتنه ونه کړم.

دبي بي رابعې مور مبارکه ورته وایې چې دهمسایه کورته ورشه که لږ تیل اوځه غوړي يې درکړل چې جنکۍ وربانديې غوړه کړم اوځه رنایې وربانديې جوړه کړم ،هغه ولاړ دهغه بل کور په دروازه يې صرف لاس کیښود بیرته راغی چې هغه کور والادروازه نه خلاصوي ویده دي، دشپې رسول الله ﷺ په خوب کې ورته وایې دوخت امیر، ورته ښې چې ورشه هغه ته ووایې اوزماسلام وربانديې ووایه اوداښانه ورته ووایه چې تابه په مابانديې دهرې جمعې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



شپه څلورسوه واري درودشريف ويلو اوپه تيره جمعه کې درنه پاته شوی ده نودهغه په جبيره کې دغه انسان ته څلور سوه درهمه ورکړه ؛نودحضرت رابعې پلار دې بادشاه ته ورغی نوهلته يې په يو کاغذباندې درخواست وليکه چې رسول الله ﷺ تاته يوپيغام راکړی (نوهغه دوخت اميران مخکې دهرصالح خلک و) نوويې ويل چې دابې ادبي ده چې دی دننه راځي خکه چې دحضرت پيغمبر عليه السلام پيغام يې راوړی نوزه دباندې ورځم نودی دباندې ورته راووت بيا دی چې داحال ورته وايې نوهغه دشکراني له پاره چې داخو مې درود قبول ده چې رسول الله ﷺ ته مې دردود رسيږي نوده ته هم روپۍ ورکوي اونورخيراتونه هم کوي قصه لنډوم اخردرابعې پلار وفات شو دوی څلور خوندې ورنه پاتې شوې اوپه دې کال باندې قحط سالي (وچکالي) هم راغله.

بلې خواته ددوی ورور هم نه و ؛نوتربورو داجنکۍ په خپل منځ کې تقسيم کړې اوبيا بي بي رابعه اصيله مسلمانه جنکۍ وه دمسلمان لور وه دې ظالمانو تربورو دمينځې په نام خرڅه کړه چې دازما مينځه ده.

حضرت بي بي رابعه په هغه کور کې دخپل مالک په خدمت کې لکياوه اوهلته يې دزړه تعلق دزړه عشق اومحبت دالله تعالی جل جلاله په عبادت کې ده خوعبادت ته نه خلاصيږي.

يوه ورځ يې دباندې په څه شي پسې وليږله هلته په مخه يوځوان ورغی، نودې ته خوځان معلوم ؤ چې زه خو اصيله يم نومنډه يې کړه ديوديوال نه يې ځان پناکاوه چې دنامحرم سره مخامخ نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



شي؛نودقدرت کارونه وددیوال خواته لوی زوړ خندق وهغه ته ورولویدله اولاس مبارک یې مات شو اوبیا خدای پاک ته په سجده پریوته چې ای خدایه!

یتیمه شوم. دمنیځې په نامه خرڅه شوم. روغه وم اوس مې لاس مات شو اودپوښتنې څوک نلرم ؛ددې ټولو هیڅ پروا نه کوم خوکه زه په دې پوه وای چې ته له مانه راضي یې اوکنه؟

نوغیبي غږ پرې وشو چې اې بي بي رابعې! ته مه خفه کیږه تاته به په قیامت کې زه داسې مقام درکړم چې غټ غټ خلک به دهغه ارمان اوتمناکوي.

له عبادت سره یې دومره مینه وه چې کله به ددې مالک ویده شونودا به عبادت ته جګه شوه ځکه دورځې یې دخپل مالک خدمت کاوه دفراغت موکه نه ورته پیداکیده. یوه شپه راجګه شوه لمونځ یې کاوه په سجده پرته ده دعاکوي اوبه دعاکې څه کلمات په زوره ورنه ووېل شول ددې مالک راویښ شو چې داداکلمې وایې: ای رب تعالی ته خوزما په زړه باندې خبر یې چې زما دزړه ټوله مینه دتاپه عبادت کې له تاسره ده زما دسترګوسړوالی ټول دتاپه بندګي کې ده ؛خوځهٔ وکړم چې دبنده بنده دې کړې یم،وخت نه لرم چې دبرناوخته رافارغه شم اوبه شپه کې ناوخته تاته په عبادت درېږم.

رب تعالی! ته زمادا نیم ګړی عبادت په خپل دربارکې قبول کړې.

ددې مالک چې راویښ شو ګورې چې په کوټه کې رڼاده چې داسمان لطرف نه پدې باندې انوار راوریږي،هغه ته یې چې قیمت

(c) ketabton.com: The Digital Library



معلوم شو چې داڅومره قیمتي جنکۍ ده؟ نوورته وایې چې کاشکې! زه دې غلام وای.

بهار یې دا آزاده کړه چې زما نه آزاده یې خوښه دې چې له ماسره اوسیږي اوکه نه دخپل ځان خپله بندوبست کوې اوخپل عبادت ته خلاصه یې. نودې یوه ګوډخه جوړه کړه په هغه کې به یې د الله تعالی عبادت کاوه.

یوه وخت دا دحج په سفر روانه شوه هغه خر چې داورباندې سپره ده په نیمه لار کې وفات شو. دقافلې ملګرې ورته وایې چې زموږ سره یوځای لاړه شه.

دا ورته وایې چې نه!

کله چې دوی ورنه روان شول په بیابان کې په یوګوښې ځای کې پاته شوه؛ نورب تعالی ته بیا دومره محبوبه هم وه وایې چې ای رب تعالی! دوست له دوست سره داسې کوي چې دخپل کور دملاقات نه دې محرومه کړم. په چولې بیابان کې پاته شوم دحیواناتو،حشراتو ضرر اوډار مخه نه وینم؛نوپه هغه ساعت باندې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ هغه خر ورته را ژوندی کړ.

کله چې کعبې مبارکې ته ورسیده حضرت ابراهیم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ هم حج ته تللی و، هغه چې ګوري دکعبې خپل حقیقت په خپل ځای نشته. نوحیران شو چې دکعبې حقیقت چیرې تللی.

هاتفې غږورباندې وشو چې دبې بې رابعې زیارت ته ورغلې ده، هغه په خدای دومره ګرانه ده چې کعبه شریفه یې استقبال ته ورغلې ده. هغه داچې یوکال ابراهم بن ادهم رحمه الله تعالی له یوې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خواحج ته روان وو اوپه څوارلس کاله کې ورسيده، څکه چې قدم په قدم يې نفلونه کول اوبي بي رابعه له بلې خوا حج ته روانه و اوپه کم وخت کې چې ابراهيم بن ادهم رَحِمَهُ اللّٰهُ کعبې مبارکې ته ورسيد، ګوري چې دکعبې مبارکې حقيقت په خپل خای نشته ، حيران شو چې ددې حقيقت چيرته دی؟ الهام ورته وشو چې دکعبې شريفې حقيقت دبي بي رابعې استقبال ته تللی دی ،کله چې بي بي رابعه رحمة الله عليها را ورسيده حضرت ابراهيم بن ادهم ورته وويل چې دادې څه شروع کړي دي چې کعبه مبارکه ستا استقبال ته درغلې ده؟ دې مبارکې ورته ووېل چې تا څه رياکاري شروع کړې ده چې په هرګام باندې دوه رکعته نفل کوې؟ اوټول عالم دې په ځان خبرکړی اوبيا يې ورته ووېل چې: آن چه تو درنماز يافتي من درنياز يافتم.

[ تذکرة الاولياء فارسی ازص ۷۲ /تا ۷۵ / چاپ ايران ]

## د حضرت عبدالله بن مبارک د غلام عجيبه واقعه

حضرت عبدالله ابن مبارک رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ چې يو مشهوراوبهترين عالم شوی اوداامام بخاري رَحِمَهُ اللّٰهُ په شلواحاديثوکې استاد دی اوصاحب دمذهب دی ،دده يوغلام ؤ په هغه غلام باندې يې په ورځ کې يودينار مقررکړی وچې يو ديناربه په ورځ کې ماته راکوې نوربه خپل کار کوې.

نوده به شپه اوورځ دخدای تعالی عبادت کاوه ،حضرت عبدالله ابن مبارک ته چاشکايت وکړ چې دتاغلام خوله مړو نه کفنونه خلاصوي هغه خرڅوي اوتاته يې راوړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللهُ ډیرزیات خفه شوچې بودینارمې ورباندې ایښې اوهغه هم ماته په حرامه طریقه راوړي.

حضرت عبدالله بن مبارک رَحِمَهُ اللهُ ځان په ویدو واچاوه اوغلام له کوره ووت،دی هم له شا نه غلی وروسې جګ شو، غلام لاړ هدیرې ته،په هدیره کې یې یوقبر لوځ کړ اوقبرته ورکوز شو ترډېره یې ځنډ یکې وکړو،نودی دمعلومات له پاره ورغی چې ولې دومره رځنډېده،چې ګوري په قبرکې یې دلمانځه ځای جوړکړی هلته په لمانځه لګیاده ځکه دورځې فراغت نه ؤ دبل په خدمت کې لګیا ؤ ترسهار یې شپه په عبادت تیره کړه ،سهارچې سپیدې وچاودې نوبیرته را روان شو،حضرت عبدالله ابن مبارک مخکې دی اودی وروسې دی.

جومات ته راغی هغه له شانه پسې راغی کله یې چې لمونځ وکړ دلمانځه نه وروسته حضرت عبدالله ابن مبارک یې څنګ ته ناست ده،داغلام دعاکوي چې:

اې خداوندمتعاله ! اې مالکه ! ورځ راغله له مانه مالک مجازي روپۍ غواړي اوزه دتادعبادت نه یوسیکنډ نیم فارغ.

اې رب تعالی ! ته یې دخپلو خزانو څخه راکړې.

حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللهُ ګوري چې داسمان له طرف نه دینار دده په لمن کې ولویده. چې داحال یې ولید حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللهُ غیرپورکړه چې کاشکې ! زه دې غلام وای ته مې مولا وای ؟ چې رب تعالی ته دومره ګران یې چې داسمانه په تا باندې دینارونه را اوروي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غلام پوه شو چې حال مې افشا شو دعا کوي:

اې رب تعالی! هغه زما اوتا دزړه مېنه چې وه، هغه محبت اواخلاص چې ؤ هغه تر اوسه پورې پټ ؤ اوس هغه ښکاره شو.

رب تعالی! نور په دنیاکې ژوندون نه غواړم. دده په غیږکې یې ساه وختله.

بیا چې ده په هغه قبرکې لمونځ ورباندې کاوه په هغه خیره جامه کې په هغه ټاټ کې په هغه خپل قبر کې یې خښ کړ.

دشپې حضرت نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ اوحضرت ابراهیم عَلَيْهِ السَّلَامُ دواړه حضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ په خوب وېني چې په بُراق باندې سپاره راغلل اوحضرت عبدالله ابن مبارک رَحِمَهُ اللَّهُ ته خوشکې کوي چې ددنیاخلک چې مړه شي نونوې جامې خلک ورته کوي نوی کفنونه ورته کوي اوتا دالله تعالی اوزما دوست په خیره جامه په ټاټ کې خښ کړ! [تذکرة الاولیاء فارسی ص:۲۱۵، چاپ ایران فریدالدین عطارنیشاپوري]

داوخت چې مونږ دلته ناست یواودفراغت زندګي راپه برخه شوې ده خپل ذکرته خلاص یو زمونږ اوتاسې ملګري ژوندي، زمونږاستاذان، شناخته نن په داسې خایونوکې دي چې هغوی په میاشتومیاشتوکې قرانکریم نشي وراخیستی، هغه یوساعت دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکرته نه خلاصیږي. داقیمتي وخت که څه هم یو ملت وي چې مونږ ضائع کوو یقیني ددغه پوښتنه به رانه کیږي چې وجود، ژوندون ؤ، خواني وه فراغت ؤ، صحت ؤ اوغنا هرڅه ؤ بیا هم تاسې سستي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اصل مسلمان هغه ده چې دمسلمان په غم غمجن شي، په مسلمان باندې وخوریږي، نن که مونږ دلته په خوشحالي باندې ناست یو الحمدلله دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په عبادت خوشحاله یوخو په هغو وروڼو باید خفه شو چې هغه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ عبادت ته خلاص نه دي، جرم یې فقط دین دی، بل هیڅ جرم نلري نووخت باید سړی ضائع نه کړي، خپل عمر بایدسړی ضائع نکړي ،یوسیکنډ اووخت باید سړی ضائع نکړي، بیا به وروسته مونږ ارمان کوو چې کاشکې په هغه وخت کې مونږ لږ کوشش کړی وای؟

کاش ! زمونږ هغه مشائخ چې ژوندي ؤ مونږ ددوی په ژوند کې ،نه ددوی خدمت وکړ ،نه مو په ختموکې ډېرشرکتونه کول، نن هغه په لاس نه راځي آرمان وریسې کوو، خدای نخواسته بیا به داسې وخت راغلی وي چې داسې مدرسه به نه شو پیداکولی، داسې یوداسې ځای به نشو پیداکولی چې په هغه کې په دیني مینه سره رایوځای شو، یواستاذاویوشیخ به نه شو پیداکولی چې دهغه سره په عبادت، ریاضتونواوذکرکې شرکت وکړ. او دهغه په واسطه خدای پاک موږ او تاسې له ناخوالو او بدبختیو څخه وساتي.

دا الحمد لله ډېر دفرصت اوفراغت زندګي ده اوهغه وروڼه چې دفرصت او فراغت موکه ورته برابره نده دمثال په توګه دکافرانو او یانوروظالمانو په بندي خانوکې بندیان دي دهغوی هم،مونږ اوتاسې ته یې سترګې دي ،محتاج دي چې دعاوي به راته وکړي. همدارنګه مړي دژوندو دعاته دومره محتاج دي لکه ژوندي سړي چې په سخته ګرمي کې یخو اوبوته محتاج وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایي: مړی په قبرکې داسې دی لکه په دریاب کې غرق، دپلار، ورو او ملګري دعا ته منتظر وي، کله چې هغوی دعا ورته وکړي ده ته یې ثواب ورسیږي نو ده ته له دنیا او( مافیها) له هغه څه چې په دنیا کې دي محبوب وي او دژوندیو هدیې مړیو ته ددوی دعاوې او استغفار دي.

[احیاء علوم الدین ج: ۴/ ص: ۵۲۳]

هغه مړي په موږحقونه لري، دمونږ مشائخ دي ،زمونږاستاذان دي، زمونږ خپلوان دي هغوی چې وفات شوي دي مونږ ته یې سترګې دي هغه ټول باید په دعاکې یادکړو.

جناب انوارالمشائخ مرحوم ارغندي خلیفه صاحب رحمه الله چې په کومه ورځ باندې وفات ؤ په اینده کال کې چې هغه شپه راغله روژه وه دخپل کور والو یې په هغه شپه څهٔ ختم اوخیرات نوو کړی خکه روژه وه ،خودزرمت خلیفه صاحب مولوي دین محمد اخندزاده رحمه الله ویل چې مونږ په کورکې صدقه پسې کړې وه دشپې څوک خوب ویني چې خلیفه صاحب مبارک وایې چه په ماپسې خوچا څه خیرات ونکړ وایې چې مونږ ورته وویل چې موږ خوخیرات کړی ؤ ده وویل چې نه دهرمړي خپل نظري ته سترګې وي ،هغوی خپلو شاګردانواومریدانوته یې سترګې وي هغه خپلو خپلوانو ته یې سترګې وي خپل خپلوان شاګردان او مریدان چې په دې وخت کې چاته په ښه ورنشي نو بیا یې څه کوي.

نوبایدچې هروخت سړی خپل خپلوان اواستادان له خیراوخیرات څخه هیرنه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳٦) مجلس

## داسلام دین دمسلمانو له پاره دراحت ذریعه ده

داسلام دین دمسلمانانو له پاره ددنیااواخیرت دراحت ،سکون ،اطمنان ، خوشحالي اوکامیابي ذریعه ده.
تاریخ ته چي نظروکړو هغه چاچې ددین خوندلیدلی،خوندیې څکلی بیا ددنیا دهرقسم نعمتونوڅخه بیزاره شوي دي.

## دحضرت ابراهیم بن ادهم دولایت سبب اوله خدای جَلَّ جَلَالُهُ سره دده مینه

حضرت ابراهیم ابن ادهم رحمه الله دخپل وخت دخراسان دبلخ بادشاه ؤ لکن ډېر عابداومتدین سړی ؤ،
یوه ورځ دشپې په کټ پروت دی دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په ذکرباندې لګیا ده ،دبام په سرباندې یې دربی واوریده ؛نوغږ یې وکړ چې څوک دي؟ له هغه طرف نه آواز ورته وشو چې زه یم اوښ مې ورک ده هغه ګورم. نوده ورته وویل چې اوښ دبام په سرڅه شی کوي داخوډېرنادره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه ورته وویل چې دادومره نادره نه ده چې اوښ دبام سرته وخیژي خودابیا ډېره نادره ده چې ته دې دبادشاهي په تخت ناست یې اودخدای جَلَّجَلَالُهُ رضا غواړې. په دې خبره له ده سره دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ویره پیداه شوه.

بله ورځ ده دبادشاه حرم سرای ته دپیره دارانو له اجازې پرته ګوري چې سړي دروازه خلاصه کړه ورته راننوت.

دی ورته وایې چې څرنګه راغلې؟ اوچارا پرېښودې؟

هغه ورته وایې چې دا خویوه لاره ده پدغه لارباندې تیریږم.

دی ورته وایې چې لارخنګه ده دا خوزماکور ده، حرم سرای ده.

هغه ورته وایې چې دتانه مخکې دچاؤ؟

دی ورته وایې دفلانکي.

هغه ورته وایې چې فلانکی څه شو؟

در ورته وایې هغه خو مړشو.

له هغه مخکې دچاه ؤ؟

دفلانکي.

څه شو؟

مړشو.

نوچې یوځې بل راځي، هغه بادشاهان لاړل په دغه ځای باندې تیرشول ته پدغه ځای باندې راغلي نودایوه لارته ده؛ نوڅهٔ شی دي، زه په دغه لارباندې تیریږم.

[ تذکرة الاولیاء فارسي ص: ۱۰۳/ چاپ ایران ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودادده له پاره الهامات ؤ يوځوک ورته مقررؤ چې ده ته يې تنبيه ورکوله ،نوده له ځان سره فيصله وکړه چې دبادشاهي دژوندون څخه تيريم چې داسې يوځای پيداکړم چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په عبادت باندې مشغول يم ،دواجب تعالی سره مې تعلق جوړشي ،خپل وطن اوبادشاهي يې پريښوده ،خپل کمکی زوی يې په ځانګوکې پريښوده اودکعبې شريفې په طرف روان شو دحضرت سيدنا امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ شاګردشو .

[ تذكرة الاولياء فارسي ص: ۱۰۲/ چاپ ايران ]

ليکي چې ده ته به امام صاحب ويل چې سيدنا ابراهيم يعنې ابراهيم زموږ سردار ده .

داحضرت ابراهيم ابن ادهم دهروخت تيرشو چې دوطن نه ورک شو،يووخت کې دده کمکی زوی لوی شو مورته وايې چې زما پلارچيرې دی ؟ څه شومړده،قبر يې چيرې ده په کوم طرف باندې تللی .

هغه ورته په ژړا شوه چې پلار دې دوخت بادشاه ؤ خوتخت هرڅه يې پريښودل،دومره خبره يم چې خلک وايې چې په کعبه مبارکه کې دملنګې ژوندکوي هلته ملنګ ده .

نودحج له پاره دده زوی اعلان وکړ چې څوک حج ته ځي دسفر خرڅه يې زه پرې کوم دهرخلک ورسره تيارشول هلته دحج هغې موقع ته چې ورسيدل په کوم ځای کې چې دوی واړول نوزوی يې مکې معظمې ته ورغی دکعبې مبارکې د مجاورانو نه پوښتنه کوي چې ابراهيم ابن ادهم تاسې پيژنئ ؟ هغوی ورته وايې چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



بلې . چیرې ده؟ هغوی ورته وایې چې ددغه غره طرف ته تللی ده لرګیوته اوروزانه په شاباندې یوبار لرګي راوړي اوهغه خرڅوي ،څه روپۍ په ځان خوري څه روپۍ په مریدانواوشاګردانو اوملنګانوباندې خوري.

زوی یې چې مخې ته ورووت نوګوري چې یوضعیفه سړی را روان دی دلرګیو پیټی یې راخیستی ده . ده هم وپیژانده چې داهغه ده ځکه هغه سړي دغه علامې ورته ښودلې وې، نودځان سره په ژړا شو چې وطن بادشاهي هرڅه پاتې دلته داسې په ملنګي کې ژوندتیروي لرګي په شاباندې راوړي اوهغه بیا خرڅوي اوپه هغوی باندې ژوند کوي.

خوځان یې ورباندې ونه پیژانده .

بل وخت کې ابراهیم ابن ادهم رَحِمَهُ اللَّهُ دحج په وخت کې خپلو مریدانواوشاګردانو ته توصیه کوي چې ګورئ حج ته ښځې اوهلکان راځې تاسې به دنظر ډیرخیال کوي چې په حرم دخدای کې مو په غلطه نظر ونه لګیږي.

دحج مراسم شروع شول دطواف حالت ده حضرت ابراهیم ابن ادهم رَحِمَهُ اللَّهُ ته داخپل زوی په مخه ورغی اوډیرپه ځیرځیربې ورته وکاته،هغه هم ورته وکتل.

کله چې دحج مراسم خلاص شول اوبیرته راغلل یوشاګرد ورته وایې چې تاخومونږته ویل چې دحج په دروان کې به دخپلو نظرونو ساتنه کوئ په ښه توګه او کلکه اوته ماولیدلې چې یوهلک ته تاډیر ځیرځیروکتل

(c) ketabton.com: The Digital Library



ده ورته وویل چې ته رښتیا وایې زه ګومان کوم چې سږ کال هغه زماکمکی زوی چې ما په زانګوکې پرې ایښی و، هم حج ته راغلی هغه ته ما په خیرخیرو کتل

دادده شاګرد ولاړ دخراسان دحاجیانو پوښتنه یې وکړه هغه یې پیداکړل اوهغه ده چې ورته په خیر،خیرکتلې ؤ هغه یې هم پیداکړاوموریې ورسره وه ؛نوورته وایې چې دتاپلار څوک دی؟

دی ورته وایې چې ابراهیم ابن ادهم ده

هغه ورته وایې چې هغه چېرې ده؟

زوی یې ورته وایې چې ډیر کلونه کیږي چې له وطن څخه راغلی ده خویوه ورځ مخکې مې ولیده چې دلرګیو پیټی یې په شاه اوپرون دحج په وخت کې مې بیا دطواف په حالت کې ولیده چې دی په طواف کې لګیا ؤ

دغه دده شاګرد ورته وایې چې نوتاولې خپل ځان نه ورپیژانده؟

دی ورته وایې چې ددې له پاره مې ځان نه ورپیژانده چې دی زمونږنه راتښتیدلی ده اهل اواعیال یې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په عشق کې پریښې نوزه په دې پوهیدم چې که زه ځان وروپیژنم دلته به زمونږ نه بیا ځان پټ کړي

داشاګرد یې جګ شو ورته ویې ویل چې که تاسې هغه ووینئ نوهغه پیژنئ؟

دوی ورته وایې بلې هو!

(c) ketabton.com: The Digital Library



نودادده بي بي اوزوی دواړه يې را روان کړل کله چې په حضرت ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ باندې دخپلې بي بي سترګې ولګيدلې نوچېغې يې کړې چې داحضرت ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ دی.

حضرت ابراهيم ته يې زوی ورغی غيږېې ورکړه سترې مشې کوي په سترې مشې کې دی له خپل زوی نه لومړی پوښتنه دا کوي چې په کوم دين يې؟

زوی يې ورته وايې چې مسلمان يم.

حضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللهُ وايې چې الحمد لله.

حضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللهُ بياورته وايې چې قران کريم دې ويلې؟

زوی يې وايې هو! دی بيا ورته وايې چې الحمد لله.

حضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللهُ بيا ورته وايې چې علم دې کړئ؟

زوی يې وايې چې بلې دفقې په احکامو کې لګيايم.

حضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللهُ بيا ورته وايې چې الحمد لله.

له دينه پس ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللهُ دستې جګ شو له دې ځای نه روانيږي زوی يې پښوته غيږورکړه، ښځه يې په کاليو پورې ونيښته چې دوطن نه داشل کاله کيږي چې راغلی يې نن مودلته پيداکړې اوته اوس بيا له دغه ځايه روانيږې چيرته ځې؟

حضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللهُ ځان خلاصوي اوزوی يې غيږورکړي اخير انسان دی په اولاد يې شفقت راغی، نوهاتفي غږيږې وشو چې زما ددوستي دعوه لرې اوبيا دخپل زوی په عشق کې لګياشوې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوحضرت ابراهيم رَحِمَهُ اللَّهُ داسمان لوري ته سترګي پورته کړي اودا الفاظ يي وويل چې :( اللهم اغثني!) خدايه پاکه !ته زما معاونت وکړې.

دزوى مبارک روح يې دده په غيږ کې قبض شوه.

چاپوښتنه ورنه وکړه چې داولي؟

ده ورته وويل چې ځکه چې د رب تعالى له طرفه په ماآواز وشو چې په دوستي کې فرق راغى دخپل زوى سره دې تعلق پيداشو نوماخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وويل چې اى رب تعالى! ته مې نصرت وکړې چې يامامړکړې چې په هغه عشق کې مې تغير رانشي اويامې زوى مړکې چې دهغه په محبت کې زه ګرفتارنشم

[ تذکرة الاولياء فارسي ص: ۱۰۷/ چاپ ايران ]

## حضرت ابراهيم بن ادهم په ظاهري تکليف معنوي خوند اخلي

دا ابراهيم ابن ادهم رَحِمَهُ اللَّهُ دخپل ژوندحالات ذکرکوي اووايي چې په خپل ټول ژوندکې په ماباندې ډيره خوشحالي راغلي خوپه دې ټولوکې په دريوځايونوکې په ماډيره زياته خوشحالي راغلي:

**اول**: په هغه وخت کې چې زه سخت مريض وم اوپه يوځاى کې يوجومات ته دمسافرپه شکل ورغلم هلته چې خلک له جومات نه ووتل زه په جومات کې پريوتم ؛نودجومات خادم ماته وويل چې ووزه زه جومات بندوم ،خوزما په وس کې دومره نه و چې له خپل ځايه جګ شوى واى اخير دغه خادم زه دپښونه ونيولم کشکولم

(c) ketabton.com: The Digital Library



يي له جومات نه يې دباندې ويستم، دبرنډې په زينوکې چې ديوې زينې څخه بلې زينې ته چې زماسرلګيده ؛نوپه دغه وخت کې چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مشاهده اوانوارات ماته پيداشول دومره خوند په ټول ژوند کې ماته په بل هيڅ وخت کې نه ده پيداشوی.

**دوهم** : يووخت کې داسې دخيرو په حالت کې وم چې مابه په سرلاس کش کړنودهرويښته سره مې سپکې نيښتې وې ،نوپه دې وخت کې چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه کوم رحمتونه په مابانديې نازليدل ماداخوندپه بل وخت کې نه دی ليدلی.

**دريم** : يووخت کې په کشتۍ کې سپور وم دملنګ په شکل کې ببر لباس يوځوان په کشتۍ کې ټوکې کوي اوبيا ماټيل وهي اوپه ماباندې پسخندوهي اخرجګ شو زما په سريې بولې شروع کړې چې څرنګه بولې (تش جواب چاى) شروع شوې نوحجاب پورته شو زما اوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ په مابين کې مشاهده اوديداررراغی داخوند چې ماته په دې وخت کې پيداشو په بل وخت کې په ټول ژوند کې نه و پيداشوی.

[ تذکرة الاوليا، فارسي ص: ۱۲۷/ چاپ ايران ]

دبادشاهي ژوند نه ښيي چې ماته دخوندژوندۍ،ددبدبې ژوند نه ښيي چې ماته دخوندژوندۍ . بلکې دغه دتکليف حالات ښيي مخکې مادرته وويل چې دادفراغت زندګې ده چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ موږ ته رانصيب کړې نو بايد چې دې ته سړی ځير وي او دا موکه يې له لاس څخه ونه وزي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۷) مجلس

## توبه، ژړا او له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډار او وېره

په قرانکريم او احاديثو کې د قيامت د حالاتونه په بيانولو کې حکمت داده چې د خلکو سره څه ډار او وېره پيداشي او خلک له ګناهونو څخه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته توبه ګار شي او د اخرت له پاره څه نيکه ذخيره پيدا کړي

د پته چې سړی فکر وکړي انسان يو بشر دی او له کمزيانو سره مخ دی کله د انسان نه ګناه کيږي او د هغې ګناه په سبب سړی داور اهل ګرځي د دغه نه بيرته د خلاصون لار څه شی ده؟

نو ددې له پاره لنډه لاره هغه داده چې سړی په خپلو کړو بدو اعمالو پښېمانه شي په اخلاص توبه ګار شي، او دا ينده له پاره داسې ټينګ قصد وکړي چې ای خدايه! زه به دا ګناه بيا نکړم نو که د دغه انسان نه دده د بشريت په تقاضا څه ګناه شوې هم وي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بې د توبې په برکت بيرته ورته معاف کوي

څو واقعات داسې راځي چې اول د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ډار نه ځان بايد له ګناهونو څخه منعه کړي او يه ګناهونو پښېمانه شي په اخلاص بيرته توبه وکاږي بيا سړی د اخيرت له عذابونو څخه خلاصيږي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د الله پاک جَلَّ جَلَالُهُ له وېرې توبه اېستل

د يوې ښځې سره ديوسړي تعلق پيداشو ،دزړه محبت ئ خوداموقع نه ورته پيداكېدله چې ددغې ښځې سره خپله بدعملي وكړي،خپل مقصود ورته پوره كړي، يووخت په يوه قافله كې روان ؤ دا ښځه هم په دغه سفر ورسره روانه ده يوځاى كې دقافلې خلكو واړول ،شپه شوه دارام له پاره كله چې خلک په قرارشول نودغه سړي دغې ښځې ته ځان ورنږدې كړدبدعملي اراده يې وكړه،دې ښځې ورته وويل چې لږ وګرځه چې دقافلې خلک خوبه ويښ نه وي؟

دده زړه خوشحاله شو چې غالبا زماحكم مني ،نوجګ شو په قافله راتاؤ شو نوښځې ته يې وويل چې هيڅوک هم ويښ ندي ټول په خوارږه خوب ويده دي.

دا ښځه ورته وايې چې الله تعالى ويده ده كه ويښ ده؟ دې سړي فكروكړ نوډې ويل چې الله تعالى خونه ويده ده اونه ويده كيږي ﴿ لَا تَأْخُذُهُ سِنَةٌ وَلَا نَوْمٌ ﴾ [ سورة البقرة آيت ۲۵۵ ] په هغه خوب نه راځي اونه مقدمات دخوب (پريشاني) پرې راځي نو دا ښځې ورته وويل چې مونږ دخلكونه پټيږو بدعملي كوو دخلكو نه ډاريږو؛نوولې دهغه ذات څخه نه ډاريږو چې هغه هميش ژوندى ده ،هغه هميش بيدار ده ،هغه هميش مونږ ويني ،هغه په مونږ هرډول قدرت لري ،عذاب به هم راكوي،راحت هرڅۀ دهغه له طرف نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



نو ددې سرې زړه ته هم څه خوف اوويره ولويده دالله تعالی جَلَّ جَلَالُهُ له ډار نه يې دابدعملي پريښودہ.

کله چې دی مړشوچا په خوب وليده او ورته وې ويل چې خداوندمتعال څه معامله درسره وکړه؟ دی ورته وايې ماته خداوندمتعال مغفرت وکړ ددې وجې نه چې دهغې نيکې ښځې دخبرې داثر په وجه زماسره دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډارپيداشو دهغې ګناه نه مې رجوع وکړه ،هغه ګناه مې ونه کړه، دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ډارنه مې پريښوده نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ زه په دغه باندې وبښلم

[مکاشفة القلوب ص:۱۱/ باب الخوف من الله تعالی/ قديمي کتب خانه]

## يوسخي ته دمسکينا نو دمرستې له امله مخکني ټول ګناوونه معاف شول

په يوه روايت کې راځي چې په بني اسرائيلو کې يونيک سړی ډير غريب ؤ،عيال يې خوورځې نهارې تيرې کړې وې ، ده خپلې ښځې ته وويل چې ته لاړه شه دچاله کورنه دې که څه شی راوړل.

دانښځه ديوتجارکورته ورغله اوورته وې ويل چې عيال مې له څو ورځو راپه دې خوا څه نه دي خوړلي که څه کومک راسره وکړې؟

هغه تجارورته وويل چې له ماسره بدعملي کوې بيا به څه درکړم کنه ،نه يې درکوم

دانښځه بيرته را روانه شوه چې دخدای پاک نه زه ډاريږم څرنګه زه بدعملي وکړم ،کله چې کورته راغله بچيان يې ورته په انتظار

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي چې موربه مو اوس څه شی را وړي ،هغه مورېې چې ولیده چې خالي لاس ده او هیڅ شی نشته ورسره نوبچیانو یې بیاپه ژړا او په چیغو شروع وکړه اوداناري یې وهلې چې اې مورې! مونږ خو داڅو شپې کیږي چې څه نه دي خوړلي ، له لوږي ډیر په تکلیف یو.

دې ښځې چې دخپل اولاد حالت ولیدل دمور په خپل اولاد شفقت زیات وي نوښځه بیرته هغه تجارته ورغله چې بیا یې ورته وویل چې هلکان مې سخت ژاړي که څه کومک راسره وکړې؟هغه ورته وویل چې زماهغه خبره منې او که نه ؟ دې ورته وویل : هوا چې کله داسړي دبد عملي اراده ورته وکړه ددغې ښځې صورت په ریږدیدلو شو کتاب لیکي چې نږدې ؤ چې بندونه یې سره جدا شي دومره په ریږدیدلو شوه ،سړي ورته وویل چې ولې ؟څه پیښه ده ؟ چې دومره ریږدې

ښځې ورته وویل چې په ټول ژوندمې داسې ناکاره ګناه نه وه نده کړې اودرب تعالی نه ډاریږم اونن څرنګه درب تعالی په حضورکې چې هغه راته ګوري اوزه په بدعملي لګیا شم.

ددې خبرې له اوریدلو سره ددغه سړي زړه ته ډارپیداشوتو ویې ویل چې ته دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه دومره ډاریږې حال داده چې په ټول ژوند دې داسې ماکاره ګناه نه ده کړې ؛نوزه خوډیر لوی ګنهګاریم نوزه به څرنګه نه ډاریږم. نوتوبه یې ویسته اوددې سره یې دخپل وس مطابق کومک او مرسته هم وکړه

حضرت موسی عَلَيْهِ السَّلَام ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وحې وکړه چې ورشه ، فلانکي دفلانکي زوی ته ووایه چې الله تعالی وایي ما

(c) ketabton.com: The Digital Library



تانه دیوي ربښتونې اونصحې توبې له امله مخکې ګناهونه ټول درته معاف کړي.

[مکاشفة القلوب ص:۱۱ / باب الخوف من الله تعالی/ قدیمي کتب خانه]

حضرت ابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللَّهُ په کعبه مبارکې باندې طواف کوې دطواف په حالت کې دادعا کوې چې ای رب تعالی! زما عصمت نصیب کړي، دامعنا چې دګناه نه زه پاک شم. بلکل زمانه ګناه ونشي لکه انبیاء عَلَيْهِمُ السَّلَامُ چې معصوم دي.

دده په زړه کې له بدن څخه غږ وشو.

اولیاء دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ چې کله یې تزکیه وشي نودازړه په خپله په یو کیفیت باندې اواز کوي.

په موجوده وخت کې یو خلیفه صاحب ماته دنفي اثبات کیفیت بیانولو، ویل یې چې په نفي اثبات کې دا(الا الله) په زړه باندې ووهي دوه کیفیته پیداکیږي، چاته داسې کیفیت پیداکیږي چې لکه ګوته چې په زړه چوخ کړي داد(الا الله) په ویلو سره داسې حالت پیداکیږي اوچاته داسې کیفیت پیداکیږي چې دا (الا الله) ووایې نوزړه هلته غږ وکړي محتاج! یعنې زه محتاج یم رب تعالی ته.

نودابراهیم بن ادهم رَحِمَهُ اللَّهُ زړه ورته غږ وکړ چې دالله تعالی لطرفه چې دې ته هاتفې غږ ویل کیږي چې ټول خلک زمانه عصمت غواړي چې دګناه نه یې زه وساتم؛ خوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وایي چې زه رحمن اورحیم یم زه به بیا رحم په چاباندې کوم

(c) ketabton.com: The Digital Library



خودا انسان دی ګناه به کوي، دبشریت په تقاضا باندې بیا به دوی توبه وباسي زه به بیا په دوی باندې رحم کوم.

نو چې دسړي نه څومره ګناهونه شوي وي چې په اخلاص توبه وکاږي خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ یې معاف کوي، خوداخلاص توبه داده چې دخدای پاک جَلّ جَلَالُهُ دارېه یقیني ورسره پیدا کېږي په زړه کې به یې یقین اوداقصد وي چې داګناه به بیا نه کوم اوکه سړی په ګناه لګیاوي اوپه خوله وایې چې توبه مې ده داپه خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ باندې پسخند وهل دي.خدای پاک جَلّ جَلَالُهُ پدغه باندې سخت په غضب کېږي ددغې وجې نه چې دانبیاوو اوصحابه کرامو حالت ګورې چې دخدای پاک جَلّ جَلَالُهُ دار رښتیا دهغوی په زړونوکې څومره و؟

## حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ له خدای جَلّ جَلَالُهُ څخه څومره وېرېده؟

حضرت عمر فاروق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ به چې کله دقرانکریم د وعید ایتونه اوعذاب خبرې واوریدلې نوله ډېرې وېرې به بې اوښه شو،حتی تردې یورې چې یووخت کې بې دوښو یووچ ډکې راواخیست اوپه ژړایې پیل وکړاو دایې ویل چې کاشکې زه ددې کیاپه شان وچ ډکی وی انسان نه وای ..ددې ژړا پر مهال وایې چې کاشکې زه خپلې مورنه وی زېږولی. [ مکاشفة القلوب ص ۱۲ / باب الخوف من الله تعالی/ قدیمي کتب خانه ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



مره له دې چې حضرت عمر رضي الله عنه هغه شخص دی چې نبي کريم صلى الله عليه وسلم دده دستاينې په هکله بې شميره حديثونه ويلي دي اودجنت زيری په دنياکې وربانديې شوی خوبياهم حضرت عمر رضي الله عنه دخدای پاک جل جلاله ته دومره زيات ډاريدې چې وايې ددېرې ژړا نه يې په مخ کې دوه تورې ليکې پيداشوې وې چې داوښکې به يې هميش بهيدلې. واقعي ډاردېته ويل کيږي.

حضرت ابراهيم عليه السلام دخدای پاک جل جلاله پيغمبرده خودومره به يې ژړل چې دژړاغږبه يې يوميل په اندازه لرې هم اوريدل کيده. يووخت کې خداوندمتعال جل جلاله حضرت جبرائيل عليه السلام ورته رالېږي چې ورشه زمادوست ته زما سلام ووايه اوورته ووايه چې ته خوزما دوست يې؛دوست له دوست نه دومره ډاريږي ؟

حضرت جبرائيل عليه السلام چې دغه حال دخدای پاک جل جلاله حضرت ابراهيم عليه السلام ته بيان کړ چې واجب تعالى په تاباندې سلام وايه اوويل يې چې خليل دخليل نه دومره ډاريږي ؟

حضرت ابراهيم عليه السلام ورته وايې چې والله زمادې قسم په ذات دخدای وي چې کله زه دخدای هغه عظمت شان اوصمدانيت نه وګورم اوخپلو تقصيراتو ته وګورم زمانه داخبره بالکل هيره شي چې زه دخدای پاک جل جلاله دوست يم ،زه پيغمبريم اوزه خليل الله يم

[ مکاشفة القلوب ص ۱۱ / باب الخوف من الله تعالى/ قديمي کتب خانه ]

ددغې وجې حضرت يحيى عليه السلام به دومره ژړل چې ددېرې ژړانه يې دمخ غوښې تويه شوې وې ،حتې مورمبارکې يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



داغومبرو مبارکو باندې ورېء اوو ژغنې ګنډلې چې هغه اوښکې به يې په هغوکې جمع کيدلې.

دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ پيغمبرده، خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بېې په قرانکريم کې صفت کړی: ﴿ وَسَيِّدًا وَحَصُورًا وَنَبِيًّا ﴾

[ سورة ال عمران آيت: ۳۹ ]

داداسې پيغمبر ؤ چې په ټول ژوندېې دګناه اراده هم نه ده کړې ؛خوهغه پيغمبر دخدای پاک له ډاره دومره ژاړي له ډېره ژړانه يې دمخ غوښې تويه شوې وې

حضرت عمربن عبدالعزير چې دوخت بادشاه مقررشو دوه کاله اوڅومياشتې يې بادشاهي کړې ،دده دمينځې نه څوک پوښتنه کوي چې حضرت عمر بن عبدالعزير په دا دوه کاله کې څرنګه زندګې کوله ؟

هغه ورته وايې چې ډېر وخت به روژه ماتې ورته ايښی ؤ دده به روژه وه خوچې دخپل رعيت اوملک حالت به ورته ياد شول چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به ددغو پوښتنه له مانه کوي نوژړل به يې، ژړل به يې تردې پورې چې روژه ماتی به همدغسې ورنه پاتې شو اوروژه ماتی به يې ورنه ويوړ اوروژه به يې ماته نه کړه.

دده بي بي مبارکه وايې چې په دادوه کاله اوڅومياشتو کې يې دخپل اهل سره نږديکت نه ده کړی چې زمانه به خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دقيامت په ورځ ددغه رعيت په باب کې پوښتنه کوي زه به بياخداوندمتعال ته څه ځواب وايم؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه خلک چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهٗ نه په رښتیا ډاریږي اوچې یا ګناه ورنه وشي نو دومره ډار ورسره پیداشي لکه غربي چې په سرباندې رالویږي اوکه یوڅوک په ګناهونوباندې همیش لګیا وي زړه یې توریږي ،توریږي اخرګناه داسې ورته ښکاریږي لکه یومچ یې چې په پوزه باندې تیرشي، له خدایه هم نه ډاریږي

حضرت امام صاحب رَحِمَهُ اللّٰهُ چې په کوم ځای کې دفن اوخښ دی په هغه ځای باندې ده مبارک اوه (۷۰۰۰) واره قرانکریم ختم کړی اوده دیرش کاله مسلسلې روژې نیولې دشپې په نفلوکې به یې ټول قرانکریم ختم کاوه. امام صاحب څلویښت کاله دسهار لمونځ دماخوستن په اوداسه کاوه.

[ مرقاة المفاتح ج ۱ ص: ۷۷ / ترجمة الامام ابوحنیفه ومناقبه ]

لکن هغه حضرت امام صاحب یووخت کې دماخوستن تلاوت کوي دسورت یس شریف دغه آیت یې مخې ته راغی ﴿ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾[ سورة یسین آیت۵۹ ] اې مجرمینو ! نن ورځ زماله نیکوبندګانو نه جداشئ ، نوایت مبارک یې ویلو،ویلو اوترسهاره یې ژړل چې داسې نه چې دقیامت په ورځ ماخدای پاک دمجرمینو په لست کې جدا کړي نوزه به بیا هلته څه کوم؟

حضرت ابراهیم ابن ادهم به ویل چې که خدای پاک په ماباندې غږوکړي چې :﴿ وَٱمۡتَٰزُواْ ٱلۡيَوۡمَ أَيُّهَا ٱلۡمُجۡرِمُونَ ﴾[ سورة یسن آیت ۵۹ ] چې ای مجرمینو! نن ورځ زماله نیکوبندګانو څخه جداشئ . نوزه به بیاڅهٔ کوم؟ ځکه هغوی خلکوته چې اعلان وشي چې زما دنیکو

(c) ketabton.com: The Digital Library



بندګانو ته جداشئ دهغوخلکو ځای خوجهنم ده دهغوی ځای خواورده، دهغوسزاخو ماران اولړمان دي؛نوزه به هلته بیاځه کوم

یودوه صحابه کرام نبي کریم ﷺ سره ورونه کړې و یوانصاري ؤ اوبل مهاجرؤ دامهاجرورور په جهادپسې تللی انصاري ورور یې په کورپاته شو.

یووخت یې کورته غوبنه راوړه هغه دمهاجر ورور ښځې ته یې ورکوله چې دهغې لاس یې ولیدشیطان غلبه ورباندې وکړه هغه لاس یې ورونیو اوښکل یې کړ،هغې ورته وویل چې دخدای پاک نه وېدارشه!

ددغې خبرې په سبب هغه صحابي دومره وېدارشو چې کوریې پریښود اودښتې ته روان شو په ژړا یې شروع وکړه اوتل به یې ژړل

کله چې هغه بل مهاجر مجاهد ورورله جهادنه راغی هرچاته خپل ورور مختې ورغی اودده خپل ورورنشته چې ده ته مخې ته ورشي ؛نوپه کورکې یې پوښتنه وکړه چې هغه زما ورور چیرته دی؟ ښځې یې ورته وویل چې داسې ورورد يې خدای پاک چاته نه ورکوي ،دهغه اراده دبدعملي وه زمالاس یې مچ کړ خوماځان ورنه خلاص کړ

هغه پوښتنه وکړه چې چیرته ده؟

دې ورته وویل چې داخوښې کیږي چې په غروکې اوسیږي اوژاړي . نودغه صحابي ورپسې ولاړ چې په غره کې یې یوځای پیداکړ چې دی په ژړاه لګیاده نوداصحابي مبارک یې را روان کړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې راغلل شپه ده دسهار په لمانځه کې رسول الله ﷺ
دعذاب څه آیتونه وویل : ﴿ أَلْهَىٰكُمُ ٱلتَّكَاثُرُ ۝ حَتَّىٰ زُرْتُمُ ٱلْمَقَابِرَ ﴾ (
سورة التكاثر ) ددغه صحابي مبارک له خولې نه چیغه ووتله په هغه
ځای یې روح ووتله اووفات شو .

[ تفسیر مظهری ج:۲/ سورة ال عمران ص:۱۴۱ ]

دهغو خلکوسره د الله تعالی نه دومره ډار موجود ؤ چې واقعا
خدای پاک ته څوک په اخلاص وژاړې نو داژړا بیا ډېره ګټوره ده .

په یوه روایت کې راځي چې کله دقیامت ورځ راشي دجهنم اور
به دخلکو په طرف را روان شي ، خلک به ورته ووایې چې ای اوره
! دهغو لمونځ کوونکو پرمخ چې هغو دخدای جَلَّ جَلَالُهُ له پاره خپل
لمونځونه کړي وګرځه ، دا اور به نه ګرځي بیابه ورته وایې چې په
روی دهغوی روژه نیونکوچې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته یې چا روژې
نیولې وګرځه ! هغه به بیا نه ګرځي ، دااوربه همدغسې را روان وي
حضرت جبرائیل امین به راشي وبه وایې چې دې اور دحضرت
محمد ﷺ دامت په لوري قصد او اراده کړې بیا به نبي
کریم ﷺ ته د اوبو یو جام ورکړي چې دا اور ته ورواچوه
کله چې داور طرف ته دایوجام اوبه ورواچوي نواور به مړشي
نبي کریم ﷺ به پوښتنه وکړي چې داڅرنګه اوبه وې چې
دومره غټ اور ددوی په ذریعه مړشو حضرت جبرائیل امین
عَلَيْهِ ٱلسَّلَامُ به ورته ووایې چې دا دتا دامت دهغوګنهګارو خلکو
دژړاو اوښکې وې ددغې ورځې له پاره مې جمعه کړې وې چې
دهغو اوښکو په برکت به نن د جهنم له اور نه خلاصیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ مکاشفة القلوب ص:۱۳ / باب الخوف من الله تعالی/ قديمي کتب خانه ]

په يو بل روايت کې راځي چې کله جنتيان جنت ته داخل شي اوپه منارو باندې کيني ښه خوراکونه به ورته کيښودل شي پس دهغه نه به داجنتيان په جنت کې حيران وي اعلان به ورته وشي چې اې زما بندګانو! جنت خود حيرانتيا ځای نه دی دنعمتو ځای ده تاسې ولې دانعمتونه نه خورئ ؟ دوی به ورته ووايې چې زمونږ سره يوه وعده شوې وه دهغې وعدې وخت پوره دی که مونږ ته هغه وعده را پوره شي؟ رب تعالی ملايکوته ووايي چې حجاب پورته کړئ چې زما ديدار وکړي ددوی د ديدار وخت راغلی ملائکې ورته ووايې چې اې رب تعالی ! په دوی کې خوګنهګارخلک هم موجود دي هغه خوستا دديدار لائق نه دي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ به ورته ووايي چې په دوی کې ذاکرين ؤ، په دوی کې پاکيين ( زړاکونکي) ؤ، دهغو دژړا په برکت ماددوی ګناهونه ټول ښښلي،نوپرده پورته کړي چې دوی زما ديدار وکړي،بيا هلته حجاب پورته شي دخداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ ديدار ټولوته شروع شي

[ مکاشفة القلوب ص:۱۳ / باب الخوف من الله تعالی/ قديمي کتب خانه ، بحواله زهر الرياض ] داددغه ذکر ،ددغه ژړاو اثر ده چې څومره ګناهونه انسانانوکړي وي ددغو ژړا ګانو په برکت باندې چې په اخلاص خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته څوک وژاړي نو واجب تعالی دټول عمر ګناهونه وربښي، دټول عمر تکليفونه يې لرې کوي، اوبيا خپل ديدار ورپه نصيب کوي، زمونږ دايوساعت ناستی ،دادپنځو ميلټو ناسته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته په اخلاص ژړا دديرشو،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځلوینښتواوویا کالو عمر ټول ګناهونه خدای پاک جَلّجَلَالُهُ وربانديې معاف کوي.

چې په اخلاص وژاړو دخدای پاک جَلّجَلَالُهُ درضا له پاره نو هغه تلپاتي ژوند به مو ټول په راحت او خوشحالیو کې تیریږي ،په یوه روایت کې راځي چې کوموانسانانو چې ګناه وې کړې وې چې بیا خدای پاک جَلّجَلَالُهُ ته توبه وباسي اوورته په ژړا شي خدای پاک جَلّجَلَالُهُ هغه ګناوې دملائکونه هیرې کړي، ددوی دعمل نامې نه هغه ګناوې لرې شي، بیا دقیامت په ورځ باندې دوی نه شرمنده کیږي، بیایې صرف حسنات اونیکي له خدای پاک جَلّجَلَالُهُ سره پاته شي ، بل هیڅ نه وي ؛نوخدای پاک جَلّجَلَالُهُ بې جنت ته داخلوي اوخپل انعامات ورکوي، انسانان یودانسانیت په تقاضا به زمونږ نه ګناوې شوې وي اوکیږي به خو که په اخلاص خدای پاک جَلّجَلَالُهُ ته وژاړو اوپه اخلاص خدای پاک ته راجع شو بیا دا امید هم لرو چې واجب تعالی ډیررحیم ذات دە، ډیرکریم ذات دە، ترخپل موراوپلار نه اویا وارې مهربانه دە، که خپل پلارمونږ ناراضه کړو،خپله مور مونږ ناراضه کړو اوبیا ورشو بیرته دهغوی په لاسونو اوپښو ورولویږو معافي ورته وغواړو نوخپل مور اوپلارمونږ ته ښښنه کوي؛خورب تعالی خواویا وارې ترهغونه مهربانه دە چې رب تعالی ته سرې په اخلاص وژاړې خداوند متعال بې ټولې ګناوې ورته معاف کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۸) مجلس

## د ولایت شرطونه او د ولي نښې او علامې

بسم الله الرحمن الرحیم

﴿الا إِنَّ أَوۡلِيَآءَ ٱللَّهِ لَا خَوۡفٌ عَلَيۡهِمۡ وَلَا هُمۡ يَحۡزَنُونَ﴾

[ سورة یونس آیت ۶۲ ]

مفسرینو ددې ایت کریمه په تشریح کې د ولي علائم او نښې ذکر کړې چې ولي چاته ویل کیږي اود ولایت شرطونه یې هم ذکر کړي، چې په کومو شیانو انسان د بزرګۍ او ولایت مقام ته رسیږي؟

که انسان دا وغواړي چې زه دې د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ د اولیاوو اود ده د دوستانو له جملې وګڼل شم، د ولایت مقام دې را په برخه شي؛ نو مُفسرین لیکي چې د ولایت د ترلاسه کولو له پاره دوه لوی او عُمده شیان په ځان عملي کول دي:

### لومړی: صُحبت ( له اولیاء کرامو سره ناسته )

د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وخت کې چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ دا دومره لوړ او بې شمېره مراتب او مقامات ترلاسه کړي وو دا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



براځي له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره صحبت، محبت او هغه مبارک ته په انقیاد ترلاسه کړي وو.

یعنې اول شرط دا و چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره به یې د هر تعلق، ناسته او ولاړه، له هغه سره محبت او له دې سره سره به یې د هغه صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د احکامو پیروي یې کوله.

## دوهم: ذِکر (په هر حال کې الله تعالی یادول)

دوهم شی چې هغه معاون مخکنې شرط له پاره دی هغه کثرتِ ذِکر دی، چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حیاتِ مطهره کې به صحابهٔ کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د ولایت مقام ته رسېدل، وجهه یې دا وه چې دوی د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره دا شرطونه په کامله توګه په ځای کړي وو او هم یې له حضرت پیغمبر صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره کثرتِ مجالست (د هره ناسته پاسته) و، شپه او ورځ به یې دا هڅه وه چې باید د حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مجلس کې حاضر یو.

له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره یې دومره مینه وه چې کله به صحابهٔ کرامو ته نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ډوډۍ خوړلو په وخت کې ور په یاد شو نو خوراک به یې نشوای کولای، د مینې او یادېدلو د غلبې له امله به یې تیاره ډوډۍ پرېښودله او د حضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مجلس مبارک ته به یې ځانونه رارسول.

[تفسیر مظهري/ ج ۴/ ص:۳۴۷/ سورة یونس ۱۰/ مکتبة حقانیه]

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وړاندې د صحابهٔ کرامو انقیاد اوتابعداري دومره زیاته وه چې کله به نبي کریم صلی الله علیه وسلم د کوم کار امر وکړ، نو هر یو صحابي به لبیک ویلې اوپه سر او سترګو به یې هغه کار تر سره کاوه. آن تردې چې یوځل نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو صحابي ته په جومات کې د خطبې په منځ کې وویل چې: کېنه! په همدې وخت کې بل صحابي له جومات نه د باندې را روان و، هغه د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره واوریدله سمدستي همالته د باندې کیناست.

رسول الله صلی الله علیه وسلم په جومات کې دننه صحابي ته امر کړی و، خو هغه بل صحابي چې نفسِ د نبي کریم صلی الله علیه وسلم امر واوریده، هغه فِکر وکړ چې کیدای شي ماته یې ویلې وي نوهلته که لمر او که ګرمي وه سم د لاسه په هغه ځای کیناست. په دوی مبارکانو کې دومره زیات انقیاد وو، چې ترڅو نبي کریم صلی الله علیه وسلم نه و ورته ویلې په هغه ځای ناست ؤ، کله چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم ورته وویل چې تاته نه وایم راننوځه! بیا جومات ته راننوت.

صحابه کرامو رضي الله عنهم ذِکر په دومره اندازه و چې د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم له طرف نه به چې د کوم شي فضیلت ورته بیان شو نوشپه اوورځ به وریاندې بوخت وو. د حضرت نبي کریم صلی الله علیه وسلم په وخت کې ټول صحابه کرام رضي الله عنهم اولیاء الله اود ولایت دواړه شرطونه په کامله توګه په دوی کې موجود وو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځکه خو د ادنی صحابي مقام ته حضرت اویس قرني رَحِمَهُ اللهُ نشي رسیدلی، نو که څوک غواړي چې د ولایت مقام ته ورسیږي، نو دده له پاره دا دوه شرطونه د نائب د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حیث کاردي، یعنې څوک چې واقعې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نقش قدم روان دي د هغه نائب، د هغه وارث وي چې عالم، متدین او متقي ورته ویل کیږي، یا مثلاً شیخ او مُرشد ورته ویل کیږي نو اول شرط داده چې هغه به د مشائخو په صُحبت کې ډېر شرکت کوي، دغه شِرکت به یې هم د کوم دنیاوي غرض له پاره نه وي، بلکې یواځې د خپل مرشد سره دمحبت په نیت به یوځای کیږي او یا د هغه له لوري چې کوم حکم ورته کیږي هلته به خپله رایه او خپل فکر د هغه په مقابل کې مخکې، مخکې نه کوي بلکې سمدستي به انقیاد کوي.

دوهم شرط داده چې کوم ذکر او کوم تلقین چې د شیخ له طرف نه ورته وشي، نو هغه ذکر چې ډېر کوي نودغه ذکر سبب دمحبت ګرځي، محبت چې څومره زیاتیږي فنا فِی الشیخ مرتبه ورته حاصلیږي کله چې فنافی الشیخ مرتبه ورته حاصله شوه دهغه نه وروسته بیا فنافی الرسول مرتبه ورته حاصلیږي له دینه وروسته بیا فنافی الله مرتبه ورته حاصلیږي

نودخپلو مشائخو سره دناستې اوولاړې په سبب محبت زیاتیږي، دذکرپه سبب باندې محبت زیاتیږي څومره چې دالله تعالی سره محبت وي دغومره دهغه له طرف نه فیض اوکرم راځي څومره چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره محبت وي دغومره پدغه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان باندې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه دده دمحبت په اندازه فیض او الهي رحمتُ نازلیږي

ځکه د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یادنائب د رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره مینه ددین په خاطروي ،هغه ددې په خاطر وي چې دخداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه مونږ ته امر شوی ،دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دامر په ځای کولوپه خاطر باندې وي نودهغه په محبت خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ راضي کیږي څومره چې داهل الله سره څوک محبت کوي الله پاک جَلَّجَلَالُهُ ډېرورباندې راضي کیږي اوچې څومره دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رضا ډېره راتله دغومره پدغه انسان کې ترقي راځي.

نوبنیادي شي په خاصه توګه داهل طریقت له پاره داده چې د یوه ملګري داکوشش وي دافکروي چې ما په داخپلو وظایفوکې څو ځه ناځه ترقي کړي واې، دهریوفکرداوي چې ماته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دمقربینومقام راپه نصیب کړی وای، دهریوفکر داوي چې زه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ داولیاو له جملې نه ګرځولی وای.

نوداول نه داعلم پکار ده چې په کومه لارزه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته رسیږم نودادوه شرطونه چې په کامله توګه په چا کې موجود وي.دخپل شیخ سره کثرت مجالست،محبت اوانقیاد. دوهم ذکر داچې څومره ډېرۋ پدغه انسان کې خداوندمتعال داکمالات پیداکوي چې کوم کمالات اولیاء الله ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ورکړي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# داولیاوو علامې او نښې

دوهم داچې دهغو خلکو کومې نښې دي چې دهغوپه ناستې سره انسان خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته رسیږي ؟

نوتفسیرمظهري ددې خلکو نښې اوعلامې دانبودلې دي چې کله دوی ووینې نوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ انسان ته وریه یادشي:

ذکرالبغوي عن النبی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه سئل من اولیاء الله قال: اَلَّذِینَ إِذَا رُؤُوا، ذُكِرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ. وقال البغوي يروی عن النبی صَلَّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ انه قال: قال الله تعالی ان اولیائی من عبادی الذین يُذْكَرُون بذکری و اُذْكَرُهم بذکرهم ) وروی ابن ماجه عَنْ أَسْمَاءَ بِنْتِ يَزِيدَ، أَنَّهَا سَمِعَتْ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وسَلَّمَ ، يَقُولُ: أَلاَ أُنَبِّئُكُمْ بِخِيَارِكُمْ ؟ قَالُوا: بَلَى ، يَا رَسُولَ اللهِ ، قَالَ : خِيَارُكُمُ الَّذِينَ إِذَا رُؤُوا، ذُكِرَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ.

[ تفسیر مظهري ج: ۵/ ص: ۴۰ ابن ماجه کتاب الزهد ص ۴ رقم الحدیث: ۴۱۱۹ ]

حدیث قدسي بې رانقل کړی چې خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وایې چې زه دچاپه یادشم زما دوست بې وریادیږي اوزمادوست چې دچاپه یادشي زه بې په یادکیږم. له دواړه طرفونه داعلاقه ده.

داعلامه چې سړی دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوست ووینې سړي ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وریه یادیږي ،چې الله پاک جَلَّجَلَالُهُ دسړي وریه یادشودخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دوست وریه یادیږي د د ولي نښه او علامه ده. ځکه چې ددوی په مابین کې علاقه دمعیت ده دغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



انسان خدای پاک ته دومره نږدې شوی وي چې حدیث مبارک کې راځي چې رب تعالی وایې چې زه دخپل ولي سترګې شم چې په مابانديې لیدل کوي، زه دده لاسونه شم چې په مابانديې نیول کوي، زه دده پښې شم چې په مابانديې تلل کوي.

اوس ددغه ولي په لیدلوسره سړي ته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ وریه یادیږي ددغه په محبت سره سړی خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته نږدې کیږي همدغه یې وجه ده.

ددغه له پاره بیایوه بهترینه وجه داښیي چې لمر په څلورم اسمان کې ده دالمر په ټوله دنیابانديې لګیږي خولکن پُنبه (مالوچ) اورنه اخلي خوکه شیشه لمرته مخامخ کړي ددغه لمر انعکاس چې په شیشه کې وشو دهغې شیشې پړک چې په کومومالوچوکې ولګیږي هغه لړورته ونیسي اور اخلي دالله تعالی اوددغه بنده په مابین کې یوه علاقه ده ته چې ددغه سره کیني دده په مجلس کې شریک شي نوهغه دخداوندمتعال فیوضیات دده په واسطه بانديې تاته درنقل کیږي جذب پیداشي چېغې پیداشي ژړا پیداشي دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ خوټول بندګان یو، ټول مسلمانان یودغه جذب، دغه ژړامخکې سړي ته نه پیداکیږي مسلمان وي، طالب وي ،ملاوي، مجاهدوي، ښه سړی وي ؛خوداسې کیفیت نه ورته پیداکیږي چې کله دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ کلام اوري اوپه ده بانديې جذب راشي کله دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نوم ذکر کیږي په ده بانديې جذب، راشي،داشی هلته نه پیداکیږي اوچې کله بیعت وکړي دمشائخوپه مجلس کې کیني پدغه مجلس کې بیا داپیداکیږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



وجه یې څه ده ؟ وجه یې داده چې هلته تفاسیرودغه مثال ورکوي لکه دلمر رڼا دلته دشیشې په واسطه مالوچوته مخامخ شوه ددغه دومناسبت دقرب ده، ددغه قرب له وجې دغه ژر اثرکوي، هلته پمبه زراور اخلي نودبنده دبنده سره مناسبت دغه زراثرکوي چې مرید دالله تعالی جَلَّجَلَالُهُ سره دده قوي علاقه نوي موجوده دهغه له طرف نه اکتساب دفیض کامل نشې کولای لکه دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نظام پدغه باندې جاري ده انبیاء یې مقرر کړي دهغو په واسطه خلکوته فیض رسیږي انبیاوو ته بیادملائکو په واسطه وحې نازلیږي .

نوشیخ واسطه شو دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ اودمخلوق په مابین کې هغه فیوضات هغه انوار دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه په سینه دشیخ کې داسې ځای ونیسي لکه په هغه شیشه کې چې دلمر شعاع ځای ونیسي دادلمر پړک چې بیا دشیشې نه په پنمه ؤولګیږي پمبه اور اخلي نوددغه پیردسینې څخه چې کوم فیوضات دمرید په سینه کې لګیږي په مریدباندې اثر زیات کوي فیض زیات وي بیاجذب اوهرڅه ورته پیدا کیږي یعنې مخکې نه اوس دلته پیدا کیږي اوس نودولي دولایت شرطونه دادوه دي.

اوس دلته پیدا کیږي اوس نودولي دولایت شرطونه دادوه دي.

موږ اوتاسې علی العموم دموجوده وخت خلک دمخکنیو خلکو په نسب باندې دا کمزوري راپکې پیداده چې اول که امي ده له عالم سره، که شاګرد ده او له استاذ سره، که مرید ده له پیرسره هغه اول شرط چې کثرت مجالست دېره ناسته اوولاړه ، محبت اوانقیاد دانشته، عوام دعلماوو سره دومره تعلق لري چې صرف په

(c) ketabton.com: The Digital Library



جومات کې ورسره يوځای شي لمونځ وکړي بس نورخلاص دي .له هغه سره ناسته ولاړه نشته.

دوهم که بياوي هم کله - کله هغه دشخصي ګټو له پاره وي ،محبت نوي . دريم که دعالم له طرف نه حکم ورته کيږي منل نوي ځکه په عواموکې ترقي نه راځي، طالبان دخپلو استادانو سره هغه پدغه لحاظ سره دي چې داستاذسره تعلق پدغه معنا باندې نشته چې محبت وي، دهغه داخلاقو زده کول وي،ناسته ولاړه وي اودهغه حکم ته انقياد وي مريدان دخپلو مشائخو سره دغه شرط نه په ځای کوي چې ددوی هلته ناسته اوولاړه ډېره شي دهغو سره يې محبت پيداشي اوبياچې دهغه له طرف نه کوم هدايت ورته کيږي په هغه باندې عمل وکړي که يو انسان د تصوف کتابونه وګوري اويا اولياوو تاريخ مطالعه کړي او د اولياوو طبقاتو ته وګوري چې په يوه ورځ کې بهانه به يې خدای پاک کارونه جوړ کړل او دلوړو مقاماتو څښتنان به شول ، ځکه محبت ،اخلاص ،انقياد به و، که هرڅوک په اخلاص د شريعت تابع شي او دخپل مرشد خبره د زړه له کومې ومني بيا هر سړی يوه مقام او مرتبې ته رسيدلی شي.

دوهم زمونږ په ذکرکې سستياوي اصل کې خوبايد په ټولوحالاتوکې سړی په هوش کې وي دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له ذکرنه غافل نه وي لکه مخکې چې دتصوفو په اصطلاحاتوکې چې هغه په لاندې ډول دي: هوش دردم، نظربرقدم، خلوت درانجمن ،يادکرد،يادداشت، بازګشت،وقوف عددي، وقوف قلبي، ددې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تفصيلي بحث تيرشوی چې ددې نه مقصد داده چې دانسان نه غفلت لرې شي اوچې غفلت ورنه لرې شو په هرآن کې يې خدای پاک جَلّجَلَالُهُ په ياد وي بيادخدای پاک جَلّجَلَالُهُ له طرف نه هروخت په ده باندې رحمت او فيض رانازليږي اوداچې سړی په جمعه کې يو ورځ وظيفه کوي او په دريو يا څلورو مياشتو کې خپلو مشائخوته يوځل ورشي بياهم خپل مناسبات پالي په بازارکې ګرځي راغلی به هم په داسې نيت باندې وي چې هلته يې يو کار پيداشي بيا وايې چې درځه خليفه صاحب ته به هم ورشو يوساعت به ورسره کينو مجلس به ورسره وکړو او له هغه سره ، سره يې تقاضا هم ددې وي چې که دی مريض وي،که دی مصروف وي که هرڅنګه وي دی به زماسره وظيفه کوي،نه داسې نده لکه چې داخبره چې يوساعت داولياء سره له سل کالوبې ريا عبادت نه بهترده هغه هرساعت نه ښيي مولنا اشرف علي تانوي رَحِمَهُ اللهُ ليکلي دي چې داهغه ساعت دی چې شيخ په غلبه دحال کې راشي دجذب کيفيت ورته پيداشي اوس دبزرګ سره چې ته پداسې وخت کې کيناستې چې دی مظهر د صفاتوجماليو دخدای پاک جَلّجَلَالُهُ وګرځيدو دواجب تعالی جَلّجَلَالُهُ درحمت دورازه په ده خلاصه وه نوپه هغه ساعت کې دتاپه يوساعت کې دسلو کلونو بې ريا عبادت کارکيږي ؛نودېر ورځه په ختمونوکې ډېر کينه شرکت کوه په مجلسوکې شرکت کوه چې په داسې مجلس دې خدای پاک برابر کړي چې په هغو باندې دخدای پاک درحمت دروازه راخلاصه شي په غه ان کې چې بيا ته ورسره ناست وې دابيا خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک جَلَّجَلَالُهُ نه کوي چې پده رحمت نازلوي اوپه تاپې نه نازلوي چې دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رحمت یووار متوجې شو بیا پدغه مجلس کې که هر قسم سړی ناست وي په ټولو دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ رحمت کیږي نوپه یوساعت کې دسلوکلونو بې ریا عبادت ثواب سړي ته نصیب کیږي.

نوزمونږ مطلب په دې خبروکې داده چې که همیش مونږ وژاړو خدای پاک ته که په شریعت نه یوبرابر، که مونږ اوتاسې همیش دژړا مجلسونه وکړو؛خوچې اصول دطریقت نوي راته معلوم په هغه باندې نه ځو صرف په ژړاباندې خدای پاک خوراضي کیږي لکن داچې دا ژړا مې دخدای پاک له پاره ده؟ لکن په عین ژړا کې به یې نیت ریاوي ،شیطان به دوکه کړی وي نواوس دلته پدغو مجلسو کې دشرکت فائده به داوي چې هلته کیني نواخلاص محبت پیداکیږي بیاژړاهم دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا له پاره شي بیاګفتاراوخبره هم دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا له پاره شي ،بیاناسته اوولاړه هم دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضاله پاره شي، چې هرشی دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا له پاره شو بیا دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه پدغو انسانانورحم کیږي.

## دحضرت بشر حافي (قدس الله سره) دتوبې اولقب سبب څه و؟

حضرت بشرحافي رَحِمَهُ اللَّهُ دخپل وخت شراب خور ؤ ؛خویوه ورځ په لارباندې روان د ه په کاغذ باندې بسم الله لیکلې او داکاغذ په مردار ځای کې پروت دی ،دده سترګې پرې ولګېدې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نږدې که فاسق هم ؤ خومسلمان ؤدالله پاک جَلَّ جَلَالُهُ دنوموتوبې عزتي یې برداشت کولی نشوی په زړه کې یې درد پیداشو اوپه ډېره مینه اومحبت سره یې داکاغذ راواخیست په خوشبویې عطرو باندې یې صفاکړ اوبیا یې په پاک ځای کې کیښود دشپې دهغه وخت یوبزرګ په خوب ویني چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وایې چې ورشه بشرحافي ته ووایه چې ( **طیبت اسمي فطیبنك** ) تازمانوم خوشبویې کړماته خوشبویې کړې . ( **بجلت اسمي فبجلناک** ) تازما دنامه عزت وکړماته عزتمندوګرځولې . ( طهرک اسمي فطهرناک ) تازما نوم له ګندګیونه پاک کړ ،ماته له ګناهونوڅخه پاک کړې . داسې ډېرالفاظ ورته ذکرشوي چې دتانوم څوک اخلي زه به هغه هم عزتمن کوم . بزرګ راپه حال شو بیا ویده شو دغه خوب ویني بیا ویده شو بیا دغه خوب وین سهار روان شو بشرحافي دشراب خوروپه میخانه کې ناست ده دغه بزرګ ورغی دروازه یې وټکوله څوک ورته راغلل پوښتنه یې ځینې وکړه چې بشرحافي دلته شته ( داحافي لقب وروسته بیا ورکړشوی) وایې هوا وایې ورته ووایه چې دباندې دې څوک غواړي هغه ورته وویل چې څه مې کوي زه په نیشه کې یم دغه بزرګ ورته وایې چې ورشه چې درب تعالی له طرف نه مې پیغام درته راوړی .

بشرحافي چې دادولي خبره واوریدله چې دخدای پاک له طرف نه پیغام درته راغلې نوملګروته یې وویل چې زمانه نوره شراب خانه پاتې شوه دار ورسره پیداشو کیدای شي چې رب تعالی زماپه باب کې دعذاب حکم نازل کړی وي اراده دعذاب یې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوې وي نو په لوځوپښو راووت په منډه باندې داولې ته چې راغی ولي داخوب ورته بيان کړ.

خوچونکې اخلاص ؤ انقیاد ؤ داخبره يې زړه ته ولويده نو په اخلاص يې توبه ويسته چې اې رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ادومره رحيم ذات يې چې تراوسه ما په فسق اوفجور باندې وخت تيرولو خودتا دنامه عزت مې وکړ پدغه دومره رانه راضي شوې چې زمادې ټولې ګناوې وبښلې نودځان سره نوره دافيصله وکړه چې زه به نورې ګناوې نه کوم.

بيا خداوندمتعال دوخت دومره لوی بزرګ ورنه جوړ کړ چې دی په لوځوپښو ګرځيده چاورنه پوښتنه وکړه چې ولې په لوڅو پښو ګرځې؟ ده ورته وويل چې په هغه ورځ چې ماله خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سره دوستي کوله زه په لوځوپښوراوتلی وم اويا به يې ويل چې زمکه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرش ده، دباشاه په فرش له بوټوسره ګرځيدل بې ادبي راته ښکاري .[1] تذکرة الاولياء فارسي ص ۱۲۸ چاپ ايران

[1] خوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بيا دومره عزت ورکړچې دده دکوراوکلي کوڅه چې دی مبارک به لوڅې پښې پکې ګرځيده نوحيواناتوبه په هغه کوڅه کې تشې اوډکې متيازي نه کولې.

يووخت کې يوبزرګ په لار روان ده چې دده علاقې ته راورسيده په کوڅه کې يې خوشيان اوپچې وليدلې نوچيغې يې کړي چې آه بشرحافي وفات شوی؟ چاورته وويل چې ولې ژاړې ده وويل چې حيواناتو داحال شروع کړی نومعلوميږي چې دی نشته. که نه د رب تعالی په ده باندې دومره رحم ؤ چې حيواناتو دده

(c) ketabton.com: The Digital Library



احترام کاوه، چې ورغی پوښتنه یې وکړه هغه په رښتیا وفات شوی و. [تذکرة الاولیاء فارسی ص. ۱۳۵/ چاپ ایران]

دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دنامه (بسم الله) داحترام په وجه بزرګي اولوړمقام ته ورسیده ځکه په مینه اومحبت کې مخلص ؤ چې سړی دغه نوم دالله ته په زړه کې ځای ورکړي اودغه نوم دالله تعالی ته په روح کې ځای ورکړي ،په سري،خفي اواخفاکې یې ځای ورکړ،په بدن کې یې ځای ورکړي اوپه اخلاص باندې یې ووایي ،په محبت باندې یې ووایې ،په شوق باندې یې ووایې بیا به سړی د کلونومزل په میاشتوکې سرته رسوي.

نوغرض داچې که مونږاوتاسې غواړو په دین ،په تقوی اونیکوعملونو کې ترقي وکړو اود نیکوخلکو له جملې څخه شمار شو ،دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ددوستانو له جملې څخه حساب شو نومونږبه دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له دوستانو سره په صحیح معنامحبت کوو دهغوسره به ناسته اوولاړه کوو دهغودهغه ارشاداتوموافق به په وظیفوکې عمل کوو اوهغه ذکربه دتل له پاره سره کوو په عقیده باندې به یوبیا به خدای پاک په مونږاوتاسوکې کامیابي اوترقي راپه برخه کوي.

ځکه نبي کریم صَلَّىاللهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ فرمایي: ﴿ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «الْمَرْءُ مَعَ مَنْ أَحَبَّ» ﴾ [جامع الترمذي ج:۲/ ص:۵۱۴/ باب المرء مع من احب] یعنې دچا چې له چاسره محبت وي دقیامت په ورځ به له هغوسره راپورته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۳۹) مجلس

## دحضرت نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزې په نباتاتوکې

د نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دکمالاتو په هکله موترېږه مخکې بيان کې که څه هم دځينومعجزاتو يادونه کړې ده چې هغوی له روح لرونکو شيانو سره تعلق درلودلو دلته چې موږ کومې معجزې دنمونې په شکل بيانوو ددغو معجزاتو تړاؤ او تعلق له جمادات، نباتاتو او غير ذی روح شيانو سره دی چې يوڅو به يې دنمونې په شکل درته وړاندې کړم.

کتابونه مجموعه معجزې د کتابونه درسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزاتو شمېر (۳۰۰) درې سوه ذکرکوي. خودهغوی نه په روايتو کې يوه واقعه داراځي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ويده ؤ دلرې نه يوه ونه دخپل ځای نه را په حرکت باندې شوه ديوه طرف نه په بل طرف باندې بنوريده تردې پورې چې دنبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ حضورته حاضره شوه کله چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخوب نه راويښ شو صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ عرض وکړچې داونه دفلانکي ځای نه پخپله راروانه وه چې تردې ځايه راورسيدله، نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورته وايې چې دغې ونې له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ څخه اجازه غوښتې وه چې زماسلام ته راشي ، نو دغې ونې سمدستې

(c) ketabton.com: The Digital Library



له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سره په خبرو شروع وکړه دخبرو پیل یې
په سلام سره وکړ وې ویل :السلام علیك یارسول الله ؛ چې داآواز
یې ټولو حاضروخلکو واوریده اوپس له هغه نه داونه روانه شوه
اوپه خپل ځای باندې بیرته ودریده . [ مشکوة المصابیح / ج:۲/ باب
المعجزات ص: ۵۴۰]

په یوه بله واقعه کې رسو الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دملګرو سره یوځای
په سفر تللی دسفر پر مهال انساني حاجت ورته پیداشو ، دپټنا او
پردې ځای نشته چې دی مبارک دپټنا او پردې ځای ته ولاړ شي
هغه خپل ضرورت رفعه کړي. روایت کې راځي چې دوې ونې لرې
ولاړې وې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ورغی دایوه ونه یې دخانګ نه
راونیوه چې دی زمااطاعت وکړ په اذن دالله تعالی باندې داونه
پسې راغله ترنیمایي پورې یې دایوه ونه راوسته بیا ورغی هغه
بلې ونې ته هغه یې له خانګ نه ونیوه دخدای پاک په حکم چې راځه
په ماپسې هغه پسې راروانه شوه چې کله دواړه ونې سره نږدې
شوې خانګونه یې سره ونیښتل پس دهغه نه یې حکم ورته وکړچې
تاسو خانګونه په ماباندې راتاوکړي. راوي وایې چې رسول الله
صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خانګونو کې داسې پټ شو چې هیڅا هم نه لیده
خپل ضرورت یې رفعه کړ، دضرورت له رفعه کولو نه پس یې ونو
ته حکم وکړچې هره ونه دې خپل ځای ته لاړه شي.

[مشکوة المصابیح / ج: ۲ /باب المعجزات ص:۵۳۳ ]

واقعه داچې یو اعرابي ( کوچی ) رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته
راغی او عرض کوي چې ته ماته یوه معجزه راوښیه چې زما یقین

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په نبوت نورهم مضبوط شي رسول الله ﷺ ورته وویل چې څه ډول معجزه غواړي هغه ورته وویل چې هغه ونه که دتاپه حکم دتاپه طرف را روانه شي. ده ورته وویل چې هغه وني ته ووایه چې(اجیبي رسول الله!) درسول الله حکم ومنه یعنې راشه.

اعرابي ورغی ونې ته یې درسول الله ﷺ دمبارکې خولې الفاظ وړاندې کړل ونه یوطرف اوبل طرف ته په ښوریدلوشوه ریښې یې راوختې راغله د نبي کریم ﷺ حضورته صحابي ورته وایې (حسبي حسبي) کافي ده کافي زماکامل یقین پیداشو دتاپه نبوت اومعجزې باندې بیاداصحابي ورته وایې چې اې رسول الله! ماته اجازه وکړه چې زه تاته سجده وکړم نبي کریم ﷺ ورته وایې چې دخدای پاک نه بغیر بل چاته سجده نشته که له خدای پاک نه ماسوی بل چاته سجده کول روا وی نو مایه ښځو ته حکم کړای وچې خپلو میړوته سجده وکړي وروسته هغه صحابي د نبي کریم ﷺ دلاسو اوپښو مچولواجازه وغوښتله رسول الله ﷺ اجازه ورته وکړه د نبي کریم ﷺ لاس مبارک یې هم مچ کړاودده پښې مبارکې یې هم مچ کړې.

[جامع المعجزات باب الخامس فی معجزات المتعلقة بتکلیم الجمادات ص ۳۱۸]

الله تعالی د ده د نبوت او حقانیت تائید په بوټو ، ونو او نورو جماداتو سره هم کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## جمادات هم په دې اقرار کوي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حقه دى

په جماداتوکې چې روح نلري اود نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزې په کې ښکاره شوې وي څو واقعات دي:

يوه واقعه په تابعداري دوريځې ده نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په خطبه لګياده يواعرابي (کوچی) ورته راغی او عرض ورته کوي چې يارسول الله! مالونه مړه شول ،عيالونه مودوچکالي له وجې تږي دي نږدې ده چې هلاک شي ،بارانونه نشته نوته دعاوکړه چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ باران وکړي په روايت کې راځي چې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سمدستي لاسونه پورته کړل اوصحابي قسم کوي چې ټول اسمان کې بيخې وريځ نه وه چې رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاس پورته کړل دعا يې شروع کړه ددعا دشروع کيدلو سره دغرو په شکل وريځې ديواوبل طرف نه راروانې شوې چې دمدينې منورې په سرحد باندې راغلې سره يوځای شوې نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه په مخ راتيرکړل دعايې ختمه کړه باران شروع شو دممبرمبارک نه لانه و کوز شوی چې دده دږيرې مبارکې نه اوبه وبهيدې يوه جمعه مسلسل بارانونه ووريدل پس له هغه نه بله جمعه کې دی په خطبه لګياده هغه شخص يابل څوک ورته راغی چې يارسول الله! کورونه موړنګ شول،مالونه موټول اوبويوړل رب تعالی جَلَّ جَلَالُهُ ته دعاوکړه چې دابارانونه ودره وي حضرت نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاسونه پورته کړل دادعایي وکړه (اللهم حوالينا ولاعلينا) ای خدایه ! زمونږ په چارچاپیره غرونوکې بارانونه اووروه چې مونږ ته یې فایدې ورسیږي اوزمونږ کورونه نه ړنګوي تاوان نه راکوي وایې د دعالاسونه یې لانه و ښکته کړي چې باران ودرید، او وریځ بیرته چې دکوم طرف نه راغلي وه هغه طرف ته ولاړه اسمان بیرته صفاوګرځیده.

[ مشکوة المصابیح ج:۲ / باب المعجزات / ص ۵۳۶ ]

وریځ روح نلري جمادغونديشی ده وایې دادحضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ معجزه وه چې دده په دعا سره یوځای شوه اودده په دعاسره بیرته تیت پرک هم شوه یوطرف ته اوبل طرف ته ولاړه.

## دحضرت نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د ( شق القمر ) معجزه

بله معجزه په جماداتوکې چې ډېره مشهوره ده او په قرانکریم کې هم یادونه شوې ده ،هغه دسپوږمۍ د دوه ټکړې کېدلو معجزه ده لکه خدای جَلَّ جَلَالُهُ چې وایي ﴿ اقْتَرَبَتِ السَّاعَةُ وَانشَقَّ الْقَمَرُ ﴾.

[ سورة القمر آیت : ۱، مشکوة المصابیح ج:۲ / باب علامات النبوت ص:۵۲۴ / قدیمي کتب خانه ]

له نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ نه دمکې مشرکینو داغوښتنه وکړه چې مونږ به هلته دتا نبوت ومنو چې سپوږمۍ راشي اوستا په ګریوان کې ننوزي اونیمه له یو لستوڼي اونیمه له بل لستوڼي څخه بهرووزي ـ نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ همداسې وکړل،سپوږمۍ دوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ټوټې شوه اودا تندراه تقریبا(۵۹) ملکونوکې لیدل شوې اوداپه نقشوکې اوس هم شته.

## داسطوانة الحنانة واقعه

بله معجزه د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په جماداتوکې داده چې د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجدمبارک کې د وچې خرما ډډ (بیخ) و. دهغې په څنګ کې به یې خطبه ویله اوهغې ته به یې تکیا کوله کله چې صحابه کرامو رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ له پاره ممبر جوړکړ په کومه جمعه کې چې دی مبارک په ممبرکیناست اوپه ممبرېې وعظ، نصیحت او خطبه شروع کړه دغې وچې خرما مبارکې په ژړا شروع وکړه په داسې کیفیت باندې یې ژړل چې داټولوخلکوددې ژړا واوریدله ،نږدې وه چې له ډېرې ژړانه دوه ځایه شي.

رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دممبرنه ورته راکوزشو هغه ډډ مبارک یې په غیږ کې ونیو ورو، ورو دهغې ژړاه بیرته قراره کیدله ترهغه وخته یې نیولې وه چې ترڅویې ژړاورکه شوه .( مشکوة المصابیح ج۲/ ص:۵۳۶/ باب المعجزات ) اوس هلته ددغې خرما په ځای باندې متـه ده په نامه (استوانة الحنانة) یعنې ژړاکونکې متـه.

دادهغې وچې خرما ځای ده چې دنبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په فراق باندې یې ژړاکوله.

جماد ده – روح نلري- وچې لرګی ده د نبي کریم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قدریې پیژانده دهغه په جدایي باندې یې ژړل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علامه رومي پدغه مناسبت شعر وايي:

سندت من بودم ازمن تاختی

سندت برجای دیگر ساختی

دتادتکیه ځای زه وم زمانه لاړې اودتکیه ځای دې بل پیداکړ په بل ځای باندې کیناستې.

دلته محدثین کرام لیکي چې دخرما دوچ ډډ (بیخ) د رسول الله ﷺ سره دومره محبت موجودؤ نوانسان چې عقل لري ،علم لري،شعورلري دامتي کیدلو دعوه لري خدای پاک جل جلاله جنت ورکوي ،خدای پاک دیدارورکوي،خدای پاک جل جلاله خپله رضا ورکوي ، هغه څومره مقامات چې ورته پیداکیږي تول په محبت اومتابعت د رسول الله ﷺ باندې نودی باید په محبت کې د ونې له یوه وچ ډډ څخه ډیر زیات وي ، چې ونه دده په فراقت دننه په جومات کې ژاړي صرف دومره ځینې جداشو چې مخکې یې تکیه په دې باندې کوله اواوس په ممبرباندې شوه نومسلمانان خوباید دهغه په فراقت بې انتها وژاړي

د صحابهٔ کرامو رضي الله عنهم له رسول الله ﷺ سره دومره مینه وه په روایاتو کې راځي چې یوځل دنبي کریم ﷺ دوفات اوازه شوه حضرت عثمان رضي الله عنه په ژبه ګونګی شو خبرې یې نشواي کولی. حضرت عمرفاروق رضي الله عنه لیونی شو عقل یې بالکل کارپرینبود اوتوره یې راوخیسته اعلان یې وکړ چې که

(c) ketabton.com: The Digital Library



چادا وویل چې نبي کریم ﷺ وفات شوی ده زه به دهغه سړي سر قلم کړم.

[احیاء العلوم ج:۴/ ص: ۶۲۹ / کتاب ذکرالموت ومابعده]

دېرصحابه کرام رضي الله عنهم په سترګو ړانده شول وجه داوه چې لکه هغه ونې چې دزړه محبت درلود په فراقت یې ژړاکوله نودوی خوعلم لري، عقل لري د رسول الله ﷺ کمالات ټول ورته معلوم ؤ نوځرنګه به دوی نه ژړل ، ولې به دوی نه بې اوښنه کیدل ولې به دوی نه وربانديږ غمجن کیدل کله چې دنبي کریم ﷺ د وصال وخت راغی نو له زنکندن لیږ مخکې یې دخپل ځیګر ټوټې کشرۍ لور حضرت فاطمې زهرا رضي الله عنها ته په غوږ کې څه خبره وکړه هغې مبارکې یووار ډېر وژړل اوبیایې وخندل وروسته بیا امهات المومنین پوښتنه ورنه وکړه چې اې فاطمې ، څرنګه دې یوواروژړل اوبیادې وخندل؟ هغې ورته وویل چې ومې ژړل په دې چې نبي کریم ﷺ راته وویل چې دازما مرض دمرګ مرض ده ددغه مرض څخه زه نه جوړیږم ددنیانه تلونکی یم نو ماته دخپل ګران او قدرمن ابا جان جدایي د زغملو ور نه ښکاریده، ځکه په زړاشوم اوپه دې مې بیا وخندل چې حضرت رسول الله ﷺ راته وویل چې زماپه اهل اوعیال کې به ته زر راپسې راشې زماسره به ستا ملاقات زروشي هغه وه چې شپږمیاشتې د نبي کریم ﷺ دوفات نه بعد حضرت فاطمه رضي الله عنها وفات شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



بي بي فاطمې رضي الله عنها د نبي كريم صلى الله عليه وسلم په فراقت كې دغه اشعار ويلي:

صبت على مصائب لوانها

صبت على الايام صرن لياليا

يعنې دومره مصبتونه اوغمونه په مابانديې راغلل چې كه هغه په ورځو بانديې راغلي واى نوورځې به توره شپه ګرځيدلې وې

ماذا على من شم تربة احمد

ان لايشم مد زمان غوالـــيا

څه دي په هغه چابانديې چې چادرسول الله صلى الله عليه وسلم دقبرخاوري بوى كړې وي چې په ټول ژوندبانديې بيا هغه نورې خوشبويي بوى نكړي ،څه ضرورت لري كوم چاته چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم دخاوري خوشبويي پيداده.

ددغې وجې نه چې صحابه كرام رضي الله عنهم دقبر دحالت نه راوګرځيدل حضرت بي بي فاطمې رضي الله عنها دډېرغم نه حضرت انس رضي الله عنه ته وويل چې رسول الله صلى الله عليه وسلم مو په خاوركې پټ كړ ،زړونه موساړه شول چې په ده بانديې موخاوري واړولې؟

اهل بيت ډېرغټ مقام لري خوغم دومره غم ؤ چې حضرت رسول الله صلى الله عليه وسلم دمصبيت په متعلق كې وايې چې دچايوزوى وفات وي صبروربانديې وكړي دهغه له پاره جنت ده.دارنګه دوه زامن اودرې زامن چا وويل چې كه دچايوزوى هم نه ووفات ؟دى مبارك ورته وايې چې زما دامت له پاره زه پيش كش

(c) ketabton.com: The Digital Library



یم زما غم دومره غټ غم ده چې تر اولاد نه هم غټ غم ده، دچاچې اولاد یاقریب وفات شي دومره لویه صدمه نه ده لکه د رسول الله ﷺ انتقال او وفات.

نو حضرت نبي کریم ﷺ ته خدای پاک جل جلاله بې شمېره کمالات ورکړي وو.

## دحضرت رسول الله ﷺ په حیواناتوکې معجزې

حضرت ابوهریرة رضي الله عنه څخه روایت دی وایي: چې یو لیوه له یویهودي نه میږه وتښتوله شپانه ورپسې منډه کړه دهغه لیوه نه یې هغه میږه خلاصه کړه لیوه ولاړ په یو غونډۍ ودریده اوپس دهغه نه یې دا شپانه ته خبرې شروع کړې چې هغه روزي چې خدای پاک جل جلاله زما له پاره مقرره کړې وه هغه تازماله خولې نه وویسته په هغه ورځ به بیا څه کوې چې ته نه یې او زه یې شپون یم اوماته راپاتې وي

دایهودي حیران شو چې حیوان (لیوه) په خبرو راغی تعجب یې وکړ،لیوه ورته وایې دې ته تعجب مه کوه تردې نه غټه دتعجب خبره داده چې ددغو دوو غرونو په منځ کې (مدینه منوره) یو پیغمبر پیداشوی دی چې دمخکینیوامتواوراتلونکې زمانې ټول احوال بیانوي

او سره له هغه یې خلک بیاهم نه مني او حال داچې رښتیا هم وایي بیا هم دخلکو زړونو ته نه لویږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه يهودي سمدستي رمه پرېښودله او نبي کريم ﷺ ته راغی چې کله يې دپيغمبر عليه السلام خبرې واورېدلې او دهغه مبارک اخلاق يې وليدل نو سمدستي په اسلام باندې مشرف شو هغه دی دنبي عليه السلام په نبوت او حقانيت ليوه ګويا او شاهد شو.

[مشکاة ج ۲ / ص: ۵۴۱ / باب المعجزات]

نوغرض داچې رسول الله ﷺ ته چې خداوندمتعال جل جلاله کوم کمالات ورکړي ؤنوهرڅوک چې دحضرت رسول الله ﷺ په تمامه معناتابع شي هغه ته هم هغه کرامات خدای پاک جل جلاله ورکوي ،کوم چې په رسول الله ﷺ کې ؤ؛خوهلته معجزې ورته ويل کيږي ددغه ولي په لاس چې کوم دعادت خلاف شی صادر يږي هغه ته کرامت ويل کيږي ،که نه کرامات داولياء داهم په حقيقت کې ټولې معجزې د رسول الله ﷺ دي اوداپه محبت اومتابعت پيداکيږي چې څومره سړی کمال غواړي نو هغه هلته پيداکيږي چې دخپل پيغمبر،دخپل متقدا( لاربنود ) په قول اوعمل باندې عمل وکړي او په پوره توګه يې تابع شي ، چې هغه څه وايې اودی يې منې چې هغه څه کوي هغه دی هم کوي اوورته محبوب وي.

## د نبي کريم ﷺ دمعراج په واقعه شرعي اوعقلي دلائل

دمعراج دشپې متعلق به يوه لنډه خبره درته وکړم چې بعض خلکوته دا اشتباه پيداکيږي چې په يوه شپه کې څرنګه حضرت رسول الله ﷺ دزمکې نه ترعرش عظيم پورې داوو(۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسمانونه تیرشو ،په یوه شپه کې دومره اوږد سفر څرنګه ترسره کیږي ؟

دایوه اختلافي واقعه ده علماء ټول په یوه خوله نه دي ځینې علماء کرام وايي چې روحي سفر ؤ او ځینې نور بیا وايي چې دا بدني او جسدي سفر ؤ ، خومختاره قول داده چې دی په روح اوبدن مبارک دواړودا سفر شوی دآیتونونه هم معلومیږي اوعقلي دلائل هم موجود دي.

دآیتونوڅخه دا آیت مبارک دی چې فرمايي:

﴿ سُبْحَٰنَ ٱلَّذِىٓ أَسْرَىٰ بِعَبْدِهِۦ لَيْلًا مِّنَ ٱلْمَسْجِدِ ٱلْحَرَامِ إِلَى ٱلْمَسْجِدِ ٱلْأَقْصَا ٱلَّذِى بَٰرَكْنَا حَوْلَهُۥ لِنُرِيَهُۥ مِنْ ءَايَٰتِنَآ ۚ إِنَّهُۥ هُوَ ٱلسَّمِيعُ ٱلْبَصِيرُ ① ﴾ [سورة الا سراء]

ژباړه : پاکي ده هغه ذات ته چې بیولی یې ؤ بنده خپل ( محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ) په ( یوه برخه د ) شپې کې له ( منځه یا له ځنګه د ) مسجد حرام څخه تر مسجد اقصی پورې هغه چې برکت اچولی دی موږ چار چاپیر دهغه ( بیول دمحمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دې له پاره ؤ ) چې هلته وښیو موږ دغه ( محمد صَلَّى ٱللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) ته ځینې له دلائلو ( دقدرت ) خپل.

بېشکه چې دغه ( الله تعالی ) هم دی دی ښه اوریدونکی ( دټولو اقوالو ) ښه لیدونکی ( عالم په پټو او ښکاره ؤ ).

یعنې ( سُبْحَانَ ) دتعجب په ځای کې استعمالیږي وايې دروح تک هغه دخوب تک وي په هغه کې څه تعجب نه پیداکیږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماخوب ولیدل چې زه اسمانو ته وختم څکه د برامتیان هم داخوبونه وینې خوهیڅوک هم ددغه نه تعجب نه کوي نودتعجب ځای داده چې رسول الله ﷺ په وجود اوروح مبارک دواړو اسمان ته ختلی دی.

دوهم: آیت شریف کې وايي (بعبده) عبد فقط روح ته نه ویل کیږي ،عبد روح اوجسد دواړو ته ویل کیږي نوددغه نه هم دامعلومیږي چې په بدن باندې اسمان ته ختلی ؤ.

دریم: رسول الله ﷺ چې دام هاني رضي الله عنها کورته راغی چې دهغې له کورنه معراج ته تللی ؤ هغې ته یې داقصه بیان کړه هغه ورته وايي چې ګوره داقصه دې تامشرکینوته ونکړې هغوی به دتا مخالفت نورهم زیات کړي انکاربه کوي چې داځرنګه پیښیږي نوکه دخوب خبره وای نوبیابې ولې ورته ویل چې خلکوته یې مه بیانوه څکه ددوی به نورانکارزیات شي، ده ورته وویل چې نه زه پټول نه کوم چې څه مې لیدلي هغه به ټول خلکوته ښکاره کوم.

اوبل داچې دا روایت د(۲۵) صحابه کرامو نه دخلفاء الراشدینوپه شمول رانقل شوی چې رسول الله ﷺ (۲) اسمانواوعرش عظیم اولامکان ته تللی داشرعي دلائل ؤ.

[ البدایة والنهایة ج:۱ / فصل اسراء برسول الله ﷺ من مکة الی بیت المقدس / ص:۱۲۰ / مکتبه فریدیه پشاور ].

(c) ketabton.com: The Digital Library



## عقلي دلائل

اول داچې پدې کې دې څوک استبعاداوشک نه کوي چې څنګه ترهغه ځایه په یوه شپه کې تګ کوي دانسان په تخنیک بانديې انسان په خپله په میلټ کې څومره مزل کوي ،موټریې چې جوړ کړی داموټربیاپه میلټ کې څومره مزل کوي جهاز یې چې جوړ کړی ده هغه بیاپه میلټ کې څومره مزل کوي، چې دانسان صناعت دی ،کرولا موټرپه صحیح سړک په یوه میلټ کې یونیم یادوه کیلومتره مسافه قطعه کوي

دایف سوله جیټ طیاري یې جوړې کړې دې چې په میلټ کې څومره کیلومتره مسافه قطعه کوي

نودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مخلوق چې بوراق ده په هغه ځای باندې یې قدم لګیږي چې چیرې یې نظرلګیدو نوبیا په هغه کې څه نادره ده چې په دومره وخت کې دې ټول اسمانونه کتلی وي

دوهم که ددې بجلي په ټوله دنیابالفرض یولین راتاؤ وي اودلته چې دبرق هم هغه اصلي مرکزده بټن یې ووهل شي نوپه څوسکنډه کې به ټولې دنیاته بجلي ونه رسیږي ؟ اوټول سائنسدانان پڅه دې متفق دي چې دامادده دروح نه ده نودغه ماده دانسان مصنوع ده چې ده جوړه کړي هغه په سکنټ کې په ټوله دنیاباندې راتاویدای شي اوکه بیایې مرکزې دټولې دنیا رڼاځي نودالله تعالی په قدرت کې ولې څوک دغه استبعاداوشک وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس دالیدل دسترګودي داسمان طرف ته وګوره تراسمانه نظر ورسیږي ،له زمکې نه تراسمانه پورې چې دپنځوسو کالومسافه ده داپه نیم سکنټ کې دانسان دسترګو شعاع وزي اسمان ته رسیږي دادیدار پیداکیږي نودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دیدار کې څرنګه دا استبعاد وشي چې څرنګه په یوه شپه کې دی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ اسمانو ته ورساوه.

دحضرت اسماعیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په غاړه باندې چاړه لانه وکینبودل شوي چې حضرت جبرائیل امین ته حکم وشو چې ځان ورسوه چې زما بنده ته څه تکلیف ونه رسیږي ؛نوپوستکی یې لانه ؤ پرې شوی چې حضرت جبرائیل امین ورته راورسیده دهغه ځای نه څوزره کاله مسافه ده نودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په قدرت کې هیڅ استبعاد نشته چې څرنګه رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په یوه شپه کې اسمانو ته لاړ،جنتو ته لاړ،دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دیدار ورته نصیب شو، ددغه نه په کم وخت کې داشوي دي بلکې دشپې په څه حصه کې داټول شوي دي هیڅ استبعاد نشته.

بیا چې یوانسان دپیغمبر تابع شو داسې بصیرت ورته پیداکړي چې په سکنټ کې تراسمانه نه بلکې ترعرش پورې داټول حدودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته کشف وګرځوي داټول مسافه پدغو سترګو لیدل کیږي نوهغه رب تعالی پدې هم قادر ده چې خپل محبوب دشپې په کمه حصه کې ترهغه ځایه ورسوي پدې کې خو هیڅ استبعادنشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تګ د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دیدار ته دهغه عزت په خاطرباندې ؤ چې داسې یو پیغمبریو مخلوق پیداکوم چې هغه به بیازه دغه لامکان ته راخیځوم دتاسې مشکلات به درحل کوي

نو غرض مې داده چې مونږ او تاسې په دې مجلس دذکرکې چې کینو روژه نیسو ،لمونځونه کوو ،طاعات او عبادات چې څه شی مومقصودوي پدغوټولوکې قرب الهي مقصود ده چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضاراته پیداشي ،دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ طرف ته نږدې شو اودشیطان نه لرې شو دخداوندمتعال رضا پیداکړوو هغه رضا بې درضا د رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه نه پیداکیږي چې څود رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په نقش قدم نه وي روان شوی هغه ورنه خفه وي نو الله تعالی بیادهغه سړي څخه نه خوشحالیږي ،دادواړه سره لازم اوملزوم دي . احضرات کرام نقشبندیه / ص:۱۶۷۱

په قرانکریم کې دیته اشاره شوې ده :﴿ وَٱللَّهُ وَرَسُولُهُۥٓ أَحَقُّ أَن يُرۡضُوهُ ﴾ [ سورة التوبه آیت:۶۲ ] تفسیرجلالین لیکي چې الله تعالی اورسول الله ته یو ضمیر راجع شوی (ان یرضوه ) چې دا لائق په دې دي چې سړی یې راضي کړي مشرکین تاسې راضي کوي په دروغو قسمونه درته کوي خو الله تعالی اورسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دېرلائق په دې دي چې دوی راضي کړی،دواړوته یې یوضمیرراجع کړی دې ته پکې اشاره ده چې ددواړو رضایوله بله سره لازم ده . [ تفسیرجلالین / ج:۱/ ص:۱۶۲سورة التوبة ] الله تعالی ترهغه پورې له

(c) ketabton.com: The Digital Library



چاڅخه نه راضي کیږي ترڅو پورې یې چې رسول الله ﷺ نوي راضي کړی اورسول الله ﷺ ترهغه پورې له چاڅخه نه راضي کیږي ترڅو پورې یې چې خدای پاک جل جلاله نوي راضي کړی.

مونږکه په نقش قدم اوسنتود رسول الله ﷺ روان شو دهغه اتباع مختاره کو بیا امیده ډېر دی چې درسول الله ﷺ په رضا باندې دالله تعالی رضا پیداکړو اوچې دچانه الله تعالی راضي شو هغه ته به پدغه لمانځه کې هغه دمعراج مقام پیداکیږي کومه مشاهده چې نبي کریم ﷺ په معراج کې فوق العرش کړې ده ،په حالت دلمانځه کې عام کتابونه دحدیثو اوتفاسیرو وایي چې حالت دمشاهدې ده دغه حالت پیداکیږي ،دغسې انوارد خداوندمتعال ورته لیدل کیږي هغه دیدار ورته پیداکیږي.

رسول الله ﷺ په لمانځه کې ولاړ ؤ دلمانځه په اخیرصف کې یوه سړی لمونځ په صحیح طریقه ونکړچې کله یې سلام وګرځاوه ورته وې ویل چې اې فلانکیه ! دا لمونځ ولې په صحیح طریقه سره نکوې؟ دتاسې څۀ ګمان ده چې زه مخته وینم اوشاته نه وینم؟ والله لکه مخته چې وینم همداسې شاته هم وینم.

محدثین کرام لیکي چې داځکه چې دلمانځه دمشاهدې حالت ده چې په لمانځه به شروع شو ټول حالات خدای پاک جل جلاله ورته منکشف کول.

نوپه دغه لمانځه کې دغسې حالت سړي ته پیداکیږي چې په اخلاص باندې یې کوي ،په متابعت ،خضوع ،خشوع اوعاجزي باندې یې کوي چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مشاهدې کله سړي ته پیدا کیږي دسجدي په وخت کې به هغه انوار دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ سړی وینې زمونږ مقصود دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا ده دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا بې له دین ځخه نه پیداکیږي خودین چې څومره ښه کیږي اوپه صحیح چوکاټ کې راځي دغومره هلته دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رضا ډېره پیداکیږي بیا ډېر نیک اثار پرې مرتب کیږي

## دطریقت فائدې

دتصوف په اصطلاح،داولیاء کرامو په اصطلاح چې څوک یې
په یونام سره بولي څوک یې په بل نام داڅلورطریقې دي
نقشبندیه، قادریه، چشتیه اوسروردیه
ددغوبیعت کول مرید ته کومې فائدې رسیږي؟ دثبوت په
هکله یې خبره نه کوم ،هغه خوپه قرانکریم ،احادیثومبارکو اوپه
اقوالو دائمه وو ثابتې دي هغه بار بار بیان شوې
حضرت پیرذوالفقاراحمدنقشبندي صاحب په کتاب تصوف
اوسلوک کې لیکلي دي چې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## بیعت اولاس نیوی دوه لويې فائدي لري

**اوله فائده**: چې څوک بیعت اولاس نیوی وکړي اوپه دې سلسلوکې داخلیږي نومشائخ کرام په سالک اومریدباندې له مخکینیوټولو ګناهونوڅخه په اخلاص توبه باسي نوخداوند متعال بې داګناهونوداسې پاکوي لکه دمورنه چې نوی پیداوي ځکه چې زمونږ مشائخ کرام داتلقین ورته کوي چې له صغیره ګناهونو،له کبیره ګناهونو،له حقوق الله اوحقوق العباد،حقوق الوالدینو،له شرک خفي اوشرک جلي که زه پرې پوهیم اوکه نه یم پرې پوه خداوندمتعاله له ټولونه مې توبه ده.

نوله هرقسم ګناهونوڅخه توبه پکې ایستل کیږي

**دوهمه فائده**: دانتهاپه لحاظ چې څوک وايې په اخلاص عقیده اومحبت باندې په بیعت کې داخل شي خداوندمتعال ددغه بیعت په برکت باندې دغه انسان له دنیاڅخه له ایمانه سره ، سره رخصتیږي. [تصوف وسلوک ، اردو ، ص ۵۶]

نوغټه فایده یې داده چې په توبه سره بې خداوندمتعال له ټولو ګناهونوڅخه صفا کوي ،داخري ورځې چې نورهیڅ مقامات دولایت هم نشي ورته پیدا خوچې ددغې طریقې عقیده ولري ،اخلاص اومحبت ولري په ورځ دزنکدن په وخت کې به یې الله تعالی دشیطان له فریبونونه خلاص کړي او له ایمانه سره به له دنیا نه رخصت شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۰) مجلس

## په دنياکې دنيکو اعمالو بدله

هرانسان ته پکار ده چې دخوشيانوفکر وکړي يودهغونه داده چې دعمل ثواب ته بايد سړی متوجې شي چې دعمل ثواب خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مونږ ته څرنګه راکوي

چې دحديثوواقعاتو ته انسان نظر او فکر وکړي په دنياکې دنيکو اعمالو بدله هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نيکو خلکو ته ورښودلې چې دغه نيک عملونه يې ذريعه دنجات او کاميابي ګرځيدلي نواميد ده چې په اخرت کې هم دغه نيک عمل ذريعه دنجات اوکاميابي وګرځي

### په بني اسرائيلوکي د دريو نيکوانسانانو قصه

﴿ أَنَّ عَبْدَ اللهِ بْنَ عُمَرَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ يَقُولُ: انْطَلَقَ ثَلَاثَةُ رَهْطٍ مِمَّنْ كَانَ قَبْلَكُمْ حَتَّى أَوَوْا الْمَبِيتَ إِلَى غَارٍ، فَدَخَلُوهُ فَانْحَدَرَتْ صَخْرَةٌ مِنَ الْجَبَلِ، فَسَدَّتْ عَلَيْهِمُ الْغَارَ، فَقَالُوا: إِنَّهُ لَا يُنْجِيكُمْ مِنْ هَذِهِ الصَّخْرَةِ إِلَّا أَنْ تَدْعُوا اللهَ بِصَالِحِ أَعْمَالِكُمْ ، الحديث . ﴾

[ اخرجه البخاری فی صحيحه فی كتاب الاجارات ج:۱ / ص ۳۰۲ / رقم الحديث ۲۲۷۲ / ومسلم فی كتاب الذكر برواية ابن عمر رضي الله عنهما ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



له حضرت عبدالله ابن عمر رَضِيَ اللهُ عَنْهُمَا روايت دی وايي چې له رسول الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ څخه مې اوريدلي ويل يې چې له تاسې نه په مخکې زمانه کې درې نفره په لاره باندې روان وُچې په دوی باندې باران راغی دباران له امله دغره لمنې ته ديوه کمره لاندې يو غار وُ پدغه غارکې کيناستل په دې وخت کې دغره له سرنه يوه لويه تيږه راوښويده اودغارخوله يې مکمل ډول بنده کړه.

دغودريونفرو له ډيرکوشش سره سره بياهم دغه تيږه لرې نه کړای شوه اخردغودريونفرو په خپل مابين کې سره وويل چې اوس خودخلاصون بله لارنشته بې ددې نه چې خپل عمل خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وسيله او ذريعه کړو کيدای شي چې ددغو نيکو اعمالو په برکت مونږ خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له دې مصيبت نه خلاص کړي

په دغودريونفروکې يوه نفر رب تعالی ته عرض وکړ چې ای رب تعالی ! زما په ژوند کې عمل داو چې شپون وم رمه مې پيوله کله به چې مابنام شو هغه ميږې به مې ولوشلې اول به مې شيدې موراوپلار ته ورکولې اوبيابه مې خپل اولاد ته ورکولې

يو وخت ناوخته شوم چې راغلم موراوپلارمې دواړه ويده شوي وُ نوزما په دوی باندې زړه ونه شو چې دوی له خوب نه را بيدارکړم خويل طرف ته مې هغه رمه ميږې هم په دښته کې پاتې وې دغلو اوليوانو ډارهم وُ چې که زه بيرته ورنشم کيدای شي چې ليوان رمه ماته کړي؛ نو ای خدای پاکه ! مادمور اوپلاراحترام وکړ ترسهاره ورته ولاړوم خپله رمه اوميږې مې پريښودلې اوپه دوی مې هم زړه نه کيده چې دخوب نه يې رابيدارکړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې سهارشودوی په خپل طبیعت باندې راوېښ شول بیامې شیدې ورکړې نوای خدایه ! که داعمل مادتا درضا له پاره کړی وي نوددغه عمل په وسیله اوبرکت دغه تیږه لرې کړې ، نو تیږه لرې وښوریده او څه ناڅه چوله پکې پیداشوه.

دوهم سړی وایې ای رب تعالی ! زما داکالور وه ډېره ښایسته وه اوزه په دې باندې عاشق وم ، ددې نه مې دبدعملي ارزو درلودله. هغې زما مطالبه نه منله.

خویووخت کې داډېرمحتاجه شوه په کورکې یې څه نه و اولاد یې وږې ؤ ماته راغله اوزمانه یې څه دکومک او مرستې غوښتنه وکړه ماورته وویل چې زه به هلته دتاسره کومک وکړم چې ته زما سره بدعملي وکړې خودې دغې خبرې ته زړه نه کېښوده بیرته ولاړه بیا درې څلور وارې راغله سوال به یې کاوه ځکه چې دهغې ماشومان وږي، وژړل به یې نوبیا به مجبوره شوه بیازما کورته راغله بیا یې زمانه دکومک غوښتنه وکړه اومابه هغه خپله مطالبه ورته تکراروله هغې بیا ونه منله په څلورم وارددېرې مجبورې نه داښځې وویل چې زه به دتاسره بدعملي وکړم ځکه زامنَ مې دلوږې نه مړه کیږي کله چې زه دې ته ورنږدې شوم او دبدعملي اراده مې وکړه ، نوهغه ښځه وریږدیده اوپه ډېر عجز سره یې راته وویل چې دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ووډارشه ! دغه مهرمه ماتوه تراوسه مې بدعملي نه ده کړې،ګوره رانږدې نشي توزه هم ورته جګ شوم اوبدعملي مې ورسره ونکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خداوندمتعاله ! دتادنامه له وجې په مابانديې دومره ډار غالب شو چې موقع مې پیداوه اوورنه جګ شوم اوددې سره مې چې څومره وس ؤ هغه مې ورسره وکړنوای خدایه ! که داعمل مادتا له پاره کړی وي ،داګناه مې ، ستا له ډارنه پرېښې وي نوداتیږه نوره هم لرې کړې چې مونږ ته څهٔ څوله پیداشي نوتیږه یوڅه نوره وښوریده اوچوله پیداشوه.

دریم نفر وویل چې ای خدایه ! مایومزدور دسهارنه ترماښام پورې نیولی ؤهغه ته مې خپله مزدوري مقررکړې وه. یوبل کس په نیمه ورځ کې راغی خودادنیمې ورځې مزدورهم دومره کار وکړ لکه هغه بل چې په ټوله ورځ کې کړی و نومادواړوته پوره، پوره مزدوري ورکړه، نوهغه ټوله ورځ یې چې کارکړی ؤ هغه خفه شو چې دی په نیمه ورځ کې راغلی ؤ دومره روپۍ دې ورکړې اوماچې ټوله ورځ کارکړی ؤ ماته دې هم دهغه په اندازه روپۍ راکړې

ماورته وویل چې ګوره دتابرخه خومې نده کمه کړې تاته مې چې کوم أجرت ( مزدوري ) مقررکړی ؤ هغه خومې پوره درکړ خودی خفه شواوولاړ.

هغه مزدوري یې ماته پرېښودله روپۍ یې وانخستې ماپه هغوروپیو باندې څه غله واخیسته ومې کرله بیاهغه غنم یا وربشې چې شنې شوې وامې خیستل خرڅې مې کړې څه حیوانات مې وراندې واخیستل خوپه دې مابین کې څوکاله تیرشول چې دهغوورپیو له وجې نه غواوې ،میږې اواوښان هرڅه پیداشول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یووخت داسې ډېر محتاج شوی ؤ بیرته راغی نووېې ویل چې سخت محتاج یم هغه ورځ چې دتاسره ما مزدوري کړې وه هغه مزدوري مې راکړه.

ماورته وویل چې دابهرچې څومره پسونه،میږې اوغوایان ولاړدي هرڅه ټول له ځان سره بوزه. دامې هغه دتا په پیسوباندې اخیستي اوبیا ډېرشوي دي هغه یې ټول له ځان سره بوتلل ،نوای متعاله خدایه ! که داعمل مادتا درضا له پاره کړی وي داتیږه زمونږ له مخې لرې کړې نوداتیږه نوره هم لاړه اولارخلاصه شوه.

په دنیاکې ددنیا دخلکو نه دنیک عمل په ذریعه باندې خدای پاک جَلّجَلالُهٗ دوی ته نجات ورکړ چې دخدای پاک جَلّجَلالُهٗ درضا له پاره که کول دعبادت وي اوکه ترک دګناهونووي هغه ذریعه دنجات ګرځي چې هغه یوه ګناه پرېښې وه دخدای له ډاره هغه تیږه خدای پاک جَلّجَلالُهٗ ورته لرې کړه اوهغو دوو نورو کسانو چې نیک عمل کړی و نودهغه په برکت هغه تیږه خدای پاک جَلّجَلالُهٗ لرې کړه [اخرجه البخاری فی صحیحه فی کتاب الاجارات ج:۱ / ص ۳۰۳ / رقم الحدیث ۲۲۷۲ / ومسلم فی کتاب الذکر بروایة ابن عمر رضی الله عنهما]

## د یوې ګناه د نه کولو په سبب له دنیاوي هلاکت نه خلاصېدل او غیبي رزق ورکول

په بني اسرائیلو کې یو تجار ؤ ډېر نیک عمله انسان ؤ ،ده به په خپل لاس باندې شی جوړول اوبیابه یې په کلي کې خرڅول اوډېره نبایسته ځواني خدای پاک جَلّجَلالُهٗ ورکړې وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ دیوبادشاه دکورمخې ته تیریږي چې دبادشاه مینځې ولیده نومنده یې وایخسته خپلې باداري دبادشاه ښځې ته یې وویل چې یوډیرښایسته ځوان په دې لارباندې تیریږي اوځه شیان ورسره دي اوخرڅوي یې ، دې ورته وویل چې دننه یې را وغواړه چې خپل مقصود ترې پوره کړو کله چې داښایسته ځوان کورته داخل شو دغې ښځې چې ولید نوطبعا ښځې ناقص العقل ناقص الدین دي شهوت اوبدعملي په دوی باندې غالبه وي نوددغه سړي نه یې داسې مطالبه وکړه چې ته به زمونږسره بدعملي کوې هغه ورته وویل چې ماتراوسه پورې داسې کارنه دی کړی داکارزه نشم کولای، دبادشاه ښځې ورته وویل چې یابه زمونږ سره داکار کوې اویابه ترهغه دلته بندي یې ترڅوبادشاه نوي راغلی چې هغه ته دې په لاس ورکړو دهغه خوښه چې پریږدي اوکنه ؟

مینځې ته یې وویل چې دروازې بندې کړه پس له هغه نه چې داسړی پوه شو چې مانه پریږدي اودهغه وخت عادت دا ؤ چې دبام په سربه یې بیت الخلاء یادغسل یوځای جوړکړی ؤ نوده ورته وویل چې ځه ځای شته چې زه یووارقضاء حاجت وکړم ؟ دوی ورته وویل چې هو! نوکله چې دبام سرته وخوت نوپه ژړاشو اوخپل نفس ته وایې چې ای نفسه ! اویاکاله دې دخدای پاک له ډاره عبادت کاوه اوس داویا کالونه وروسته په داسې جال کې واقع شوې چې که داعمل دې وکړ داویا کلونو خواري به دې ولاړه شي تولــه بــه ضائع شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



په بام دبام په سر وګرځیده ترڅو د کوزیدلو لارپیداکړي خولار نه وه. له ځان سره یې فیصله اونیت وکړ چې ددغه بام نه به ځان اچوم مړ دې شم خوچې اخیرت مې خراب نشي ،داویا کالوطاعت او عبادت مې ددغې ګناه له وجې خراب نشي.

کله چې ده دغورځیدلواراده وکړه خداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ ته حکم وکړ چې زما دوست ،زماله ډاره ځان هلاکت ته اچوي ترڅو ځان دګناه څخه وژغوري ،ځان وروره سوه چې ګوره درنه خوږ نه شي. نوچې ده دبام نه ځان اچولو حضرت جبرائیل عَلَيْهِ السَّلَامُ په وزرکې وینو اودزمکې په سرباندې یې کیښود هغه سامان چې ده خپلو بچیانو ته روزي پرې پیداکوله هم هلته په هغه کورکې ورنه پاتې شو

بیګاه چې کورته راغی ښځه ورته وایې چې څه دې راوړي ؟

دی ورته وایې چې هیڅ شی مې نه دي راوړي

ښځه ورته وایې چې هغه خپل سامان دې څهٔ کړل ؟

ده ورته وویل چې هغه غلورانه وې وړل اوپه کورکې یې دومره شی نه ؤ چې اور یې پرې بل کړی وای پخلی یې وریاندې برابر وای.

اخر داخپلې ښځې ته وایې چې هسې په تناره کې اوربل کړه څکه هغه دهمسایه ؤ کورونه خفه کیږي که زمونږ په کورکې اور بل نوي کیدای شي چې زمونږ په حال باندې خفه اوپریشانه شي ،مونږ ته به یې اندیښنه وي چې ددغوپه کورکې اورنه بلیږي نودغه خواران دخوراک څه نه لري مونږ به خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته

صبروکړو خواوربل کړه ،ښځې یې په تناره کې اوربل کړ،څهٔ وخت بعد دهمسایه دکورښځه راغله هلته خو ګوګړ نه و دسکروټو په ذریعه به یې اورونه بلول ،ورته وایې چې په تناره کې څهٔ سکروټې شته چې زه یې ویسم اوخپل اور وربانديې بل کړم ؟

ددې تجارښځه ورته وایې چې هو هغه ښځه چې تناره ته ورغله دتناره سر یې لوڅ کړ که ګوري چې تنور تول له ډوډویو نه ډک دی او مړې پخې دي اوډېربهترین خوراک ده ،غلمینه مړې ده،دلته دغې ښځې ته یې غږ راوکړ چې ته ناسته یې مړې دې وسوځلې ،تولې پخې دي ،داښځه چې ورجګه شوه چې ګورې تنور دګرمو مړیونه ډک دی ،مړې یې راویستې ،داښځه پدې پوه شوه چې زمامیړه په خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ډېرګران دی نن چې دده سره هرڅه بد کړې دي دهغه په مقابل کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ زموږ په تناره کې غیبي مړې پیداکړې

خوښځې ناپوه وي داخپل میړه ته کلکه شوه چې ته دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په نزد دلوېې مرتبې خاوند یې نوته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته سول وکړه چې دامسکنت زموږ له کوره لرې شي چې اینده ژوندموپه راحت باندې شي . هغه ډېر ورته وویل چې دغه دسختې زندګۍ تیرو مسکنت اوفقرزندګي موښه ده څکه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په به اخیرت کې ددې په مقابل کې انعامات اوبدلې راکړي . هغه ورته ټینګارکوي چې نه اخردشپې داسړی جګ شو په لمانځه ودریده ښځه یې ویده ده دلمانځه نه بعدخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته سوال کوي چې ای رب تعالی !زما اهل اوزمابي بې مانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



پرېږدي ته مونږ ته دومره شی راکړې چې ظاهري مسکنت مولري شي دکور ګذاره ورباندې روانه شي ، په دې حال کې چې دی دعاکوي پاس دچت له طرف نه يولاس راکوزشو چې په دې لاس کې يوډېر قيمتي غمی ايښی دی اوورته وويل شو چې درواخله ،ده چې داغمی وليده سمدستي يې داخپله ښځه په پښه وچوخوله چې هغه راويښه شوه هغې وويل چې څۀ دي ده ورته وويل چې درواخله داغمی چې غوښت دې هغه ښځه ورته وايې چې ولي دې ويښه کړم ماخوب ليد چې اخيرت وي اوپه جنت کې يوه بهترينه بنګله وي ډېره ښايسته جوړه وي خويوځای پکې کنډو وي ماپوښتنه وکړه چې دابنګله د چا ده ملائکوراته وويل چې دا الله تعالی ستا خاوند ته تياره کړې ده .

ماورته وويل چې دايوځای يې ولي کنډوده هغوی راته وويل چې دابرخه يې په دنياکې وغوښته نوځکه موداخيرت بدله ورنه کمه کړه نوداښځه خپل خاوند ته وايې چې ستا داخيرت بنګلې زه نه خرابوم بيرته خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته سوال وکړه چې دا شی لرې کړي خوچې زمونږ اخيرت خراب نشي ،بيادی سوال کوي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته هغه لاس پورته شو اوهغه غمی يې ويوړ

[ تنبيه الغافلين ، عربي ، المکتبة الحقانية ، ص ۳۳۳، ۳۳۴ ]

دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ درضا له پاره يې ګناه پرېښودله دچت نه يې ځان غورځولو خوخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دخپلې مهربانۍ له مخې ملائکه ورته راولېږله ددنيوي هلاکت نه هم بچ شو ،مسکنت ؤ هغه شی يې چې دروزي سبب ؤ دهغه په مقابل کې غيبي روزي خدای

(c) ketabton.com: The Digital Library



پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته پیدا کړه او دسوال په وخت کې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دده سوال قبول کړچې داسمان نه غمي ورته راغی بیرته یې بیا هم دعا قبوله شوه چې هغه غمی بیرته ورنه واخیستل شو.

## د حضرت حبیب عجمي (قدس سره) دتوبې سبب او دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له طرف نه هغه ته د غیبي رزق راتلل

حضرت حبیب عجمي قدس سره دادوخت لوی تجار اولوی سودخور ؤ دومره دسود معامله یې وه چې دهرېیګاه خوراک به یې دسود له شیانو نه پوره کاوه حتی لرګي به یې هم دیوچانه په سود راوړل.

یووخت کې حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ ناست ده وعظ او نصیحت کوي ،دی هم په هغه مجلس کې کیناست نوچې کله کیناست د حسن بصري رَحِمَهُ اللهُ خبرو په ده باندې اثروکړ ،له خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه ډار ورته پیدا شوچې دګناه له وجې ته خوزمونږ اخیرت تباکیږي نو دځان سره یې فیصله وکړه چې نوربه زه دسود معامله نه کوم ،توبه یې ویسته او دتوبې نه بعد یې خلکو ته اعلان وکړ چې که دچاپه ماباندې ځومره حق وي ماپه ناروا اوسود خوړلی وي راشئ چې خپل شیان بیرته درکړم ،خلک ورته راتلل ده خپله سرمایه بیرته وریاندې تقسیموله تردې چې دومره اندازه شی دده په کورکې هم پاتې نشوچې هغوی ته یې ورکړي نویوخپل لنګ یې په غاړه کې پاتې شو اودښځې جامه یې په غاړه کې پاتې شوه پس

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دینه دی مجبوره شو مزدوري يي شروع کړه ،چې مزدوري بهٔ کوم کور ته به نفقه د مزدوري په روپو راوړم خوچې دکورنه راووت بیادحسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ دمجلس شوق ورسره پیداشو راغی دحسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ په مجلس کې تربیګاه ناست ده ،بیګا کورته لاړهیڅ شی يې نه دی راوړی ښځه يې ورته وایې چې څه دي راوړل ؟ دی ورته وایې چې څهٔ مې ندي راوړي صبا بیا دغسې بله ورځ بیادغسې اخیرښځه ورته وایې چې ټوله ورځ ځي بیرته بیګاته تش راځې کور کې خو هیڅ هم نشته دلوږې نه مړه شو

دی ورته وایې چې زه دیوداسې ذات مزدوري کوم چې ترې شرمیږم چې روپۍ ورنه وغواړم اوهغه ډیر عزتمن ذات دی هغه ډېرحلیم اوکریم ذات دی زما اجرت او مزدوري نه ضایع کوي، ماته خپله بدله راکوي خونن يې راته وویل چې لسمه ورځ به زه بدله درکوم لس ورځې سهار راځي دحسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ سره تربیګاپورې بیګاه کورته ځي چې کله لسمه ورځ شوه کورته چې راروان شو دحسن بصري صاحب دمجلس نه توبه لاړې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته التماس کوي چې اې خدایه ! هغه وعده خوپوره شوه اوس به زه خپلې ښځې ته په ځواب کې څه وایم چې لس ورځې پوره شوې بدله ورنه وړم نوبیا به راته وایې چې په وعده کې درواغجن يې پدغه غم اوسوچ کې ده چې راغی کورته ګوري چې دکور نه دښه خوراک بوی پورته شو دیګ په نغري ایښی اوخوراک پکې پخیږي ،ښه مړه پخه شوې ده چې راغی وې ویل چې څه دي ؟ خپله يې ښځه ورته وایې چې هغه ذات چې تا يې دا

(c) ketabton.com: The Digital Library



لس ورځې مزدوري کړې وه هغه نن د خوراکو په شیانو باندې اوښان بار راوړل دومره يې غله راوړه، دومره يې غوړي، دومره يې دپختن ترکاري راوړله او دومره يې روپۍ راکړې او دا يې وويل چې حبيب عجمي ته ووايې چې هغه د تا چښتن وايې چې ته دې په خپله مزدوري کې کوشش کوه زه به دې په بدله کې کوشش کوم اجرت او مزدوري نوره هم به زیاته درکوم.

د املائکې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مقرروي هغه شی يې دده کورته چې راوړل. [تذکرة الاولیاء فارسی ص:۵۹ / تا ۶۱ / چاپ ایران]

بیا هغه حضرت حبيب عجمي صاحب دومره په خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ګران شو داسې لوی ولي خدای پاک ورنه جوړ کړ چې حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ په لارې روان دی د ماښام د لمانځه وخت شو جومات ته ورغی چې حضرت حبيب عجمي صاحب په جومات کې خلکو ته امامت کوي او قرائت وايي، ده سلام وګرځاوه او د جومات نه يې دباندې (بهر) خپل لمونځ وکړ د شپې حسن بصري رَحِمَهُ اللّٰهُ رب تعالی په خوب ويني او ورته وايې چې ای رب تعالی د تا رضا به په څه کې وي؟ خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ ورته وايې چې که تا په حبيب (عجمي) پسې لمونځ کړی وای نو زه به درنه راضي وم، دی ورته وايې چې هغه خو عجمي دی د قرآن کريم حروف په ښه توګه نشي اداء کولی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ورته وايې چې که عجمي دی هم خو حبيب ده حبيب، ته يې زړه ته ګوره چې د هغه په زړه کې له ما سره څومره اخلاص ده، د هغه له ما سره څومره مینه او محبت ده. [تذکرة الاولیاء فارسی ص:۶۲ / چاپ ایران]

(c) ketabton.com: The Digital Library



خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ دده دتوبې په برکت باندې د غیبي رزق بندوبست کوي ځکه دقرانکریم فیصله ده ﴿ وَمَن يَتَّقِ ٱللَّهَ يَجْعَل لَّهُۥ مَخْرَجًا ۝ وَيَرْزُقْهُ مِنْ حَيْثُ لَا يَحْتَسِبُ ﴾ [ سورة الطلاق ] .

ژباړه : او هغه څوک چې ویرېږي له الله تعالی څان ساتي له معاصیو وبه ګرځوي ده ته یو ځای د وتلو ( له دنیوي او اخروي غمونو نه ) او رزق روزي به ورکړي ( الله ) ده ته له هغه ( ځایه ) چې ګمان به یې هم نه کوي دی .

نوغرض داده چې مونږ اوتاسې باید دغه ذکر ددغې یوې ورځې دناستې ددغو عواقب وګورو چې پدغه مجلس بیا څه خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ مرتب کوي کومه فایده پرې مرتبه کیږي .

لکه مخکې موهم داذکرکړی ؤ چې کله قیامت شي جنتیان جنت ته داخل شي دوی ته به دنورممبرونه اوکرسۍ کیښودل شي اوخوراکونه به ورته کیښودل شي دوی به دسختې حیرانتیاپه حال کې وي بیا به دخدای پاک جَلَّجَلَالُهُ له طرف نه په دوی باندې غیبي غږ وشي چې نن خودحیرانتیا ورځ نه ده دتاسې د انعاماتو ورځ ده ولې داسې پریشانه یئ دغه جنتیان به ووایې الله تعالی له موږ سره یوه وعده کړې وه دهغې وعدې ورځ راغله که دهغې وعدې نتیجه او پا یله موږووینو چې هغه د الله تعالی د دیدار وه خداوند متعال ملائکوته ووایې چې دحجاب پردې پورته کړئ چې دغه بندګان زما دیدار وکړي داملایکې به ورته ووایې چې اې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رب تعالی ! ددوی په ډله کې خو ګناهګار خلک هم شته هغوی هم ستا د لیدلو وړ او مناسب دي ؟

رب تعالی به ورته ووایې چې که ګنهګارو خودوی زماذکر کاوه او ژړاکونکي ؤ ،دذکر په حالت کې یې ژړاوې کړې نودوی زما له پاره ژړلي دي ،زما د رضا له پاره یې ژړاوې کړې دي دهغې ژړاوپه برکت مادوی ته ټولې ګناوې وربښلې دي نو ملایکې به پردې پورته کړي نوچې هغه پردې پورته شي دخداوندمتعال ددیدار تجلیات او انوار به دومره خوندور وي چې دجنت په هیڅ یونعمت کې به دومره خوند نه وي لکه دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دیدارکې چې څومره خوند دی حتی چې ترڅوپورې درب تعالی دیداروي دغو جنتیانو ته دجنت دحورو دغلمانو دجنت دټولو انعاماتونه دغه جنتیان بې پروا شي هغوی ته به بالکل سوچ اوفکر نکوي بیا به رب تعالی ورته وایې چې اې بندګانو ! له مانه راضي یئ دوی به ورته ووایې چې ولې نه اې خدایه ! کوم شیان دي چې تا مونږ ته نه دي راکړي ؟ دجهنم نه دي بچ کړو ،جنت دې راکړ، دجنت انعامات دې راکړل ولې به نه یو راضي ! رب تعالی به ورته وایې چې زه نور شی در زیات کړم ؟ دوی به ووایې چې اې خدایه پاکه ! نور به څه رازیات کړې ؟ دخداوندمتعال له طرف نه به اعلان وشي چې زه درنه راضي یم نورنه درنه خفه کیږم.

او په دې خو دټولو مسلمانانو عقیده ده چې دخدای پاک له رضا او خوشحالي نه بل غټ نعمت او خوند ور شی په جنت کې نشته.

(c) ketabton.com: The Digital Library



[ رياض الصالحين ص: ۵۲۶ برواية مسلم ص: ۱۸۱ ، صحيح البخاري باب اثبات رؤية المؤمنين ربهم في الاخرة ]

په دې فاني دنيا کې که څه هم نيک بنده ګان ښه عملونه ترسره کوي خو بيا دا خوف اوويره ورسره وي چې خاتمه يې خرابه نشي چې بيرته الله تعالى ورنه ناراضه شي لکن هلته خداوندمتعال اعلان کوي چې زه درنه راضي يم نورنه درنه خفه کيږم. ﴿ وَرِضْوَانٌ مِّنَ ٱللَّهِ أَكْبَرُ ﴾ [ سورة التوبه آيت ۷۲ ]

له رضا دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه هيڅ عبادت لوى نده که جنت ده هم دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضايوه نتيجه اوثمره ده نوکه سړى په يوه مجلس کې دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا له پاره وژاړي اودخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکرپه اخلاص باندې وکړي اوخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ يې قبول کړي اوترې راضي شي ددغه بدله به بياهلته په جنت کې سړيويني بيا به ددغه مجلس نتيجه هلته ويني چې هلته خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ خپل ديدار پدغه ژړا باندې مرتب کوي چې زما له پاره يې ژړل دخپلو ګناهونو نه يې توبه ايسته دذکر په حالاتو کې يې ژړاوې کولې نوزه دخپل ديدن تجليات او انوار ورښکاروم تاسې پردې پورته کړئ چې زما ديدار وکړي.

الحمد لله مونږ په ذکر لګيايو اوداسې خلک په دا اوس - اوس حالت کې شته چې په سينما کې به ناست وي اوپه شرابوبه لګياوي، په ګناهونوبه لګياوي چې څوک داسې دفتنوپه دورکې دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ په کور کې په ذکرلګياوي په حديث شريف

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې راځي چې خداوندمتعال وايې چې زما زيارت کونکي زما ملاقات کونکی هغه څوک دي چې زما جومات ته راځي ،خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وايې چې دازما ميلمانه دي اوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وايې چې دکورپه څښتن دالازمه ده چې دخپلو ميلمنوقدروکړي ،نوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ وعده کوي چې تاسې زما ميلمانه يئ زه دتاسې قدرکوم چې سړی دښته فکر وکړئ چې درب تعالی کورته ورغلې اودهغه کريم اوسخې ذات ميلمه شوې اودده درسره وعده ده چې زه به دخپل ميلمه عزت کوم بيا به په دغه مجلس باندې څومره دخداوندمتعال رضا مرتبه کيږي بيابه کوم کوم انعامات په دغه مجلس باندې مرتب کيږي

نويوملت پنځه ملته څومره چې وي سړی دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ نه غافله نوي دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ درضا له پاره دخلکو مجلسونه او له هغوی سره ناسته ولاړه ترک کړي او دخدای تعالی کورته دالله تعالی ديادوني او په يوه عشق او ذوق سره يوځای کيږي نوبيا به ددغه نتيجه هلته په جنت کې معلوميږي دابه بياهلته په اخيرت کې معلوميږي چې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغو خلکوته څومره مقام ورکړی.

نوزموږ اوتاسې داوخت ډېر قيمتي وخت دی ،دډيرقميتي وخت قيمت بايد سړی وپيژني داوخت که پالتوتيرشي نوډيره لويه سزا به بياوي ،که داوخت په سم چوکاټ کې تيرشي نو بيا دسړي دخدای پاک له طرفه ډېر زيات انعامات په برخه کيږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# (۴۱) مجلس

## د وخت اهتمام د خدای جَلَّ جَلَالُهُ د نږدېکت سبب ګرځي

ددې له پاره چې سړی خپل اوقات ضائع نکړي د شريعت موافق زندګي مختاره او غوره کړي داانسان مخکې تردې چې د شريعت پابند نه وي نو دغه انسان په يو نوم سره يادېږي او بيا چې د شريعت پابندي شروع کړي بيا دغه انسان په بل نامه تومول کيږي.

صحابه کرام رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ چې په اسلام لانه ؤ مشرف شوي د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ تابع نه وو نو هغوی ته د جاهليت لقب ورکول کيدو، کافرومشرک اوجاهل ورته ويل کيدل لکن کله چې په اسلام باندې مشرف شول د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لاربې خپله کړه دهغه ارشاداتو مبارکوته يې غاړه کيښودله بيا هريوه ته داسې کرامات ورپه برخه شول چې ساری يې نه لرلو.

له حضرت عبدالرحمن ابن ابوبکر رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمَا نه روايت دی وايي: چې حضرت ابوبکرصديق رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُ ماخوستن خپل کورته درې نفره ميلمانه بوتلل او بيا دی لاړ د نبي کريم صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ځای ته ډېروخت بعد چې دی هغه ځای ته راغی نودده بي بي مبارکه ورته وايې چې د دغو ميلمنو نه ته څه شي بند کړي ولي نه راتلې؟ چې هغوی ډوډی

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوړلې وای. حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ورته وایې چې ولې تراوسه تا لا دوی ته ډوډۍ نه ده ورکړې؟ بي بي مبارکه ورته وایې چې ماډوډۍ ورکوله خودوی انکاروکړچې ترڅو صدیق اکبر رضی الله عنه نوي راغلی مونږ ترهغه پورې خوراک نه کوو.

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه بي بي مبارکې ته حکم کوي چې په یوه وړه کاسه کې ډوډۍ راتیاره کړه کله بې چې ډوډۍ راواخیسته او دمیلمنومخې ته یې کیښودله حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ورته حکم کوي چې ماخوړلې ده تاسې یې وخورئ دادرې نفره میلمانه چې هره ګوله را اخلي دګولې لاندې ترهغه نه زیاته ډوډۍ نوره راپیداکیږي تردې پورې چې دادرې نفره میلمانه ماړه شول.

حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه خپلې بي بي ته وایې چې ته څه خیال کوې چې داډوډۍ څرنګه ده هغه ورته وایې چې والله ترمخکې نه اوس درې چنده زیاته ده بیاپه کورکې چې څومره کسان ؤ هغوټولو دامړه وخوړله دهغه نه بعدیې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته ورولیږله،د نبي کریم صلی الله علیه وسلم په کورکې داډوډۍ ایښې ده وایې چې دیوقوم سره زمونږ معاهده وه دهغه قوم سره سهار زمونږ معاهده ماته شوه خلک ټول سره تیت پرک شول دولس نفره دلته دنبي کریم صلی الله علیه وسلم کورته راغلل له هر سړي سره ډیر نفر ؤ والله اعلم نوهغه ډوډۍ یې وخوړله اوټول ورباندې ماړه شول [جامع کرامات الاولیاء/ج/۱/ص: ۱۰۴]

دعقل په تقاضا خودې ډوډۍ ددریونفروکفایت هم نه کاوه څکه ډیرکم شی ولکن حضرت صدیق اکبر رضی الله عنه ته خداوندمتعال

(c) ketabton.com: The Digital Library



جَلَّ جَلَالُهُ دامنقبت ورنصیب کړ چې دده په برکت رب تعالی په هغه کاسه کې غیبي رزق زیات کړو.

## دحضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ کرامت

امام رازي په تفسیر کبیرکې دسورت کهف په واقعاتوکې فرمایي چې کله دصدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جنازه صحابه کرامو واخیسته حجري مبارکې دنبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته چې دوی راغلل دحضرت صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ جنازه یې په غاړه ده نووایې السلام علیک یارسول الله ! هذا ابوبکر ﴾ یعنې سلام دې وي په تاای دالله رسوله دغه حضرت ا بوبکر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ مونږ راوړ .ددوی ددغو الفاظوپه ویلوسره خودبخود نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دحجري مبارکې دروازه ورته خلاصه شوه اوغیبي غږ حاضرینو تولو واوریده ویل یې: ادخلوا الحبیب الی الحبیب ﴾ داخل کړئ دوست خپل دوست ته [ تفسیر کبیرج ۷ / ص: ۴۳۳/ سورة الکهف . ]

صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ د رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوست ؤ په هغه عاشق اودهغه محب ؤ په روایت کې راځي چې یووخت په مسجدنبوي کې نبي کریم صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ صدیق اکبر رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ اوعمرفاروق رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ له لاسوڅخه نیولی اووایې چې مونږبه په داسې کیفیت په ورځ دقیامت هم سره راپورته کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دحضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ كرامات

حضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په کتوپسې اورباندې کړی ده څه شی پخوی حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورسره ناست دی چې ګوري دکټودننه څه اواز شروع شو اودا اواز په جوش شو دکنکی هلک داواز په شان تسبیح شروع شوه لکه یوکنکی هلک چې په داکټوکې ناست وي.

اوله ډیره جوشه داکټونیغه نیغه وغورځیده لکه جذب چې انسان ته پیداکیږي چې کله په قرارشوه حضرت سلمان فارسي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ حضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ته وايې اې ابودرداء ! وګوره داڅۀ نادره پیښه شوه ،کټواوپه هغه کې اواز اوشو اوهیڅ شی ورنه تویه نشول حضرت ابودرداء رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ ورته وايې چې په تادې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ رحم وکړي که تاغږنه وای کړی نورکرامات به دې هم پکې لیدلی وای بیاچې کله ډوډی په کاسه کې اچوي خوراک شروع کوي دغه کاسه هم په تسبیح لګیاکیږي اوهغه طعام کوم چې په کاسه کې پروت دی هغه هم په تسبیح شروع کوي اودخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ذکرکوي.

[ اخرجه البيهقي وابونعيم عن قيس قال بينها ابوالدرداء وسلمان ياكلان من صفحة اذاسبّحت ومافيها / حقايق عن التصوف الباب الرابع من ثمرات التصوف ص: ۳۶۹ . ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوکاسه لرګی ده،جماد دی خوتسبیحات وایي اودوی یي اوري ،ډوډی په اوریوخ شوی شی ده خوتسبیح وایي اودوی یي اوري.

داحضرت ابودرداء رضي الله عنه یوصحابي ده دکوم شي چې دده سره تعلق راځي چې کتوه ده هغه هم په تسبیح راځي ،هغه کاسه هم تسبیح وایي هغه ډوډی هم تسبیح وایي

همدارنګه نبي کریم صلی الله علیه وسلم به چې ډوډی پورته کوله دده په لاس مبارک کې به یې تسبیح ویله .

[مشکوة المصابیح ج: ۲/ص: ۵۳۸ /باب فی المعجزات]

هغه پسه چې په خیبرکې رسول الله صلی الله علیه وسلم ته پوخ شوی اوزهرورولیدلي ؤ هغه پوخ پسه د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خوله کې اواز کوي چې مامه خوره په ماکې زهرګډشوي دي .

[مشکوة ج: ۲/ص: ۵۴۱ / باب المعجزات]

## حضرت حمزه رضي الله عنه له شهادت نه وروسته هم کرامات ښکاره کړي دي

دحضرت حمزه رضي الله عنه قبرته یوڅوک ورغلل سلام اچوي چې السلام علیکم ، دقبرنه په لوړاواز سره غږ ورته کیږي چې وعلیکم السّلام ،په قبرکې دی شهیدده لکن په دومره اواز باندې چې سړی یې په غوږو اوري بیرته جواب ورکوي . دحضرت حمزه رضي الله عنه په څنګ کې یې واړول اوبیایې یونفرپیرې ته مقرر کړ او پاتې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نوروېده شول دایودچوکیداري په انتظارناست ده چې څوک دښمن حمله ونکړي دا ناست صحابي وایې چې ګورم یوسړی په آس سپور ده چې داڅومره ملګري چې زمونږ پراته دي ددغو نه داسې ګرد راتاوېږي وایې یو وار دسوستیاله وجې نه کیناستم چې څه یې کوې؟ بیامې وویل چې کله ورځګ شوم اوورنږدې شوم غږمې ورباندې وکړ چې ته څوک یئ هغه راته ویل چې یووار زمونږ سره واړه وئ اوبیا مونږه خفه کوي چوکیداري په خپله کوئ زه حمزه بن عبدالمطلب یم چې تاسې زماپه څنګ کې پراته یې زه به دتاسې چوکیداري کوم موږ به نورنه څوروئ، بې خوبي به تاسې نه کوئ ،تاسې به ویده کیږئ

( اسد الغابة ) لیکي چې یوڅوک ورته سلام اچوي، دی ورته دقبرنه ځواب ورکوي اودخواب نه بعد ورته وایې چې دتازوی به پیداکیږي اوپه هغه باندې به حمزه نوم ږدې خپل نوم ورښیي،دده دحمل بشارت ورکوي چې هم بچی ده اونر ده، دا انسان ته داکرامت دځهٔ په وجې پیدا وه؟ داددغه وجې نه چې دوی اوقات نه ضائع کول ،ددین اودشریعت پابند ؤ،داسې ډیر واقعات په قرآن کریم او نبوي احادیثو کې ذکر شوي دي.

حضرت بي بي مریم یوه ښځه وه په قرانکریم کې ددې کرامات بیانیږي دحضرت ذکریا عَلَيهِ السَّلَام نه بغیرپل څوک ورننه وتل هم نه، په ژمي کې یې دوړې میوې لیدې ،په اوړي کې یې دژمي میوې ورسره لیدل کیدې ،داکرامات په قرانکریم سره ثابت دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمایي: ﴿ فَتَقَبَّلَهَا رَبُّهَا بِقَبُولٍ حَسَنٍ وَأَنۢبَتَهَا نَبَاتًا حَسَنًا وَكَفَّلَهَا زَكَرِيَّا ۖ كُلَّمَا دَخَلَ عَلَيْهَا زَكَرِيَّا ٱلْمِحْرَابَ وَجَدَ عِندَهَا رِزْقًا ﴾ [سورة ال عمران آیت: ۳۷]

ژباړه: پس قبوله کړه دا (مریمه) رب د دې (دنارینه په ځای) په ښو قبلولو سره او زرغونه (لویه) یې کړه په زرغونولو (لویولو) ښو سره او (الله) کفیل وګرځاوه دې لره زکریا عَلَیهِ السَّلَام هر کله به چې ننوت دې ته زکریا عَلَیهِ السَّلَام په محراب (په عبادت خانه) کې نو موندله به یې له دې (مریمې) سره څه روزي (یعني میوې دژمي په اوړي، او میوې د اوړي په ژمي کې)

## د نیکوخلکو د ملګرتیا له وجې سپی هم جنت ته داخلیږي

اصحاب کهف درې سوه نه (۳۰۹) کاله په یوغارکې پراته انسانان، خوددین په بنیاد باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دومره شرافت ورکړی ؤ چې په دومره ډېروخت کې نه ددوی وجودونه خوړینیږي،نه ورستیږي اونه چنجي کوي، حتی دسبزي پانو په شان په یوطرف اوبل طرف باندې اوړي، دا احترام خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دغو انسانانو ته دځه له وجې ور په برخه کړي وو ددغه دین په خاطریې وریه برخه کړي ؤ، دا خوځه کوي چې خپله اصحاب کهف خومسلمانان ؤ،ددین په حمایت کې دومره عزتمند کړل هغه سپی چې ددوی سره ملګری شو هغه ته هم خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام نصیب کړلکه چې ددوی وجودنه چې (۳۰۹) کاله نه خراب کیدل ویده و ،هغه سپی یې هم داسې ؤ .

الله تعالی فرمایي: ﴿ وَكَلْبُهُم بَاسِطٌ ذِرَاعَيْهِ بِالْوَصِيدِ ﴾

[ سورة الکهف آیت:۱۸ ]

ژباړه :او سپی د دوی ( د دوی په مخ کې ورته پروت دی چې ، غځوونکی دی ( زمکه ) د دواړو څنګلو خپلو په خولې د غار کې .

نوقرانکریم دهغه سپی کرامت بیانوي چې هغه سپی چې ددوی په څنګ کې پروت ده هغه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ دومره عزتمندوګرځاوه چې دنیکوخلکوپه ملګرتیااوجوار باندې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ بیاپه سپي کې هم کرامت پیدا کوي .

سگ اصحاب کهف روزی چند

پی نیکان گرفت مردم شد

وایې داصحاب کهف سپی یوڅوورځې دمسلمانانو دښوخلکو لمن ونیوله دانسانانوپه جمله کې شمار شو ،په قیامت کې به هغه هم دیوانسان په شکل خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ هغه جنت ته داخلوي .

دخداوندمتعال په خزانوکې خوځه کمبوت نشته هسې جنت ته یوه بهانه غواړي ،یوه ته خداوندمتعال توفیق دنیکي ورکړي ،بل ته نفس په محبت اوتعلق هلته په قیامت کې ورسره یوځای کوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



،سپي ورسره يوځاى کوي،نوانسان چې دنيک انسان سره تعلق لري بيابه په انسان کې دغه شرافت نه پيدا کيږي.

غرض داده چې که مونږ اوتاسې داخپل اوقات ضائع نکړو ددغواوقاتوقدرپه دنياکې معلوميږي اخيرت خوځه کوې، يقيناً سړى چې دا دخپل ځاى نه مسافرشي بل ځاى ته لاړشي بيامعلومات ورته کيږي چې هغه طالبان ،هغه ملګري هغه د ذکر حلقې چې مونږ يوپنځه ميلته يالس ميلته دخداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ په ذکر سره يوځاى کيدواوس هغه څوک نه پيداکيږي چې زه ختم ورسره وکړم ،يا دخير خبرې ورسره وکړم دبرداسې مشائخ کرام دي چې دداسې مجلسوپه ارمان دي اوزه درته قسم کوم چې هروار زه ددغه ځاى نه په سفرتللى يم چې ددنياداحترام په وجه بنه احترامونه خلک راته راکوي، بنه خوراکونه راته راکوي خو هغه خوندچې پدغه مجلس کې پيداکيږي ،دملګروپه مجمع کې پيداکيږي هغه بياماهلته په پلاونواوچرګانوکې نه دى ليدلى ،دادخداى پاک جَلَّجَلَالُهُ په دين کې عشق ده ،محبت ده پدغه کې خداوندمتعال جَلَّجَلَالُهُ ځکه دغه کرامت پيداکړى چې هلته انسان ته سکون پيدا کيږي.

## حضرت نورالمشائخ (قدس سره) له مرګ نه وروسته هم کرامت ښکاره کړى

مولوي صاحب جازب چې په بنوکې دتانچې بازاردجومات امام و قصه يې راته کوله چې دنور المشائخ صاحب په وخت کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دده مرید ده ،دهغه مرید عالم وظائف خلاص ؤ په خپل کاريسې يې ولیږه ارغنداب ته اوچې له هغه خوانه راوگرځي بيا به دتادخلافت دستاربندي کوم کله چې هغه لاړ دپښوسفرونه ؤ بیرته چې بیاراغی نوشل شپې تیرې شوې وې چې حضرت نورالمشائخ صاحب وفات شوی و ،دی راغی اوقبر ته يې کیناست اوپه مراقبه کې ژاړي چې تاخوماته ویل چې ته راوگرځي زه به دتادستاربندي کوم اوس ته لاړې زه پاتې شوم ماته به دستار بندي څوک کوي؟

نودحضرت نور المشایخ ( قدس الله سره ) له قبر مبارک نه لاس راووت یوه چوپانه ،یوه خولۍ اويوپټکی دادرې سره يې ورکړل ،حضرت ضیاء المشائخ صاحب چې دکورنه په تیزې راغی دی چې دزیارت نه ورووت هغه تبسم کوي ورته وايې چې دريې کړل وايې هو ! بيا ددستار بندي پر مهال حضرت ضياء المشايخ رَحِمَهُ اللهُ په هغې خولۍ هغه پټکی ور وتړلو او هغه چوپانه يې ورواغوستله

## نبي کريم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دکوچي له پاره په قبر کې مغفرت غواړي

﴿ وَلَوْ أَنَّهُمْ إِذ ظَّلَمُوٓاْ أَنفُسَهُمْ جَآءُوكَ فَٱسْتَغْفَرُواْ ٱللَّهَ وَٱسْتَغْفَرَ لَهُمُ ٱلرَّسُولُ لَوَجَدُواْ ٱللَّهَ تَوَّابًا رَّحِيمًا ﴿٦٤﴾ ﴾ [سورة النساء آیت ۶۴ ]

ژباړه : او که بېشکه دغه ( منافقان ) کله چې ظلم وکړي دوی پرځانونو خپلو ( په منلو د حکم ستا ) راغلي وی تاته پس مغفرت

(c) ketabton.com: The Digital Library



غوښتی وی دوی له الله تعالی او مغفرت غوښتی وی دوی ته رسول ( دالله هم ) نو خامخا به موندلی ؤ دوی الله ښه قبلوونکی دتوبې ډیر رحم والا ( د اجر او ثواب په انعام سره ).

یعني داداستبعاد خبره نده رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ فرمايي چې څوک ګناه وکړي بیاتاته راشي ته ورته مغفرت وغواړي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ به هغوته مغفرت وکړي.

تفسیر جلالین واقعه رانقل کړی چې یو اعرابي ده څه ګناه ورته شوې راروان ده چې هلته زه ورشم دده په حضورکې چې دی خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته وسیله وګرځوم چې دی هم زما له پاره د خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته دعاوکړي خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ مې مغفرت نصیب کړي چې دی راته رسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ د دنیانه منتقل شوی نو بیا دده دقبر په څنګ کې ودریده اوورته وایې چې په تاباندې خدای پاک کلام نازل کړی په هغه کلام کې دا آیتونه دي چې څوک ګناه وکړي ته مغفرت ورته وغواړي نوزه به هغه وبښم زه خوتاته راغلی یم اوته نه یې چې ماته مغفرت وغواړي نوزه تاته وایم یارسول الله صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ چې ته ماته په قبرکې مغفرت وغواړه. نو له قبر په لوړ اواز ورته وویل شول تاته مغفرت اودګناهونو ښښنه وشوه.

[تفسیر جلالین ج: ۱/ ص: ۸۰ حاشیه ۱۴ اوتفسیر مدارک ج: ۱/ص: ۲۷۰ مکتبه انوارالقرآن ]

داهرانسان چې خداوندمتعال ته عزتمندکیږي دخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په دین پاندې عزتمندکیږي که نه وي بذات خود پیغمبر عَلَيْهِ السَّلَام هم یوانسان ده،صحابه رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ هم انسانان دي ،

(c) ketabton.com: The Digital Library



ولي هم یو انسان ده لکن داسې انسانان دي چې څوک خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ ته بیاګران شي دهغه چې بیا څوک مخالفت کوي خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ اعلان دجنګ ورسره کوي، :د بخاري شریف حدیث ده. نبي کریم صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ له خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ نه حکایت کوي: «عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللهُ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: " إِنَّ اللهَ قَالَ: مَنْ عَادَى لِي وَلِيًّا فَقَدْ آذَنْتُهُ بِالحَرْبِ،» [صحیح البخاري\ج ۱۲\ص ۹۶۳]

ژباړه: له حضرت ابوهریره رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ نه روایت دی وایي چې رسول الله صَلَّىٱللَّهُعَلَيْهِوَسَلَّمَ ویلي دي چې الله تعالی فرمایي چې: څوک زما له ولي سره دښمني کوي له هغه سره زما دجنګ اعلان دی. دا انسانان په خدای پاک جَلَّجَلَالُهُ بیا دومره ګران دي. چې دفاع یې هغه لایزال ذات کوي چې تر هغه بل زوره ذات نشته.

## د حضرت خالد بن ولید رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ کرامت

حضرت خالد بن ولید رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ ته یوجاسوس راځي اوداسې دزهرو بوتل ورسره ده چې څرنګه یې سرې خولې ته کړي سمدستي یې وژني پدغه نیت یې را اخیستی که زه ګرفتارشوم دستي به یې خولې ته کړم اوتیروم به یې چې مسلمانان ماته تکلیف رانکړي.

حضرت خالدبن ولید رَضِيَٱللَّهُعَنْهُ هغه جاسوس ونیواودا دزهروبوتل یې ورنه واخیست ورته وې ویل چې داڅه دي؟ هغه ورته وویل چې دا (سم عاء) یعنې داداسې زهر دي چې سړی یې

غړف کړي سمدستي مړکيږي حضرت خالدبن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ورته وايې بِسْمِ اللَّهِ الرَّحْمَنِ الرَّحِيمِ دزهرو بوتل يې ټول وڅښلو يو غړپ هم پکې پاتې نشول سره له هغه په حضرت خالد بن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ باندې هيڅ اثر ونه ليدل شو اوهغه جاسوس يې خوشې کړ خپل قوم ته بيرته چې لاړ اوورته وايې چې ګورئ په اسلام مشرف شي چې والله دايوداسې قوم ده چې خداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ دومره عزت ورکړى چې هغه زهرهم په دوى باندې اثرنکوي څکه دغه خالدبن وليد رَضِيَ اللهُ عَنْهُ دخداى پاک جَلَّ جَلَالُهُ ددوستانو له جملې نه ده.

[ اخرج البيهقي وابونعيم عن ابى السَفر قال : نزل خالد بن وليد الحيرة فقالوا له احضر السم له سقيکه الاعاجم فقال ايتونى به فاخذه بيده وقال بسم الله وشربه فلم يضره شيأ. تهذيب التهذيب لابن حجر ج: ٣ / ص: ١٢٥ . ]

الله تعالى يې حفاظت کوي داسې مقامات چې خداوندمتعال انسان ته په دين ورکوي خوچې څومره زيات کوشش کوي سړى دغومره هغه انسان خداوندمتعال جَلَّ جَلَالُهُ ته ډېرنږدې کيږي، الله تعالى بيا دغه انسان ته ددنياعزت چې کرامت ورته ويل کيږي هم ورنصيب کوي اوداخرت عزت هم ورنصيب کوي.

موږبه کرامت نه غواړو په دې نيت کوشش په طاعت اوعبادت کې نه کوو چې زمانه دې يوڅه کرامت ښکاره شي څکه کتاب ليکي: کُنْ طَالِبُ الْاِسْتِقَامَةِ وَلَاتَکُنْ طَالِبُ الْکَرَامَةِ فَاِنَّ رَبَّکَ يَطْلُبُ مِنْکَ الْاِسْتِقَامَةَ وَنَفْسَکَ يَطْلُبُ مِنْکَ الْکَرَامَةِ .

[ احياء العلوم ج: ٥ / ص: ٨٣ . کتاب عوارف المعارف ]

(c) ketabton.com: The Digital Library



یعنې داستقامت طلبګار اوسیږه چې په دین ځان برابروه، کرامت مه غواړه خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ له انسان څخه په دین کې استقامت غواړي اوشیطان ورنه کرامت غواړي . ځکه چې په کرامت کې دځان برخه وي بیا به نفس غټ ورته ښکاره کیږي.

نودا اوقات ډېرقیمتي دي بیا په ژوندون کې داسې افسوس پدغه حالت را روان ده نویوورځ چې سړي ته موقع پیداکیږي بایدهغه یوورځ غنیمت وشمېري اووخت ضائع نه کړي.

نوپه هرځای کې به سړی دعبادت کوشش کوي اودنیکو خلکودپیداکیدلوکوشش به کوي اوخدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته په زارئ اوعاجزي کوي چې څوک خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ ته مقبول وي بیا به یې خدای پاک جَلَّ جَلَالُهُ په هر وخت مګری وي چې له خدای پاک سره دې اشنا یې او تعلق جوړ شي نور خلک څه کوي.

اوکه خداوندمتعال ته څوک مقبول نه وي بیابه په خپل کورکې هم منفور وي خپل پلاراومور به ځینې بیزاره وي ،ښیراه به ورته کوي خپل قریب به ورنه بیزاره وي، ښیرابه ورته کوي، اوالله تعالی ته چې څوک مقبول شوبیابه پردې خلک چې نه یې قوم وي نه خپل وي هغوی به دعاورته کوي.

## دحضرت اسماعیل جان اغا صاحب کرامت

مولویصاحب جاذب ویل چې په لاهورکې اوسیدم دحضرت صاحب یو ورور خواجه محمد عثمان صاحب په لاهورکې وفات شوی ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library



دی وایې چې حضرت محمد اسماعیل جان آغاصاحب راغلی ؤ دجومات له چت نه راکوزیده دده دمخ نه چې انوار پورته کیدل خلکو سره له دې چې چا ور معرفي کړی هم نه ؤ چېغې یې وهلې دغسې دده په پښوکې رغړیدل نه یې پیژانده اونه یې دعلاقې و.

په یوکتاب کې مې دیوعالم واقعه لیدله چې دی به کله جومات ته راغی دده له مخ نه به داسې تجلیات اوانوار پورته کیدل چې په شپه کې به دده دمخ رڼاته کتاب کتل کیده.

د رسول الله ﷺ په واقعه کې راځي چې حضرت ام المؤمنین وایې چې زمانه ستن ولویدله او رسول الله ﷺ پوښتنه وکړه چې څه شی درنه ولویده؟ ماورته وویل چې ستن رانه ولویده رسول الله ﷺ تبسم وکړ،دده له غاښونو مبارکوڅخه دومره رڼاپورته شوه چې ما دهغې رڼا په ذریعه ستن پیدا هم کړه اوتار مې هم پکې وپیا یلو.

داکمالات چې په اولیاء کرامو کې پیداکیږي داټولې معجزې درسول الله ﷺ د دهغه دمتابعت نتیجه ده، دهغه متابعت له وجې خدای پاک جَلَّجَلَالُهٗ سړی ته دغه مقام پیداکوي.

نوکوشش باید داوکړو چې داحالات ترک نکړو ډېر دوظیفو ملګري چې دداسې ماحول نه چې هلته دذکرحلقې وي چې دهغونه جداشي نوبیا اکثره سستیا پکې راشي وظیفې ترک شي.

داموږ چې کله چېرې لاړشو هلته ډېر داسې خلک وینو چې دوظیفوډېر سبقونه یې حاصل کړي وي لکن چې دسبق پوښتنه ورنه کوي چې نفي اواثبات په کومه طریقه کیږي یایې طریقه ورنه

(c) ketabton.com: The Digital Library



هيره وي ترجمه يې ورنه هيره وي ځکه خوغفلت وي هلته خوبې زياتې داخيال وي چې څوک شته نه چې وعظ اونصيحت حلقه دذکروي سوستيا کوي هرڅه ورنه پاتې وي.

ځکه دوی خو داګومان کوي چې خليفه صاحبان نشته نو اتي به وظيفي هم نه کوو که هغه ؤ نوذکر به کوو اوکه نه نه به يې کوو ذکرخودالله تعالی ده هغه په هروخت کې ده.

رسول الله ﷺ چې ددنيانه منتقل شو او په صحابه کرامو کې هم دغه اوازه خپره شوه نو په دوی باندې داسې غم راغی دحضرت عمر رضي الله عنه عقل کارپرې نښود. حضرت عثمان رضي الله عنه په ژبه ګونګ شو څه يې ويلې نه شوای، حضرت علي (کرم الله وجهه) پښنو يې کارپرېښنود شل شو.

اوډېرصحابه کرام رضي الله عنهم داسې شول چې ليونيان شول لکن صديق اکبر رضي الله عنه پورته کيږي خطبه وايې چې چاد رسول الله ﷺ له پاره عبادت کاوه هغه خو له دې فاني دنيا نه دتل پاتې ژوند په لوري ولاړ خوکه چادخدای پاک جل جلاله له پاره عبادت کاوه نوهغه ژوندی دی هغه نه مرکيږي.

[احياء العلوم ج: ۴ / ص: ۶۴۲ / باب ذکر الموت ومابعده / الرحيق المختوم پښتو ص: ۷۰۱ الی ۷۰۲ / مکتبه فارقيه ]

نومونږ دا ذکر دالله تعالی له پاره کوو هغه په هرځای کې زمونږ په ذکرخبرده ثواب به راکوي علم وربانديې لري تريوه ځايه پورې بايدخبره خاص نشې تعلقات بايد قطعه نشي چې دسړي وس رسيږي دنيکو خلکو سره که په ورځ کې سړی ليدلی شي بايد

(c) ketabton.com: The Digital Library



په ورځ کې یې ووینې او که په ورځ کې توان نه وي نو په جمعه کې که په جمعه کې یې هم نشي لیدلی نو په میاشت، دریو میاشتو کې دخپل وس سره موافق باید دخپل مرشد زیارت وکړي او دالله تعالی سره خو تعلق او تړاؤ باید په هیڅ صورت او وخت کې قطعه نشي.

په قرانکریم کې راځي ﴿ فَاذْكُرُونِىٓ أَذْكُرْكُمْ ﴾ [ سورة البقره آیت ۱۵۲ ]

ژباړه: نو یاد کړئ (تاسې) ما (په قلبي او بدني طاعت سره) نو زه به هم یاد کړم تاسې (په ثواب سره).

دلته مفسرین لیکي چې که څوک الله تعالی جَلَّجَلَالُهُ نه یادوي بیا الله تعالی هم دغه سړی نه یادوي الله هم پدغه سړي باندې رحمت نه کوي، څوک چې رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ یادوي هغه دی یادوي څوک چې ولي یادوي تګ اوراتګ کوي، کتابونه یې ګورئ هغه دی یادوي.

زه سراج المشائخ احمد ضیاء خلیفه صاحب ته ورغلی وم بیا ده دادپنج کتاب په حاشیو کې اشعار راځي نوهلته یوه مصری چې په پښتو ژبه لیکلې وه هغه یې وویله چې:

که راته ګوري درته ګورم
که راته نه ګوري پروا دې نه لرمه

که خدای تعالی ته څوک ګوري نوالله تعالی هم ورته ګوري، رسول الله صَلَّىٰ اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ او اولیا ؤته چې څوک ګوري هغه ورته هم ګوري او که نه ورته ګوري بیا یې پروا نلري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مونږ خپله لارهغه خپل عشق ترک نکړو بيا که ددنيا په هرسرکې يو ددوی به مونږ ته فايدې رسيږي اوکه زمونږ له طرف نه تنګ اوراتګ که زمونږ له طرف نه صحبت قطعه شو کمزوري منځته راغله بيا به دهغه طرف نه هم هغه فيوضات چې مونږ ته راځي هغه به کمزوری کيږي.

وَآخِرُ دَعْوَانَا اَنِ الْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ.

وَصَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى خَيْرِ خَلْقِهِ وَنُوْرِ عَرْشِهِ مُحَمَّدٍ وَّاٰلِهٖ وَاَصْحَابِهٖ اَجْمَعِيْنَ (آمِيْن)

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**